بسم اللہ الرحمن الرحیم

فَاسْئَلُوْا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ۝

فتاوی دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاوی فریدیہ

اتم جلد

افادات
محدث کبیر فقیہ العصر مفتی اعظم عارف باللہ
مولانا مفتی محمد فرید رحمۃ اللہ علیہ
جامعہ دار العلوم حقانیہ اکوڑہ خٹک

تخریج وترتیب
مفتی محمد وھاب منگلوری
مدرس دار العلوم صدیقیہ زروبی

ترجمہ وکمپوزنگ
مولانا محمد یعقوب نائل
متخصص دار العلوم حقانیہ اکوڑہ خٹک

زیر سرپرستی
مولانا حافظ حسین احمد صدیقی نقشبندی
مہتمم دار العلوم صدیقیہ زروبی ضلع صوابی

ناشر
جدید مکتبہ رشیدیہ
قصہ خوانی بازار محلہ جنگی پشاور
091-2580074

دکتاب نوم فتاوی دیوبند پاکستان المعروف بفتاوی فریدیه (اتم جلد)

افادات محدث کبیر فقیه العصر مفتی اعظم عارف بالله مولانا
مفتی محمد فرید مجددی زروبوی رحمۃ اللہ علیہ
شیخ الحدیث وصدر دارالافتاء جامعه دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

ترتیب و تخریج مولانا مفتی محمد وهاب منگلوری نقشبندی
دارالافتاء دارالعلوم صدیقیه

معاون مولانا مفتی عصمت الله حقانی

ترجمه اوکمپوزنګ مولانا محمد یعقوب نائل
متخصص دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

نومبر ۲۰۱۵ء.............محرم ۱۴۳۷ھ

زیر سرپرستی مولانا حافظ حسین احمد صدیقی نقشبندی
مهتمم دارالعلوم صدیقیه زروبی ضلع صوابی (پاکستان)

ناشر مکتبه رشیدیه سردار پلازه اکوړه خټک نوشهره
رابطه نمبر ۹۰۸۴۶۹۳-۰۳۴۴

دمضامينوفهرست

مضمون	صفحه

كتاب الهبة

مضمون	صفحه
دوه زامنو ته په شریکه هبه کول	۷۳
د عذر بغیر د دوه زامنو تر منځ فرق کول	۷۴
د مرګ په حالاتو کې وارثانو ته د هبه کولو حکم	۷۵

كتاب الوديعة

كتاب العارية

كتاب اللقطة

كتاب الغصب

کتاب الضمان

كتاب الشفعة

مضمون	صفحه

كتاب الرهن

صفحه	مضمون

کتاب القسمة

مضمون	صفحه

كتاب المزارعة

مضمون	صفحه

کتاب احیاء الموات

مضمون	صفحه

باب الشرب

كتاب الصيد

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

كتاب الذبائح

كتاب الأضحية

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

باب جلد الأضحية

باب العقيقة

بابُ الاکلِ والشرب

مضمون	صفحه

صفحه	مضمون

بَابُ النَّظَرِ وَالْمَسِّ






فتاویٰ فریدیہ جلد ہفتم

كتاب الهبة









قال النبی

صلی اللّٰہ علیہ وسلّم

تہادوا فانّ الہدیۃ تذہب وجز الصدر.

(الحدیث)

بسم الله الرحمن الرحيم

فتاوی دیوبند پاکستان مشهوره په فتاویٰ فریدیه (اتم ټوک)

الحمد لله وکفیٰ وسلام علیٰ عباده الذین صطفیٰ أما بعد!

د مفتي صاحب رحمه الله د مړینې وروسته دا منل شوی کرامت او د مخلصو ملګرو د دعاګانو لاس ته راوړنه د فتاوی دیوبند پاکستان چې مشهوره ده په فتاوی فریدیه دا دی اوس یې اتم ټوک هم راورسېد، **والحمد لله علی ذالک** د پاتې نورو ټوکو د چاپ کېدو لپاره هم د خپلو مخلصو ملګرو نه د دعاګانو په هیله یو.

د فتاوی په دې ټوک کې د کتاب الهبه نه تر کتاب الحظر پورې د فقهي تولس (۱۹) بابونه یو ځای شوي دي، په هره مسئله کې مې د خپل استاذ محترم مفتي سیف الله حقاني دامت برکاتهم د حکم سره سم په زاړه ترتیب یوه یا دوه حوالې هم لیکلي دي، په ځینو ځایونو کې ددې لپاره چې اوږدوالی رانشي یوه حواله مو لیکلې ده، په هغه صورت کې چې کومه صریحه حواله نه وي موندل شوې بیا مو د تصدیق په ډول د مفتي صاحب له خولې یو نژدې نظیر راوړی تر څو اصلي مسئله پرې ښه روښانه شي.

د مفتي صاحب په خواب کې هیڅ تبدیلي نه ده شوې، په سوال کې ځینې هغه شیان چې زیاتي یا په مکرر ډول راغلي وو هغه مو ترې لرې کړي دي، مګر دا چې په کوم سوال او خواب کې نوې ګټه نغښتل شوې وه هغه مو بیا هم راوړي دي.

تر خپله وسه پورې مو د حوالو د صحیح راوړلو زیار کړی دی، بیا هم په ځینو ځایونو کې زما د کم علمۍ لامله شاید غلطي امکان ولري.

مفتي صاحب محترم (**رزقه الله تعالیٰ صحةً کاملةً و متعنا الله بطول حیاته**) د ناروغۍ سره – سره په دویم ځل ټوله فتاوی وکتل، په ځینو ځایونو کې یې خپله ما کمزوري بنده ته به دا ویل چې په فلاني ځای کې دا حاشیه او دا زیاتونه وکړه.

د مفتي صاحب رحمه الله په پوهه - علمي میدان کې د زړورتیا او د فتاوی فریدیه په تعریف کې د ترتیب کوونکي نه د حد نه زیات تجاوز وشو، ددې لپاره چې ستاسو او د کتاب تر منځ واټن کم شي، راځو خپل اصلي هدف ته.

زه د الله تعالی احسانات کله، چې د هغو خلکو شکریه هم نه شم پوره کولای چې د علم فقهې دا لویه خزانه یې په څه ډول د کتابونو په مخونو کې ځای کړه، په خاص ډول د فتاوی فریدیه د سرمشر مفتي

سیف الله حقاني صاحب، مولانا حافظ حسین احمد صاحب، په دې فتاوی کې زما مرستندوی مفتي احمد عباس صاحب، ورسره بنه کمپوزر او تصحیح کوونکی مفتي محمد یعقوب (نائل) صاحب چې ددې توک زباړه، کمپوز او تصحیح یې په یوازې د الله په توفیق سرته ورسول، د ټولو مخلصو ملګرو د علمي خدمت نه یوه نړۍ مننه، د الله تعالی نه ورته د دنیا او اخرت برې غوارم.

په پای کې د خپلو لوستونکو نه هیله لرم تر څو زما ګراني مور جانې ته چې اوس په نزدې وخت کې یې ددې فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې په خپلو دعاګانو کې خامخا یاده کړي.

د دعا محتاج: انور شاه عفی عنه

خادم العلم والافتاء بدار العلوم الصدیقیه زروبی

۲۴/جمادی الاولی/ ۱۴۳۲ھ/

موافق د

۱۳/ مارچ/ ۲۰۱۵ء/

بسم الله الرحمن الرحيم

قال النبيﷺ صلى الله عليه وسلم تهادوا فانّ الهدية تذهبُ وحز الصدر. الحديث

كتاب الهبة

د تمليك او هبې تر منځ فرق

سوال: د دين پوهان عالمان په دې اړه څه وايي ايا تمليك او هبه يو شي دی که بېل- بېل شيان دي؟ د فقهي قانون لاندې جزئي جواب پکار دی. بينـــوا توجروا

المستفتي: فضل رباني د چترال اوسېدونکی ۱۹۷۰ کال جون مياشت ۲۲ تاريخ

جواب: تمليك عام او هبه خاص ده؛ خو د اوسنی اصطلاح سره سم دواړه يو ډول کارول کيږي، (قال فى الدر: الهبة تمليك بلا عــوضٍ) په عرف کې بې عوضه د يو شي څوك مالك جوړولو ته هبه ويل کيږي «۱» **وهوالموفق.**

بچيانو والا زوی ته هبه کول

سوال: د دين پوهان او عالمان په دې اړه څه وايي چې زما د بچيانو والا زوی

«۱» قال العلامة الحصكفي: هى تمليك العين مجانا أى بلا عوض.

(الدرالمختار ۴: ۵۶۷، كتاب الهبة)

وفى الهندية: أما تفسيرها شرعا فهى تمليك عين بلاعوض.

(فتاوى هندية ۴: ۳۷۴، كتاب الهبة، الباب الأول)

وقال العلامة خالد الأتاسى: قال السيد الحموى: اعلم أن التمليك يكون فى معنى الهبة ويتم بالقبض وإذا عرى عن القبض والتسليم اختلف العلماء فيه، فقيل يجوز وقيل لا يجوز قياسا على الهبة وأكثر المشائخ على أنه يجوز بدون تسليم وأنه غير الهبة.

(شرح المجلة ۳: ۳۵۱، المادة ۸۳۸)

دی، زه دا اراده لرم چې د خپل ځانه هغه ته درې کناله ځمکه هبه کړم، په داسې حال کې چې په دې ځمکه دده مصرف هم راغلی آیا زما لپاره دا روا دي؟

بینوا توجروا

المستفتي: فقير حسين د: پېښدی او سپدونکی ۱۹۷۸ کال نهمه میاشت ۱۰ تاریخ

جواب: په یاد صورت کې ناسو کولای شی چې خپل زوی ته درې کناله ځمکه هبه کړئ، ځکه چې دغه ځمکه دده د لاس په ګټې اخیستل شوې وه او دا زوی مو د بچیانو خاوند هم دی، داسې کس ته هبه روا ده. (کما فی الهندية ۴: ۳۹۷ ﴿۱﴾) وهو الموفق.

د ضرر په نيت ځينې بچيان بې برخې پرېښودل مکروه دي

سوال: د دين پوهان او عالمان په دې اړه څه وايي چې زيد په خپل ژوند کې خپل ټول ملکيت (منقوله او غير منقوله) د خپلو زامنو پسې ليکي، يوه لور او ښځه بې برخې پاتې کوي، دده دا عمل د شريعت له مخې ښه کار دی او که بد؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي احمد خان بټل ډاکخانه چنار کوټ، مانسهره ۱۳۸۹ هـ کال رجب مياشت ۴ تاريخ

جواب: ددې له امله چې زيد ددې مال څښتن دی فتوی دا ده چې ده ته روا دي؛

﴿۱﴾ وفي الهندية: ولو وهب رجل شيئا لأولاده في الصحة وأراد تفضيل البعض على البعض في ذلك، لا رواية لهذا في الأصل...... وروى المعلى عن أبي يوسف رحمه الله تعالى أنه لا بأس به إذا لم يقصد به الإضرار.

(فتاوی هندية ۴: ۳۹۱، كتاب الهبة، الباب السادس في الهبة للصغير)

وقال العلامة الحصكفي: وفي الخانية لا بأس بتفضيل بعض الأولاد في المحبة لأنها عمل القلب وكذا في العطايا إن لم يقصد به الإضرار.

(الدر المختار ۴: ۵۷۳، كتاب الهبة)

خو په تقوی کې بیا تفصیل دا دی چې د مسلمان سره دا نه دي مناسب چې څوک بغیر له کومې ګناه بې برخې کړي.﴿۱﴾ (قال رسول الله ﷺ اعدلوا فی اولادکمْ فانّ العدلَ من حقوق الأولاد،وقال لا أشهدُ علی جورٍوقال أشهدُ علیه غیری﴿۲﴾ خو د کراهت دا خبره هغه مهال ده چې نورو وارثانو ته ضرر مقصد وي، که ضرر مقصد نه وي بیا هیڅ کراهت نه لري، لما فی الدرالمختار: لا بأسَ بتفضیل بعض الأولادِ فی المحبّةِ و کذا فی العطایا ان لمْ یقصد به الاضرار فافهم.﴿۳﴾ وهوالموفق.

هبه په فاسدو شرطونو نه فاسدیږي

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې زید خپله ځمکه خپل تره عمر ته هبه کړه، ورسره یې دا شرط هم ولګولو تر څو چې ته ژوندی یې؛ نو تر هغه پورې ته ترې ګټه اخیستلای شې؛ که د مرګ وروسته دې ما ته راکړه؛ خو دېره ښه ده، که نه نو ستا په میراث کې به شمار وي

ددې سره یې دا شرط هم ولګولو چې خپل زوی بکر به د خپل مرګ وروسته ددې ځمکې نه بې برخې کوې؛ آیا داسې هبه صحیح ده؟ په داسې حال کې چې د زید او عمر تر منځ د خپلولی رشته هم ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي ادریس تحصیل هري پور ایبټ آباد ۱۴۰۳ ه کال د شعبان میاشت ۲۶ تاریخ

﴿۱﴾ فی الهندیة: ولو وهب رجلٌ شیئا لأولاده فی الصحة وأراد تفضیل البعض علی البعض...... عن ابی حنیفة رحمه الله لا بأس به إذا کان التفضیل لزیادة فضل له فی الدین وإن کان سواء یکره وروی المعلی عن ابی یوسف رحمه الله : أنه لا بأس به إذا لم یقصد به الإضرار وإن قصد به الإضرار سوّی بینهم. (فتاوی هندیة ۴: ۳۹۱،الباب السادس فی الهبة للصغیر)

﴿۲﴾عن النعمان بن بشیر رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ اتقوا الله واعدلوا فی اولادکم...... فإنی لا أشهد علی جور...... وقال فاشهد علی هذا غیری.

(الصحیح المسلم ۲: ۳۷، باب کراهة تفضیل بعض الأولاد فی الهبة)

﴿۳﴾ (الدر المختار ۴: ۵۷۳، قبیل باب الرجوع فی الهبة)

جواب: دا هبه لازمه شوه، هبه کوونکی د رجوع حق نه لري، لکونــه الی ذي رحم محرمٍ ﴿۱﴾ دا ډول شرائطو ته هیڅ اعتبار نشته، لأنّ الهبة لا تفســدُ بالشروط الفاسدةِ و نظیره العمری والرقبی، فافهم﴿۲﴾. والله اعلم بالصواب

په چل کاغذ باندي د هبې په لیکلو سره ملکیت نه ثابتیږي

سوال: د دیــن عالمـان پــه دې اره څه وایـي چې یــو ســړی کلالــه دی، د هغــه وارثان یوازې څلور وراره ګان او درې ورېرې دي، پـه دغـو وارثانو کې یو وراره پـه درواغـه د ملکیت ټول کاغذونه پـه خپـل نوم کړي، کلـه چې یې تره خبر شو؛ نو سمدستي یې تره ته وویل: چې ما جعلي کاغذونه ټول لرې کړي، څمکه او هر څه ستا خپل دي؛ بیا وراره کوشش وکړ او پـه حکومت کې یې ټول کاغذونـه پـه خپـل نوم کړه او تره یې پـه مکمـل ډول تـرې وویست، پـه داسې حال کې چې اوس یې تره مړ شوی، ددې مسئلې شرعي حل څه دی؟

بینوا توجروا

المستفتي: محمد اسماعیل دیروي متعلم دار العلوم حقانیه ۱۴۰۱ هـ کال د ربیع الاول میاشت ۱۲ تاریخ

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: قوله والقاف القرابة فلو وهب لذی رحم محرم منه لا یرجع لحدیث الحاکم مرفوعًا إذا کانت الهبة لذی رحم محرم لم یرجع فیها وصححه وقال علی شرط الشیخین. (البحر الرائق ۷ ۲۹۴ کتاب الهبة، باب الرجوع فی الهبة)

﴿۲﴾ فی شرح المجلة: أما لو شرط فیها شرط فاسد فالهبة جائزة والشرط باطل...... اجمعت المتون علی جواز العمری وعدم جواز الرقبی لأن العمری هی أن یجعل داره له عمره فإذا مات ترد علیه فهی هبة منجزة شرط فیها شرط فاسد فتصح ویبطل الشرط، والرقبی هی أن تقول إن مت قبلک فهی لک فهی هبة معلقة بخطر لاحتمال موت الموهوب له قبل الواهب. (شرح المجلة ۳:۳۶۵، ۳۶۶، المادة: ۸۵۴ کتاب الهبة)

جواب: که دې تره دغه وراره د هبې مع القبض لپاره نه وي خاص کړی؛ نو د دراوغو کاغذونو جوړولو سره څوك د ځمکې مالك نه جوړیږي، لأنّ النبی ﷺ نهی عن الغرر﴿۱﴾ وقال من عمل عملاً لیس علیه أمرنا فهو ردٌّ (ترجمة الباب ۲۸۷ بخاري لومړی ټوك)﴿۲﴾و فی شرح المجلة ۴۶۲ : تنعقد الهبة بالایجاب والقبول و تتم بالقبض ،﴿۳﴾ و فیه أیضاً ۴۶۴: یلزم اذن الواهب صراحةً أو دلالةً فی القبضِ﴿۴﴾ وهو الموفق.

په هبه شوي ځمکه کې انتقال تاواني نه دی

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې یو سړی د کونډې ښځې سره واده وکړي، د لومړي خاوند څخه یې یوه لور وه، هغه خاوند یې د ډېرې ځمکې مالك ؤ، د هغه په مړینې یې ښځې ته خپله برخه ورسېده. د وخت په تېرېدو دې ښځې دغه ځمکه خپلو ورونو ته هبه کړه او هغوی پرې قبضه وکړه؛ خو په څه وجه دغه ځمکه د ورونو د نوم نه پاتې شوه. (ب) دغه ښځې د بل خاوند نه د مهر غوښتنه وکړه، خاوند د مهر ادا کولو نه انکار وکړ، په ښځې د ډېر درد او تکلیف له امله د مرګ څپه راغله او هغه مړه شوه- نکاح هم فسخ نه شوه، آیا خاوند ته

﴿۱﴾ وفی مشکوٰة المصابیح: عن أبی هریرة قال نهی رسول اللّٰه ﷺ عن بیع الحصاة وعن بیع الغرر. (مشکوٰة المصابیح ۲۴۷، باب المنهی عنها من البیوع، الفصل الأول)

﴿۲﴾ (صحیح البخاری ۱: ۲۸۷ کتاب البیوع، باب النجش...... ومن عمل عملا لیس علیه أمرنا فهو رد)

﴿۳﴾ (شرح المجلة ۳: ۳۴۴، المادة ۸۳۷، الفصل الأول فی بیان المسائل المتعلقة برکن الهبة)

﴿۴﴾ (شرح المجلة ۳: ۳۵۳، المادة ۸۴۲، الفصل الأول فی بیان المسائل المتعلقة برکن الهبة)

د ښځې په دغه هبه شوي ځمکه کې کومه برخه رسیږي او که نه؟بینوا توجروا
المستفتي: محمد اختر جان ضلع راولپنډي ۱۹۶۹م کال، لسمه میاشت ۲۰ تاریخ

جواب: هبه خو په ایجاب - قبول او قبضې کولو پوره کیږي.﴿۱﴾ د انتقال (په نوم کولو) په نه شتون کې شرعي هبې ته هیڅ زیان نه رسیږي او دغه ځمکه د ورونو ملکیت دی (عند وجود شرائط صحة الهبة)﴿۲﴾ د خاوند ددې ځمکې سره هیڅ تړاو نشته. اګر که نکاح نه وي فسخه شوې. وهو الموفق.

هبه کوونکی د خپلوانو د هبې څخه رجوع نه شي کولای

سوال: د دین عالمان په دې اره څه وایي چې یو سړی خپله ځمکه د دوو لورګانو تر منځ ووېشي، د بیلګې په ډول څلور جریبه ځمکه مشرې لور ته ورکړي او څلور جریبه ځمکه کشرې لور ته د امضاء سره ورکړي. څه وخت وروسته د مشرې لور څخه ځمکه اخلي او کشرې لور ته یې د جمعې په ورځ د ټولو خلکو په وړاندې هبه کوي. اوس د دواړو لورګانو په دې باندې جنګ دی. مشره وایي چې زما سره د پلار د لاس امضاء کړی خط دی چې ځمکه یې ماته راکړې او کشره لور یې وایي د جمعې په ورځ د دومره خلکو په وړاندې مې پلار د خپل زوړ خط څخه رجوع کړې وه او ټوله ځمکه یې ماته راکړې وه. آیا مشره لور د کشرې لور څخه خپله ځمکه اخیستلای شي او که نه؟ د پلار رجوع یې صحیح ده او که نه؟بینوا توجروا
المستفتي: عبید الله چترالي ۱۹۷۰م کال، د جون میاشت ۲۲ تاریخ

﴿۱﴾فی شرح المجلة: تنعقد الهبة بالإیجاب والقبول وتتم بالقبض.
(شرح المجلة ۳: ۳۴۴، المادة ۸۳۷، الفصل الأول فی بیان المسائل المتعلقة برکن الهبة)
﴿۲﴾قال العلامة الحصکفی: وشرائط صحتها فی الواهب العقل والبلوغ والملک...... وشرائط صحتها فی الموهوب ان یکون مقبوضا غیر مشاع ممیزا غیر مشغول.
(الدرالمختار ۴: ۵٦۷، کتاب الهبة)

جواب: که پلار د بشلو وروسته لور ته شرعي قبضه ورکړې وي بیا د پلار رجوع نه صحیح کیږي، کشره لور یوازې د خپلې برخې مالکه ده. قال فی الهدایة ۳: ۳۷۴: وان وهب هبةً لذی رحمٍ محرمٍ منهُ لم یرجع فیها لقوله علیه السلام اذا کانت الهبةُ لذی رحمٍ محرمٍ لم یرجع فیها﴿۱﴾رواه البیهقی والدار قطنی والحاکم﴿۲﴾و بمعناه فی البحر﴿۳﴾والنهر والفتح والبدائع و ردالمحتار وغیره فلیراجع الی کتب الفقه. فقط

امام ته د ورکړل شوي ځمکې حکم

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې یو مولوي صاحب ته د پلار نیکه نه یوه داسې ځمکه پاتې ده چې هغوی ته یې قوم د امامتی له امله ورکړې وه، اوس مهال د قوم او مولوي صاحب تر منځ شخړه پېښه شوې، مولوي صاحب ورته وایي چې دا ځمکه راته د پلار او نیکه نه په میراث کې راپاتې ده او قوم یې وایي چې دا مو ږ ستا نیکه ته د امامتی له امله ورکړې وه، ددې سره - سره به مو هغه ته میاشتینی تنخا هم ورکوله. په داسې حال کې چې د یوې ډلې سره هم شاهدان نشته، مهرباني وکړئ په شرعي مسئلې مو پوه کړئ. بینوا توجروا

المستفتي آفتاب الدین د تخت بهایي ضلع مردان اوسیدونکی ۱۴۹۰ هـ کال، د رجب میاشت ۱۵ تاریخ

﴿۱﴾ (الهدایة ۳: ۲۹۰، کتاب الهبة ،باب ما یصح رجوعه ومالا یصح)

﴿۱﴾ قال العلامة أبو الفضل أحمد بن علی العسقلانی: حدیث إذا کانت الهبة لذی رحم محرم لم یرجع فیها، رواه الحاکم والدارقطنی والبیهقی من طریق الحسن عن سمرة بهذا. (الدرایة فی تخریج أحادیث الهدایة ۳: ۲۹۰، کتاب الهبة)

﴿۳﴾وفی البحر الرائق: قوله والقاف القرابة فلو وهب لذی رحم محرم منه لا یرجع لحدیث الحاکم مرفوعًا إذا کانت الهبة لذی رحم محرم لم یرجع فیها. (البحر الرائق ۷: ۲۹۲، کتاب الهبة، باب الرجوع فی الهبة)(ومثله فی فتح القدیر ۷: ۵۰۳، باب الرجوع فی الهبة، والبدائع ۵: ۱۹۰، باب الرجوع، وردالمحتار ۴: ۵۷۸، باب الرجوع فی الهبة)

جواب: په مخکنیو زمانو کې چې به امام ته کومې ځمکې ورکول کېدې په عاریت نه، بلکې د تملیك او هبې په نیت ورکول کېدې، ﴿۱﴾ ځکه چې هغوی دا اعتماد کولو چې د همېش لپاره به دا سړی زموږ امام وي، د همدې له امله موږ مخکې ویلي دي چې هبه په فاسدو شرطونو سره نه فاسد یږي، بلکې فاسد شرط خپله باطل وي، ﴿۲﴾ ددې له امله دغه ځمکه د امام او د هغه سره د نورو وارثانو شریکه ځمکه ده، قوم هیڅکله نه شي کولای چې په ظلم دغه ځمکه د مولوي صاحب څخه واخلي. **فقط**

مهر خپل ورور ته هبه کول روا دي

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وايي چې زما د خور نکاح زما په وړوکوالی کې زما ترونو له چا سره کړې وه، د هغه وخت مناسب مهر یې ورته ټاکلی و، که اوس زما خور دغه مهر ماته هبه کړي؛ نو آیا د دغه مهر اخیستل زما لپاره روا دي او که ناروا؟ په داسې حال کې چې زه خپله د دیني علم زده کړیال یم او کله - کله جهادي مینه هم راپاندې غالبه شي بیا جهاد ته ځم، امید لرم چې په ځواب به مو ډېر زر ونازوئ. بینوا توجروا

المستفتي: مرسلین ضلع بنو، دوسلي ډاکخانه د ولي کلي اوسېدونکی، ۱۹۸۷م کال، اتمه میاشت ۳۰ تاریخ

جواب: که دا روپۍ قیمت نه، بلکې مهر وي؛ نو د ښځې لپاره یې اخیستل، هبه کول او هر ډول کارول یې روا دي، ځکه چې دا یې مالکه ده او مالك خپل مال هر ډول کارولای شي. ﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: وتتم الهبة بالقبض الكامل.
(الدرالمختار ۳: ۵۶۹، كتاب الهبة)

﴿۲﴾ وأيضا قال: وحكمها أنها لا تبطل بالشروط الفاسدة فهبة عبد على أن يعتقه تصح ويبطل الشرط.
(الدرالمختار ۳: ۵۶۷، كتاب الهبة)

﴿۳﴾ وفي المرقاة: وعن أبي حرة الرقاشي عن عمه قال قال رسول الله ﷺ ألا لا تظلموا، ألا لا يحل مال امرئ إلا بطيب نفس أي بأمر أو رضا منه.
(مرقاة المفاتيح ۶: ۱۱۸، باب الغصب والعارية)

د هبه کوونکي اوچاته چې هبه شوې مرینه یې د رجوع څخه مانع ده

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې زید پنځوس کاله وړاندې یو څه ځمکه زما پلار ته هبه کړې وه، د هغه وروسته یې زامنو هم دغه ځمکه په خپله خوښه زما سره پاتې کړه او س مهال د هغه لمسیو په زوره دغه ځمکه په خپل نوم کړې؛ نو اوس د دغه هبه شوي ځمکې د پیداوار څخه ګټه اخیستل د دوی لپاره روا دي او که ناروا؟ د هغوی لمونځونه، روژې او حجونه قبول دي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ۱۹۷۴م کال، ۱۱ میاشت ۱۷ تاریخ

جواب: په شرط ددې چې رښتیا او ثابت وي، د زید د لمسیانو لپاره ددې ځمکې اخیستل ناروا دي، لأنَّ الهبةَ تلزمُ بالموتِ كما في الدرالمختار: ويمنع الرجوع فيها حروفٌ (دمع خزقة) والميمُ موتُ أحدِ العاقدين،هامش رد المحتار ۴: ۵۱۵،۵۱۶،﴿۱﴾ددې له امله د زید د لمسیانو لپاره ددې ځمکې د پیداوار نه ګټه اخیستل ناروا دي﴿۲﴾وهوالموفق.

په پوره ډول قبضې نه ورکولو له امله هبه نه منل کیږي

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې زما پلار پنځوس کاله وړاندې د خپلې ځمکې څخه څه برخه د خپلې ښځې په نوم ولیکل او څه نوره ځمکه یې د نورو بچیانو په نوم ولیکل. یو زوی او یوه لور یې بې برخي پرېښودل، پاتي ځمکه یې په خپل ژوند کې ټولو وارثانو ته هبه کړه؛ خو دا ډېره لږه ځمکه وه او په دې کې یې د خپلې ښځې هبه شوې ځمکه یوخواته پرېښوده،

﴿۱﴾(الدرالمختار ۳:۷۶،۵۷۳، باب الرجوع فی الهبة، کتاب الهبة)

﴿۲﴾وفی المرقاة: عن أبی حرة الرقاشی عن عمه قال قال رسول الله ﷺ الا لا تظلموا، ألا لا يحل مال امرئ إلا بطيب نفس أي بأمر أو رضا منه.

(مرقاة المفاتیح ۶:۱۸۰، باب الغصب والعارية)

د مرګ نه مخکې د بوډا والي په وخت یې دغه ځمکه د خپل بل زوی په نوم کړه، اوس په ټوله شریکي ځمکه هغه تصرف کوي او له پیداوار څخه یې ګټه اخلي اوس چې کله د ځمکې د وېشلو وخت رارسېدلی، د کاغذونو د کتلو وروسته پورتنۍ صورت مخې ته راغی، یو ورور او یوه خور دواړه د خپل دریم ورور څخه غوښتنه کوي او وایي کومه ځمکه چې پلار د عمر په پای کې ستا په نوم هبه کړې، هغه مونږ ته ووېشه؛ دریم ورور یې انکار کوي، اوس مهال ټوله ځمکه د دویم ورور په ولکه کې ده او په وخت باندې زمونږ پلار دریم ورور ته قبضه نه وه ورکړې، اوس مونږ ستاسو څخه ددې مسئلې شرعي حل غواړو. بینوا توجروا

المستفتي حکیم هارون شنکیاري هزاره ۱۴۰۱ هـ کال ربیع الاول میاشت ۲۹ تاریخ

جواب: که پلار دغه ځینو وارثانو ته ځمکه هبه کړې وي؛ خو شرعي قبضه یې ورباندې نه وي کړې، داسې هبې ته هیڅ اعتبار نشته، کما فی رد المحتار ۴: ۵۱۱، فحیث علمت أنه ظاهر الروایة و أنّه نصَّ علیه محمّدٌ و رووهُ عنْ أبی حیفةَ رحمه الله ظهر أنّه الذی علیه العمل﴿۱﴾ که پلار د مالک کېدو په نیت ورکړې وي بیا یې هبه صحیح ده، لما فی التکملة ۲: ۴۶۱، اعلمْ أنَّ التملیك یکونُ فی معنی الهبة و یتمُّ بالقبضِ و اذا عری عنِ القبضِ والتسلیمِ اختلفَ العلماءُ فیهِ، فقیلَ یجوزُ وقیلَ لا یجوزُ قیاساً علی الهبة و اکثر المشائخِ علی أنّه یجوزُ بدونِ التسلیمِ و أنّه غیر الهبة﴿۲﴾. وهوالموفق.

د معمر انسان د عمري ځمکې هبه کول

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې ورونو د شریکي ځمکې د وېشلو

﴿۱﴾ (ردالمحتار ۴: ۵۷۰ کتاب الهبة)

﴿۲﴾ (تکملة ردالمحتار ۲: ۳۸۶ مطلب فی معنی التملیک)

پر مهال دوه کناله ځمکه خپلې مور ته ورکړه، زموږ مور دغه ځمکه یو دیني عالم ته ورکړه، دغه عالم د صدقې په نیت زموږ مور ته درې سوه روپۍ ورکړې، په داسې حال کې چې دغه عالم زموږ د مور لمسی دی، زموږ مور ده ته په دې نیت ځمکه ورکړې وه چې دی خپله ورځنۍ ارتیا ورباندې پوره کړي د هبې په نیت نه او زموږ مور ته دعاګانې وکړي، د همدې له امله موږ وایو چې د هغې د مرګ وروسته دغه ځمکه بېرته موږ ته حواله کړي، آیا د دغه عالم لپاره ددې ځمکې نه ګټه اخیستل روا دي؟ په داسې حال کې چې دغه عالم زموږ د مور د مړینې وروسته په زرګونه روپۍ ددې پسې خیرات کړي بینوا توجروا

المستفتي: حاجي محمد صاحب مدرس اعلی مدرسه نظامیه میرانشاه شمالي وزیرستان

جواب: په ظاهره دا معامله د عمری هبه ده، د تصریح سره سم د فقهي او حدیثو د روایتونو مطابق ددې معمر له (مور) دایمي ملکیت ګرځېدلی دی، ﴿۱﴾ او ددې معمر له (مور) لمسي یا لمسی ته هبه کول صحیح او ناقابل د رجوع دي ﴿۲﴾. وهو الموفق.

د ځمکې په هبه کولو کې د بلې ځمکې ورکولو شرط لګول

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې یوې حقیقي خور خپله ځمکه دوه ورونو ته د امضاء وروسته ورکړه، په حکومتي کاغذونو کې دا وینا ثابته ده، دواړو ورونو د هبې

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجيم: قوله وصح العمرى للمعمرله حال حياته ولورثته بعده وهى أن يجعل داره له عمره، فإذا مات يرد عليه لحديث الشيخين مرفوعًا العمرى لمن وهبت له. (البحر الرائق ۷: ۲۹۶،، ۲۹۷ كتاب الهبة، قبيل كتاب الإجارة)

﴿۲﴾ قال العلامة المرغيناني: وإن وهب هبة لذى رحم محرم منه لم يرجع فيها لقوله عليه السلام إذا كانت الهبة لذى رحم محرم لم يرجع فيها. (الهداية ۳: ۲۹۰ كتاب الهبة، باب مايصح رجوعه ومالايصح)

پر مهال دا اقرار وکړ چې د موهوبه ځمکې په بدل کې به موږ څه ځمکه خپلې خور کې ته ورکوو، د وخت په تېرېدو حکومت د دواړو ورونو نه دا ځمکه واخیسته او په پنجاب کې یې ددې په بدل کې نوره ځمکه ورکړه، خور یې د پنجاب په ځمکه دعوه وکړه چې په دې کې زما برخه ده، آیا خور یې د خپلې هبه شوي ځمکې څخه رجوع کولای شي او په بدل والا ځمکه کې یې برخه جوړېږي او که نه؟ په جواب ورکولو به ډېر زیات خوښ شم. بینوا توجروا

المستفتي: صاحبزاده عبد القیوم ډاکخانه توپی ضلع مردان ۱۹۸۲م جولائي ۵ تاریخ

جواب: ددې بدلې اندازه نامعلومه ده او فاسد شرط دی. ددې لـه امله د بنځې هبه صحیح او نافذه ده. دا فاسد شرط خپله ساقط دی هیڅ اعتبار نه لري. کما فی شرح التنویر علی هامش رد المحتار ۴: ۵۰۹ و حکمها انها لا تبطل بالشرط الفاسد ..... و یبطل الشرط ﴿۱﴾ په ورونو یې لازمه نه ده چې خامخا به خور ته ددې ځمکې په بدل کې نوره ځمکه ورکوي. وهو الموفق

د هبې د پوره کېدو لپاره قبول او قبضه ضروري ده

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې ماته مې پلار یو ځای کور په کال ۱۹۷۳م کې هبه کړ و، دغه وخت کور کې کرایه دار اوسېدو، زموږ د پلار په امر دوه - درې میاشتې وروسته زموږ مشر ورور ممتاز دې کور ته لاړ. څه وخت وروسته زما دوه واړه ورونه دې کور ته راغلل. بیا څه وخت وروسته زما وار راغی او زه دې کور ته راغلم. د کرایه دار روپۍ به زموږ پلار

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش رد المحتار ۴: ۵۶۷ کتاب الهبة

وفی الهندیة: قال أصحابنا جمیعًا إذا وهب هبة وشرط فیها شرطًا فاسدًا فالهبة جائزة والشرط باطل.

(فتاوی هندیة ۴: ۳۹۶، الباب الثامن فی حکم الشرط فی الهبة)

خپله په خپلو ارتیاوو کې مصرفولې، اوس سوال دا دی چې آیا زموږ د پلار دا هبه صحیح ده او که نه؟ غواړم چې جواب راته د کاغذ پر مخ د لیك په دول راکړئ: بینوا توجروا

المستفتي: عمر دراز ضلع بنو

جواب: که په لیکل شوي صورت کې قبول او قبضه دواړه په یقیني دول ثابت وي؛ نو هبه صحیح ده، که قبول او قبضه په یقیني دلیل سره نه وي ثابته؛ نو هبې ته یې هیڅ اعتبار نشته. کما فی شرح التنویر : وشرائط صحتها فی الموهوب أنْ یکونَ مقبوضاً غیر مشاعٍ ممیزاً غیر مشغولٍ و رکنها هوالایجاب والقبول کما سیجیئ(هامش ردالمختار۵: ۶۸۸)《۱》وهوالموفق.

په ترکه کې د وېش نه وړاندې تخارج روا او هبه ناروا ده

سوال: مایقول العلماء الکرامُ فی المسئلة الآتیة : مات رجلٌ و بقی منه العقار وغیره و وهب بعض الورثة الی بعضه حصةَ نفسه قبل القبضِ بعد تعین الحصص ، فهل یصحُ هذه الهبةُ فی المنقول وغیر المنقول أمْ یصحُ فی غیر المنقول دون المنقولِ أوْ بالعکسِ؟ بینوا توجروا

المستفتي: سید صفوة الله بلوچستاني

جواب: اعلمْ أنَّ بعض الورثة اذا اخذ شیئاً معیناً من الترکة و یدع الباقی

《۱》(الدرالمختار ۴:۵۶۷ کتاب الهبة)

وفی الهندیة: وأما رکنها فقول الواهب وهبت...... والقبول شرط ثبوت الملک للموهوب له ...... وأما شرائطها فمنها أن یکون الموهوب مقبوضا حتی لا یثبت الملک للموهوب له قبل القبض.

(فتاوی هندیة ۴: ۳۷۴، کتاب الهبة، الباب الأول)

لسائر الورثةِ فهذا جائزٌ و یقال له التخارج صرح بجوازه فی جمیع کتب الفقه فلیراجع الی ابواب الصلح «۱» و اما الهبة فجائزٌ بعد التقسیمِ صرح بـه فی هبة کتب الفقهِ «۲» و لا حاجةَ الی نقل العبارات لکن لا بـد اَنْ یکـونَ التقسیمُ باذن الورثة . فقط

د بچیانو خیل پلار ته ورکړې تنخا د چا ده؟

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې د زید یو څو زامن دي، په ځینو یې ښه تعلیمونه کړي دي او ښه تنخاګانې هم اخلي، د خپل پلار سره په یو شریك کور کې د ژوند شپې او ورځې سبا کوي. اوس سوال دا دی چې آیا دغه تنخاګانې به د پلار وي او که د زامنو؟ زموږ په ځای کې د دې مسئلې په اړه عالمان د یو بل سره اختلاف لري. بینوا توجروا

المستفتي مولانا حاجي محمد صاحب مدرس اعلی مدرسه نظامیه میرانشاه
۱۹۸۲م نومبر ۲ تاریخ

جواب: که بچیانو دغه تنخا پلار ته د هبې او تملیك په نیت ورکړې وي؛ نو پلار بې

﴿۱﴾ قال العلامة العینی: وإذا کانت الترکة بین ورثة فأخرجوا أحدهم منها بمال أعطوه إیاه والترکة عقار أو عروض جاز...... لأنه أمکن تصحیحه بیعا...... وفیه ای وفی جواز التخارج اثر عثمان رضی اللّٰه تعالٰی عنه فإنه صالح تماضر الأشجعیة امرأة عبد الرحمٰن بن عوف رضی اللّٰه تعالٰی عنه عن ربع ثمنها علٰی ثمانین الف دینار.
(البنایة علی الهدایة ۱۲: ۳۶۰ باب الصلح فی الدین، فصل فی التخارج)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: (وهب إثنان دارًا لواحد صح) لعدم الشیوع (وبقلبه) لکبیرین (لا) عنده للشیوع فیما یحتمل القسمة، أما مالا یحتمله کالبیت فیصح اتفاقا.
(الدرالمختار ۳: ۵۷۳ قبیل باب الرجوع فی الهبة)

شرعي مالك دى. ﴿۱﴾ كه پلار ته يې اباحة وركړې وي؛ نو پلار به يې ساتندوى وي مالك به يې نه وي. والمعتبر نية الدافع دون الآخذ كما في التكملة ۱ : ۳۵۹ : القول لدافع المال لا للآخذ ﴿۲﴾﴿۳﴾. وهو الموفق.

د نيكه لپاره د خپل لمسي ښځې ته په مهر كې ځمكه وركول

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې ستار خان د خپل لمسي اجمير ښځې ته په مهر كې اته مرلې ځمكه وركړه، په داسې حال كې چې د اجمير د وروڼو ښځو ته يې هيڅ هم نه دي وركړي. آيا دا پردى حق وهل دي او كه نه؟

بينوا توجروا

المستفتي: حاجي فيض الله خان جهانگيره ۱۹۸۲م ۷ مياشت ۱۲ تاريخ

جواب: دغه نيكه چې د لمسي ښځې ته په مهر كې كومه ځمكه وركړې ده هغه صحيح او نافذه ده؛ خو د بچيانو او لمسيانو تر منځ په بې ځايه فرق كولو سره به يې په اخرت كې پوښتنه كيږي؛ خو په دنيا كې يې حكم دا دى

﴿۱﴾ في شرح المجلة: يملك الموهوب له الموهوب بالقبض المراد بالقبض القبض الكامل...... والقبض الكامل فيما يحتمل القسمة بالقسمة.

(شرح المجلة ۳: ۳۸۱، المادة ۸۲۱ الباب الثالث في بيان أحكام الهبة)

وفي الهندية: ولا يتم حكم الهبة إلا مقبوضه...... والقبض الذي يتعلق به تمام الهبة وثبوت حكمها القبض بإذن المالك والإذن تارةً يثبت نصًا وصريحًا وتارةً يثبت دلالةً.

(فتاوى هندية ۴: ۳۷۷ كتاب الهبة، الباب الثاني فيما يجوز من الهبة ومالايجوز)

﴿۲﴾ وفي تكملة ردالمحتار :القول للدافع لأنه أعلم بجهة الدفع.

(تكملة ردالمحتار ۱ : ۳۹۱، مطلب واقعة الفتوى...... فروع)

﴿۳﴾ تنخواہیں تنخواہ دار بیٹوں ہی کی ہیں، لكونها حاصلة بكسبهم الذي مستقلون فيه.

(مفتى سيف الله حقانى)

چې هبه او بل څوك يې مالك کړځول دواړه صحيح دي. ونظيره ما في رد المحتار ۲: ۴۹۱ ، قوله ولا رجوع للأب الخ، أى لو أدى الأب المهر من مال نفسه لا رجوع على ابنه الصغير ﴿۱﴾وفى الهندية ۴: ۳۹۷ ، رجلٌ وهبَ فى صحته كل المال للولد جاز فى القضاءِ و يكون آثماً فيما صنع ﴿۲﴾ كذا فى فتاوى قاضى خان ﴿۳﴾.والله اعلم

د تولو مال وېشلو وروسته نوي پيدا شوي بچي د يو ورور په برخه کې شريکول

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې يو سړي خپله ټوله ځمکه په خپلو بچيانو ووېشل، دده د وفات وروسته خدای پاك بل بچی ورکړ، سره له دې چې خپلوانو ورته ډېر وويل: چې خدای پاك به بل اولاد درکړي؛ نو اوس ټوله ځمکه مه وېشه! خو پلار يې د مرينې پر مهال يې دا وصيت کړی ؤ چې که زما بل اولاد پيدا شي؛ نو هغه به د فلاني (زوی) په برخه کې شريك وي. آيا ددې نوي زېږېدونکي ماشوم برخه ددې نورو ورونو سره شته او که نه؟بينوا توجروا

المستفتي: محمد کريم مدرسه صوفی آباد ڈاکخانه کوټها تحصيل صوابی

جواب: کله چې پلار د ټولو ورونو تر منځ خپل مال ووېشلو او هر ورور ورباندې قبضه هم وکړه؛ نو د ټولو هبه تامه وګرځېده. په دې کې بيا رجوع نه صحيح کيږي ،فى الدرالمختار: وتتم الهبةُ بالقبضِ الكاملِ الخ (هامش رد المحتار ۴: ۵۱۰)﴿۴﴾و بمعناه فى جميع كتب الفتاوى﴿۵﴾ و فيه أيضاً والقافُ

﴿۱﴾ (ردالمحتار ۲: ۳۸۸ مطلب فى ضمان الولى المهر)

﴿۲﴾ (فتاوى هندية ۴: ۳۹۱ الباب السادس فى الهبة للصغير)

﴿۳﴾ (قاضى خان على هامش الهندية ۳: ۲۷۹ فصل فى هبة الوالد لولده والهبة للصغير)

﴿۴﴾(الدر المختار ۴: ۵۶۹ كتاب الهبة)

﴿۵﴾ فى شرح المجلة: وتتم الهبة إذا قبض الموهوب له فى مجلس الهبة المال الموهوب.

(شرح المجلة ۳: ۳۵۳ المادة ۸۴۱)

القرابةُ فلو وهب لذی رحمٍ محرمٍ منه نسباً ولوْ ذمیا أو مستأمناً لا یرجــعُ ، (هامش رد المحتار ۴: ۵۱۸)﴿۱﴾

کوم ماشوم چې د هبې وروسته پیدا شي، په وېشل شوي مال کې يې هيڅ برخه نشته، دغه راز پلار چې کومه خبره کړې (چې دا ماشوم به د فلانې په مال کې شريك وي) د هغې هيڅ اعتبار نشته. لأنه رجوع فی بعض الموهوبِ و هو لا یصحُّ لوجود القرابةِ المحرمةِ کما مرَّ﴿۲﴾وهوالموفق

د وېش وروسته ورور ته د هبه شوي ځمکې څخه رجوع کول

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وايي چې د زيد خور (چې هوښياره او بالغه ده) د پلار نه پاتې شوی ميراث په خپله خوښه د شاهدانو په وړاندې خپل ورور ته هبه کړ. اوس يې ورور (زيد) په خپله موهوبه ځمکه واکمن دی، د زيد خور په خپله خبره اوس پښېمانه ده. آيا په شريعت کې ددې رجوع ته اعتبار شته او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم...

جواب: که یقیني دا هبه د تقسيم وروسته شوې وي، رجوع نه شي کولای، که داسې نه وي بيا رجوع کولای شي. و فی الدر المختار : و تتم الهبة بالقبض الکامل فی محوزٍ مفرغٍ مقسومٍ و مشاعٍ لا یبقی منتفعاً به بعد أنْ یقسمَ ، وقــال بعــد اسطرٍ : ولو سلمه شائعاً لا یملکه فلا ینفذ تصرفه فیه، انتهی مختصــراً ، (و فی ردالمحتار ۴: ۷۰۳) قوله ولو سلمه شائعاً الخ قال فی الفتاوی الخیریةِ : ولا یفیــد الملك فی ظاهر الروایة ، قال الزیلعی ولو سلمه شائعاً لا یملکه حتیَ لا ینفذَ

﴿۱﴾ (الدرالمختار ۴: ۵۷۸ باب الرجوع فی الهبة)

﴿۲﴾ قال العلامة المرغیناني :وإن وهب هبة لذی رحم محرم منه لم یرجع فیها لقوله علیه السلام إذا کانت الهبة لذی رحم محرم لم یرجع فیها.

(الهدایة ۳: ۲۹۰ کتاب الهبة، باب ما یصح رجوعه وما لا یصح)

تصرفه فیکون مضموناً علیه ، و ینفذ فیه تصرف الواهب ذکره الطحاوی و قاضیخان ، وروی عن ابن رستم مثله و ذکر عصام انها تفید الملك و به أخذ بعض المشائخ الخ و مع افادتها للملك عند هذا البعض أجمع الکل علی أنّ للواهب استردادها من الموهوب له ولو کان ذا رحم محرم من الواهب الخ ﴿۱﴾ . وهو الموفق

د روغتیا پر مهال هر سړی د خپل مال ښندنې جوړل روا دي

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې یو سړی خپل ټول مال د داسې سړي په نوم کوي چې د مرګ وروسته د هغه وارث نه جوړیږي. دا ددې له امله چې په ژوند کې یې دده ډېر خدمت کړی ؤ. نور وارثان هم پرې خفه نه دي، اوس سوال دا دی چې آیا د نورو وارثانو څخه اجازه غوښتل لازمي دي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: ظهور شاه اکوړه خټك تحصیل نوشهره ۱۹۸۵م / ۷/ ۱۸

جواب: د روغتیا پرمهال خپل مال د هر چا په نوم کول روا دي، وارث یې وي او که نه وي، ټول مال ورکوي او که نیم مال ورکوي. وارثان یې خوشحاله وي او که خفه. ددې هیڅ اعتبار نشته ﴿۲﴾.وهو الموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار مع الدر المختار ۴: ۵۷۰ کتاب الهبة)

﴿۲﴾ قال العلامة وهبة الزحیلی: والهبة مشروعة مندوب إلیها لقوله تعالیٰ: فان طبن لکم عن شیئ منه نفسا فکلوه هنیئاً مریئاً...... وانعقد الإجماع علی استحباب الهبة بجمیع أنواعها، قال الله تعالیٰ: وتعاونوا علی البر والتقوی، وهی للأب افضل...... واتفق الأئمة علی أن الهبة تصح بالإیجاب والقبول والقبض. (الفقه الإسلامی وادلته ۵: ۳۹۸۱، ۳۹۸۲ کتاب الهبة، المبحث الأول)

وقال العلامة المرغینانی: الهبة عقد مشروع...... (بقیه حاشیه اګلے صفحه پر)

د مرګي حاله انسان هبه نه صحيح کيږي

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې يو سړي د مرګ پرمهال خپل ټول مال خپلې ښځې او يوې لور ته د ميراث په ډول وروو بښلو، په داسې حال کې چې ځينې وارثان يې د وېش پرمهال نه وو، ځينې يې نابالغه وو، د پلار د مړينې وروسته يې نابالغه ماشومان هم بالغان شول، اوس دا نابالغه ماشومان چې د وېش پرمهال نه وو د خپلې برخې د ميراث دعوه کوي. د پلار په وېش خفه دي او لور يې د پلار په وېش خوښه ده. آيا ددې وړوکي ماشوم د يو ځل وېش وروسته د دويم ځل وېش غوښتنې حق لري او که نه؟

بينوا توجروا

المستفتي: محمد نواز خان ۱۹۷۶م/۱۰/۱

جواب: په ډاګه دي وي چې دا تقسيم ميراث نه بلکې هبه ده، د مړينې پرمهال چاته په هبه باندې څه شی ورکول هغه وخت نه صحيح کيږي چې وارثان يې پرې خوش نه وي، په ياد صورت کې نابالغ د رضا اهليت نه لري، ددې له امله يې هبه او تقسيم نه صحيح کيږي. په ټولو وارثانو (ښځه، زامن او لورګانو) په له سره وېشل کيږي. كما فى الهداية ۴: ۶۵۵، و لا يجوز لوارثه الا أن يجيزها الورثة ﴿۱﴾واهبةُ من المريض للوارث فى هذا نظيره الوصية﴿۲﴾و بمعناه فى جميع كتب الفتاوى﴿۳﴾.وهو الموفق

(بقيه حاشيه) لقوله عليه السلام تهادوا تحابوا، وعلى ذلك انعقد الإجماع وتصح بالإيجاب والقبول والقبض أما الإيجاب والقبول فلأنه عقد، والعقد ينعقد بالإيجاب والقبول والقبض لابد منه لثبوت الملك. (الهداية ۳: ۲۸۳ كتاب الهبة)

﴿۱﴾ (الهداية ۴: ۶۵۵ كتاب الوصايا)

﴿۲﴾ فى مجمع الأنهر: الهبة والصدقة من المريض لوارثه نظير الوصية لأنه وصية حكما حتى تعتبر من الثلث. (مجمع الأنهر ۴: ۴۲۳ كتاب الوصايا)

﴿۳﴾ قال العلامة سليم رستم باز: إذا وهب..... (بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

د موهوب له مړینه د هبې څخه رجوع منع کوي

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې زما پلار یو تره درلود چې نوم یې محمد یونس ؤ، زموږ د پلار تره زموږ تره ته یوه لور ورکړه، کله چې محمد یونس مړ شو، زموږ تره د خپل خسر په کور کې د هغه د بچیانو سره ژوند تېرولو، د محمد یونس نورې ځلور لورګانې وې چې هغوی خپله ټوله ځمکه زموږ ددې تره په نوم کړه. زموږ د تره د مرګ وروسته ځمکه زموږ د پلار نوم ته انتقال شوه.

دغه ښځو (چې د محمد یونس لورګانې دي) زموږ پلار ته وویل: چې ته ددې ځمکې ځینې برخه خرڅه کړه او په موږ یې مصرف کړه، زموږ پلار ورته وویل: چې دا خو زما د ورور خپل حق دی، ددې خبرې په اورېدو ښځو وویل: چې زموږ ځمکه وه بېرته یې موږ ته وسپاره:

زموږ پلار ورته وویل: چې دا ځمکه خو اوس زما په نوم ده، هغوی دوسیه (مقدمه) جوړه کړه او عدالت ته یې وښوده، کله چې هغوی په عدالت کې ملامتې شوې؛ نو په ځینو سپینږیرو یې صلح کول غوښتل، اوس مهال زموږ پلار هم مړ شوی او ځمکه زموږ په نوم ده. آیا اوس دا ښځې د ځمکې د غوښتلو حق لري او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ١٩٧٥م/جون/ ٩

جواب: دغه وخت نه چې دا ځمکه د امین الحق په نوم شوه، اوس دا ښځې په دې ځمکه کې

(بقیه حاشیه) واحد فی مرض موته شیئاً لأحد ورثته وبعد وفاته لم یجز سائر الورثة لا تصح تلک الهبة أصلا لأن الهبة فی مرض الموت وصیة ولا وصیة للوارث (خانیة) ولکن لو اجاز الورثة هبة المریض بعد موته صحت.

(شرح المجلة ۴۸۳ المادة: ۸۷۹، الفصل الثانی فی هبة المریض)

د یوې لوېشتې حق هم نه لري، په خاصه توګه بیا چې امین الحق (موهوب له) خپله مړ شوی هم وي، لأن الموتَ یمنع الرجوع کما صرح به جمیع الفقهاء فلیراجع الی باب الهبة ﴿١﴾ وهو الموفق.

بدل د هبه کوونکي او هبه شوي مرګ د رجوع څخه منع کوي

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې زید خپله پوله ځمکه عمر ته هبه کړه او هغه ورته بدل هم ورکړ او س زید او عمر دواړه مړه شوي دي، دبرش کاله وروسته د زید اولاد دعوه کوي او د عمر د وارثانو څخه د خپل پلار هبه شوې ځمکه اخلي، آیا د دوی لپاره ددې ځمکې غوښتل روا دي او که ناروا؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي کابل استاذ غزګي چارسده ١٩٧٢م/اتمه میاشت ١٢ تاریخ

جواب: د بدل ورکولو او مرګ پیښېدو وروسته په هبه کې رجوع نه صحیح کیږي، في الدرالمختار: و یمنع الرجوع فیها حروفُ دمع خزقةٌ (الی أنْ قال) والمیم موت أحد العاقدینِ بعد التسلیمِ والعینِ العوضُ. ﴿٢﴾ (بحذفٍ یسیرٍ) و بمعناه فی جمیع کتب الفتاوی﴿٣﴾. وهو الموفق

﴿١﴾ وفی تکملة ردالمحتار: اعلم أن التملیک یکون فی معنی الهبة ویتم بالقبض وإذا عری عن القبض والتسلیم اختلف العلماء فیه، فقیل یجوز وقیل لا یجوز قیاسا علی الهبة وأکثر المشائخ علی أنه یجوز بدون التسلیم وأنه غیر الهبة.

(تکملة ردالمحتار ٢: ٣٨٦ مطلب فی معنی التملیک)

﴿٢﴾ قال العلامة الحصکفی: و یمنع الرجوع فیها حروف دمع خزقه ...... والمیم موت أحد العاقدین بعد التسلیم.

(الدرالمختار ٣: ٥٧٦ کتاب الهبة، باب الرجوع فی الهبة)

﴿٣﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٣: ٥٧٦ باب الرجوع فی الهبة)

﴿٣﴾ وفی الهندیة: أما العوارض المانعة من الرجوع فأنواع ...... منها موت الواهب...... ومنها العوض. کذا فی البدائع.

(فتاوی هندیة ٣: ٣٨٦ کتاب الهبة، الباب الخامس فی الرجوع فی الهبة الخ)

په ژوند خپل ميراث وېشل او فاسق زوى پرېښودل

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې زيد څو بچيان لري يو يې بكر نوميږي. ټول زامن يې له پلاره خوشحاله دي، يوازې بكر دى چې هر وخت له پلار سره ظلم كوي او خفه كوي يې. زيد په خپل ژوند كې دا اراده لري چې نورو بچيانو ته د هغوى برخې وركړي؛ خو عمر ته يې نه وركوي. هر وخت وايي چې زما دا زوى په ميراث كې هيڅ برخه نه لري. آيا پلار دا حق لري چې يو زوى له ميراثه بې برخې پرېږدي او كه نه؟ كه پلار دا حق لري نو د پلار د مرگ وروسته اوس آيا بكر د دعوې حق لري چې ماته مې خپله څمكه حق راكړئ او كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مصباح الله مردان د دارالعلوم حقانيه زده كوونكى ١٩٧٥م د

اپريل مياشت ۲۰ تاريخ

جواب: په دې شرط چې رښتيا او ثابته وي؛ نو يقيناً زيد دا حق لري. كما في الهندية ۴: ۳۹۷ولو كان ولده فاسقاً و أراد أنْ يصرفَ ماله الى وجوه الخيرِ و يحرمه عنِ الميراثِ هذا خيرٌ من تركه ﴿١﴾ كذا في الخلاصـــة ﴿٢﴾د تمليك وروسته څو بكر د دعوې حق بيخي نه لري. وهو الموفق

د ازاد ماشوم هبه كول

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې د بالغ يا نابالغ ماشوم هبه كول روا دي او كه ناروا؟ ماشوم ورور وي او كه زوى وي، ددې دواړو ترمنځ څه فرق شته او كه نه؟ په شرعي حكم مو خبر كړئ بينوا توجروا

المستفتي: عبد الرؤف خان امان كوټ دير

﴿١﴾ (فتاوى هندية ۴: ۳۹۱ كتاب الهبة، الباب السادس في الهبة للصغير)

﴿٢﴾ (خلاصة الفتاوى ۴: ۴۰۰ كتاب الهبة، جنس آخر في الهبة من الصغير)

جواب: د ازاد انسان هبه کول په هیڅ صورت نه روا کیږي، کما فی الهندیة ۱: ۲۸۷ ﴿۱﴾ وهو الموفق

د دوه کسانو شریکه ځمکه یو کس ته هبه کول

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې موږ د غلام محمد زامن هر یو محمد کریم او محمد نعیم دا اقرار کوو چې زموږ خادم چې محبوب الرحمن نومیږي، هغه ته د خپلې ځمکې یوه معینه برخه ددې لپاره چې دی وربانډې خپل کور جوړ کړي هبه کړ، زموږ نه وروسته نور اولاد هیڅ حق نه لري چې د محبوب الرحمن څخه په زور او زیاتي دا ځمکه واخلي، موږ د خدای په لاره کې دا ځمکه هغه ته بخشش کړه. ددې په اړه شرعي حکم څه دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: محبوب الرحمن اله ډهنډ ملا کنډ ۱۹۸۶م/ ۴/ ۱۲/

جواب: په دې شرط چې رښتیا او ثابت وي دا هبه صحیح او نافذه ده، کما فی شرح التنویر علی هامش رد المحتار ۴: ۵۱۴ ، وهب اثنان داراً لواحد صحَّ لعدمِ الشیوعِ ﴿۲﴾ وهو الموفق

په ژوند کې د خورګانو په خوښه ټول مال ورونو ته هبه کول

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې د یو سړي دوه زامن او پنځه لورګانې دي، دا ټولې بالغې وي، اوس دا لورګانې خپل پلار ته وایي چې پلار جانه! موږ ټولې خویندې په دې خوښ یو چې دا ټوله ځمکه او ابادي زموږ

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ومنها ان یکون مالا متقوما فلا تجوز هبة ما لیس بمال أصلا کالحر والمیتة والدم.

(فتاوی هندیة ۴: ۳۷۴ کتاب الهبة، الباب الاول فی تفسیر الهبة الخ)

﴿۲﴾ (الدر المختار ۴: ۵۷۳ کتاب الهبة)

وفی الهندیة: اذا وهب اثنان من رجل دارا فانه یصح بالاجماع کذا فی المضمرات والمفسد هو الشیوع المقارن لا الشیوع الطارئ.

(فتاوی هندیة ۴: ۳۷۸ کتاب الهبة، الباب الثانی فیما یجوز من الهبة الخ)

د ورونو په نوم کړي، پلار يې هم ټوله ابادي د خپلو زامنو په نوم کړه، آيا په دې باندې خو به په آخرت کې د پلار نيوکه نه کيږي؟ او دا انتقال د شريعت له مخې روا دی او که ناروا؟ بينوا توجروا

المستفتي: غلام رسول سپين کالوني صوابی ١٩٦٩م/٢/ ٤/

جواب: په ياد صورت کې که چانه ضرر رسول مقصد نه وي، ددې له امله دا هبه قضاءً او ديانةً دواړو طريقو سره روا ده، قال فی الهندية ٤: ٣٩٧ و روی المعلی عن أبي يوسف رحمه الله أنه لا بأس به اذا لم يقصد به الاضرار﴿١﴾و قال الله تعالى﴿وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾﴿٢﴾وهو الموفق.

د تمليک په صورت کې مال يوازې د مملک له حق دی

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې وزير د خپلې ځمکې څه برخه خپل زوی اول شاه ته ورکړه؛ خو دغه ځمکه د ډېر وخت نه د اول شاه په نوم وه، آيا اوس دغه ځمکه د اول شاه د مړينې وروسته دده وارثانو لکه: زامنو او لورګانو حق دی او که ورونه-خويندې يې هم پکښې برخه لري؟

بينوا توجروا

المستفتي: مسلم نوشهره ١٤٣٠ هـ/ ٢/ ١/

﴿١﴾(فتاوی هندية ٤: ٣٩١ کتاب الهبة، الباب السادس فی الهبة الصغير)

وقال العلامة الحصكفي: وفي الخانية لا بأس بتفضيل بعض الأولاد في المحبة لأنها عمل القلب وكذا في العطايا إن لم يقصد به الإضرار وإن قصده سوى بينهم يعطى البنت كالإبن عند الثاني وعليه الفتوى ولو وهب في صحته كل المال للولد جاز وأثم. (الدر المختار ٤: ٥٤٣ كتاب الهبة)

﴿٢﴾(سورة الحشر آيت: ٩)

جواب: که پلار دا ځمکه د تملیك په ډول خپل زوی ته ورکړې وي؛ نو دا د اول شاه ځمکه ده بل هیڅوك د ده سره شریك نشته. **لوجود سبب الملــك فی حقه دون غیره«۱»والله اعلم بالصواب.**

قانوني تمليک شرعي هبه ده

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وايي چې يو کس اوس مړ شوی دی خپله يوه لور يې د بې شماره دنيا مالکه پرېښوده؛ خو قبضه يې لا نه ده پرې کړې، تر اوسه پوري ددې ځمکې قبضه د مړي پسې ده. آيا دا تمليك صحيح دی او که نه؟ که صحيح نه وي په دې باندې ځيني اولاد دعوه لري چې پلار چاته قبضه نه وه ورکړې. آيا د دوی دا دعوه صحيح ده؟ **بینوا توجروا**

المستفتي: خطيب عبد الأحد د صوابی کلابټ اوسېدونکی ۱۹۸۵م / ۷/ ۱/

جواب: کله چې پلار دا دنيا لور ته بې قبضې پرېښوده؛ نو شرعاً داسې تمليك هم نه دی صحيح، ځکه چې قانوني تمليك خو د شرعي هبې يو ډول دی، په هبه کې قبضه ورکول شرط دي. «۲»والله أعلم بالصواب.

«۱» قال العلامة الحصكفی: وحكمها ثبوت الملک للموهوب له. (الدرالمختار ۴:۵۶۷ كتاب الهبة)

وفی تكملة ردالمحتار: اعلم أن التمليک يكون فی معنى الهبة ويتم بالقبض وإذا عری عن القبض والتسليم اختلف العلماء فيه، فقيل يجوز وقيل لا يجوز قياسًا على الهبة، وأكثر المشائخ على أنه يجوز بدون التسليم وأنه غير الهبة. (تكملة ردالمحتار ۲: ۳۸۶ مطلب فی معنى التمليک)

«۲» قال العلامة المرغينانی: وتصح بالايجاب والقبول والقبض.

(الهداية ۳: ۲۸۳ كتاب الهبة)

وفی شرح المجلة: تنعقد الهبة بالإيجاب والقبول وتتم بالقبض..... واعلم أن المراد بالقبض الذی تتم به الهبة هو القبض الكامل.

(شرح المجلة ۳: ۳۴۴، ۵، ۳۴۵، المادة ۸۳۷)

د اولادونو تر منځ په هبه کې تفصیل

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې د یو سړي اوه زامن دي. د ځینو څخه د خفګان له امله هغه په خپل ژوند کې وایي چې دا ټوله ځمکه مې په دې څلورو زامنو وېشم، آیا شرعاً دی دا حق لري چې ځینې زامن د میراث څخه بې برخې پاتې کړي؟ بینوا توجروا

المستفتي حافظ محمد ایوب دار العلوم حقانیه اکوړه خټک ۱۹۸۷م/ ۹/ ۶/

جواب: دا کړنه د فتوی له مخې روا خو د تقوی له مخې بیا ناروا ده. لحدیث اعدلوا فی اولادکم (رواه مسلم) ﴿۱﴾ داسې کړنه د اولاد تر منځ بې اتفاقي او د دشمنی ریښې پخوي. حکومت هم د داسې دوسیو د واپس کولو حکم ورکوي. وهو الموفق.

نامعلومه شی هبه کول (هبة المشاع) فاسد دي

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې د سیف علي (مرحوم) درې بچیان دي. د پلار څخه پاتې شوی میراث درې کناله ځمکه د هغوی ټولو تر منځ شریکه وه. د هر یوه برخه بېله - بېله نه وه. د سیف علي دوه لورګانو خپلې نامعلومې ځمکې د خپل ورور په نوم د شاهدانو په وړاندې هبه کړې. بیا یې ورور د خویندو په ښتون کې دغه ځمکه خپلې ښځې ته هبه کړه.

﴿۱﴾ (الصحیح المسلم ۲: ۳٦ باب کراهة تفضیل بعض الأولاد فی الهبة)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاری: ولو وهب جمیع ماله لابنه جاز فی القضاء وهو اثم نص عن محمد هکذا فی العیون.

(خلاصة الفتاوی ۴: ۴۰۰ کتاب الهبة، قبیل الفصل الثانی)

آيا دا هبه صحيح ده او كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: حاجي عبد الديان مدرس دارالعلوم چترال ١٩٧٢م/٦/ ٢٥/

خواب: په ياد صورت كې د مشاع له امله دا هبه فاسده ده، ددې له امله هبه كوونكى د رجوع حق لري او د ورور لپاره يې تصرفات ناروا دي. (صرح به فى رد المحتار ۴: ۵۰۹، ۵۱۰) ﴿۱﴾وهو الموفق.

د پلار له خوا په هبه شوي شي كې رجوع نه صحيح كيږي

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې يو سړي په خپل ژوند كې په خپلو پنځو بچيانو ميراث وويشلو او هغوى ټولو په خپلو برخو كې تصرف هم وكړ، اوس پلار په زوره يوه برخه غواړي او خرڅوي يې: نو آيا دا اخيستل او بيا خرڅول روا دي او كه ناروا؟ كه پلار دا ځمكه واخلي: نو د پلار د مړينې وروسته به دا ځمكه د چا وي؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي عبد الواحد ډهكي چارسده ... ١٩٧٠م /د مئ مياشت/ ١٣/

جواب: د پلار لپاره په هبه كې رجوع نه صحيح كيږي، دا ځمكه يې د دغو زامنو حق دي، د هغه خرڅولو ته هيڅ اعتبار نشته. وفى الهداية ٣: ٣٧۴: و ان وهب هبةً لذى رحمٍ محرمٍ منهُ لم يرجع فيها لقوله عليه الصلوة والسلامُ :

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفى: وتتم الهبة بالقبض الكامل فى محوز مفرغ مقسوم ومشاع لا يبقى منتفعا به بعد أن يقسم وقال بعد أسطر: ولو سلمه شائعا لا يملكه فلا ينفذ تصرفه فيه.

وقال العلامة ابن عابدين: (قوله ولو سلمه شائعا الخ، قال فى الفتاوى الخيرية: ولا تفيد الملك فى ظاهر الرواية...... وذكر عصام أنها تفيد الملك وبه أخذ بعض المشائخ الخ ومع إفادتها للملك عند هذا البعض أجمع الكل على أن للواهب استردادها من الموهوب له ولو كان ذارحم محرم من الواهب الخ.

(ردالمحتار مع الدر المختار ٣: ۵٧٠ كتاب الهبة)

اذا كانت الهبةُ لذی رحمٍ محرمٍ منه لم يرجع فيها﴿١﴾ و هكذا فی جميع كتب الفقهِ ﴿٢﴾ وهو الموفق.

د هبې د صحيح کېدو لپاره د هبه کوونکي رضا ضروري ده

سوال: د دين عالمان په دې اره څه وايي چې د يو سړي ښځې دويمه نکاح کړې، د لومړي نکاح ښځه يې دوه لورګانې دي. دويمه نکاح يې د غلام محمد سره وکړه، د هغه ښځه يې يو زوی نور محمد پيدا شوی دی، اوس غلام محمد مړ شوی دی. د هغه زوی (نور محمد) په چل او درواغو د پلار ځمکه د هغه له لورې ځان ته هبه وليکل او ليکلي يې دي چې د هغه نور اولاد نشته، په داسې حال کې چې د مور مهر يې هم اوه کناله ځمکه ده. آيا دا هبه صحيح ده او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبد الحكيم پنډ سلطان پنډی ګهيب اټک.... ١٤٠٣ هـ/ شعبان/ ٢٨/

جواب: که چيرې دا چل او درواغ په شاهدی سره ثابت شي؛ نو ددې هبې هيڅ اعتبار نشته. يدل عليه مافی شرح المجلة، ٨٦، ٤٧٢، يلزم فی الهبة رضا الواهب﴿٣﴾ فافهم.

﴿١﴾ (الهداية ٣: ٢٩٠ كتاب الهبة، باب ما يصح رجوعه وما لا يصح)

﴿٢﴾ قال العلامة ابن نجيم: قوله والقاف القرابة فلو وهب لذی رحم محرم منه لا يرجع لحديث الحاكم مرفوعا إذا كانت الهبة لذی رحم محرم لم يرجع فيها وصححه وقال على شرط الشيخين.

(البحر الرائق ٧: ٢٩٢ كتاب الهبة، باب الرجوع فی الهبة)

﴿٣﴾ قال العلامة سليم رستم باز: يلزم فی الهبة رضا الواهب فلا تصح الهبة التی وقعت بالجبر والإكراه.

(شرح المجلة ٤٧٢ المادة: ٨٦٠ كتاب الهبة، الباب الثانی فی شرائط الهبة)

وفی الخانية: إن الرضا شرط جواز الهبة.

(فتاوی خانية على هامش الهندية ٣: ٢٨١ فصل فی هبة المرأة مهرها)

د شریکانو ځمکه یو کس ته هبه کول

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې زید د شاهدانو په وړاندې یوه شاړه ځمکه عمر ته ورکړه، د زید سره په کور کې دده وړوکی ورور هم ؤ، عمر ورته وویل: زه ستا د ځمکې هبه نه قبلوم، ځکه چې ستا سره دې په کور کې ورور هم شریك دی بیا به هغه دعوه کوي چې په دې ځمکه کې خو زما برخه هم ده. دویمه دا چې یقیني د هغه برخه خو په دې ځمکه کې شته. که ته خپله برخه هبه کوې؛ نو دې ته هبة المشاع وایي او د هبة المشاع هبه نه صحیح کیږي. زید ورته وویل: زه د خپلو ورونو وکیل یم. په مشوره د الله تعالی په لاره کې تاته دا ځمکه درکوو، عمر په دې ځمکه پنځه کاله خواري وکړه تر دې چې ځمکه ښه آباده شوه، اوس پنځه کاله وروسته چې زید خپله ځمکه داسې اباده ولیده؛ نو خپله یې نیت ورته خراب دی او وایي چې زما ځمکه بیرته ماته راکړه. په داسې حال کې چې دا ځمکه دده ده؛ خو ولکه یې ورباندې نشته. د دیر د نواب خخه راپاتې ځمکه ده. اوس د زید لپاره ددې ځمکې اخیستل څنګه دي؟ او عمر د خپل کښت د خوارۍ حق لري او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ..... ۱۳۹۹ هـ / رمضان المبارک / ۴/

جواب: که دا ځمکه دزید مملوکه نه. بلکې قبضه وي؛ نو د زید له خوا نه هبه صحیح کیږي او نه هم رجوع فی الهبه صحیح کیږي. بلکې د موات پرمهال خو عمر ددې ځمکې ابادوونکی دی او هم دې بې مالك دی، که په دې ځمکه باندې، د زید ملکیت

﴿۱﴾ فی شرح المجلة: ومنها أی من الشروط التی ترجع إلی الموهوب أن یکون مملوکا فلا تجوز هبة المباحات، لأن تملیک ما لیس بمملوک محال.

(شرح المجلة ۳: ۳۷۳ المادة: ۸۵۷، الباب الثانی فی بیان شرائط الهبة)

﴿۲﴾ فی شرح المجلة: إذا أحیا شخص أرضا من الأراضی الموات بالإذن السلطانی صار مالکا لها...... بدلیل التعبیر بلام الملک فی الحدیث...... (بقیه حاشیه اگلے صفحه پر)

منل شوی او په دلیل سره ثابت وي بیا بي که د نورو شریکانو څخه اجازه غوښتلي وي هبه بي صحیح کیږي، لصحة هبة ما فوق الواحد الی الواحد کما فی شرح التنویر﴿۱﴾وغیره﴿۲﴾که عمر بي له ثابتولو څخه عاجزه شي بیا چي په کښت او ونو باندي څومره لګښت شوی وي هغه به له زید نه اخلي (ماخوذ از کتاب الأموال من کتب الفقه و رد المحتار ۴)﴿۳﴾وهو الموفق.

بې له ځمکې د ونې هبه کول

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې د غلام سید په ولکه کې د چارمغزو (غوزانو) یوه ونه وه، ښایسته محمد پرې دعوه کوي چې دا ونه مي تاته په ګانه (رهن) کې درکړې وه نه په بیع قطعي سره، د غلام سید سره یو خط دی چې په هغې کې د ښایسته محمد څخه ددې ونې د اخیستلو په اړه لیکل شوي دي، ددې سره – سره یو شاهد یې هم درلود، کله چې ښایسته محمد د غلام سید له لورې خط او شاهد ولیدلو؛ نو ویل یې: چې کله ستا په اړه پلانی سړی شاهدي ادا کوي؛ نو دا ونه مي تاته بخشش (هبه) کړه، د غلام سید د مرګ وروسته دغه سړي بیا د غلام سید په زوی زیارت ګل باندې د رهن دعوه وکړه، اوس د زیارت ګل سره د ونې د بخششي یو خط شته؛ خو د بیع قطعي هغه شاهد انکار کوي، تاسو مهرباني وکړئ د شرعي حکم څخه مو خبر کړئ تر څو مسئله په اسانه توګه حل شي، او دا هم

(بقیه حاشیه) وهو قوله علیه الصلوٰة والسلام: من أحیا أرضا میتة فهی له.
(شرح المجلة ۴:۲۰۴:۲ المادة: ۱۲۷۲، الفصل الخامس فی إحیاء الموات)

﴿۱﴾وفی شرح التنویر: وهب اثنان دارا لواحد صح لعدم الشیوع.
(الدرالمختار ۴: ۵۷۳ کتاب الهبة)

﴿۲﴾قال العلامة المرغینانی: وإذا وهب اثنان من واحد دارا جاز. (الهدایة۳: ۲۸۸ کتاب الهبة)

﴿۳﴾وقال العلامة الحصکفی: ومن بنی أو غرس فی أرض غیره بغیر إذنه أمر بالقلع والرد وللمالک أن یضمن له قیمة بناء أو شجر أمر بقلعه أی مستحق القلع. (الدرالمختار ۵: ۱۳۷، کتاب الغصب)

راته ښيئ چې په شريعت کې د څه شي د بخشش (هبې) شاهدان وي؛ نو هغه منل کيږي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي مولوي محمد خان د امير جعفر خان د جومات امام کلئ ډهني مردان ... ۱۳۹۲ هـ / ربيع الثاني (۱۵)

جواب: په ياد صورت کې که ونه د ښايسته محمد په ځمکه کې وي؛ نو د ونې هبه کول صحيح دي او د شاهدی ادا کولو وروسته دا ونه د غلام محمد د زوی زيارت ګل مملوکه ده. که دا ونه د غلام سيد په ځمکه کې نه وي بيا يې هبه نه صحيح کيږي. في الدر المختار: ولا تصح هبة لبنٍ في ضرعٍ و صوفٍ على غنمٍ و نخلٍ في أرضٍ. وفي رد المحتار ۴: ۵۱۲، و أما نحو النخلِ في الأرضِ لو كانَ كلُّ واحدٍ منهما لشخصٍ فوهب صاحب النخلِ نخلاً كلَّه لصاحب الأرضِ أو عكسه فانَّ الهبةَ تصحُّ ﴿۱﴾ فقط.

يادونه: دبيع د دعوې په صورت کې مدعی عليه ته قسم ورکول روا دي ﴿۲﴾ وهو الموفق.

د اجارې ځمکه هبه کول

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې بنده يو څه ځمکه خپل زوی ته هبه کړې او دغه ياده ځمکه مې د څو کالو راهيسي يو سړي ته په اجاره ورکړې. اوس هم يو څو کاله پاتې دي او زوی مي غواړي چې په ياده ځمکه خپله ولکه راولي، اجاره دار لړې کول غواړي، په دې اړه راته يو شرعي حل وښيئ! ځکه چې اجارې والا وايي چې تر اوسه څو په اجاره کې يو څو کاله وخت پاتې دی. بينوا توجروا

المستفتي: حاجي باز محمد دوکاندار دير بازار ... ۱۹۸۷ م / ۶ / ۲۵

﴿۱﴾ (ردالمحتار مع الدر المختار ۴: ۵۷۱ کتاب الهبة)

﴿۲﴾ في شرح المجلة: وإذا ثبت المدعی دعواه بالبينة حكم الحاكم بذلك وإن لم يثبت يبقی له حق اليمين فإن طلبه كلف الحاكم المدعی عليه اليمين.

(شرح المجلة ۲ :۱۰۷، المادة:۱۸۱۸)

جواب: دا هبه نه صحیح کیږي، دا زوی دي ددې ځمکې مالك نه دی، یـدل علیه ما فی الکاملیة ۱۸۱ : سئلت عن رجلٍ وهب لابنه الصغیرِ داراً فیهـا ساکنٌ باجرٍ هل تجوزُ هذه الهبةُ فالجواب أنها لا تجوزُ﴿۱﴾قـال فی الهندیـة : رجلٌ وهبَ داراً لابنه الصغیرِ فیها ساکنٌ باجرٍ قال یعنی محمـد رحمه الله لا تجوزُ﴿۲﴾وهو الموفق.

پوازې په چیک کې نوم لیکلو سره هبه نه صحیح کیږي

سوال: د دین عالمان په دې اره څه وایي چې د بنده دوه زامن دي او دواړه به کار کوي او تنخا پلار ته ورکوي، بنه زیاتې روپۍ جمع شوي، پلار یې څه ځمکه پرې واخیسته او څه ځمکې یې له خلکو په ګانه (ګرو) کې له ځانه سره کینولي، ددې ځمکو او ګرو پرمهال یې په ټولو چیکونو کې د خپل یو زوی نوم ولیکلو، د پلار د مړګ وروسته د دواړو وړونو تر منځ شخړه پیښه شوه، د کوم ورور نوم چې په چیکونو کې لیکل شوی دی هغه دعوه لري چې دا هر څه زما خپل دي، ځکه چې زما نوم پرې لیکل شوی دی، د پلار له لورې په چیك کې د نوم لیکلو پرته بل هیڅ دلیل نه لري چې پلار دا ځمکه ده ته ورکړې وي، بلکې پلار خو مو دا اقرار کړی دی چې دا اخیستل شوې ځمکه ستاسو دواړو تر منځ شریکه ده، زموږ تر منځ تاسو شرعي فیصله وکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتي: ماسټر محمد زاهد ډاکخانه بټګرام

﴿۱﴾(فتاوی کاملیة ۱۸۱، کتاب الهبة)

﴿۲﴾(الفتاوی الهندیة ۴: ۳۹۲، الباب السادس فی الهبة للصغیر)

وقال العلامة ابن عابدین: وفی المنتقی عند محمد رجل وهب دارا لابنه الصغیر وفیها ساکن باجر قال لا یجوز، ولو کان بغیر أجر أو کان فیها یعنی الواهب فالهبة جائزة کذا فی التتارخانیة. (منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ۷: ۲۸۸، کتاب الهبة)

جواب: تر کومه چې هغه زوی چې پلار یې په چیکونو کې نوم لیکلی د پلار له لوري د شاهدانو په وړاندې د روغتیا په حالت کې هبه یا بیل څه ثابت نه کړي؛ نو دا تول څمکه به د دوارو ترمنځ شریکه وي. «۱» فقط

دوه زامنو ته په شریکه هبه کول

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې زید مړ شو، دده وارثان خالد، شاهد او عمران وو، پلار په ژوند کې عمران ته د هغه برخه ورکړه بیا یې ورته وویل چې ته زما له میراثه بې برخې یې! اوس د زید د مړینې وروسته دوارو ورونو عمران ته وویل چې د پلار د منقوله او غیر منقوله دوارو مالونو مالکان موږ یو، که دا دواړه ورونه سوګند وکړي چې موږ ته پلار دا څمکه هبه کړې ایا شرعاً داسې کول روا دي او که ناروا؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ... ۱۴۰۴ هـ/ ربیع الاول/ ۱۶/

خواب: د پلار دې هبې ته هیڅ اعتبار نشته؛ لما فی شرح التنویر علی هامش ردّ المحتار ۴: ۵۱۴: وهب اثنانِ داراً لواحدٍ صحَّ لعدمِ الشیوعِ وبقلبه لکبیرینِ لا عنده للشیوعِ فیما یحتمل القسمةَ «۲» وهو الموفق.

«۱» قال العلامة محمد خالد الأتاسي: فلو ادعت ورثة الميت أنه وهب أحد ورثته ماله الفلاني أو أبرأ ذمته من مال له عليه...... في حال المرض وهي الحالة التي يتعلق بها حق الورثة في تركته بقولهم إنا لا نجيز هذا التصرف...... وادعى الوارث الذي وقعت له هذه التصرفات أنه صحيح بقوله إنه صدر منه في حال صحته فالقول قول الورثة ولو برهنا ترجح بينة وقوعها حال الصحة. (شرح المجلة ۵: ۲۹۱، المادة:۱۷۵۵)

«۲» (الدر المختار على هامش ردالمحتار ۴: ۵۷۳ قبيل باب الرجوع في الهبة)

وفي شرح المجلة: وقالوا: لو وهب...... (بقیه حاشیه اگلے صفحه پر)

د عذر بغير د دوه زامنو تر منځ فرق كول

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې يو كس دا فكر لري چې زه خپل ټول مال د زامنو يا يو زوی په نوم كړم، ايا په شريعت كې داسې عمل گناه ده او كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم..... ۱۹۹۰م/ ۸/ ۱۱/

جواب ومنه الصدقُ والصوابُ: د پلار لپاره د زامنو او لوركانو تر منځ بې وجې فرق كول گناه ده، كه زوی يې معذور. بچه دار وي او يا هم زيات قرض دار وي بيا يو زوی ته په بل باندې برتري وركولو كې گناه نشته. (هندية)﴿۱﴾

وهوالموفق

(بقيه حاشيه) اثنان دارا لواحد صح لعدم الشيوع وبقلبه بأن وهب واحد من اثنين لا تصح عند الإمام للشيوع.

(شرح المجلة ۳: ۳۷۸ المادة: ۸۶۰، الباب الثاني في بيان شرائط الهبة)

﴿۱﴾وفي الهندية: ولو وهب رجل شيئا لأولاده في الصحة وأراد تفضيل البعض على البعض..... عن أبي حنيفة رحمه الله تعالى لا بأس به إذا كان التفضيل لزيادة فضل له في الدين وإن كان سواء يكره، وروى المعلى عن أبي يوسف رحمه الله تعالى انه لا بأس به إذا لم يقصد به الإضرار وإن قصد به الإضرار سوى بينهم ...... ولو كان الولد مشتغلا بالعلم لا بالكسب فلا بأس بان يفضله على غيره.

(فتاوىٰ هندية ۴: ۳۹۱، الباب السادس في الهبة للصغير)

قال العلامة ابن نجيم: يكره تفضيل بعض الأولاد على البعض في الهبة حالة الصحة إلا لزيادة فضل له في الدين وإن وهب ماله كله لواحد جاز قضاء وهو آثم كذا في المحيط.

(البحر الرائق ۷: ۲۸۸ كتاب الهبة)

د مرګ په حالانو کې وارثانو ته د هبه کولو حکم

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایې چې زینور شاه په کال ۱۹۵۴/ ۹/ ۴/ کې په حکومتي پاڼه دا لیکل کړي و، درې کناله ځمکه او ځای چې زما خپل ملکیت دی، په خپله رضا یې خپلې ښځې او لور ته چې زرین تاجه نومیږي ورکوم. مالکانه حقوق، قبضه او مالیه هر څه د دوی په ذمه دي. اوس د پلار د مرګ وروسته د هغه یو زوی د یادې ځمکې د اخیستلو کوشش کوي، بل زوی یې وایي: چې زموږ پلار دا ځمکه چانه ورکړې ده او س موږ د هیڅ شي غوښتنه هم نه شو کولای، په دې باندې موږ شرعي شاهدان هم لري او امضاګانې یې د وثیقې پرمخ لیکل شوې دي، اوس سوال دا دی چې د یادې ځمکې په زوره اخیستل روا دي او که ناروا؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الله کوه نور راولپنډی

ځواب: که زینور شاه د ځمکې وېش کړی وي، د هر یوه برخه یې جدا - جدا کړې وي او هر یو قبضه هم پرې کړې وي؛ نو هبه یې صحیح او نافذه ده،﴿۱﴾ په دې شرط چې دا هبه او تملیک په مرض الموت کې نه وي شوی.﴿۲﴾ فی الهدایة وغیرها: ولا یجوز الهبة فیما تقسم الا محوزة مقسومة الخ (۲۸۵)﴿۳﴾

وهو الموفق

﴿۱﴾ فی شرح المجلة: یملک الموهوب له الموهوب بالقبض المراد بالقبض القبض الکامل...... والقبض الکامل فیما یحتمل القسمة بالقسمة.

(شرح المجلة ۳: ۳۸۱ المادة ۸۶۱، الباب الثالث فی بیان أحکام الهبة)

﴿۲﴾ وأیضا فیها: إذا وهب أحد فی مرض موته شیئا لأحد ورثته وبعد وفاته لم تجز الورثة الباقون لا تصح تلک الهبة.

(شرح المجلة ۳: ۴۰۳، المادة: ۸۷۹، الفصل الثانی فی هبة المریض)

﴿۳﴾ (الهدایة ۳: ۲۸۵، کتاب الهبة)





كتاب الوديعة

قال النبى صلى الله عليه وسلّم
من أودع وديعة فلا ضمان عليه.
(ابن حبان)

كتاب الوديعة

قال النبيُّ صلى اللهُ عليه وسلمَ : من أودعَ وديعةً فلاضمانَ عليهِ.(ابن حبان)

د مودع د ورکېدو په صورت کې د ودیعت حکم

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې یو طالب د شپږو کالو راهیسې زما سره څیني کتابونه امانت ایښي دي، ددې وروسته مي هغه طالب بیا بیخي نه دی لیدلی، زما یو ملګری ډېره غوښتنه کوي چې دغه کتابونه ماته راوسپاره؛ ایا زما لپاره د امانت کتابونو بل چا ته ورکول روا دي او که ناروا؟ بینواتوجروا

المستفتي: محمد رؤف خان د هائی مکتب سر ښوونکی
مندوه ضلع کرک ۱۹۸۲/ اکتوبر/ ۱۵

جواب: معلومه خبره ده چې د امانت ایښودونکی ورك (مفقود) دی، له ده سره به د نورو ورکو په څېر کړنه تر سره کیږي. هغه دا چې کله دده د ورکېدو اویا کاله پوره ﴿۱﴾ شي اویا هم د وخت حاکم دده د مرګ فیصله وکړي بیا به ارث او وصیت جاري کیږي، ﴿۲﴾ د دې امانت د خرابېدو پر مهال باید امانت

﴿۱﴾ په سراجي کې دي چې فتوی په (تسعون سنة) نوي کالو ده. (مفتي سیف الله حقاني)

﴿۲﴾وقال العلّامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ: ولايستحقّ ماأوصى لهٗ اذامات الموصى بل يوقف قسطهٗ إلىٰ موت أقرانهٖ في بلدهٖ على المذهب. (الدرالمختار)

وقال ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: (قولهٗ على المذهب)وقيل يقدّربتسعين سنةً.....وقيل بمائة،وقيل بمائةوعشرين ،واختارالمتأخرون ستّين سنةً،واختارابن الهمام سبعين لقولهٖ عليه الصلاة والسلام أعمارأمّتي مابين ستّين الى سبعين فكانت المنتهىٰ غالباً.

(ردّالمحتار ۳: ۳۶۲ ،كتاب المفقود)

خرڅ شي او څښتن ته يې پيسې ورکړي؛ خو د بې عزته خلکو د امانت سائل دېر غوره دي، وأصل المسئلة فی شرح المجلة ۴۳۵ ،۷۸۵﴿۱﴾ فلیراجعْ والله اعلم بالصواب.

په وديعت کې ايښودل شوي کتابونه چاته عاريةً ورکول

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې د يو کس سره مولوي صاحب کتابونه ايښي دي، د تلو پرمهال يې د کور څښتن ته يوازې دومره ويلي ؤ چې زما کتابونه وساته؛ زه چې راغلم خپل کتابونه به درنه يوسم، خو اوس دوه ديرش کاله پوره شوه چې نه مولوي صاحب شته او نه هم د مولوي صاحب د خپلوانو څه درک شته. کتابونه هم خرابيږي، ايا مولوي صاحب دا اختيار لري چې دا کتابونه چاته د دې لپاره ورکړي چې علم په کې زده کړي او که نه؟ که دا شرط ورسره ولګوي چې که مولوي صاحب راغلو؛ نو کتابونه به بيرته واپس کوي؛ ايا دا شرط لګول روا دي؟ مهرباني وکړئ مسئله راته د شريعت په رڼا کې روښانه کړئ! بينوا توجروا

المستفتي: سخاوت شاه تور ډهير صوابی ۱۳۹۶ هـ/ شعبان/ ۳/

جواب: که د کتابونو د خرابېدو ويره وي بيا دي کتابونه خرڅ کړي او قيمت دي له ځانه سره خوندي کړي، کما فی الهندية ۴: ۳۴۴ و فی فتاوی ابی اللیث رحمه الله اذاكانت الوديعةُ شيئاً يخافُ عليه الفسادُ و صاحبُ الوديعة غائباً فان رفع الأمرُ الی القاضی حتی يبيعه جازَ وهو الأولیٰ؛ وان لَّم يرفعْ (الی أنْ قـال) وانْ لَّمْ يكن فی البلد قاض باعها وحفظَ ثَمنها لصاحبها، كذافی الوهاج﴿۲﴾ وبمعناه فی شرح

﴿۱﴾ وفی شرح المجلّة: إذاكان صاحب الوديعة غائباغيبة منقطعة بحيث لم يعلم موتهٔ ولاحياتهٔ يحفظها المستودع الی أن يعلم موت صاحبهاأوحياتهٔ وانّما اذاكانت الوديعة ممّايفسد بالمكث يبيعها المستودع بإذن الحاكم ويحفظ ثمنهاأمانة عندهٔ لكن اذالم يبعهافَفسدت بالمكث لايضمن. (شرح المجلّة ۳: ۲۵۵، المادة: ۷۸۵، الفصل الثانی فی أحكام الوديعة)

﴿۲﴾ (فتاوی هندية ۴: ۳۴۴ الباب الرابع فيمايكون تضييعًا للوديعة الخ، كتاب الوديعة)

المجلة ۴۳۵ ﴿۱﴾ په عاريت باندې چانه امانت كتابونه وركول نه دي صحيح، كما صرحوا به أنّ المودع لا يودع وهو واضحٌ ﴿۲﴾ وهو الموفق.

د امانت اېښودونكي د مړيني وروسته په وديعت باندې داسې څه اخيستل چې وارثانو ته يې گټه وي

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې د زيد امانت له بكر سره ؤ، زيد مړ شو؛ نو بكر به امانت چانه وركوي؟ د زيد په وارثانو كې دده مور، ښځه او څلور بچي دي او په يوه باندې مو باور نشته. بكر دا فكر لري چې د امانت په روپو باندې د زيد كورنۍ ته داسې يو شى واخلي چې ټول كور ترې گټه واخلي، د بېلگې په توگه كه هغوى ته روپۍ وركول شي؛ نو زموږ دا يقين دى چې روپۍ به هسې بې ځايه لاړې شي. بينوا توجروا

المستفتي: فضل الهى پېښور ۱۹۸۹م /اگست /۳۰/

جواب: كه د مړي ټول وارثان بالغان وي؛ نو د هغوى په اجازه كټور شى اخيستل روا دي،

﴿۱﴾ قال العلّامة سليم رستم باز رحمه الله تعالى: اذا كان صاحب الوديعة غائبًا غيبةً منقطعةً بحيث لا يعلم موتهٗ ولا حياتهٗ يحفظها المستودع الى أن يعلم موت صاحبها أمّا إذا كانت الوديعة ممّا يفسد بالمكث يبيعها المستودع بإذن الحاكم ويحفظ ثمنها أمانة عنده.

(شرح المجلّة لسليم رستم باز رحمه الله تعالى ۴۳۵، المادة ۷۸۵)

﴿۲﴾ وفي شرح المجلّة لسليم رستم باز: ليس للمستودع إيداع الوديعة عند آخر بدون إذن. (شرح المجلّة ۴۳۸، المادة ۷۹۵)

وفي الهندية: والوديعة لا تودع ولا تعار ولا تؤاجر ولا ترهن وإن فعل شيئًا منها ضمن.

(فتاوى هندية ۴: ۳۳۸ كتاب الوديعة، الباب الأول)

د هغوی بې اجازې څه شی اخیستل ناروا دي. ﴿۱﴾ځکه چې څښتن ته د امانت سپارل ضروري دي. في الهندية ۴: ۳۵۶ اذا مات رب الوديعة فالوارث خصمٌ في طلب الوديعةِ﴿۲﴾، که غالب یقین دا وي چې که مال ورکړم؛ نو بې ځایه به ترې لاړ شي، بیا به یې د پنځویشت کلنۍ وړاندې نه ورکوي ﴿۳﴾ سره له دې هم په امانت کې تصرف کول په هیڅ صورت نه روا کیږي فقط وهو الموفق.

د امانت مال په امانت ورکوونکي مصرفول

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې یو طالب خپل استاذ ته یو سل لس روپۍ امانت ورکړي وې. د وخت په تېرېدو طالب ناروغ شو. استاذ یې د ده لپاره په یو سل شل روپۍ موټر کرایه کړ. بیا یې ددې طالب لپاره څنده هم وکړه او هغه یې خپل وطن ته ولېږولو. بدبختانه چې د هغه وخت پوره ؤ؛ نو مړ شو. اوس ددې امانت ورکول د استاذ لپاره لازم دي او که څه وکړي؟

بینوا توجروا

المستفتي: مولوي عنایت ګل ارمړ پایان

﴿۱﴾ وفي الهندية: والوديعة لاتودع ولاتعار ولاتؤاجر ولاترهن وإن فعل شيئاًمنها ضمن.(فتاوى هندية۴:۳۳۸ کتاب الوديعة،الباب الأول)

﴿۲﴾ (فتاوى هندية۴:۳۵۴ کتاب الوديعة،الباب السابع فى ردّالوديعة)

وفي شرح المجلّة لسليم رستم باز رحمه الله تعالى:إذامات المودع تسلم الوديعة لوارثه.(شرح المجلّة ۳۴۶،المادة۸۰۲)

﴿۳﴾ وفي الهداية:إذابلغ الغلام غيررشيدلم يسلّم إليه ماله حتّى يبلغ خمساًوعشرين سنةًفإذابلغ خمساًوعشرين سنةً يسلّم إليه ماله.وإن لم يؤنس منه الرشد،وقالالايدفع اليه ماله أبداحتّى يؤنس رشده.

(الهداية:۳:۳۵۳،کتاب الحجر)

جواب: ښه خبره دا ده چې ټوله کرايه له چندي څخه ورکړي، که چنده دومره کمه وي چې نه پوره کېږي بيا دي د امانت له روپو څخه پوره کړي ﴿۱﴾ وهو الموفق.

په امانت کې بې اجازې لاس وهنه کول

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې موږ يو سړي ته د چيني (بورې) د تجارت لپاره روپۍ ورکړې وې، هغه د بورې پر ځاى سلاح واخيسته او په پېښه کې ټوله اسلحه وسوځېده او اور بې واخيست، ايا د امانت په روپو کې د هغه لپاره دا ډول لاس وهنه روا ده او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مستري شرين دوله پخه غلام پېښور ۱۹۸۲ م/ دسمبر/ ۲/

جواب: که په امانت کې بې اجازې لاس وهنه وشي او تاوان پېښ شي، تاوان به يې ورکوي (شامي ﴿۲﴾، شرح المجلة﴿۳﴾وغيره) وهو الموفق.

﴿۱﴾قال العلامة فخر الدين الزيلعي رحمه الله تعالى: وعلى هذالومات بعض الرفقة فى السفر فباعو اقماشه وعدته وجهزوه بثمنه وردّوا البقية إلى الورثة أو اغمى عليه فأنفقوا عليه من ماله لم يضمنو استحسانا، وروى أن جماعة من أصحاب محمّد حجوا فمات واحدمنهم واخذوا ماكان معهٗ فباعوه فلمّا وصلوا إلى محمّدسألهم فذكروالهٗ ذٰلک فقال لولم تفعلواذٰلک لم تكونوا الفقهاء، والله يعلم المفسدمن المصلح.
(تبيين الحقائق ۳:۲۵ قبيل كتاب العتاق)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالىٰ: و كذالوخلطهاالمودع بجنسهاأوبغيره بماله أومال آخر بغيراذن المالک بحيث لاتتميّزضمنهالاستهلاكه بالخلط وإذاتعدّىٰ عليهافلبس ثوبهاأوركب دابّتهاأواخذبعضهاثمّ ردّعينه إلى يده حتّى زال التعدّى زال مايؤدى إلى الضمان إذالم يكن من نيّته العود إليه. (الدرالمختار مختصراً ۴: ۵۵۵،۵۵۴ كتاب الايداع)

﴿۳﴾ قال العلامة سليم رستم باز رحمه الله تعالىٰ: ...... (بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

په کړوړه مال کښې حج کول - زکات ادا کول او مالک ته یې بیرته سپارل

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې يو سړي د بل په دکان کښې مزدوري کوله، د دکان په روپو کښې يې خيانت وکړ. د هغې وروسته يې خپل تجارت پيل کړ، اوس دا سړی په دغه روپو کښې حج کولای شي او که نه؟

بينوا توجروا

المستفتي: مولانا اسيد الله صاحب دامت بركاتهم العاليه...

۱۹۸۲م /ستمبر /۲/

جواب: (۱) کله چې دې خيانت کوونکي د غلا مال د نور پاک مال سره يو ځای کړی وي او بيا يې مالک شوی وي، دا ګټې ده په خپل ملکيت کښې ترلاسه کړې دي، په دې روپو باندې حج او زکات ادا کول روا دي. ﴿۱﴾(۲) په پټه طريقه دې د

(بقيه حاشيه) كما أنه يسوغ للمستودع استعمال الوديعة بإذن صاحبها فله أن يؤجرها أو يعيرها لآخر وأن يرهنها أيضا أما المؤاجر أو أعارها لآخر أو رهنها بدون إذن صاحبها فهلكت أو نقصت قيمتها في يد المستأجر أو المستعير أو المرتهن فإنه يضمن.

(شرح المجلة ۴۳۹ المادة ۷۹۲، الفصل الثاني في أحكام الوديعة وضمانها)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ولو خلط السلطان المال المغصوب بماله ملكه فتجب الزكاة فيه ويورث عنه لأن الخلط استهلاك إذا لم يمكن تميزه عند أبي حنيفة رحمه الله تعالى وقوله أرفق إذ قلما يخلو مال عن غصب وهذا إذا كان له مال غير ما استهلكه بالخلط منفصل عنه يوفي دينه وإلا فلا زكاة كما لو كان الكل خبيثا.

(الدر المختار ۲: ۲۷ كتاب الزكاة، قبيل مطلب في التصدق من المال الحرام)

وفي الهندية: ويجتهد في تحصيل نفقة حلال فإنه لا يقبل الحج بالنفقة الحرام مع أنه يسقط الفرض معها. (فتاوى هندية ۱: ۲۲۰ كتاب الحج، الباب الأول في تفسير الحج الخ)

خیانت مال په اندازه د هغه په مال کې ورشریک کړي او داسې نورې طریقې هم شته... «۱» وهو الموفق.

د دویم امانت دار څخه د لومړي امانتدار په ملګرتیا د امانت بې ځایه کېدل

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې زید د بېلګې په توګه عمر ته اوولس سوه ډېرش روپۍ، ددې لپاره ورکړې چې په دې باندې ګوره واخله؛ عمر د محمود په ملګرتیا پنجاب ته د ګوړي د اخیستو لپاره روان شو، د روانېدو پرمهال زید عمر ته ډېر زیات وویل چې هلکه د پیسو ډېر خیال کوه، داسې نه چې ورکې یې کړې، عمر وویل چې هو! زما څخه به ورکې شي؛ نو پیسې یې محمود ته ورکړې، له بد قسمته د محمود جېب په لاره کې غلو ووهلو. اوس زید وایي چې ماخو روپۍ زید ته ورکړې وې محمود ته مې نه وې ورکړې، زه خپلې روپۍ غواړم، ایا دی بې اوس غوښتلای شي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد ابراهیم ډېره اسماعیل خان... ۱۳۹۷ هـ/ جمادی الثاني/ ۲۶/

جواب: د محمود څخه د عمر د ملګرتیا له امله دا روپۍ ورکې شوې دي، ددې له امله په یوه باندې هم تاوان لازم نه دی، کما في شرح المجلة ۴۳۸ (ثم اعلمْ أنَّ المستودعَ الأوَّل انما يضمنُ اذا أودع الوديعةَ وهلكت بعد أنْ فارقها و أما قبله فلا ضمان على أحد لأنَّ الثاني قبض المالَ منْ يد أمينٍ كما مرَّ، والأوَّلُ لايكونُ بالدفع ضميناً مَا لَمْ يفارقْ لحضور رأيه فاذا فارقَ ترك الحفظَ

«۱» قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويبرأ بردها ولو بغير علم المالك في البزازية: غصب دراهم إنسان من كيسه ثم ردها فيه بلا علمه برئ وكذا لو سلمه إليه بجهة أخرى كهبة أو إيداع أو شراء.

(الدر المختار ۶: ۱۸۲، كتاب الغصب مطلب في رد المغصوب الخ)

وفي شرح المجلة: "وكذا يبرأ برد العين من غير علم المالك بأن سلمه إليه بجهة أخرى أو وهبه له أو أطعمه إياه فأكله والمالك لايدري أنه ملكه أو نحو ذلك من تسليم بإيداع أو شراء. (شرح المجلة ۳: ۲۱۳، المادة ۸۹۰)

اللازمَ بالتزامه فيضمنُ بتركه. مجمع الأنهر.﴿۱﴾وهو الموفق.

د هندوانو په مال کې خيانت او هندوستان ته د تلو وروسته د دوی د مالونو حکم

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې د هند او پاکستان د تقسيم نه وړاندې زيد په کوم ځای کې کار کولو، هلته ځينې هندوانو هم کار کولو چې د مسلمانانو سره يې نژدې اړيکې درلودې. کله چې د دواړو هيوادونو د جلا کېدو وروسته هغوی هندوستان ته لاړل: نو هغوی څه مال د زيد سره د امانت په توګه کېښود؛ خو زيد په غلطۍ سره هغې کې خيانت وکړ. اوس زيد ته دا معلومات نشته چې دا هندوان چېرته او کوم ځای اوسيږي، ايا زيد دا روپۍ د الله تعالی په لاره کې مصرفولای شي او که نه؟ او که بله طريقه يې وي هغه راته وليکئ چې موږ يې عملي کړو. بينوا توجروا

المستفتي: غلام رباني د اټک ښار

جواب: د کافر لپاره خيرات کول د پيسو ضايع کول دي،﴿۲﴾دا مال ته بو داسې مهاجر مسلمان ته ورکړه چې شيان يې په هندوستان کې پاتې وي. يا يې په غريبانانو او طالبانو باندې له دې چې د ثواب نيت وکړي ورېې کړه. ځکه چې غريبانان د بيت المال اصلي مصرف دي او دا هم د بيت المال حق دی. ﴿۳﴾-وهو الموفق.

﴿۱﴾(شرح المجلّة ۳۳۸،المادة ۷۹۰)

وقال العلّامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ولا يضمن مودع المودع فيضمن الأوّل فقط إن هلكت بعد مفارقته وإن قبلها لاضمان. (الدرالمختار ٤: ٥٥٧، كتاب الايداع)

﴿۲﴾و قال العلامة محمد عمر النسفي رحمه الله تعالى "وورد أيضا جعل الإيمان شرطا لصحة الأعمال كما في قوله تعالى: ومن يعمل من الصّٰلحٰت من ذكر أو انثى و هو مؤمن.

(شرح العقائد: ص ۹۲، الإيمان لا يزيد ولا ينقص)

﴿۳﴾قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى" و مصرف الجزية و الخراج و مال التغلبي و هديتهم للإمام و ما أخذ منهم بلا حرب و منه تركة ذمي و ما أخذه عاشر منهم مصالحنا، خبر مصرف كسد الثغور و كفاية العلماء و المتعلمين و به يدخل طلبة العلم".

(الدر المختار ۳: ۳۰٦، باب العشر و الخراج و الجزية، مطلب في مصارف بيت المال)

د امانت ساتونکي څخه د مال په ضایع کېدو تاوان اخیستل

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې یو کس بل ته د کتاب ورکولو پرمهال ووایي چې کتاب درکوم؛ خو ساتنه یې درباندې لازمه ده او بیا به یې زما تر کوره هم ته رارسوې! څه وخت وروسته دی ووایي چې هغه کتاب خو له ما نه ورك شوی دی. خپل ټول شیان یې به ساتلي او زما کتاب ترې ورك شو، حال دا چې د تلو پرمهال مې ورته ډېر زیات وویل چې د کتاب ساتنه درباندې فرض ده او هغه ورك کړ، ایا اوس هغه ددې کتاب ضامن دی او که نه؟ مهرباني وکړئ مسئله راته روښانه کړئ! بینوا توجروا

المستفتي: رحیم الله باچا صاحب اضاخېل بالا ... ۱۹۷۵ م / جولائي / ۳/

جواب: تر کله پورې چې د امین خیانت ثابت نه وي، په هغه باندې تاوان نشته، کما فی الدرالمختار علی هامش رد المحتار ۴: ۴۹۴: و هی أمانةٌ فلا تضمنُ بالهلاك الا اذا کانت الودیعةُ بأجرٍ .... مطلقاً .... واشتراط الضمان علی الأمینِ باطلٌ«۱» به یفتی بحذف یسیرٍ ، دا مودع امین ته سوګند ورکولای شي. لأنه منکر الضمان«۲»وهوالموفق .

﴿۱﴾ (الدرالمختار ۴: ۵۵۱ کتاب الإیداع)

وفی شرح المجلة: الودیعة أمانة فإذا هلکت بلا تعد من المستودع وبدون صنعه وتقصیره لا یلزم الضمان وإذا کان الإیداع بأجرة فهلکت أوضاعت بسبب یمکن التحرز عنه لزم المستودع ضمانها...... أن الودیعة بأجر مضمونة اتفاقاً.

(شرح المجلة ۳: ۲۲۲،۲۲۳ کتاب الودیعة، المادة ۷۷۷)

﴿۲﴾ فی شرح المجلة: ادعی ردّ الودیعة لصاحبها أوهلاکها بلا تعد ولا تقصیر یصدق بیمینه. (شرح المجلة ۳: ۲۸۹ کتاب الودیعة، المادة: ۸۰۰)





كتاب العارية

إنّ النبيّ صلى الله عليه وسلّم
استعار دروعًا من صفوان.
(أبو داؤد)

کتاب العاریة

انّ النبی صلی الله علیه وسلم استعارَ دروعاً من صفوانَ (ابو داؤد)

د معیر په عاریت ورکړې ځمکه کې د مستعیر د تګول شوي ونو کاټول

سوال: د دین عالمان په دې اره څه وایي چې زید نوي (۹۰) کاله وړاندې د عمر په ځمکه عاریةً د چارمغزو (غوزانو) یوه ونه کرلې وه. اوس عمر غواړي چې د زید څخه د ونې نیم چارمغز د خپلې ځمکې په بدل کې واخلي. زید ورته وایي چې نوي (۹۰) کاله کیږي تا زما څخه د ځمکې په بدل کې چارمغز وانه خیستل؛ نو اوس یوه دانه هم نه درکوم. په دې باندې د دواړو تر منځ اختلاف جوړ شو. مهرباني وکړئ ځواب زر راولیږئ چې د دوی دواړو تر منځ اختلاف ختم شي. بینوا توجروا

المستفتي: مولوي امیر محمد صاحب اباد نګریل ډاکخانه ضلع دیر ۱۹۲۹ م/ ستمبر/ ۲۳

جواب: د عمر لپاره په شریعت کې روا دي چې دا ونه له خپلې ځمکې وباسي، ځکه چې دا عاریت دی. قال رسول الله ﷺ (للفارس المستعير) انتَ مضارٌ فقال للأنصارى اذهبْ فاقطعْ نخله(رواه ابوداؤدَ)﴿۱﴾وفي الدرالمختارِ (ولو أعارَ أرضاً للبناءِ والغرسِ صحَّ وله أنْ يرجعَ متى شاءَ ويكفله قلعها الخ)﴿۲﴾فقط وهوالموفق .

د نابالغه ورور مال چاته عاریةً ورکول

سوال: ددین عالمان په دې اره څه وایي چې یو عالم وفات شوی، په میراث کې

﴿۱﴾(سنن أبي داؤد ۲: ۵۱۲ کتاب القضاء، باب من القضاء)

﴿۲﴾(الدّر المختار ۴: ۵۲۳ کتاب العارية)

و في الهداية : واذا استعار أرضا ليبني فيها او ليغرس جاز و للمعير أن يرجع فيها و يكلّفه قلع البناء و الغرس .(الهداية ۳: ۲۸۱ کتاب العارية)

ترې کتابونه پاتې دي، د هغه بالغ او نابالغه اولاد شته، مشر زوی یې د کور د غړو سر پرست دی، که څوک یې د مشر زوی څخه عاریتاً د مطالعې لپاره کوم کتاب واخلي؛ نو د مشر زوی یې اختیار لري او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: سلطان محمد مانکئ ضلع صوابی ۱۹۸۹م / نومبر / ۷/

جواب: کله چې د نابالغه ماشومانو مال پلار بې اجازې نه شي مصرفولای؛ نو ورور خو یې په طریق اولی نه شي مصرفولای. کما فی شرح المجلة ص ۴۶۱ : لیس للأبِ اعارةُ مالِ طفله لعدمِ البدلِ کالقاضی والوصی (تنویر وشرحه للعلائی)﴿۱﴾ دغه راز شریك هم خپل شریکي مال چاته عاریتاً نه شي ورکولای، فی شرح المجلة ص ۶۰۸ : حصةُ أحد الشریکینِ فی حکم الودیعة فی ید الآخرِ فاذا أودع أحدهما المال المشترك عند آخر بدونِ اذنٍ فتلفَ کان ضامناً حصةَ شریکه و کذا لو أعارَ أوْ آجرَ أو رهنَ﴿۲﴾ وهو الموفق

له زوی نه د هبه شوي یا عاریت څمکې واپس اخیستل

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وايي چې یو سړی درې زامن لري او د خلکو په وړاندې دا شاهدي ادا کوي چې زما ټول مال دې په څلورو برخو ووېشل شي، درې برخې دې زما د درې زامنو او یو دې زما وي. څه وخت وروسته دغه سړی

﴿۱﴾(شرح المجلة لسلیم رستم باز ۱ ۴۶۱،المادة ۸۳۲)

و فی الهندیة :ذکر شمس الأئمة فی أول شرح الوکالة ......وهل له أن یعیر مال ولده؟ بعض المتاخرین من مشایخنا قالوا له ذلک و عامة المشائخ علی أن لیس له ذلک.

(فتاوی هندیه ۴: ۳۶۲ کتاب العاریة ،الباب التاسع فی المتفرقات)

﴿۲﴾(شرح المجلة ۶۰۸ ،المادة ۱۰۸۷)

د خپل اقرار څخه واوړي: نو د هغه دې انکار ته اعتبار شته او که نه؟ ددې وروسته ددې سړي بل زوی هم پيدا شي، آيا هغه ماشوم به د پلار ۴/۱ برخه کې شريك وي او که د درې وارثه ورونو په برخو کې به شريك وي؟ د دلايلو په رڼا کې راته مسئله روښانه کړئ بينوا توجروا

المستفتي: عبد الواحد اليان كوروونه چارسده ۱۹۷۰م/جون/۱۱

جواب: که پلار څمکه د تمليك په ډول ورکړې او ورونو يې وېشلې وي: نو په دې صورت کې د پلار رجوع نه صحيح كيږي، صرح به الفقهاءُ لحديث اذا كانت الهبةُ لذى رحم محرمٍ لا يرجع فيها (فليراجع الى الهدايــة﴿۱﴾ وغيرها﴿۲﴾) ددې سړي د مرګ وروسته به ټول وارثان په ۴/۱ کې شريك وي. که د وېش وروسته يې هر زوی ته د عاريت په نيت ورکړې وي: نو بيا په هغې کې رجوع صحيح ده. ﴿۳﴾ څکه چې زمونږ په نزد په (مشاع) بې تقسيمه څمکه کې هبه نه صحيح كيږي. في الدر المختار: لا تتم بــالقبضِ فيما يقسمُ ولو وهبه لشريكه ولوسلمه شائعاً لا يملكه الخ﴿۴﴾ وبمعناه في جميع

﴿۱﴾ قال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالى: و ان وهب لذى رحم محرم منه لم يرجع فيها، لقوله عليه السّلام إذا كانت الهبة لذى رحم محرم لم يرجع فيها.

(الهداية ۳: ۲۹۰، كتاب الهبة، باب ما يصح رجوعه و مالا يصح)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: قوله و القاف القرابة فلو وهب لذى رحم محرم منه لا يرجع لحديث الحاكم مرفوعاًإذا كانت الهبة لذى رحم محرم لم يرجع فيها.

(البحر الرّائق ۷: ۲۹۳، كتاب الهبة، باب الرجوع فى الهبة)

﴿۳﴾ و فى الهندية: و للمعير أن يرجع فيها أطلق أووقّت.

(فتاوى هندية ۴: ۳۷۰ الباب السابع فى استرداد العارية)

﴿۴﴾ (الدر المختار ۴: ۵۷۰ كتاب الهبة

کتب الفروع﴿۱﴾ وهو الموفق .

په عاریت کې د رجوع کولو وروسته به مستعیر خپلې ونې پرې کوي

سوال: د دین عالمان په دې اره څه وایي چې زمونږ د تره زامنو زمونږ په ځمکه کې بې اجازې څه ونې کرلي دي، دغه ونو زمونږ کښت ته تاوان هم رسولی او زمونږ له کوره بې شمال (هوا) هم منع کړی دی، اوس دوی نه خپلې ونې پرې کوي او نه هم مونږ ته د ځمکې په بدل کې قیمت راکوي، په شریعت کې زمونږ لپاره څه کول پکار دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: کلرک شاه نوشهره کینټ ۱۴۰۲ هـ / رمضان المبارک /۹/

جواب: په دې مستعیر باندې ضروري ده چې خپلې ونې کاټ کړي، کما في شرح المجلة ۴۶۰: استعارة الأراضي لغرس الأشجارِ والبناءِ علیها صحیحةٌ ولکن للمعیر أن یرجع عنِ الاعارةِ متی شاءَ فاذا رجع لزمَ المستعیر قلع الأشجارِ و رفعِ البناءِ﴿۲﴾ وهو الموفق .

﴿۱﴾ و في جامع الفصولین "هبة المشاع فیما لا یحتمل القسمة تجوز من شریکه و من غیره و فیما یحتملها لم تجز لامن شریکه و لا من أجنبي.

(جامع الفصولین ص ۳۲ الفصل الحادی و الثلاثون في مسائل الشیوع)

﴿۲﴾(شرح المجلة لسلیم رستم باز رحمه الله تعالی ۴۶۰، المادة ۸۳۱).

وقال العلامة المرغیناني رحمه الله تعالی "واذا استعار ارضا لیبنی فیها اولیغرس جاز و للمعیر ان یرجع فیها ویکلّفه قلع البناء و الغرس .

(الهدایة ۳: ۲۸۱ : کتاب العاریة)

په مستعاره ځمکه کې کرل شوي ځمکې د مستعير دي

سوال: د دين عالمان په دې اره څه وايي چې زيد د اوبو والا ځمکه درلوده، د هغې سره د عمر باراني ځمکه هم نژدې وه، د نن نه دېرش كاله وړاندې زيد د عمر په خوښه د خپلو ځمكو د اوبه كولو پرمهال دده ځينې ځمكه اوبه كوله، ددې وروسته زيد په دغه ځمكه د عمر په خوښه ځينې ونې هم وكرلې، اوس چې كله ونې غټې شوې؛ نو عمر وايي چې ځمكه زما ده. ددې له امله ونې هم زما دي، په داسې حال كې چې زيد خپله اقرار كوي: ځمكه د عمر ده؛ خو ونې زما خپلې دي. څكه چې دا خو ما خپله د هغه په خوښه كرلي دي، ده ولې هغه وخت زه نه منع كولم، اوس به دا ونې د زيد وي او كه د عمر؟ بينوا توجروا

المستفتي: حافظ دل نثار حضرو اټک، ۱۹۸۵م/۴/۲۳/

جواب: كه دا اعاره او استعاره منل شوې وي؛نو دا ټولې ونې دزيد دي.﴿۱﴾ كه نه نو عمر ته به اجر مثل وركوي.﴿۲﴾وهو الموفق

﴿۱﴾وفي الهندية:وحكمها ملك المنفعة للمستعير بغير عوض.

(فتاوی هندية۴:۳۶۳كتاب العارية،الباب الأول)


وفي شرح المجلة:استعارة الأرض لغرس الأشجار والبناء عليها صحيحة لكن للمعير أن يرجع عن الإعارة متى شاء فإذارجع لزم المستعير قلع الأشجار ورفع البناء.

(شرح المجلة۴۶۰:المادة۱۸۳۱،الفصل الثاني في حكم العارية)

﴿۲﴾قال العلامة محمد كامل الطرابلسيؒ"ولو زرع أرض الغير بغير إذنه يعتبر العرف فإن العرف الغلة أنصافا أوأرباعا اعتبروإلا فالخارج للزارع وعليه أجر مثل الأرض.

(فتاوی كاملية۲۰۹،كتاب الغصب)





كتاب اللقطة

قال النبی

صلى الله عليه وسلّم

من التقط شيئًا فليعرفه سنةً.

(دار قطنی)

كتاب اللقطة

قال النبی صلی الله علیه وسلمَ من التقط شیئاً فلیعرفه سنةً (دار قطنی)

د لقطې شهرت او موده یې:

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې یو کس د زیات یا کم قیمت والا شی پیدا کړي. د اعلانولو وروسته دي څومره وخت له ځانه سره وساتي، د وخت د ختمېدو وروسته باید له دغو شیانو سره څه وشي؟ په خپل ضرورت کې دې راولي او که خیرات یې کړي؟ که خپله یې په کار راولي او وروسته یې څښتن پیدا شي؛ نو کاروونکی به یې ذمه دار وي او که نه؟ که پیدا کوونکی یې د دوه میاشتې اعلانولو وروسته خرڅ کړي او بل شی پرې واخلي؛ نو د اخیستونکي لپاره یې کارول څنګه دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الستار بلوچی د دارالعلوم حقانیه زده کوونکی،

۱۴۰۱ هـ / ربیع الثاني /۴/

جواب: د لفظ د شهرت او تعریف لپاره د مفتی به قول په بناء کومه خاصه موده نه ده ټاکل شوې. بلکې دومره اندازه شهرت یې ضروري دی چې د پیدا کوونکي یې دا یقین شي چې مالك یې نور لټیون پسې نه کوي. وفی الدرالمختار: وعـرَّف أی نادی علیها حیثُ وجدها و فی المجامع الی أنْ صاحبها لا یطلبها أوْ أنّها تفسدُ انْ بقیتْ کالأطعمة ونقلَ فی ردالمحتارعنِ المضمراتِ والجوهرةِ وعلیه الفتوی ﴿۱﴾ ددې وروسته که دا سړی خپله غریب وي بیا دي خپله استعمال کړي، که شتمن وي بیا دي

﴿۱﴾ (الدر المختار مع ردّالمحتار ۳: ۳۵۰ کتاب اللقطة)

وفی الهندیة: ویعرّف الملتقط اللقطة فی الأسواق والشوارع مدّة یغلب علی ظنّه أن صاحبها لا یطلبها بعد ذلک هو الصحیح کذا فی مجمع البحرین. (فتاوی هندیة ۲: ۲۸۹ کتاب اللقطة)

صدقه کړي، که مالك يې معلوم شو او په ثواب خوښ نه وي بيا به د هغه په خېر شي او يا هم قيمت ورکوي، ﴿۱﴾ اخيستونکي لپاره يې استعمال ناروا دی که د خاصې مودې وروسته خرڅ شوی وي فقط

د سيند د راوړيو لرګو نيولو حکم

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي: که يو سړی په سيند کې راغلي لرګي ونيسي؛ نو د دې په اړه شرعي حکم څه دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم، ۱۹۷۴م /۳/۲۵/

جواب: څرګنده دې وي که دا بوټي لرز (شئ تافه) وي، بيا يې د نيوونکي لپاره هرډول ګټه اخيستل روا دي. کما فی حديث جابرٍ ﷺ قال رخص لنا رسول الله ﷺ فی العصا والسوط والحبل وأشباهه يلتقطه الرجل ينتفع به (رواه ابو داؤد)﴿۱﴾.

که دا لرګي قيمتي وي بيا به د لقطې حکم لري. کما فی رد المحتار ۳: ۴۴۶ وذکر فی شرح الوهبانية ظابطاً وهو أنّ ما لا يسرع اليه الفساد ولا يعتاد رميه کحطبٍ وخشبٍ فهو لقطةٌ انّ کانت له قيمةٌ ولو جمعه من أماکنَ متفرقةٍ فی الصحيح﴿۲﴾.

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: فينتفع الرافع بها لو فقيرا وإلا تصدق بها على فقير فإن جاء مالکها بعد التصدق خير بين إجازة فعله ولو بعد هلاکها وله ثوابها أو تضمينه.

(الدّرالمختار مختصرًا ۳: ۳۵۱، کتاب اللقطة)

﴿۲﴾ (مشکوة المصابيح ۲۶۲ باب اللقطة)

﴿۳﴾ (ردّالمحتار ۳: ۳۵۴، مطلب فيمن وجد حطبا فی نهر أو وجد جوزا)

وفی الخانية: حطب وجد في الماء إن لم يکن له قيمة فهو حلال لمن أخذه وإن کانت له قيمة يکون لقطة. (الفتاوی الخانية على هامش الهندية ۳: ۳۹۰، کتاب اللقطة)

یادونه: څرګنده دي وي چې دا د مملوکه لرګو حکم لري، د غیر مملوکه لرګو نیول روا او استعمال یې هم روا دی ﴿۱﴾ وهو الموفق .

د لقطې د بوټانو حکم

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې زما سره یو ځای دوه کسان ناست وو. له هغوی نه د ماشومانو بوټونه پاتې شول. ما اخوا دېخوا ډېر وروپسې وکتل؛ خو پیدا مي نه کړه. هغه بوټونه مي کور ته راوړه. اوس راته معلومه شوه چې کور ته یې راوړل بنه نه دي، تاسو مهرباني وکړئ د شرعي مسئلې نه مو خبر کړئ چې مور او پلار مي هم پکښې ونه نیول شي بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم

جواب: تاسو دا نه دي لیکلي چې دا بوټونه اوس هم شته او که ختم شوي دي، په هر حال چې وي اوس که تاسو غریبانان یئ: نو دا بوټونه خپله استعمال کړئ او که شتمن یئ بیا یې بل چاته ورکړئ یا یې قیمت خیرات کړئ؛ ﴿۲﴾ وهو الموفق .

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله المسلمون شرکاء فی ثلاث) ای شرکة إباحة لا شرکة ملک، فمن سبق إلی شئ من ذلک فی وعاء أو غیره وأحرز فهو أحق به وهو ملک له دون من سواه یجوز له تملیکه بجمیع وجوه التملیک...... حطب فی ملک رجل لیس لأحد أن یحطبه بغیر إذنه وإن کان غیر ملک فلا بأس به.

(ردالمحتار ۵: ۳۱۲،۳۱۳، فصل الشرب)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: فینتفع الرافع بها لو فقیرا وإلا تصدق بها علی فقیر ولو علی أصله وفرعه وعرسه. (الدر المختار ۳: ۳۵۱، کتاب اللقطة)

وقال العلامة المرغینانی: وإن کان الملتقط غنیا لم یجز له أن ینتفع بها...... وإن کان الملتقط فقیرًا فلا بأس بأن ینتفع بها.

(الهدایة ۲: ۶۱۷، کتاب اللقطة)

د جامو ښځه د نامعلوم سړي په نامه چيک راوتل او بيا د هغې کارول

سوال: د دین عالمان په دې اره څه وايي چې ما د یوه سړي ښځه جامې واخيستلې، د هغه په جيب کې يو زوړ چيك و چې د برق والا يو نوم (اسماعيل) ورباندې ليکل شوی ؤ؛ خو د برق والا په ښلوېښت زره کسانو کې ددې هيڅ درك نه کيږي چې دی به کوم ځای او سيږي؟ په دې اره مو ستاسو خدمت ته دا عرض پاڼه وړاندې کړه تر څو تاسو راته د مسئلې حل ونښيئ چې ايا زما لپاره ددې جامو کارول روا دي او که ناروا؟ بينوا توجروا

المستفتي: شاه محمد مطبخي راولنډي ..... ۱۳۹۸ ه / شوال / ۲۷ /

جواب: دا جامې د لقطې حکم نه لري، لعدم رفع الشيئ الضائع ههنـا. په يقيني توګه بې د امانت او وديعت ښځه شمېرل هم د ظاهر خلاف دي، لأنّ الظاهرَ التصرف الجـائز، بلکې د امانت کېدو شبه پکې شته چې واجب الرعاية نه ده. لأنّ الاجتنابَ عنِ الشبهاتِ عصيرٌ فى عصرنا كما صرح به فى الأشباه والنظائر﴿۱﴾ډېر احتياط په دې کې دی چې ددې سره بايد دلقطې په څېر چلند وشي، يعنې شتمن دې خيرات کړي او غريب دې په خپل کار کې راولي. ونظيره ما فى الهندية (۲: ۳۲۰ كتاب اللقطة) رجلٌ غريبٌ مات فى دار رجلٍ وليس له وارثٌ معروفٌ وخلف معه خمسة دراهم وصاحب الدار فقيرٌ لم يكن له أنْ يتصدقَ بهذا المال على نفسه لأنه ليس بمنزله اللقطة﴿۲﴾.

وفى رد المحتار ۳: ۳۴۶ كتاب اللقطة فى البحرِ عنِ الخلاصةِ والواجيةِ مات

﴿۱﴾ وفى الأشباه والنظائر: ليس زمانا زمان اجتناب الشبهات كما فيه من الخانية والتجنيس.

(الأشباه والنظائر ۲۸۷ كتاب الحظر والإباحة)


﴿۲﴾ (فتاوی هندية ۲: ۲۹۰، كتاب اللقطة)

غريبٌ .... فله أنْ يتصدقَ على نفسه انْ كانَ فقيراً كاللقطةِ وفي الخانيةِ ليس له ذلك لأنه ليس كاللقطةِ قال في البحرِ والأوّلُ اثبتُ وصرّحَ به في المحيطِ﴿۱﴾. انتهى

قلتُ والوجه لما اكتفى الصرف على نفسه عند كونِ الشيء أمانةً حقيقةً فيكون الانتفاءُ بأولى عند كونه أمانة شبهة . وهو الموفق

﴿۱﴾(ردّالمحتار ۳: ۳۵۲، كتاب اللقطة)





كتاب الغصب

قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلّم
ألا لا تظلموا ! ألا لا يحلّ مال امرئ
إلا بطيب نفس منه.

(البيهقي)

كتاب الغصب

قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلمَ ألا لا تظلموا ! ألا لا يحلُّ مال امرئٍ الا بطيب نفسٍ منه (دار قطنی)

غصب په شرعي شهادت سره ثابتول ضروري دي

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې فضل حسين ولد ګل او محب الله ولد علي په محمد رحيم او نوشاد باندې د ځمکې د غصب دعوه لري، دا ځمکه د شاه جهان نواب د زماني څخه دوی په زوره اخيستې ده، کله چې شاه جهان ته دوسيه ورسېده؛ نو مقابل لوری به د شريعت فيصلې منلو ته نه تيارېدلو، ددې له امله شاه جهان دغه ځمکه مدعيانو ته وسپارل، تر درې کښتونو پورې دغه ځمکه مدعيانو وکرله، درې کاله وروسته نوابي حکومت ختم شو، سمدستي پرې مدعی عليهم خلکو حمله وکړه او ځمکه يې په خپله ولکه کې راوستل، تر دې وخته هم د دوی په ولکه کې ده، په عدالت کې فيصله روانه ده؛ خو لا حل يې نه دی معلوم. تاسو مو د شرعي مسئلې نه خبر کړئ بينوا توجروا

المستفتي: محمد علي ديروي .... ۱۴۰۱ هـ /صفر المظفر / ۱۵ /

جواب: په ياد صورت کې دي دويمه ډله غصب په شرعي شهادت سره ثابت کړي او يا دي لومړی ډلې ته سوګند ورکړي، لحديث: البينة على المدعى واليمين على من أنكرَ ﴿۱﴾ پاتې شوه د فيصلې خبره دا به هغه وخت کوو چې تاسو دواړې ډلې زه ورِ مجلس ته ځانونه حاضر کړئ. وهو الموفق

﴿۱﴾ وفي المشكوة: وجاء في رواية البيهقي باسناد حسن أوصحيح زيادة عن ابن عباس مرفوعًا لكن البيّنة على المدّعى واليمين على من انكر.

(مشكوة المصابيح ۳۲۶ باب الأقضية والشهادات)

وفي الهنديّة: فإن صحّت الدعوى سأل المدّعى عليه عنها فإن اقرّ وانكر فبرهن المدّعى قضى عليه والاحلف بطلبه.

(فتاوى هنديّة ۴: ۱۳، كتاب الدعوى: الباب الثالث في اليمين)

په مسلمانانو باندې له غاصبه د مغصوب منه د حق غوښتنه ضروري ده

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې زما درې ورونه دي، زما ټول حقونه يې راڅخه غصب کړي دي، پلار مي هم له هغوی سره دی، زما هيڅ ګناه نشته، نور خو پرېږده هغه څه چې مي په خپل لاس ګټلي، له هغو يې هم بې برخې کړی يم، اوس زما لپاره څه کول پکار دي؟

بينوا توجروا

المستفتي: عباس دکاندار جليان

جواب: په ټولو مسلمانانو باندې لازم دي چې د پلار او ورونو څخه ستا د حق مال غوښتنه وکړي. ﴿۱﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ وفی المشکوٰة: "عن ابی سعید الخدری عن رسول الله ﷺ قال: من رای منکم منکرًا فلیغیّره بیده فإن لم یستطع فبلسانه فإن لم یستطع فبقلبه وذٰلک اضعف الإیمان....وعن ابی بکر الصدیق رضی الله عنه.....فإنّی سمعت رسول الله ﷺ یقول إنّ النّاس إذا رأوا منکرًا فلم یغیّروه یوشک ان یعمّهم الله بعقابه.

(مشکوٰة المصابیح ۴۳٦، کتاب الأدب، باب الأمر بالمعروف)

وقال الملاعلی القاری رحمه الله تعالیٰ: ثمّ اعلم انّه إذا کان المنکر حرامًا وجب الزجر عنه، وإذا کان مکروهًا ندب......وشرطهما أن لا یؤدی إلی الفتنة کما عُلم من الحدیث وأن یظنّ قبوله........قال النووی رحمه الله تعالیٰ فی شرح المسلم: قوله فلیغیّره بیده هو أمر إیجاب، وقد تطابق علی وجوبه الکتاب والسنّة وإجماع الأُمّة وهو أیضًا من النّصیحة الّتی هی الدین......فمن وجب علیه وفعله ولم یمتثل المخاطب فلا عتب بعد ذٰلک علیه لکونه أدّی ما علیه وما علیه أن یقبل منه وهو فرض کفایة ومن تمکّن منه وترکه بلا عذر أثم.

(مرقاة المفاتیح : ۹: ۳۲۸، ۳۲۹ کتاب الأدب، باب الأمر بالمعروف، الفصل الأوّل)

غاصب د ولکې راوستو او لاس وهنې له امله د مغصوب شي مالک نه جوړېږي

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وايي چې ایا کوم غاصب په ولکې راوستو او لاس وهنې سره د څه شي مالک جوړېدلای شي؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ... ۱۴۰۲ هـ/ جمادی الثاني / ۱۸/

جواب: د شرعي اصولو پر بنسټ هغه څوک چې د شي مالک نه وي، په ولکې او لاس وهنې سره يې مالک نه جوړېږي. په شريعت کې د ملکيت لپاره ولکه او لاس وهنه شرط نه ده. اګر که تر سلو کالو پورې د غاصب په لاس کې وي؛ ﴿۱﴾ خو دومره ده چې ولکه لرونکي ته به ظالم او غاصب ضرور وايو. ﴿۲﴾ وهو الموفق

مغصوبه ځمکه ځيله نه اخيستل او بل هم ترې منع کول

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وايي چې ځينو خلکو ديوې بنځې ځمکه په

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالیٰ: اعلم أنّ أسباب الملک ثلاثة ناقل كبيع وهبة وخلافة كإرث وإصالة وهو الاستيلاء حقيقةً بوضع اليد أو حكمًا بالتهيئة كنصب شبكة لصيد. (الدر المختار ۵: ۳۲۹ كتاب الصيد)

وقال العلّامة سليم رستم باز رحمه الله تعالیٰ: أسباب التملّک ثلاثة: الأوّل الناقل للملک من مالک إلى مالک آخر كالبيع والهبة، والثاني أن يخلف واحد الآخر كالإرث، والثالث إحراز شيء مباح لا مالک له.

(شرح المجلّة ۶۷۹، المادة ۱۲۴۸، الفصل الثاني في كيفيّة استملاک الأشياء المباحة)

﴿۲﴾ وفي مجموعة قواعد الفقه: الغصب في اللغة أخذ الشيء ظلمًا مالًا كان أو غيره، وفي الشرع أخذ مال متقوّم محترم بلا إذن مالكه بلا خفية ويقال للآخذ غاصب.

(مجموعة قواعد الفقه ۴۰۰، الرسالة الرابعة: التعريفات الفقهيّة)

زوره نیولي، هغوی خپله تپول مړه شوي؛ خو بچیان یې اوس ژوندي دي او ښځه خپله ژوندۍ ده، په ولکه لرونکو خلکو کې یو کس وایي چې ماته ددې ښځې کومه برخه رارسیږي هغه دې نه ورکوم؛ خو نور ورونه یې دومره ورته غوسه کیږي چې د مرګ اختارونه هم ورکوي، اوس ددغې مقبوضه ځمکې د تر لاسه کولو لپاره شرعي حکم څه دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: قاري فضل احمد صاحب موضع بیکا خیل تحصیل صوابی مردان .... ۱۹۸۴ / مئ / ۵/

جواب: په شرط ددې چې رښتیا او ثابت وي؛ نو دغه یاد ولکه لرونکي (مقبوضین) خلک ظالمان دي، په دوی لازم دي چې خپله هم پردی حق وروسپاري او نور هم له داسې کارونو منع کوي ﴿۱﴾وهو الموفق

د حکومت د عامو ګټو لپاره د خلکو ملکیتي ځمکې بغیر له بدل ورکولو اخیستل

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې ایا اسلامي حکومت د چا خپله ملکیتي ځمکه د عامه ګټو لپاره د چا نه په زوره او بې بدله اخیستلای شي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: احمد دین جهنګ .... ۱۹۹۳ / اګست / ۱۶/

﴿۱﴾ وفی شرح المجلّة: یلزم ردّ المغصوب عیناً وتسلیمه إلی صاحبه فی مکان الغصب إن کان موجوداً...... أمّا لزوم عین المغصوب فلقوله علیه الصلوٰة والسّلام: علی الید ما اخذت حتّی ترد، ولقوله علیه الصلوٰة والسلام: لایحلّ لأحدکم أن یأخذ مال أخیه لاعباً ولاجاداً وإن أخذه فلیردّه علیه.

(شرح المجلّة ۳: ۴۱۲، المادة ۸۹۰، الفصل الأوّل فی بیان أحکام الغصب)

وقال العلّامة المرغیناني رحمه الله تعالیٰ: "وعلی الغاصب ردّ العین المغصوبة معناه مادام قائماً.

(الهدایة ۳: ۳۷۳ کتاب الغصب)

جواب: دعامه گټو دخوندي ساتلو په نیت به دځمکې بدل ضرور ورکوي، ﴿۱﴾ د بدل پرته د مملوکه ځمکې اخیستل د هیڅا لپاره روا نه دي. ﴿۲﴾ والله أعلمُ

مغصوبه ځمکې څخه د گټو اخیستلو او تاوان حکم

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې:

(۱) حاجي دین او محمد دین د احمد خېلو د کلي او سپدونکي زموږ په کلي دلو خېلو کې ځمکه اخیستې وه، په دې کې یې پنځلس کناله ځمکه په موږ خرڅه کړه. د دوی له لوري خلور (وزیر اعظم، محمد عمر، بهادر او فضل الرحیم) دهقانان وو. دا دهقانان د ځمکې د پلورلو وروسته ماته راغلل چې په دې ځمکې موږ تاته گټه درکوو او ځمکه موږ ته راکړه! ما ورته انکار ورکړ. اوس تقریباً لس کاله (د ۱۹۷۷ نه تر ۱۹۸۷ پورې) هغوی ماته د ځمکې یوه خاشه گټه نه ده راکړې او نه یې ماته د ځمکې قبضه راکړې. ایا زه ددې لسو کالو د ځمکې د پیداوار حق لرم چې غوښتنه یې وکړم او که نه؟

﴿۱﴾ نظیرهٔ مافی الدرّالمختار: وباع القاضی علیه طعامه وفاقًا علی الصحیح وفی السراج: لو خاف الإمام علٰی اهل بلد الهلاک أخذ الطعام من المحتکرین وفرّق علیهم فإذا وجدوا سعةً ردّوا مثلهٔ. (الدّر المختار)

وقال العلّامة ابن عابدین رحمه الله تعالٰی "(قوله وباع القاضی علیه طعامهٔ) ای إذا امتنع باعهٔ جبرًا علیه، قال فی الهدایة: وهل یبیع القاضی علی المحتکر طعامهٔ من غیر رضاه قیل هو علی اختلاف عرف فی بیع مال المدیون وقیل یبیع بالاتفاق لأنّ اباحنیفة یری الحجر للفع ضررٍ عامٍّ وهذا کذلک.

(الدّرالمختار مع ردّالمحتار ۵: ۲۸۳،۲۸۲ کتاب الکراهیة: فصل فی البیع)

﴿۲﴾ قال العلّامة ابن عابدین رحمه الله تعالٰی: لیس للامام أن یخرج شیئًا من ید احدٍ الا بحق ثابت معروف. (ردّالمحتار ۳: ۲۸۱ مطلب لیس للامام أن یخرج شیئًا الخ)

(۲) ایا په شریعت کې زه دا حق لرم چې خپله دغه مملوکه ځمکه له هغوی نه واخلم، په داسې حال کې چې هغوی اوس هم پرې ولکه لري؟

(۳) ایا زه دا حق لرم چې دغه ځمکه وکرم او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: حاجي محمد هاشم دلو خېل لکي مروت، بنو ۱۹۸۷م/اکتوبر/۱۰

جواب: په ډاګه دې وي چې د یادې ځمکې د ګټو تاوان به نه اخیستل کیږي؛ خو کومه ځمکه چې د استغلال لپاره وي، د اجارې لپاره خرڅه شوې وي، د هغې د ګټو تاوان به ورکوي، كما في شرح التنوير ۵: ۱۸۰ : أوْ معداً أي أعده صاحبٌ للاستغلال بأنْ بناه لذلك أوْ اشتراه لذلك﴿۱﴾وهو الموفق

په دلایلو او شواهدو ثابته شوې غصب ځمکه به مالک ته ورکول کیږي

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې شل کاله وړاندې د حکیم خان په ولکه کې یوه ځمکه وه، زه د عذر له امله د خپل وطن څخه لرې ځای ته مسافر شوم، ما د بنو اړیکو ساتلو له امله د خپل تره زامنو لکه هر یو: محمد جان، سید احمد جان او ملک ګجر ته دغه یاده ځمکه پرېښوده؛ خو بدبختانه زما د مسافرۍ نه وروسته اوس لس کاله وشو چې دغه یاد خلك مې خپله پلرنۍ ځمکه نه را خوشې کوي، په داسې حال کې چې زه شاهدان

﴿۱﴾ وفي شرح المجلة"انّ منافع الغصب غير مضمونة ألا في الوقف ومال اليتيم والمعدّ للاستغلال.(شرح المجلة ۴۲۶:المادة ۹۰۷)

﴿۲﴾ (الدر المختار ۵: ۱۲۶، كتاب الغصب)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: منافع الغصب غير مضمونة استوفاها أو عطّلها فإنها غير مضمونة عندنا إلّا أن يكون المغصوب وقفاً أو مال يتيم أو معدّ اللاستغلال.(الفتاوى لتنقيح الحامدية : ۲: ۱۷۳ "كتاب الغصب")

هم لرم، ستاسو نه په درننبت هیله کوو چې د شرعي مسئلې څخه مو خبر کړئ؛ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي حکیم خان ملا کنډ ....۱۴۰۳ هـ / ربیع الثاني / ۱۰/

جواب: که ددې ځمکې غصب په شهادت سره ثابت وي؛ نو شرعي مالك ته به سپارل کیږي. ﴿۱﴾ وهو الموفق

د کښت په میراثي ځمکه د یو ورور ولکه او بل بې برخې پرېښودل یا کښت نه ورکول

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې زموږ پلار شل کاله کیږي چې وفات شوی او موږ څلور ورونه (غلام زکریا، حاجي محمد اسمعیل، حاجي طالب محمود او عبد الله جان) ترې پاتې یو، زموږ د وروتو په اتفاقي مشوره به یاده ځمکه زموږ مشر ورور کرل او موږ درې ورونو ته به یې څه ناڅه شي راکول، اوس شاوخوا لس کاله کیږي چې په زوره یې په خپل واك کې راویستې

﴿۱﴾قال العلّامة المرغیناني رحمه الله :وعلی الغاصب ردّالعین المغصوبة معناه مادام قائماًلقوله علیه السلام:"علی الیدماأخذت حتّی ترد"وقال علیه السلام:"لایحلّ لأحدأن یأخذمتاع أخیه لاعبًاولاجادًّافإن أخذهٔ فلیردّهٔ علیه.

(الهدایة۳:۳۷۳ ،کتاب الغصب)

وقال العلّامة وهبة الزحیلي رحمه الله:اتفق الفقهاء علی أنّه یجب ردّالعین المغصوبة إلی صاحبهاحال قیامهاووجودهابذاتهالقوله علیه الصلٰوة والسلام:"علی الیدماأخذت حتّی تؤدیه لایأخذنّ أحدکم متاع أخیه جادًّاولالاعبًا،وإذاأخذأحدکم عصاأخیه فلیردّهاعلیه.

(الفقه الإسلامي وأدلّتهٔ ۶:۴۸۰۰:الفصل السابع:الغصب والإتلاف،المطلب الثاني:أحکام الغصب)

او موړ ته يوه دانه غنم هم نه راکوي، ددې ورور په اړه موږ ته شرعي حکم څه دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: حاجي محمد اسمعيل ... ۱۹۸۶م / فروري / ۱۵/

جواب: په شرط ددې چې ربښتيا او ثابت وي، د پورته مضمون له مخې په مشر ورور لازم دي چې په ياده ځمکه کې خپلو ورونو ته خپله برخه«۱» او پيداوار ورکړي، «۲» کنه نو د حرام خوری او غصب سختې سزا ته دي ځان تيار کړي، «۳» والمسئلةُ من الواضحات فلا حاجةَ الى نقلِ العبارات ، وهو الموفق

د حکومت لپاره د مالک د اجازې پرته په ځمکه ابادي کول

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې يو سړي د کور د جوړولو په نيت څه ځمکه ځان ته واخيسته، وړاندې له دې چې سړی پرې خپل کور جوړ کړي، د صوبه سرحد حکومت د مالك د اجازې پرته ابادي ورباندې پيل کړه،

«۱» قال العلامة المرغيناني رحمه الله :وعلى الغاصب ردّالعين المغصوبة،معناه مادام قائماًلقوله عليه السلام: "على اليدماأخذت حتّى ترد"وقال عليه السلام: "لايحلّ لأحدان يأخذمتاع أخيه لاعباًولاجادّافإن اخذهُ فليردّهُ عليه.

(الهداية۳: ۳۷۳كتاب الغصب)

«۲» في الهندية:وسئل شيخ الإسلام عطاء بن حمزة عمّن زرع أرض انسان ببذرنفسه بغيراذن صاحب الأرض، هل لصاحب الأرض أن يطالبهُ بحصة الأرض؟ قال: نعماً إن جرى العرف في تلك القرية أنّهم يزرعون الأرض بثلث الخارج أوربعه أونصفه أوبشئ مقدّرشائع يجب ذلك القدر الذى جرى به العرف.

(الفتاوى الهندية ۵: ۱۴۳، الباب العاشرفي زراعة الأرض المغصوبة)

«۳» عن سعيدبن زيد قال سمعت النبى ﷺ يقول :من اخذشبرّامن الأرض ظلماًفإنّه يطوّقهُ يوم القيامة من سبع أرضين.

(صحيح المسلم ۲: ۳۳كتاب المساقاة والمزارعة،باب تحريم الظلم الخ)

ایا په اسلام کې داسې کارونه روا دي او که ناروا؟ بینوا توجروا

المستفتي: ډاکټر فضل معبود محله شیخان اکوړه خټك ... ۱۴۰۵ھ / رمضان/ ۲۸/

جواب: تر کله پورې چې اسلامي قانون نه وي پلی شوی؛ نو په پردیو بې ثبوته ځمکو تعمیرونه جوړول ظلم ﴿۱﴾ او د خلکو څخه په زوره د ځمکې اخیستل ناروا دي.

د غاصب په مړینې د غصب شوې ځمکې حکم

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې څه وخت وړاندې یو سړي د دوه ښځو نه په چل باندې د ځمکې په بدل کې اوه سوه روپۍ ګانه (ګرو، ښځو ته ورکړي وې، د خط د لیکلو پر مهال یې د ګرو پر ځای بیع لیکلې وه، کله چې ددې دواړو ښځو زامن غټ شول او سړي ته یې دده د ګرو روپۍ ورکولې؛ نو هغوی ته معلومه شوه چې زموږ سره خو یې چل کړی دی او د ګرو پر ځای یې بیع لیکلې ده، د دواړو ښځو زامنو د سپین روبو په جرګه دغه ځمکه له یاد سړي څخه واخیسته، له بد قسمته دوه ورځې لا نه وې پوره شوې چې دغه یاد سړی مړ شو او دده زامنو بیا په دغه ځمکه قبضه وکړه، اوس زموږ په اړه شرعي فیصله څه ده؟په داسې حال کې چې موږ شاهدان هم لرو. بینوا توجروا

المستفتي: بخت علي شاه ضلع هزاره ... ۱۹۶۹م / اپریل / ۵/

﴿۱﴾قال العلّامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ليس للامام أن يخرج شيئًا من يد أحد إلابحق ثابت معروف.(ردّالمحتار ۳: ۲۸۱ مطلب ليس للإمام أن يخرج شيئًا الخ)

وقال العلّامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: إذا كان فعل الإمام مبنيًا على المصلحة فيما يتعلق بالأمور العامّة لم ينفذ أمره شرعًا إلا إذا وافقهُ فإن خالفهُ لم ينفذ، ولهذا قال الإمام أبويوسف رحمه الله فی "كتاب الخراج" من باب إحياء الموات وليس للإمام أن يخرج شيئًا من يد أحد إلا بحق ثابت معروف.

(الأشباه والنظائر ۱۲۳ ،القاعدة الخامسة:تصرف الإمام على الرعيّة منوط بالمصلحة)

جواب: ددې مړي په پاتې شوو بچيانو فرض ده چې پردى مال خپل حق دار ته ورسوي، قال رسول الله ﷺ من أخذ شبراً من الأرضِ ظلماً فانه يطوقه يوم القيمةِ من سبع أرضينَ . متفقٌ عليهِ ﴿۱﴾ فقط .

د يو قوم په ملكيتي ونو د بل قوم قبضه كول

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې د يو كلي سره خواته په دشته كې وابنه او بوټي راتوكيږي چې په وخت ترې نژدې كلي ګټه اخلي. اوس د يو بل كلي خلك راځي او غواړي چې دغه بوټي په خپله ولكه كې راولي، په دې اړه شرعي حكم څه دى؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبد البصير كوهاټي

جواب: ددې كليوالو خلكو په همدې ځمكه ولكه ثابته ده، د مخالفې ډلې لپاره ددې ځمكې د قدرتي پيداوار نه ګټه اخيستل د اثبات نه وړاندې ناروا ده، كما في تنقيح الفتاوى الحامديةِ ۱: ۱۲۱ ، لا ينزعُ شيءٌ من يدِ أحدٍ الا بحقٍ ﴿۲﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ (صحيح المسلم ۲: ۳۳، كتاب المساقاة والمزارعة، باب تحريم الظلم وغصب الأرض)

وقال العلامة وهبة الزحيلي رحمه الله تعالى: ثبت تحريم الغصب في القرآن والسنّة والإجماع، أمّا القرآن فقول الله تعالى: يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْۤا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّاۤ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ. (النساء ۴/۲۹)

وأمّا السنّة فقوله عليه السلام: إنّ دماء كم وأموالكم حرام عليكم كحرمة يومكم هذا في شهركم هذا في بلدكم هذا .(الفقه الإسلامي وأدلته ۴: ۴۷۸۶ " الفصل السابع: الغصب والإتلاف، المطلب الأوّل: تحريم الغصب")

﴿۲﴾ (فتاوى تنقيح الحامديّة ۱: ۱۲۱، كتاب الوقف)...... (بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

د غصب شوي ځمکې د کښت او پیداوار حکم

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وايي چې زید د عمر ځمکه په زوره کړي، اوس پیداوار ښه راپورته شوی هم دی، د شریعت له مخې ددې کښت اصلي حقدار څوك دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: حاجي نواز خان بیګو خېل لکی مروت

جواب: دا ټول پیداوار د زید دی، زید به د تخم په اندازه خپل مال واخلي، پاتې نور به صدقه کړي، که د کښت له امله د ځمکې په قیمت کې کمی راغلی وي، دا کمي به زید پوره کوي، (مأخوذ من الهندیة ۵: ۳۰۳)﴿۱﴾خو عمر ته هم اختیار دی چې کښت همدا اوس لرې کوي او که د څه وخت لپاره اجاره ورسره کوي، (مأخوذ من الهندیة ۵: ۱۶۰)﴿۲﴾فقط وهو الموفق.

(بقیه حاشیه) وقال العلّامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: انّ وضع الید والتصرف من أقوی مایستدلّ به علی الملک..... ولیس للإمام أن یخرج شیئًامن یدأحدالّابحق ثابت معروف.
(ردّالمحتار ۳: ۲۸۱" کتاب الجهاد،مطلب: لیس للإمام أن یخرج شیئًا الخ")

﴿۱﴾ وفی الهندیّة: وعلی المزارع أن یرفع من الخارج مقدارأجرعمله وثیرانه وبذره ویتصدّق بالباقی کمافی الغصب..... فإن علم انّه زرعهاغصبًابان أقرّالزارع عندالزرع انّه یزرعهالنفسه لاعلی المزارعة یکون غاصبًاویکون الخارج لهٗ وعلیه نقصان الأرض.
(فتاویٰ هندیّة ص ۲۷۲، ۲۷۳،ج ۵"الباب الثالث والعشرون فی زراعة الأراضی بغیرعقد")

﴿۲﴾ وفی الهندیّة: غصب من آخرارضًافزرعهافلصاحبهاأن یاخذالأرض ویأمرالغاصب بقلع الزرع تفریغًالملکه.....وللمالک أن یرجع علی الغاصب..... (بقیه حاشیه اگلے صفحه پر)

د غصب په ځمکه کې د خدايي ښو ونو او لاسي كرل شويو ونو حكم

سوال: د دين عالمان په دې اره څه وايي چې د زيد ځمكه عمر په زوره نيولي، د زيد د پيا - پيا غوښتني سره اوس هم عمر انكار كوي او ځمكه نه وركوي؛ خو د نورو ورونو او ملګرو په ذريعه د عمر څخه ياده ځمكه زيد ته په لاس ورغله؛ خو په دې ځمكه كې د غصب سره سمدستي عمر څه ونې هم كرلي وي، اوس دغه ونې د چا دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: شفيع الله د جهانګيري اوسېدونكى ۱۴۰۳ هـ / ربيع الثاني / ۲۳ /

جواب: خدايي نوكېدلې ونې د ځمكې د څښتن دي، (شرح المجلة) ﴿۱﴾ او په لاسي لګول شويو ونو كې به د ځمكې څښتن ته د ځمكې كرايه وركوي، دا هغه وخت كه بې اجازې بې لګولي وي. ﴿۲﴾ وهو الموفق.

(بقيه حاشيه) بنقصان الأرض إن نقصت الأرض بسبب الزراعة......وسئل شيخ الإسلام عطاء بن حمزة عمّن زرع أرض انسان ببذرنفسه بغيرإذن صاحب الأرض هل لصاحب الأرض أن يطالبه بحصّة الأرض؟ قال: نعم! إن جرى في تلك القرية أنهم يزرعون الأرض بثلث الخارج أوربعه أونصفه أو بشئ مقدرشائع يجب ذلك القدر.

(فتاوى هنديّة ۵: ۱۴۳، ۱۴۴ "الباب العاشر في زراعة الأرض المغصوبة)

﴿۱﴾ قال العلامة سليم رستم باز" الأشجار النابتة بلاغرس في ملك احد هي ملكه ليس لآخر أن يحتطب منها إلا بإذنه.

(شرح المجلة ۶۷۸ المادة ۱۲۴۴، الباب الرابع في شركة الإباحة)

﴿۲﴾ وقال العلامة محمد كامل الطرابلسي" ولو زرع أرض الغيربغير إذنه يعتبر العرف فإن اقتسموا الغلة أنصافا أو أرباعا اعتبروإلا فالخارج للزارع وعليه أجر مثل الأرض.

(فتاوى كاملية ۳۰۹، كتاب الغصب)

پوازې په انتقال سره پردی سړی د ځمکې مالک نه جوړیږي

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې زید د خپل ورور سره شریکې ځمکه واخیسته؛ خو د شراکت له امله یې ځمکه د خپل ورور په نوم کړه، اوس زید غواړي چې خپله برخه ځمکه له خپل ورور نه بېله کړي؛ خو عمر بهانې کوي او د ځمکې نه ورکولو ته چل کوي. ایا په شریعت کې زید د خپل ورور عمر سره په دې ځمکه کې برخه لري او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: حافظ رحمت دین کلی ډهوك دنوال تحصیل پنډی گهیپ ضلع کیملپور ۱۹۲۹م/۵/۱۹/

جواب: په شرط ددې چې رښتیا او ثابت وي، په عمر باندې ضروري دي چې د خپل ورور برخه ورکړي، قال اللّٰهُ تعالیٰ : وَلَا تَأْكُلُوْٓا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ ﴿۱﴾ وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم : لا يحلُّ مال امرئٍ مسلمٍ الا عنْ طيبِ قلبه﴿۲﴾فقط وهو الموفق.

غصب شوې ځمکه د مالک حق دی

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې حکومت زما په ځمکه کې یوه

﴿۱﴾(سورة النساء : آیت ۲۹)

﴿۲﴾وفی المشکوٰة "عن ابی حرة الرقاشی عن عمه قال قال رسول الله ﷺ الا لا تظلموا، الالا یحل مال امری إلا بطیب نفسٍ منه".

(مشکوٰة المصابیح ۲۵۵باب الغصب والعاریة)

وعن ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ......الا إنّ الله حرّم علیکم دماء کم وأموالکم کحرمة یومکم هذا فی بلدکم هذا فی شهرکم هذا.

(الصحیح البخاری ۲: ۶۳۲ کتاب المغازی، باب حجة الوداع)

کلا (قلعه) جوړه کړې وه، اوس حکومت دغه ځمکه پرې ایښې؛ خو یو پردي قوم پرې د شراکت دعوه کړې، ایا د شریعت له مخې دغه ځمکه ماته رسیږي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الرزاق کوهستاني ۱۹۷۵م/جون/۲/

ځواب په شرط ددې چې رښتیا او ثابت وي ځمکه به د پخواني مالك وي، د تول قوم شریکي به نه وي. لأنّ الغصبَ لیس من أسبابِ الملك، هذا عند الجمهورِ و امّا عندَ أبي حنیفةَ رحمه الله فلعدمِ زوالِ الیدِ المحقةِ فی العقارِ كما فی رد المحتارِ ۵: ۱۶۲ «۱» فتکون للمالك السابق بلا ریبٍ. وهو الموفق

«۱» قال العلامة ابن عابدین: (قوله بإثبات ید مبطلة)...... وذكر الزاهدی أنه علی ضربین ما هو موجب للضمان فیشترط له إزالة الید وما هو موجب للرد فیشترط له إثبات الید ما كغصب العقار فإنه موجب للرد دون الضمان عندهما.

(رد المحتار ۵:۱۲۵، كتاب الغصب)

وأیضا: والفتوی علی قول الإمام من أن الغصب لایتحقق فی العقار.

(ردالمحتار ۵:۱۳۱ كتاب الغصب)

وقال العلامة طاهر بن عبد الرشید: وفی مختصر القدوری الغصب فعل فی العین حتی لا یتحقق غصب العقار عند أبی حنیفة وأبی یوسف رحمهما الله تعالی.


(خلاصة الفتاوی ۳: ۲۶۹، كتاب الغصب)






فتاوی فریدیه جلد اتم

کتاب الضمان







قال النبی صلی الله علیه وسلّم

لیس علی المستعیر غیر المغلّ ضمان

ولا علی المستودع غیر المغلّ ضمان.

(دار قطنی)

کتاب الضمان

قال النبي صلی الله علیه وسلمَ لیسَ علی المستعیرِ غیر المغل ضمانٌ و لا علی المستودعِ غیر المغلّ ضمانٌ . (دار قطنی)

د قاچاق مال په نیولو د خبر ورکوونکي د ضمان حکم

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې یو سړی قاچاقبر دی، د هغه بوره ونیول شوه، په یو سړي یې دعوه وکړه چې تا حکومت ته زما په اړه خبر ورکړی دی، ماته به زما د مال تاوان راکوې؛ ایا چا چې حکومت ته خبر ورکړی دی په هغه باندې تاوان شته؟ بینوا توجروا

المستفتي: قاري حسین احمد **۱۹۷۵** م/ دسمبر/ ۶/

ځواب: په شرط ددې چې ربښتیا او ثابت وي، په کوم هیواد کې چې اسلامي حکومت نه وي، د هغوی قانون منل واجب نه دی. د همدې له امله تاجر کولای شي چې د داسې خبر ورکوونکي څخه د مال تاوان واخلي، کما فی تنقیح فتاوی الحامدیةِ ۲: ۱۸۸ ((اذا سعی الی السلطانِ بغیرِ حقٍّ لا ضمانَ علی الساعی فی قولِ أبي حنیفةَ و أبي یوسفَ رحمهما الله خلافاً لمحمدٍ رحمه الله ، والفتوی علی قولِ محمدٍ رحمه الله فی زماننا زجراً لهمْ و صیانةً لأموالِ الناسِ ، ذخیرة)) ﴿۱﴾ وهو الموفق .

د ورکړ شوو شیانو وکیل ته، د تاوان او خیانت په ګمان سوګند ورکول

سوال: ددین عالمان په دې اړه څه وایي چې ما یو سړي ته یو شی ورکړ چې سبا

﴿۱﴾ (تنقیح الحامدیّة ۲ : ۱۸۰ ،قبیل کتاب الشفعة)

وفی شرح الوقایة : وکذا الوسعی بغیر حق عند محمد زجرًا له وبه یفتی وعند ابی حنیفة وابی یوسف رحمهما الله تعالی لایضمن الساعی .(شرح الوقایة ۴ ۳۶: ۳ قبیل کتاب الشفعة)

به دا شی فلاني سړي ته سپاري! کله چې مي سبا ترې وپوښتل چې هغه شی دې څه کړ؟ ده راته په جواب کې کړه: چې هغه خو رانه ورك شوی دی، ایا اوس زه دا حق لرم چې له ده نه دهغه شي غوښتنه وکړم او که نه؟بینوا توجروا

المستفتي: عرفان او نعمان خیر اباد نوښار ۱۹۸۳م/مئ/۱/

جواب: که یقیني ستا په دې سړي دا ګمان وي چې له ده به ورك شوی وي؛ نو په هغه باندې د هیڅ شي تاوان نشته. که ستا دا یقین وي چې دې سړي په لاس باندې دا شی ضایع کړی او سمه ساتنه یې نه ده کړې، بیا ته اختیار لرې چې هغه ته سوګند ورکړې. (شرح المجلة﴿۱﴾، شامي﴿۲﴾- وهو الموفق .

که ښکه دار د پمپ د کندلو لپاره بمونه راوړي او ونیول شي؛ نو مالك یې ذمه دار نه دی

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې یو سړي د مالك نه د یو پمپ د کیندلو لپاره بمونه راوړه، ناڅاپه سړی او بمونه دواړه حکومت ونیول، تر یوې میاشتې پورې د حکومت په کور کې زنداني ؤ، اوس چې کله راخلاص شو؛ نو مالك ته وایي چې زه ستا په کار کې بندي شوی یم، زما ټول اووه زره (۷۰۰۰) روپۍ خرچه شوې ده، دا به ته راکوې! ایا په شریعت کې دا سړی حق لري چې ددې روپو غوښتنه وکړي؟ بینوا توجروا

المستفتي: ګل محمد خان ترناب ۱۳۹۶هـ/ذو القعده/۱۰/

﴿۱﴾ وفي شرح المجلّة :المال الذي قبضه الوكيل بالبيع والشراء وإيفاء الدين واستيفائه وقبض العين من جهة الوكالة في حكم الوديعة في يده فإذا تلف بلا تعدّ ولاتقصير لايلزم الضمان.

(شرح المجلّة ۴۳۲:۳:المادة ۱۴۶۳، الفصل الأوّل في بيان أحكام الوكالة العمومية)

﴿۲﴾ قال العلّامة الحصكفي رحمه الله تعالى :فإن ادّعى الوكيل هلاكه أودفعه لموكله صدق الوكيل بحلفه.

(الدرّالمختار ۴۶۰:۴:"كتاب الوكالة،باب الوكالة بالخصومة والقبض")

جواب: دا ټيکه دار هيڅ حق نه لري چې له چانه (۷۰۰۰) زره روپۍ په زوره واخلي، لأنَّ المظلومَ لا يظلمُ﴿۱﴾ وهو الموفق .

د شريکې ګودام په چوکيدار باندې د غلا شوو شيانو حکم

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې په يو ځای کې ګڼ خلك خپل شيان ږدي او د هغې چوکيدار هم شته؛ نو که دداسې ځای نه څه ورك شي ايا په چوکيدار به يې تاوان لازم وي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا عبد الحليم صاحب ديروي، استاذ دار العلوم حقانيه اکوړه خټك ۱۴۰۱ هـ/ ربيع الأول/ ۱۰/

جواب: په ياد صورت کې په چوکيدار باندې تاوان نشته، لما في شرح المجلة ۳۴۶ : استوجرَ رجلاً لحفظِ خانَ أوْ حوانيتَ فضاعَ شيئٌ،قيلَ يضمنُ لوْ ضاعَ من خارجِ الحجرةِ و قيلَ لا في الصحيحِ وبه يفتى ، لأنه اجيرٌ خاصٌ، ولوْ ضاعَ منْ داخلها فانْ نقب اللصُّ فلا يضمنُ الحارسُ في الأصحِّ﴿۲﴾ انتهى بحذف يسيرٍ .

يادونه: په مستاجر باندې هم تاوان نشته. ﴿۳﴾وهو الموفق .

﴿۱﴾ وفي مجموعة قواعدالفقه :المظلوم له أن يدفع الظلم عن نفسه بماقدرعليه ولكن ليس له أن يظلم غيره. (مجموعة قواعدالفقه۱۲۳، قاعده۳۳۲)

﴿۲﴾ (شرح المجلّة لسليم رستم بازرحمه الله تعالى: ص ۳۲۹،المادة: ۶۱۰)

﴿۳﴾ قال العلّامة سليم رستم بازرحمه اللّه تعالى: لايلزم الضمان اذاتلف الماجورفي يدالمستاجراوضاع أوطرأعلى قيمته نقصان......مالم يكن بتقصيره اوتعديه أومخالفته لماذونيته.

(شرح المجلّة: ۳۲۲،المادة: ۶۰۱"الفصل الثاني في ضمان المستأجر")

د موټر د چپه کېدو پرمهال د مړو او د مالونو په ضايع کېدو د تاوان حکم

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې زيد ډاټسن درلوده، بکر يې چلوونکی ؤ، زيد بکر ته وويل چې ته به خالد ته هيڅکله موټر د چلولو لپاره نه ورکوې، ځکه چې د چلولو سند نه لري او نه هم هغه موټروان دی، ددې له امله که خالد موټر واخيست او چپه يې کړ؛ نو د تاوان ذمه وار به يې ته يې؛ څو ورځې وروسته خالد ډاټسن چپه کړه چې دوه کسان پکښې مړه او نور زخميان شول؛ نو ددې مړو ديت به خالد ورکوي او که د موټر مالک؟ او دا قتل خطا دی که قتل سببي؟ دغه راز کوم مالونه چې ضايع شوي د هغو تاوان په چا باندې لازم دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد امير خان د تل او سېدونکی. تحصيل هنگو کوهاټ
۱۹۸۲ م / اکتوبر / ۱۹ /

جواب: دا قتل د قتل سببي په څېر دی، په دې کې دده هيڅ ډول لاسي عمل نه ؤ، که پېښه د موټر چلوونکي په قصدي عمل شوې وي؛ نو د هلاک شوو شيانو تاوان به موټروان ورکوي او د انسانانو د وژلو تاوان نه په موټروان شته او نه هم د موټر په اصلي مالک، و نظيره ما في الهندية ۶: ۹۶ باب المتفرقات﴿۱﴾ وهو الموفق.

د نورو خلکو له ځمکې د اوبو په بندولو د تاوان حکم

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې بکر د پنځوسو کالو راپه دېخوا خپل کښت د هغې ويالې په اوبو خړوبوله چې د زيد په ځمکې راتېره شوې وه، زيد غواړي چې د اوبو لاره يې بنده کړي او عمر ته وايي چې دا زما

﴿۱﴾ و في الهندية :ولو اصطدمت السفينتان إن كان بفعل الراکب والملاح ضمن ولاضمان في الأنفس وفي المال يضمن الملاح كذافي خزانة المفتيين.

(فتاوی هنديه ۶:۸۸، الباب السابع عشرفي المتفرقات)

ځمکه ده، نور زه نه غواړم چې ستا ځمکې ته اوبه زما په لاره لاړې شي، که په حکومتي کاغذونو کې دي ثابته کړه چې دا عمومي لار ده بيا يې درکولو ته تيار يم. د لټون وروسته په حکومتي کاغذونو کې د خړوبولو لاره د بکر راوختنه، په دې وخت کې چې زيد دعوه پورته کړې او په عمر يې اوبه بندي کړې. يو کال يې پوره شو، اوس به د عمر د ځمکې تاوان زيد ورکوي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: ماستر ګل محمد سکنه تجوړي ضلع ډېره ۱۹۸۸ م/ جون/ ۱۹/

جواب: د هر ظلم فيصله په دنيا کې ناشونې ده، څه اخرت ته هم پرېښودل پکار دي، وفي الهندية ۵: ۴۰۱ أرادَ سقي أرضه أوْ زرعه عنْ مجرى ماءٍ فمنع الرجل حتّى ضاع الزرع لا يضمنُ كما لو منع الراعي حتى هلك المواشي﴿۱﴾وهو الموفق.

د کشتۍ د ډوبېدو سره د ټکر پرمهال د هلاک شوو مالونو د تاوان حکم

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې يو سړی کشتۍ چلوونکی دی، په عامو وختونو کې دده کشتۍ د پرش بوري وزن پورته کوي؛ خو دا ځل هغه شپږ ويشت بورۍ پورته کړې، کله چې کشتۍ د سيند منځ ته ورسېده؛ نو د ډبرې سره يې ټکر وخوړ چې له امله يې شپږويشت واړه بورۍ ډوبې شوې، د کشتۍ چلوونکي سره د مال د مالك دوه مزدوران هم وو، چلوونکي يې د ډېر کوشش وروسته کشتۍ څنډې ته کړه چې دوه بورۍ يې روغې راورسېدې، د سيند په غاړه کشتۍ د ځلرويشتو بوريو سره ډوبه شوه، په هغې کې هم پنځلس بورۍ وويستل شوې او نهه بورۍ بيخي ډوبې شوې، ايا په شريعت کې د کشتۍ چلوونکي څه ګناه شته او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: امير بهادر پير سباق

﴿۱﴾ (فتاوى هندية۵: ۴۰۱، الباب الثالث فيمايحدثه الإنسان ومايمنع عنه ومايوجب الضمان)

وفي جامع الفصولين: منعهٗ عن سقي زرعه حتّى فسد زرعهٗ لم يضمن.

(جامع الفصولين ۸۵'' الفصل الثالث والثلاثون في أنواع الضمانات الواجبة وكيفيّاتها)

جواب: په شرط ددې چې رښتيا او ثابت وي چې کشتۍ بې له ډېرې سره ټکر خوړلى وي بيا يې په چلوونکي تاوان نشته، في الدر المختار ((و يضمنُ ما هلك بعمله كتخريق الثو ب منْ دقه و زلقِ الحمالِ و غرقِ السفينةِ من مدّه)) قال العلامة الشامي ٥: ٤٣، قيد بالمدّ لأنها لو غرقتْ من ريحٍ أوْ موجٍ أوْ شيءٍ وقعَ عليها أوْ صدم جبلٍ فهلك ما فيها لا يضمنُ في قولِ الامامِ رحمه الله تعالى فقط (رد المحتارِ ٥: ٤٣﴿١﴾). وهو الموفق .

د حاکم په ذريعه چاته د زيان اړولو او تاوان حکم

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې زيد پرته له شرعي حقه د وخت د حاکم په ذريعه عمر ته زيان ورسولو، ايا زيد د ساعي بالفساد کېدو له امله ددې تاوان ضامن دى او که نه؟ او عمر د شريعت له مخې د مال غوښتنه کولاى شي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي عبد الحق بيله تحصيل مانسهره هزاره ... ١٩٢٩م/ اکتوبر/ ٢١/

جواب: که زيد د ظالم حاکم په واسطه په ناجائزه طريقه د عمر مال هلاك کړى وي؛ نو په زيد باندې تاوان لازم دى، (لما في الأشباه والنظائرِ و شرحه للحموى ١٢٠) قوله الافتاءُ بتضمينِ الساعي قيده قارئُ الهدايةِ بما اذا كان عادة ذلك الظالم أنَّ منْ رفعَ اليه ويقول فيه عنده أنْ يّاخذه منه مالاً مصادرةً يضمن الساعي في هذه الصورةِ ما أخذه الظالم هذا هو المفتى به، أفتى به المتأخرون منْ علمائنا ، انتهى ، وزادَ في السراجيةِ أنْ تكونَ السعاية بغيرِ حقٍّ منْ كلّ وجهٍ﴿٢﴾ وهو الموفق .

﴿١﴾ (الدرّ المختار مع ردّ المحتار ٥: ٣٦ "كتاب الإجارة، باب ضمان الأجير")

﴿٢﴾ (غمز عيون البصائر شرح الأشباه والنظائر ١: ٣٦٧ "القاعدة التاسعة عشرة اذا اجتمع المباشر والمتسبب أضيف الحكم إلى المباشر)...... (بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

د مدرسې د پیسو د غلا په صورت کې په ناظم د تاوان لګولو حکم

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې زید د یو دیني مدرسې ناظم دی، د هغه سره د مدرسې د ځینو اړتیاوو پوره کولو لپاره څه نغدې روپۍ وې، د مدرسې مدیر د ځینو ښوونو لپاره هغه خان ته راوبللو، د مدیر صاحب د کور او مدرسې تر منځ پنځه سوه میله واټن (فاصله) پروت دی، د ناظم صاحب سره د مدیر تر کوره چې څومره خرچه او کرایه لګیږي هغه یې له خانه سره په خلته کې اچولې وه، زید د سفر کولو پرمهال د اودس ماتولو لپاره بیت الخلاء ته لاړ، په موټر باندې کوم غل پېښ شو او دده له بکس څخه یې ټولې روپۍ غلا کړې، اوس به ددې تاوان ذمه دار ناظم وي که مدیر که مدرسه او که د ټولو تر منځ به شریکې وي؟ مهرباني وکړئ د شرعي مسئلې په اړه مو خبر کړئ! بینوا توجروا

المستفتي: محمد شفیع صاحب... ۱۹۷۳ م/ مارچ/ ۲۳/

جواب: که د خلکو تر منځ د سفر پرمهال داسې رواج وي چې پیسې په بکس کې پرېږدي؛ نو په زید باندې هیڅ تاوان نشته، بلکې تاوان به په اداره وي، که داسې رواج نه وي؛ نو بیا به په ناظم تاواني وي. لترك الحفظ المعروف كما يدل عليه ما في الحامدية ، والحاصلُ أنَّ العبرة للعرف حتى لو ترك الحانوتَ مفتوحاً أوْ علقَ الشبكةَ على بابه و نامَ في النهارِ ليسَ بتضيعٍ و في الليلِ اضاعةٌ . (شرح المجلة ۴۳۳ مخ)﴿۱﴾ وهو الموفق .

(بقیه حاشیه) وقال العلّامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: والفتوىٰ على قول محمّدرحمه الله تعالى من ضمان الساعى بغير حق مطلقاًويعزر.

(ردّالمحتار ۴:۲۱۵ مطلب في ضمان الساعي، كتاب السرقة")

﴿۱﴾ (شرح المجلّة لسليم رستم بازرحمه الله تعالى ص ۴۳۳،المادة ۷۸۲:"الفصل الثاني في أحكام الوديعة والضمان")

که څوک مبيعه په پوست (ډاکخانه) ولېږي او د نه خوښولو وروسته په لاره کې ضايع شي تاوان به يې په چا وي؟

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې زيد عمر ته د چوغې جوړولو په اړه وويل (په داسې حال کې چې دواړه په بېلا بېلو ځايونو کې استوګن دي) بکر چوغه په پوست باندې ولېږله، هغه چوغه د زيد نه وه خوښه، زيد بيا دغه چوغه د پوست په واسطه عمر ته ورولېږله، د پوست خلکو چوغه له خلتې وويسته او د هغې په ځای يې يوه عامه ټوټه ورداخله کړه، اوس چې کله بکر ته خپله خلته ملاويږي؛ هماغه چوغه پکښې نشته. اوس سوال دا دی چې دا چوغه د چا له لاسه ورکه شوه او دا شته ټوټه به د چا وي؟ په ياد دي وي چې د چوغې قيمت هم نه و تاکل شوی. بينوا توجروا

المستفتي: احمد حسن بوکي ګاړ هزاره ... ۱۳۶۹ هـ/ محرم/ ۲۹/

ځواب: ددې ورک شوي چوغې تاوان په زيد باندې نشته، ځکه چې د زيد او عمر تر منځ هيڅ کومه بيع قطعي نه ده شوې، همدا راز زيد هم نه ده قبضه کړې، أما البيع بالقول فلعدمِ الايجاب والقبول ولأنّ الواحدَ لا يتولى طرفي البيعِ ، وأما البيع بالتعاطى فلعدمِ التعاطي الى زيدٍ ولا الا وكيله لأنّ محكمةَ البريدِ وكلاءُ المعطى (بالأجرة) لا وكلاءُ المرسلِ اليه، د زيد د نه قبضه کېدو سره بيا هم هغه تاواني کول د قاعدې او قانون خلاف کار دی، ﴿۱﴾ د ثمن د نه ټاکلو له امله هم دا معامله شرعي نه ده. ﴿۲﴾ وهو الموفق .

﴿۱﴾ وفي شرح المجلّة: المبيع إذا هلك في يد البائع قبل أن يقبضه المشترى يكون من مال البائع ولاشئ على المشترى.

(شرح المجلّة ۲: ۲۲۳، المادة ۲۹۳، الفصل الخامس في بيان الموادالمترتبة على هلاك المبيع)

﴿۲﴾ وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى "وشرط لصحته معرفة قدرمبيع وثمن ووصف ثمن.

(الدرّالمختار ۴: ۲۳، كتاب البيوع)

د امانت چرس او افیون د بې خایه کېدو پرمهال د تاوان حکم

سوال: د دین عالمان د چرس او افیونو د اخیستلو او پلورلو په اړه څه وايي؟ که چا د بل سره چرس یا افیون امانت ایښي وي او هغه ورک شي؛ نو تاوان به یې په چا وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: امجد ابو ظبی ... ۱۴۰۱ هـ/ ۵/ ۱۳/

جواب: دچرس اوافیون تجارت مکروه دی،《۱》که دساتونکي څخه ورک شي؛نود نوروامانتونوپه څېردديٍ حکم هم دی چې تاوان وربانديٍ نشته.《۲》خو که په لاس یې ورک کړه او یا یې بې ځایه کړه بیا به تاوان ورکوي《۳》

وهو الموفق.

د ماشومانو له لاسه د هلاک شوو شیانو د تاوان حکم

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وايي چې یو نابالغه هلك د بېلګي په توګه

《۱》قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وصح بيع غير الخمر ممامرّومفاده صحة بيع الحشيشة والأفيون ،قلت وقد سئل ابن نجيم عن بيع الحشيشة هل يجوز؟فكتب لايجوز فيحمل على أن مراده بعدم الجواز عدم الحل "(درمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى "ثم إن البيع وإن صح لكنه يكره......(قوله عدم الحل)لقيام المعصية بعينها وذكر ابن الشحنه أنه يؤدب بائعها.

(ردالمحتار ۵: ۳۲۳كتاب الأشربة)

《۲》وفي شرح المجلة: الوديعة أمانة في يد الوديع فإذاهلكت بلا تعد منه وبدون صنعه وتقصيره في الحفظ لايضمن.

(شرح المجلة لسليم رستم بازرحمه الله تعالى ۳۳۱، الفصل الثاني في أحكام الوديعة)

《۳》وأيضاًفيه"إذا هلكت الوديعة أو نقصت قيمتها بتعدى المستودع أو بتقصيره لزمه الضمان".

(شرح المجلة ۳۳۲،الفصل الثاني في احكام الوديعة)

د چا مرغی غلا کړي بیا یې خرخه کړي او روپۍ یې هم ورکي کړي، یا د چا کښت خراب کړي، یا بل کوم څناور مړ کړي، یا په هر حال چې وي، چاته مالي یا ځاني تاوان ورسوي، د دغه ماشوم مور او پلار هم ژوندي وي؛ نو د شرعي قانون له مخې دغه ماشوم تاواني کول روا دي او که نه؟ که وي نو مور او پلار به یې نیول کیږي او که خپله دغه ماشوم؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد علي حسن ابدال

جواب: کله چې یو نابالغ ماشوم د چا مال یا نور شیان هلاك کړي؛ نو تاوان به یې خپله په دغه ماشوم راځي، نه په مور او پلار باندې، کما فی شرح التنویر: وان أتلفوا أی هؤلاءِ المحجورینَ سواءٌ عقلوا أو لا شیئاً مقوماً من مالٍ أو نفسٍ ضمنوا الخ (هامش رد المحتار ۵: ۹۵)﴿۱﴾. وفی الهندیة ۵: ۶۱: ولا توجبُ هذه المعانی الثلاثةُ الحجر فی الأفعال حتی أنَّ ابنَ یومٍ لوانقلبَ علی قارورة انسان فکسرها وجب علیها الضمان فی الحالِ﴿۲﴾ فافهم، وهوالموفق

کښت ته د زیان رسوونکو مرغیو حلالول او بیا خوړل

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې زید د ځمکې مالک دی، د عمر مرغانو دده ځمکې ته پوره زیان اړولی دی، د ځمکې مالک د مرغانو مالك ته څو - څو ځله خبر ورکړی چې مرغان دي درګرځوه؛ عمر به سره له وینا خپل مرغان نه ګرځول، اوس سوال دا دی چې د زید لپاره په پټه ددې مرغانو حلالول او بیا خوړل روا دي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد سلیم او انور عباس ۱۴۰۳ هـ/ شوال/ ۲/

﴿۱﴾(الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۵: ۱۰۱، کتاب الحجر)

﴿۲﴾(فتاوی هندیة ۵: ۵۴، کتاب الحجر، الباب الأول)

جواب: که ربښتیا هم مرغان کښت ته داخل شوي وي او مالك يې په زيان هم خبر کړی وي بيا يې وژل روا او خوړل يې ناروا دي. (الهندية : ۶: ۵۲ مسائل ارسال حمارٍ و كلبٍ)﴿۱﴾وهوالموفق .

د حلال او حرام مال په ګډوډ کولو کې د تاوان حکم

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې د پاکستان په بېنکونو کې کار کول څنګه دي؟ ځکه چې زما په ګمان بېنکاري نظام سودي نظام دی او تنخا اخيستل يې څه حکم لري؟ او دغه تنخا که د نور پاك او حلال مال سره يو ځای شي بيا څه حکم لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: خان محمد ضلع قلات ۱۴۰۲ هـ/ محرم/ ۱۹/

جواب: په بېنکونو کې کار کول د فقهي قاعدې(تعاون على المعصيت)له امله حرام دی. قال الله تعالى: ﴿وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾ ﴿۲﴾که د بېنك کوم کاريګر دا مال او نور پاك مال سره شريك کړي؛ نو دی ددې تنخا

﴿۱﴾ وفى الهندية: رجل أرسل حماره فدخل حماره زرع إنسان و أفسده إن أرسله و ساقه الى الزرع بان كان خلفه كان ضامنا ..... ولو كان لرجل كلب عقور يوذى من مرّبه فلأهل البلد أن يقتلوه وإن أتلف يجب على صاحبه ضمان إن كان تقدم إليه قبل الإتلاف والاقلاشى عليه كالحائط المائل كذافى التبيين.

(فتاوى هندية ۶: ۵۲ كتاب الجنايات، الباب الثانى عشرفى جناية البهائم)

﴿۲﴾(سورة المائدة آيت ۲)

وفى المرقاة: عن جابرؓقال لعن رسول اللهﷺآكل الربوا وموكله وكاتبه وشاهديه. قال النووى فيه تصريح بتحريم كتابة المترابين والشهادة عليهما وبتحريم الإعانة على الباطل.

(مرقاة المفاتيح ۲: ۵۹،باب الربوٰ)

مالك شو، ضمان وربانديږ لازم دی ﴿۱﴾ او دا چې مستحق يې نا معلوم دی؛ نو په غريبانانو دې وويشي. ﴿۲﴾ وهو الموفق.

د ناروغه مرغانو د حلالولو له امله په نورو مرغانو د ناروغۍ د تاوان حکم

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې د تبليغي ډلې والا د کلي يو جومات ته ورغلل؛ نو دوی د خپل ځان لپاره يوه چرګه حلاله کړه، په دې کې د جومات امام صاحب ورته راغی او وې ويل: چې تاسو ناروغه چرګه حلاله کړې چې له امله يې د کلي ټول چرګان په ناروغۍ اخته شوي او زما هم د درې سوه روپو چرګه مړه شوه، حال دا چې نه موږ ناروغه چرګه حلاله کړې وه او نه مو دا اراده وه چې د کلي چرګان دې ناروغه شي او د جومات امام صاحب وخت په وخت موږ ته اختارونه راکوي او وايي چې د کلي ټول چرګان ستاسو له لاسه په ناروغۍ اخته شوي د هغو ټولو تاوان راکړئ؛ ايا دده لپاره د تاوان غوښتل روا دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: فضل واحد د باجوړ اوسيدونکی ۱۴۰۱ هـ / شوال / ۲۰/

﴿۱﴾ وفي الدر المختار: ولو خلط السلطان المال المغصوب بماله ملكه لأن الخلط استهلاك إذا لم يمكن تميزه عند أبي حنيفة. (الدر المختار)

وقال العلامة ابن عابدين: (قوله لأن الخلط استهلاك) أي بمنزلة أن حق الغير يتعلق بالذمة لا بالأعيان ...... لأنا نقول انه لما خلطها ملكها وصار مثلها دينا في ذمته لا عينها.

(ردالمحتار ۱: ۲۷ كتاب الزكاة، قبيل مطلب في التصدق من المال الحرام)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: ويردونها على أربابها إن عرفوهم وإلا تصدقوا بها لأن سبيل الكسب الخبيث التصدق إذا تعذر الرد على صاحبه.

(ردالمحتار ۵: ۲۷۳، كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

جواب: د (لا عدوی) حدیث پر اساس په ناروغیو کښې متعدي کېدل نشته، أی علی وجه التأثیر ﴿۱﴾ که دا خبره ومنل شي بیا هم په داسې غیر اختیاري کارونو کښې د تاوان لګولو حکم هیڅ امام نه دی کړی، ﴿۲﴾ بهر حال د جومات دا امام په سخته غلطۍ دی. وهو الموفق.

د بل چا په موټر کښې د قاچاقي مال وړلو له امله د موټر په ګېرولو د قاچاقبر نه تاوان اخیستل

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې وزیر محمد څه وخت وړاندې د چمن څخه سوارلي پورته کول او کویټې ته به یې راوړه، هغه د خپل زوړ عادت سره سم څلور نفره په پنځوس روپی کرایه کښېنول، چې په هغې کښې یو کس حاجي ګل محمد هم و، حاجي ګل محمد د موټروان په غلا ځینې قاچاقي مالونه په موټر کښې ایښي وو. کله چې د موټر د تلاشۍ خای راورسېد؛ نو د وزیر محمد موټر او د قاچاق ټول مال ونیول شو، د وخت په تېرېدو سره وزیر محمد

﴿۱﴾ عن أبی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ: لا عدوی ولا طیرة ولاهامة ولاصفر. (مشکوة المصابیح)

وفی المرقاة: (لاعدوی) ...... إنما أراد بذلک نفی ما کان یعتقده أصحاب الطبیعة فإنهم کانوا یرون العلل المعدیة مؤثرة لامحالة فأعلمهم بقوله هذا أن لیس الأمر علی ما یتوهمون بل هو متعلق بالمشیئة إن شاء کان وإن لم یشاء لم یکن.

(مرقاة المفاتیح ۹: ۳ باب الفال والطیرة)

﴿۲﴾ فی درر الحکام: الجواز الشرعی ینافی الضمان ...... ویفهم منها أنه لو فعل شخص ما أجیز له فعله شرعًا ونشأ عن فعله هذا ضرر ما فلا یکون ضامنًا للخسارة الناشئة عن ذلک ...... المتسبب لا یضمن إلا بالتعمد ...... کذلک لو أحرق شخص أعشابًا جافة فی أرضه فسرت النار إلی شیئ لأحد ما فأحرقته فلا ضمان علیه إلا إذا کان معدیًا بأن کان إحراق الأعشاب فی یوم شدید الریح. (درر الحکام ۱: ۸۱، ۸۳، المادة: ۹۱، ۹۳)

پنځوس زره جرمانه داخله کړه او خپل موټر یې د حکومت له کوره راوویست، ایا وزیر دا پنځوس زره روپۍ د حاجي ګل محمد څخه اخیستلای شي او که نه؟ ددې له امله چې وزیر محمد ته دا زیان د حاجي ګل محمد د قاچاقي مال له امله اوښتی ؤ. بینوا توجروا

المستفتي: مولوي مطیع الله حقاني چمن بلوچستان ۱۴۰۳ هـ / ربیع الثاني / ۳۰/

جواب: د المظلوم لا یظلمُ ﴿۱﴾ قاعدې له مخې موټروان د حاجي ګل محمد نه تاوان نه شي اخیستلای؛ خو که موټروان منع کړی وي او ده بیا هم په پټه ایښی وي بیا به ددې خیانت له امله د مستاجر تاوان ورکول ضروري وي، کما فی شرح المجلة ۳۲۲: لا یلزم الضمان اذا تلفَ المأجورُ فی ید المستأجر ما لم یکن بتقصیره أو تعدیه أو مخالفته لمأذونیته﴿۲﴾ وهو الموفق.

که څناورو د نورو کښت خراب کړ؛ نو د مالک څخه یې د تاوان اخیستلو حکم

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې په قرآنکریم کې د داؤد علیه السلام په دور کې یو سړي شکایت وکړ چې د یو سړي ګډو دده کښت خراب کړی وو چې په هغې باندې داؤد علیه السلام ګډې د کښت څښتن ته ورکړې، سلیمان علیه السلام دا فیصله خوښه نه شوه، بیا ده فیصله وکړه چې کښت والا به ګډې ساتي او شیدې به ترې څښي او ګډو والا به دا کښت کري تر دې چې د ګټې شي بیا به کښت والا ګډې خپل مالك ته واپس ورکوي.

(۱) ایا نن سبا موږ په دې باندې عمل کولای شو؟

﴿۱﴾ وفی مجموعة قواعد الفقه: المظلوم له أن یدفع الظلم عن نفسه بما قدر علیه لکن لیس له أن یظلم غیره.

(مجموعة قواعد الفقه: ۱۲۴، قاعده ۳۳۲)

﴿۲﴾ (شرح المجلة ۲: ۷۰۳: المادة: ۶۰۱: الفصل الثانی فی ضمان المستأجر

(۲) که داسې ښېښه وشي؛ نو د شریعت په رڼا کې څه کول پکار دي؟

(۳) د کښت بغیر که نورو ونو ته هم زیان ورسېږ. بیا به د ګډو مالك ته کومه سزا ورکول کیږي؟

(۴) همدا راز که د چا مرغان د چا کښت ته زیان ورسوي؛ نو ایا بزګر مرغان په خپله ولکه کې راوستلای شي؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد یعقوب پنشز دپټي، مندوری براسته خیر اباد کنړ

۱۹۷۲ م/ ۱۲/ ۹/

جواب: که دا حیوانات یې مالك د ونو او کښت سره په خوا کې پرې ایښي وي؛ نو تاوان به ورکوي، که دا حیوانات خپله راغلي وي یا یې مالك لرې پرې ایښي وي د مالك په بې خبرۍ کې د ونو او کښت خواته راغلي وي بیا یې تاوان نشته. فلیراجع الی شرح المجلة: ۵۲۵ مخ، ﴿۱﴾ و أما ما ذکره المستفتی فمن الاسرائیلیات التی لم ینقلها الشارع بهذا التفصیل مع أنه ورد علیها الانکار بحدیث: العجماء جرحها

﴿۱﴾ قال العلامة سلیم رستم باز رحمه الله تعالی: الضرر الذی أحدثه الحیوان من تلقاء نفسه لایضمنه صاحبه ......لأن جنایة العجماء جبار ولو انفلت ثوره وأکل حنطة رجل فلا ضمان علیه......ولکن لو استهلک حیوان مال واحد ورآه صاحبه ولم یمنعه فأنه یضمن وکذا لو قاد أحد دابته قریبًا من الزرع بحیث ان شاءت تناولت الزرع ضمن.

(شرح المجلة ۵۲۵، المادة ۹۲۹، الفصل الرابع فی جنایة الحیوان)

وقال العلامة التهانوی رحمه الله تعالی: لکه څرنګه ښېښه چې دلته په وزو کې راغلله او دغه راز واقع هم شي: نو د شریعت امامان په دیکښې سره اختلاف لري، امام ابو حنیفة رحمه الله وایي: که د وزو سره کوم چوپان یا لاړښود نه وي: نو په دې صورت کې هیڅ کوم تاوان پرې نه لازمیږي........ پاتې حاشیه پر بل مخ

جبارٌ فافهمْ .﴿۱﴾وهو الموفق .



(بقیه حاشیه) رواه الشیخان أن العجماء په سنن کې چې کوم روایت راغلی ،قضی رسول الله ﷺ علی أهل الأموال بحفظها بالنهار و علی أهل المواشی بحفظها باللیل ددې د سند په سرو کې علماء کرامو کلام کړی دی، ددې له امله د صحیحینو د حدیث سره مقابل نه شي واقع کېدای..... که چرېان اولاړېنود دواړه ورسره وي بیا به تاوان پرې لازم وي .
(بیان القرآن ۲:۹۸ ۳،پاره ۱۷)

﴿۱﴾وفی مشکوة المصابیح :عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه:قال قال رسول الله ﷺ: العجماء جرحها جبار والمعدن جبار والبئر جبار، متفق علیه .
(مشکوة المصابیح ۳۰۵،باب ما لا یضمن من الجنایات ،الفصل الأول)


الله


الله


فتاوی فریدیہ جلد اتم
کتاب الشفعة

قال النبی

صلی اللّٰہ علیہ وسلّم

جار الدار أحق بالدار من غیرہ.

(مسند أحمد)

کتاب الشفعة

قال النبیُ صلی اللّٰه علیه وسلم جار الدار أحق بالدارِ منْ غیره. (مسند أحمد)

په اسلام کې د شفعې حق دار او طریقه یې

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې په اسلام کې د شفعې نوعیت څه دی؟ ددې تشریح راته وکړئ؛ ما د کنبت لپاره څه ځمکه واخیسته. تقریباً د یو کال تېرېدو وروسته مې د عمر په لاس خرڅه کړه. اوس چې د انګرېزانو له وخته د شفعې په اړه کوم قانون چلیږي په هغې کې تر یوه کاله پورې شفیع ته د شفعې حق شته. همداسې وه چې په زید باندې دوه کسانو شفعه وکړه. په هغې کې د یوه کس وینا ده چې په زید چا ځمکه خرڅه کړې هغه خو زما د تره لور ده. دویم سړي وویل: چې زه خو ددې کوڅې شریك یم. زما ځمکه هم د خرڅې شوې ځمکې سره لګېدلې ده. اوس اصلي مسئله د عمر ده چې پیسې یې ورکړې دي. کاغذونه یې هم ټول پوره دي او قبضه یې هم په لاس کې ده. د شریعت له مخې راته دا مسئله حل کړئ؛ بینوا توجروا

المستفتي فرزند علي، سرګودها ۱۴۰۳ هـ /شعبان/ ۱۳/

جواب: که په همدې (شریکې) ځمکه کې د شفعه کوونکو برخه وي. یا د دوی د ځمکې او مشفوعه ځمکې لاره یا د اوبو ویاله یوه وي. بیا که دوی طلب مواثبه او طلب اشهاد هم کړی وي او د حکومت په کور کې یې د یوې میاشتې پوره کېدو (د اخیستلو له وخته) پورې څنډ نه وي کړی؛ نو دا خلك شفعه کولای شي. که نه نو د دوی شفعه د خپلولۍ او په کوڅه کې د شراکت له امله نه ثابتیږي، بلکې هیڅ اعتبار نه لري. (شامي باب الشفعة) ﴿۱﴾

یادونه: د عالمانو نه پرته عام خلك په دې شرائطو نه پوهیږي، غالباً د دوی د شفعې حق باطل دی. وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه اللّٰه تعالى: (للخليط) متعلق بتجب (في نفس المبيع) ثم ان لم يكن او سلم (له في حق المبيع)..... (كالشرب والطريق خاصين) ..... (ثم لجار ملاصق (الدر المختار) ...... پاتې حاشیه پر بل مخ

هندية : باب الشفعة(﴿١﴾)

د احمدي ډلې د شفعې حکم

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې احمدي ډلې ته د شفعې حق حاصل دی او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: پير قطب شاه پېښور ۱۹۷۹ م / اګست / ۱۵/

جواب: که دې مرزائي (احمدي) خان په بې دينه لړکيو (غير مسلم اقليت) کې شمار کړی وي؛ نو د نورو ذميانو په څېر دا احمدي به هم د شفعې حق لري،

(بقيه حاشيه)　　وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : (قوله وتستقر بالإشهاد) أى بالطلب الثانى......ولا بد من طلب المواثبة لأنها حق ضعيف يبطل بالإعراض.

(ردالمحتار ٥: ١٥٤، ١٥٥، كتاب الشفعة)

وقال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: وقيل يفتى بقول محمد إن اخره شهرًا بلا عذر بطلت كذا فى الملتقى. (الدر المختار)

وقال ابن عابدين رحمه الله تعالى :قائله شيخ الإسلام وقاضى خان فى فتاواه وشرحه على الجامع.(الدرالمختار مع ردالمحتار ٥: ١٥٩، باب طلب الشفعة)

﴿١﴾ وفى الهندية : وعن محمد وزفر رحمهما الله تعالى وهورواية عن أبى يوسف رحمه الله تعالى إن أشهد وترك المخاصمة شهرًا من غير عذر تبطل شفعته والفتوى على قولهما كذا فى محيط السرخسى. (فتاوى هندية ٥: ١٧٣، الباب الثالث فى طلب الشفعة)

وفيها :وأما شرطها فأنواع ......ومنها ملك الشفيع وقت الشراء فى الدار التى يأخذ بها الشفعة فلا شفعة له بدار يسكنها بالإجارة أو الإعارة.

(فتاوى هندية ٥: ١٦١، كتاب الشفعة، الباب الثالث فى تفسيرها)

برابره خبره ده چې اخيستونكى يې مسلمان وي او كه كافر (الهندية)﴿۱﴾ وهو الموفق .

طلبات ثلاثه نه كول، يا د شفعې اراده پرېښودل، يا په پيسو د اخيستلو نه په انكار سره د شفعې حق باطلېدل

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې زيد بوه توټه ځمكه واخيستله، عمر ورباندې شفعه وكړه، زيد عمر ته وويل: ما چې خرڅوونكي ته څومره روپۍ وركړي دي هغومره ماته راكړه دا ځمكه يې ستا؛ عمر ورته وايي: چې تا دا ځمكه ګرانه اخيستې ده، ما دا ځمكه د شفعې په حق كې په حكومتي سطحه ارزانه اخيستل. په ديكښې زيد ځمكه اباده كړه او ښه كور يې پرې جوړ كړ، څو كاله وروسته ددې ځمكې سره نزدې د بكر ځمكه وه هغه هم زيد واخيستل، اوس عمر نه مخكې ځمكه مني او نه هم وروستۍ، د شريعت له مخې عمر د شفعې حق لري او كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: حاجي ګل حيدر لبوړي مانسهره ۱۴۰۳ هـ / شعبان / ۲۴/

جواب: كه دې سړي طلب مواثبه ، طلب اشهاد نه وي كړي، يا يې په دعوه كې د حاكم په وړاندې تر يوې مياشتې زيات وخت ځنډ كړی وي، يا يې په پيسو د اخيستو نه انكار كړی وي او د شفعې د كولو اراده يې پرېښوده؛ نو په دې ټولو صورتونو كې

﴿۱﴾وفى الهندية: ولو اشترى ذمى من ذمى دارًا بخمر أو خنزير وشفيعها ذمى أو مسلم وجبت الشفعة عند أصحابنا رحمهم الله تعالىٰ.

(فتاوى هندية ۵: ۹۴ ؛، الباب الخامس عشر فى شفعة أهل الكفر)

وقال العلامة الكاسانى رحمة الله عليه : وأما إسلام الشفيع فليس بشرط لوجوب الشفعة فتجب لأهل الذمة فيما بينهم وللذمى على المسلم لأن هذا حق التملك على المشترى بمنزلة الشراء منه والكافر والمسلم فى ذلك سواء لأنه من الأمور الدنيوية.

(بدائع الصنائع ۴: ۱۱۴ فصل أما شرائط الشفعة)

دده شفعه ساقطه او هیڅ اعتبار نه لري﴿۱﴾ او په یاد صورت کې عمر شفعه نه پرېږدي؛ خو د پیسو ورکولو ته بیا تیار نه دی وهو الموفق .

په بیع د خبرېدو سره یو کال وروسته شفع کول

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وايي چې رحمن ګل او ملتان د مقرب خان څخه دېرش جریبه ځمکه اخیستې وه. د ځمکې د خرڅولو پرمهال مقرب خان تول خپلوان راوغوښتل چې په هغې کې دده ورور فضل کریم هم ؤ او وې ویل: چې دا ځمکه زه په رحمن ګل او ملتان باندې خرڅوم، اوس یو کال وروسته فضل کریم؛ بل په اشاره په رحمن ګل او ملتان باندې د شفعې دعوه کړې، ایا په شریعت کې دده دې شفعې ته اعتبار شته او که نه؟

بینوا توجروا

المستفتي: لعل رحمن متهه شبقدر ۱۴۰۱ هـ / ۷ / ۶

جواب: دا شفعه ناروا ده هیڅ اعتبار نه لري، ځکه چې ښکاره خبره ده، دې شفعه کوونکي نه طلب مواثبه کړی، نه طلب اشهاد او نه هم طلب خصومت

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : (وقوله وتستقر بالإشهاد) أى بالطلب الثانى وهو طلب التقرير والمعنى أنه إذا أشهد عليها لا تبطل بعد ذلك بالسكوت إلا أن يسقطها بلسانه ...... ولا بد من طلب المواثبة لأنها حق ضعيف يبطل بالإعراض.

(رد المحتار ۵: ۱۵۳، كتاب الشفعة)

وقال الحصكفي رحمه الله تعالى: وقيل يفتى بقول محمد إن أخره شهرًا بلا عذر بطلت كذا في الملتقى . قال الشامي رحمه الله تعالى: قائله شيخ الإسلام وقاضى خان فى فتاواه وشرحه على الجامع ومشى عليه فى الوقاية والنقاية والذخيرة والمغنى ...... وعزاه القهستانى إلى المشاهير كالمحيط والخلاصة والمضمرات.

(الدر المختار مع رد المحتار ۵: ۱۵۹، باب طلب الشفعة)

او د بوې مياشتې نه يې زيات وخت ځنډ هم کړی دی. (رد المحتار ۵ ټوك كتاب الشفعة) وهوالموفق

بزګر د شفعې حق نه لري

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې زه د يو کور سره د ۲۰ يا ۳۰ کالو راهيسې بزګر يم. د دوی ځمکې کرم او مالك مې يو شتمن سړی دی، هغه په دې ځمکه د خپل زوند ټوله شتمني مصرف کړه. ځمکه يې ټوله هواره کړه، د ځمکې وړې ټوټې يې هم د غټو ټوټو سره يو ځای کړې، ددې لپاره چې څان د نورو له منت نه وساتي. په ځمکه کې يې ويالې هم وويستې. ددې له امله د ځمکې قيمت دوه برابره څه چې څلور يا اته برابره شو، اوس دا ځمکه يوه بله ډله اخيستل غواړي. که د ځمکې مالك دا ځمکه خرڅوي؛ نو ايا بزګر يې شفعه کولای شي؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبد الستار محله رسالګړه اکوړه خټك ۱۹۸۷ م / ۲ / ۹/

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وتستقر بالإشهاد) أى بالطلب الثانى وهوطلب التقرير والمعنى أنه أشهد عليها لا تبطل بعد ذلك بالسكوت إلا أن يسقطها بلسانه.....ولا بد من طلب المواثبة لأنها حق ضعيف يبطل بالإعراض. (رد المحتار ۵: ۱۵۳، كتاب الشفعة)

وقال الحصكفى رحمه الله تعالى: وقيل يفتى بقول محمد ان أخره شهرا بلا عذر بطلت كذا فى الملتقى.

وقال العلامة الشامى رحمه الله تعالى: قاله شيخ الإسلام وقاضى خان فى فتاواه وشرحه على الجامع ومشى عليه فى الوقاية والنقاية والذخيرة والمغنى ......وعزاه القهستانى إلى المشاهير كالمحيط والخلاصة والمضمرات.

(الدرالمختار مع رد المحتار ۵: ۱۵۹، باب طلب الشفعة)

جواب: د قرآن او حدیث په رڼا کې بزګر ته د شفعې حق نه دی حاصل، که ده ته د شفعې حق ورکول شي؛ نو (خدای مه کړه) دا به په دین کې له څانه یوه خبره زیاتول وي، ځکه چې د شفعې درې سببه دي، شرکة فی ذات البیع، فی المرافق، فی الجوار، ﴿۱﴾ که بزګر د پرمختګ نورې الې په کار راولي؛ نو خپل ځان او مالك ته به ډېره ګټه ورسوي، ددې مطلب هیڅکله دا نه دی چې دی د شفعې حق لري، که نه نو د یوکورجوړونکی (مستري) به هم د شفعې حق دار شي. وهوالموفق.

د شریکي ځمکې خرڅول او په هغې باندې د شفعې حکم

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وايي چې مونږ محمد خان او جعفر خان دواړه ورونه یو، مونږ دارو ته مور- پلار په خپل ژوند کې تقریباً شپاړس کناله ځمکه راکړه، (اوس هم زمونږ پلار ژوندی دی) نورو ورونو ته یې هم خپلې ځمکې ورکړې دي؛ خو ما او جعفر خان ته یې شریکې راکړه، مونږ هم خپله برخه ځمکه همداسې ناوېشلې پرېښوده، جعفر خان په کراچۍ کې اوسېدو او زه محمد خان په خپل وطن کې اوسېدم، جعفر خان ددې شریکې ځمکې نه چې بېلا بېلو ځایونو کې پرته وه دوه کناله یې په سید اسد باندې

﴿۱﴾ قال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالى: الشفعة واجبة للخليط في نفس المبيع ثم للخليط في حق المبيع كالشرب والطريق ثم للجار ......أما الثبوت فلقوله عليه الصلوٰة والسّلام: الشفعة لشريك مالم يقاسم ولقوله عليه الصلوٰة والسّلام: جار الدار أحق بالدار والأرض ينتظر له وإن كان غائبًا إذا كان طريقهما واحدا، ولقوله عليه الصلوٰة والسلام: الجار أحق بسقبه قيل يا رسول الله ما سقبه؟ قال شفعته. (الهداية ۴: ۳۸۹، كتاب الشفعة)

وقال العلامة الكاساني رحمه الله تعالى: فسبب وجوب الشفعة أحد الأشياء الثلاثة: الشركة في ملك المبيع، والخلطة وهي الشركة في حقوق الملك، والجوار. (بدائع الصنائع ۴: ۹۷، كتاب الشفعة)

وقال الشيخ وهبة الزحيلي رحمه الله: اتفق الفقهاء على شرط كون الشفيع مالكًا ما يشفع به قبل البيع. (الفقه الإسلامي وأدلته ۶: ۴۹۱۸، المبحث الخامس، شروط الشفعة)

خرڅه کړه، څه وخت چې زه په خپل وطن کې خبر شوم؛ نو د شاهدانو په وړاندې مي په ځمکه د شفعې دعوه وکړه، په داسې حال کې چې زما پلار او ورونه هم د جعفر په دې کار باندې خوښ نه دي. اوس دا خرڅه شوې ځمکه د شفعې د دعوې سره زما حق رسيږي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد خان ۱۹۷۵ م / ۳/ ۱۰/

جواب: واضحه دي وي بيع المجهول نه صحيح کيږي او بيع المشاع (هغه څه چې نه وي ويشل شوی) صحيح ده، كما فى الهندية ۳: ۳ منها (أى من شرائط النفاذ) أى يكونَ المبيع معلوماً والثمنُ معلوماً علماً يمنعُ من المنازعةِ فبيع المجهولِ جهالةً تفضى اليها غير صحيحٍ «۱» که صحيح هم شي، دا شريك چې محمد خان نوميږي شفعه هم کولای شي. لأنَّ الأرضَ التى حصلتْ مملوكةً لهما جازَ لهما فيها التصرف المختص بالملك من البيعِ والهبةِ والوصيةِ وغيرها. والتقسيم المروج الآتى فى المستقبل فى الحقيقةِ فلا ينا فى الملك و كذا لا ينافى الشركة لأنَّ الرائجَ عندهمْ ابقاءُ الشركةِ المخصوصةِ، فافهم وهوالموفق.

په تبادله کې ورکړل شوي ځمکې د شفعې حکم

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې د بادشاه په نوم سړي د مشابت خان نه يو څه ځمکه د خپلې ځمکې په تبادله کې واخيسته، ايا دا تبادله روا ده او که نه؟ د جواز په صورت کې نږدې همسايه د شفعې دعوه کولای شي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد غنى ډاکخانه سنګولى ضلع دير ۱۹۸۸ م / ۲/ ۱۳/

جواب: دا د بيع معامله ده، په دې کې هم شفع جاري کيږي، اګر که قانوني شفعه

«۱» (فتاوى هندية ۳:۳، كتاب البيوع، الباب الأول)

پکښې نه جاري کیږي، کما في شرح التنویر على هامش رد المحتار ۵: ۲۰۱: ففي بیع عقارٍ بعقارٍ یأخذُ الشفیعُ کلاً من العقارین بقیمة الآخرِ ﴿۱﴾ وهوالموفق.

په شفعه کوونکو کې د یو سره د مصلحت له امله د بل حق نه ساقطیږي

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې درې ورونه په یوه ځمکه شفعه کوونکي دي، په هغوی کې دوه ورونو د اخیستونکي سره سوله وکړه، دریم ورور یې د سولې نه انکار کوي؛ نو اوس چې کوم دریم ورور سوله نه ده کړې ایا د هغه د شفعې حق ساقط شو او که شته؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم

جواب: د هغه ورور حق بې په خپل ځای پاتې دی. (لعدم المسقط) ﴿۲﴾ وهوالموفق.

نسبي خپلولي د شفعې له حق داری څخه نه ده

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې ایا د نسب له امله د شفعې حق ثابتیږي او که نه؟ په داسې حال کې چې د هغه خپل حقیقي ورور وي او بل ورور یې خپله ځمکه خرڅوي؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد شهزاد ډاکخانه چکدره تحصیل اډنزائی ضلع دیر ۱۴۰۱ هـ / ربیع الأول / ۱۰/

﴿۱﴾ (الدرالمختار على هامش رد المحتار ۵: ۱۶۲، کتاب الشفعة، باب طلب الشفعة)

وقال العلامة المرغیناني رحمه الله تعالی: وإن باع عقاراً بعقارٍ أخذ الشفیع کلّ واحد منهما بقیمة الآخر لأنه بدل له وهو من ذوات القیم فیأخذ بقیمته.

(الهدایة ۴: ۳۹۹، کتاب الشفعة، فصل فیما یؤخذ به المشفوع)

﴿۲﴾ في الهندیة: الشفعاء اذا اجتمعوا فحق کل واحد قبل الاستیفاء والقضاء ثابت في جمیع الدار حتی انه إذا کان للدار شفیعان سلم أحدهما الشفعة قبل الأخذ وقبل القضاء کان للآخر أن یأخذ الکل. (فتاوی هندیة ۵: ۱۷۷، الباب السادس في الدار إذا بیعت ولها شفعاء)

جواب: د شراکت او همسايه توب نه پرته يوازې د نسب له امله شفعه نه ثابتيږي او نه هم دا د شفعې د ثابتېدو له اسبابو څخه ده. ﴿۱﴾ وهو الموفق.

د خرڅې شوې ځمکې اطراف که هبه شي; نو د جوار شفعه پرې باطليږي

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې يو سړي په بل باندې د ځمکې د خرڅولو پرمهال د خرڅې ځمکې سره خوا کې څلور واړه طرفونو ته څلور ينځه قدمه ځمکه همدا سې هبه کړه: نو ايا اوس همسايه د شفعې کولو حق لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي فضل مولىٰ صاحب دير ۱۳۹۷ هـ / ذي الحجه/ ۱۴/

جواب: که خرڅوونکي نوره ځمکه خرڅه کړي او يوازې درې څلور ګزه ځمکه همدا سې پرېږدي يا يې هبه کړي؛ نو د شفعه کوونکي د شفعې حق يې ساقط کړ، كما فى الهداية ۴: ۲۰۸ فى باب ما تبطل به الشفعة : و اذا بـاع داراً الا مقدار ذراعٍ منها فى طول الحد الذى يلى الشفيع فلا شفعةَ لـه لانقطـاع الجوار. ﴿۲﴾ انتهى

﴿۱﴾ قال العلامة الكاسانى رحمه الله تعالى: فسبب وجوب الشفعة أحد الأشياء الثلاثة : الشركة فى ملك المبيع والخلطة وهى الشركة فى حقوق الملك والجوار.

(بدائع الصنائع ۴:۹۷ كتاب الشفعة)

﴿۲﴾ (الهداية۴: ۲۰۸،باب ما تبطل به حق الشفعة)

وفيها أيضًا: وكذا إذا وهب منه هذا المقدار وسلّمه إليه.

(الهداية ۴:۲۰۸، باب ما تبطل به الشفعة)

وفى شرح المجلة :ومنها أن يبتاع العقار إلّا ذراعًا فى جانب حد الشفيع فلا شفعة لعدم الاتصال، وكذا لو وهب هذا القدر للمشترى.

(شرح المجلة ۳: ۶۴۱، أقسام الحيل لإبطال الشفعة)

خو دا خبره یاده ساتئ چې دا ډول حیله امام ابو یوسف رحمه الله بغیر له کراهته روا بولي او امام محمد رحمه الله یې مکروه ګڼي. ﴿۱﴾ والله أعلمُ

د شفیع قیمت لګولو له امله هم د شفعې حق ختمیږي

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وايي چې زید یو ځای ځمکه واخیستل، بکر وربانديې شفعه وکړه چې د ځمکې د اخیستلو حق زما دی، په دغه وخت یې شاهدان هم وړاندې کړل، زید خپله هم اقرار کوي چې د بکر شفعه صحیح ده؛ خو زید وايي چې بکر ته ما وویلي ځمکه ته واخله ما ته د ځمکې قیمت (۱۵۰۰) راکړه؛ بکر ورته وايي چې زه تاته یوازې (۱۰۰۰) روپۍ درکوم، ځکه چې ستا د دستخط سره یوازې (۱۰۰۰) روپۍ لیکل شوي دي، په دې باندې زید شاهدان وړاندې کړه چې ما پنځلس سوه روپۍ ورکړې دي، بکر د ځمکې د اخیستلو نه انکار وکړ، اوس د زید (مشتري) شاهدان معتبر دي او که د بکر (شفیع)؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد اقبال شیخ اباد ، بمعرفت مولانا فضل مولی استاذ دار العلوم ۱۴۰۱ هـ / ۶ / ۲۹

جواب: په شرط د دې چې رښتیا او ثابت وي؛ نو د دې شفعه کوونکي د شفعې حق ساقط دی، لما فی الهندیة ۶: ۲۳۳: و حیلةٌ أخری أنْ یقولَ المشتری للشفیع ان أحببت أولیکها بما اشتریت فعلت ذلك .... فاذا قال نعمْ تبطل شفعته و فی العیون سواءٌ ذلك قبل الطلب أوْ بعده ﴿۲﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی : وأما الحیلة لدفع ثبوتها ابتداء فعند ابی یوسف لاتکره وعند محمد تکره.

(الدرالمختار علی هامش رد المحتار ۵: ۱۷۳، کتاب الشفعة ، باب ما یبطلها)

﴿۲﴾ (فتاوی هندیة ۶: ۲۳۳، کتاب الحیل الفصل العشرون فی الشفعة)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی :او طلب منه أن یولیه عقد الشراء ......فتبطل فی الکل لدلیل الإعراض. (الدرالمختار ۵: ۱۷۰، کتاب الشفعة ، باب ما یبطلها)

وچه ویاله د جوار له امله سبب د شفعې نه جوړیږي

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې دلته د چترال په ضلع کې EAC صاحب وچه ویاله د شفعې نه کولو حق داره ګرځولې او د شفعه کوونکو په خلاف یې فیصله کړې، حال دا چې عالمانو په خپلو کتابونو کې په اتفاقي ډول په دې باندې فتوی ورکړې چې وچه ویاله هم سبب د شفعې لپاره دی او EAC صاحب په خپله کړې وینا کلک ولاړ دی، وایي چې دا ویاله نه لاره ده او نه هم په دې باندې اوبه بهیږي؛ خو دومره ده چې کله باران وشي؛ نو اوبه بیا په دغه ویاله باندې بهیږي، اوس تاسو موږ ته ددې مسئلې شرعي حل روښانه کړئ! بینوا توجروا

المستفتي: غفران علي شاه شاهي بازار چترال ۱۴۰۲ هـ / شعبان / ۲۸/

جواب: دا وچه ویاله نه مبیعه ده او نه هم حق د مبیعې دی، د همدې له امله دا د جوار له امله د شفعې سبب نه جوړیږي، بخلاف الجوار بالطریق بالمبیع فلیراجع الی الهندیة ۵: ۱۷۰.﴿۱﴾وهو الموفق.

د هبې په صورت کې شفعه نه ثابتیږي

سوال: ددین عالمان په دې اړه څه وایي چې سرور دین او د شریف ښځې خدیجې

﴿۱﴾ وفی الهندیة :لرجل مسیل ماء فی دار بیعت کانت له الشفعة بالجوار لا بالشرکة ولیس المسیل کالشرب کذا فی التتارخانیة.

(فتاوی هندیة ۵ :۱۷۰، الباب الثانی فی بیان مراتب الشفعة)

وفی شرح المجلة :والذی یقتضیه قول التتارخانیة :ولیس المسیل کالشرب " إن الشریک فی المسیل لا یعد شریکا فی الحقوق ، نعم إذا کان موضع المسیل ملکا لصاحب المسیل کانت له الشفعة بالجوار لا شفعة الخلیط فی الحقوق.

(شرح المجلة ۵ :۵۸۳ المادة ۱۰۱۶ ، قبیل الفصل الثانی فی بیان شرائط الشفعة)

د ۱۲۸۰ روپو په بدل کې فرضي انتقال وکړ. غواړي چې ما د شفعې څخه بې برخي کړي، ما د شهباز په خلاف د پنډۍ په عدالت کې د شفعې دوسیه (مقدمه) درج کړه، د مقدمې وروسته زما د شفعې د ساقطولو لپاره شریف د خپلې ښځې خدیجې او شهباز په خلاف د کیمل پور په عدالت کې مقدمه درج کړه او یو فرضي سند یې پیدا کړ (شهباز د سرور اخښی او د شریف خور د هغه ښځه ده) ما د پنډۍ په عدالت کې په خوله دا غوښتنه وکړه چې دوی زما د شفعې د ساقطولو لپاره فرضي شفعه کړې، دوی دواړه دې د عوامو په وړاندې جومات کې سوګند پورته کړي چې زموږ سند اصلي دی. په دې وینا سره شهباز په عدالت کې انکار وکړ، عدالت د شهباز څخه په کال ۱۹۶۹م/۴/۲۴ کې د جواب وعده غوښتنه وکړه، په دې اړه شرعي مسئله روښانه کړئ؛ بینوا توجروا

المستفتي: فضل الهی ډاکخانه کران تحصیل پنډی ګهیپ ۱۹۶۹م/۴/۲۷

جواب: ستا له بیان نه معلومیږي چې د سرور دین مطلب د شهباز ښځې ته ګټه رسول دي، یعنې هبه او بخشش یې مقصد دی، بیع او شراء یې مقصد نه دی، د دې له امله ستا د شفعې حق نه ثابتیږي، ﴿۱﴾ بالفرض که دا د بیع صورت وي او تا طلب مواثبه او نور طلبات کړي وي، د هغې وروسته دې د شفعې دعوه هم کړې وي، د دې روپو د ورکولو د فرضي کېدو په اړه سرور دین او نورو د قسم کولو نه انکار کړی وي؛ نو په دې کې هیڅ ګناه نشته، بلکې په حاکم باندې ضروري دي چې د هغوی په خلاف فیصله وکړي، ځکه چې هغوی انکار کړی دی ﴿۲﴾ و هو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالى: ولا شفعة في هبة.
(الهداية ۴: ۴۰۳، كتاب الشفعة، باب ما تجب به فيه الشفعة وما لاتجب)

﴿۲﴾ وفي شرح المجلة: أحد اسباب الحكم أيضا اليمين أو النكول عنه فإذا أظهر المدعى العجز عن إثبات دعواه حلف المدعى عليه بطلبه ..... فإن حلف المدعى عليه قضى له، وإن نكل قضى عليه. (شرح المجلة ص ۱۰۹۳، المادة: ۱۷۴۲، الفصل الثالث في التحليف)

د موهوبه ځمکې په بدل کې غیر مشروط روپۍ ورکول او په هغه ځمکه شفعه کول

سوال: د دین عالمان په دې اره څه وايي چې یو سړي څه ځمکه هبه کړه او موهوب له ورته په بدل کې څه روپۍ ورکړې. ایا اوس په دې ځمکه شفعه کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتي: نعمت الله ملایانو بانده ۱۳۹۶ هـ / ربیع الأول / ۱۳/

جواب: په شرط د دې چې ربښتیا او ثابت وي، په دې ځمکه باندې شفعه نه کیږي، كما فى الهندية ٥: ١٧٨: ولوْ وهبَ عقاراً من غيرِ شرط العوضِ ، ثُمّ انّ الموهوبَ له عوضه من ذلك داراً فلا شفعةَ فى الدارينِ لا فى دار الهبةِ و لا فى دار العوضِ انتهى ﴿١﴾و هوالموفق .

په سولې (صلح) د شفعې حق باطلیږي

سوال: د دین عالمان په دې اره څه وايي چې زید په عمر د ځمکې شفعه کړې ده، عمر د هغې ځمکې نیمه برخه زید ته ددې لپاره ورکړه چې زما په ځمکه نور شفعه ونه کړي او یو پریکړه لیك (صلح نامه) یې هم ولیکلو، د سولې وروسته یې په ټوله ځمکه قبضه واچول، په دې حالت کې زید لـه سره شفعه کولای شي او که په پریکړه لیك باندې عمل وکړي؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم

جواب: په دې سولې سره د شفعې حق باطلیږي او د دې سړي څخه دا بدل صلح هم اخیستلای شي. فى الدرالمختار : لا يجوزُ الاعتياضُ عنِ الحقوق المجردة كحقِّ الشـفعةِ ، وفى رد المختار ٤: ١٨: وقال فى الأشباه فلوْصالَحَ عنها بمال بطلت و رجعَ﴿٢﴾و هوالموفق.

﴿١﴾ فتاوى هندية ٥: ١٦٠، كتاب الشفعة ،الباب الأول)

وفى شرح المجلة:لو كانت الهبة بدون شرط العوض ثم عوّضه بعدها فلا شفعة كما فى رد المحتار عن الخانية . (شرح المجلة ٣:٥٨٨، المادة : ١٠٢٢)

﴿٢﴾ الدر المختار مع رد المحتار ٣: ١٥، مطلب لا يجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة)

په زیاتو اخیستونکو کې د همسایه شفعه په یو شریک اخیستونکي نه کیږي

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې موږ څلورو ورونو په کال ۱۹۶۶ کې څه ځمکه واخیستل، په موږ باندې یو سړي شفعه وکړه، په دوه عدالتونو کې موږ دوسیه وګټل، بیا هغه په لوړ دار القضاء (هائی کورټ) کې خپله دوسیه وړاندې کړه او دعوه یې زموږ نه وګټل، پخوانیو اخیستونکو ته یې اوسنی یعنې د کال ۱۹۶۶ روپیو د ورکولو خبره کړې وه، ددې ځمکې اوسنی قیمت تقریباً دوه لکه څلوېښت زره روپۍ جوړیږي، د اخیستو قیمت یې دوه دېرش زره روپۍ جوړیږي، دوه وروڼه لکه هر یو شبر افضل او سید افضل دواړه ددې ځمکې مالکان تېر شوي دي، اوس د شبر افضل او سید افضل برخه د شفعې څخه ویستل کیږي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي ماستر سید نواب ضلع مردان

جواب: که د شبر افضل او سید افضل شرکت منل شوی وي؛ نو د هغوی برخه به د شفعې څخه پاکه وي، (تنقیح الفتاوی ۲ ټوک) ﴿۱﴾ وهوالموفق.

د شفیع په مسلم یا مبرهنې ابراء سره د شفعې حق ساقطیږي

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې زید د عمر څخه ځمکه واخیستل، بکر تر ډیر وخته پورې نه طلب مواثبه وکړ او نه هم طلب اشهاد. زیاتي لا دا چې کله زید د عمر نه ځمکه اخیستل؛ نو بکر ته یې دوه کسان ورولیږل چې که ته ځمکه اخلې؛ نو دا ځمکه زه پرېږدم، په جواب کې عمر وویل چې زه د شفعې حق له ځانه ساقطوم، د وخت په تېریدو چې کله د ځمکې انتقال وخت راغی؛ نو اوس بکر زید ته وایي:

﴿۱﴾ وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وثبت لمن شرى اصالة أو وكالة او اشترى له بالوكالة وفائدته انه لو كان المشترى أو الموكل بالشراء شريكًا وللدار شريك آخر فلهما الشفعة ولو هو شريكًا وللدار جار فلا شفعة للجار مع وجوده ......لأن المشترى خليط فيقدم على الجار. (فتاوى تنقيح الحامدية ۲: ۱۸۱، كتاب الشفعة)

چې ځمکه رابانديې خرڅه کړه؛ زيد ورته وايي: چې تا خپله د شفعې د حق نه ابراء کړې ده، اوس ته د ځمکې د غوښتلو حق نه لرې؛ تاسو مهرباني وکړئ ددې مسئلې شرعي حل راته بيان کړئ! بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم... ۱۹۸۳ م/ اګست / ۲۹ /

جواب: ستاسو د ليکل شوي بيان سره سم زيد په بيع قطعي سره دا ځمکه د عمر نه واخيستل او بکر چې نزدې ديوال په ديوال (جار ملاصق) همسايه يې دی، هغه يې خبر کړ چې دا ځمکه زه اخلم او هغه خپل د شفعې حق ساقط کړ، اوس نه شي کولای چې بيا شفعه وکړي، کما في الهندية ٥ : ١٨٧ : و ما يبطل به حق الشفعة بعد ثبوته نوعان﴿۱﴾الخ . دويمه دا چې که ابراء مسلم او مبرهنه نه وي، بکر چې د عمر همسايه دی، د بيع د خبرېدو سره سم يې طلب مواثبه د دوه شاهدانو په وړاندې ونه کړ، يا د مشتري يا د عقار (ځمکې په سر) طلب اشهاد ثابت نه وي؛ نو بيا هم د شفيع لپاره د شفعې حق نه ثابتيږي؛ خو که ياد دواړه طلبونه يې کړي وي بيا د شفعې کولو حق لري، کما في قاضي خان ٢: ٨٤٠ ﴿٢﴾والهندية ٥ : ١٧٢ ﴿٣﴾دريمه دا چې که مشتري په خپله خوښه شفيع ته ياد تولو د يو ځای کېدو پر مهال د شفعې د تولو شرطونو سره قاضي

﴿۱﴾وفي الهندية: ما يبطل به حق الشفعة بعد ثبوته نوعان . اختياري و ضروري . والاختياري نوعان صريح......اما الأول فنحو أن يقول الشفيع أبطلت الشفعة أو أسقطتها أو ابرأتك عنها. (فتاوى هندية ٥: ١٨٢، الباب التاسع فيما يبطل به حق الشفعة الخ)

﴿۲﴾وفي الخانية :أما طلب المواثبة فوقته فور علم الشفيع بالبيع إن أخبره بالبيع رجلان أو رجل وامرأتان أو رجل عدل فسكت هنيهة ولم يطلب الشفعة بطلت شفعته......وبعد ما طلب الشفيع طلب المواثبة فور علمه بالبيع يحتاج إلى طلب الإشهاد.

(فتاوى قاضي خان على هامش الهندية ٣: ٥٣٧، ٥٣٩، كتاب الشفعة، فصل في الطلب)

﴿۳﴾ وفي الهندية :أما طلب المواثبة فهو انه علم الشفيع بالبيع ينبغي أن يطلب الشفعة على الفور ساعتئذ وإذا سكت ولم يطلب بطلت شفعته ....(بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

د شفیع لپاره فیصله وکړي او مبیعه شفیع ته وسپاري؛ نو مشتري ته د مبیعې د نه ورکولو حق تر هغه پورې حاصل دی. تر کومه پورې چې شفیع مشتري ته روپۍ ورنه کړي، لما فی الهندیة ۴: ۳۹۳ واذا قضی لـه بالـدار فللمشتری أنْ یحبسها حتی یستوفی الثمن﴿۱﴾ وهو الموفق .

د شفعې حق چاته حاصل دی؟

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وايي چې د بېلګې په توګه زید د عمر څخه ځمکه واخیستل او عمر د زید تره دی، دا د زید پلرنۍ ځمکه وه، په دې وخت کې که کوم شفعه کوونکی په زید باندې شفعه کوي؛ نو ایا دا شفعه به صحیح وي او که نه؟ او شفعه کوونکي ته به د شفعې کولو حق تر څومره مودې پورې وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد قاسم شاه هزاري ... ۱۹۷۲م/ ۶/ ۲۸/

ځواب: شفعه هر هغه څوك کولای شي چې د خرڅوونکي (بائع) شریك یا همسایه وي، د شفعې لپاره شریکي کاته ضروري نه ده، فی الهدایة ۴: ۳۸۹: الشفعةُ واجبةٌ للخلیطِ فی نفسِ المبیعِ ثُمَّ للخلیطِ فی حقِّ المبیـعِ کالشـربِ والطریقِ ثُمَّ للجارِ﴿۲﴾ و بمعناهُ فی جمیعِ کتبِ الفروعِ﴿۳﴾ خو ددې لپاره طلب شرط دی، فی الهدایة : وتستقرُّ بالاشهادِ و لا بدَّ منْ ـــــ

(بقیه حاشیه) وأما طلب الإشهاد فهو أن یشهد علی طلب المواثبة حتی یتاکد الوجوب بالطلب علی الفور. (فتاوی هندیة ۵: ۱۷۲، کتاب الشفعة، الباب الثالث فی طلب الشفعة)

﴿۱﴾ (الهدایة۴: ۳۹۵، کتاب الشفعة، باب طلب الشفعة والخصومة)

﴿۲﴾ (الهدیة ۴: ۳۸۹، کتاب الشفعة)

﴿۳﴾ قال الحصکفی رحمه الله تعالی: (للخلیط) متعلق بتجب (فی نفس المبیع) ثم إن لم یکن أو سلّم (له فی حق المبیع) ...... (کالشرب والطریق) ...... (ثم لجار ملاصق).

الدر المختار ۵: ۱۵۴-۱۵۵، کتاب الشفعة

طلب المواثبة﴿۱﴾و بمعناه فی جمیع کتب الفروع﴿۲﴾ دغه راز که په یوه میاشته کې یې دننه دعوه ونه کړه؛ نو بیا یې هم دعوه نه اوریدل کیږي. فی الدرالمختار: و قیل یفتی بقول محمد ان أخره شهراً بلا عذرٍ بطلت ، کذا فی الملتقی ، قال العلامة الشامی: قال فی شرح المجمع و فی الجامع الخانی الفتوی الیوم علی قول محمد لتغیرِ أحوالِ الناسِ فی قصد الاضرار ۵: ۱۹۷﴿۳﴾و فی تنقیح الفتاوی ۲: ۱۸۴ : والقائل بأنّ الفتوی علی قولِ محمد هو شیخ الاسلام و قاضی خان فی فتاواه و فی شرحه علی الجامع الصغیرِ الخ﴿۴﴾ که دا شفیع شفعه وکړي؛ نو هیڅ مانع نشته . فقط وهو الموفق .

د مشتري لپاره د شفیع نه زیاتي روپۍ اخیستل؟

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې یو خرڅوونکی (بائع) په اخیستونکي (مشتري) باندې څه ځمکه په لس زره روپۍ باندې خرڅوي. اوس اخیستونکی دا شرط لګوي چې ستا د خپلوانو او شریکانو د شفعې کولو له ویرې په کاغذونو کې پنځلس زره روپۍ لیکم او بائع ورته وایي: که تا په کاغذونو کې پنځلس زره روپۍ ولیکلې: نو ځمکه نه درکوم. په دې صورت کې د مسئلې د حل څه لاره ده؟ او کله چې د مشتري په دې ځمکه د شفیع حق وترل شو؛ نو ایا اوس مشتري د لس زره روپو په ځای د پنځلس زره روپو حق دار دی او که نه؟ که حق دار یې نه وي؛ نو که دا پنځلس زره روپۍ دې د حلالو په خیال وخوري؛ نو خوړل یې څنګه دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولانا عبد الرؤف مقام و ډاکخانه ویسه ضلع کیملپور

﴿۱﴾(الهدایة ۴: ۳۹۲ ، قبیل باب طلب الشفعة)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالی: (وتستقر بالاشهاد)......فلا بدّ من الإشهاد بعد طلب المواثبة .(البحر الرائق ۸: ۱۲۸ ، قبیل باب طلب الشفعة)

﴿۳﴾(الدر المختار مع رد المحتار ۵: ۱۵۹ ، باب طلب الشفعة)

﴿۴﴾(فتاوی تنقیح الحامدية ۲: ۱۸۴ ، کتاب الشفعة)

جواب: که شفیع د شفعې دعوه کړې وي؛ نو مشتري د زیاتو روپو غوښتنه نه شي کولای، لأنّ الزائدَ علی وجهِ الجدِّ لا یأخذه المشتری کما فی الهندیة ۵: ۲۲۱، و اذا زاد المشتری البائع فی الثمنِ لم تلزمه الزیادةُ الشفیعَ حتی أنّه یأخذها بالثمنِ الأوّلِ، کذا فی الجوهرةِ النیرة﴿۱﴾ فکیفَ یجوزُ أخذ ما زاده هزلاً لأنه لیس بثمنٍ فقط . وهو الموفق

د حکومت تعزیري اخیستل شوي ځمکې په اخیستلو شفعه کول

سوال: د دین عالمان په دې اره څه وایي چې په کال ۱۹۳۵ م کې د زید پلار او خالد په شریکه ځمکه واخیستل. د خالد د ګناه له امله نیمایي ځمکه حکومت ونیول، ددې وروسته دغه حکومتي ځمکه بکر واخیستل. زید لا وړوکی ماشوم ؤ چې پلار یې مړ شو، ډېر وخت وروسته زید ته د خپلې ځمکې درک وشو، ایا اوس زید د بکر څخه نیمه ځمکه (چې د زید پلار د خالد سره شریکې اخیستې وه) په شفعه باندې اخیستلای شي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: حاجي محمد د دارالعلوم حقانیه زده کوونکی ۱۹۷۲ م / ۷ / ۱۶ /

جواب: زموږ په مذهب کې تعزیر بالمال ناروا دی، وفي الدرالمختارِ : لا بأخذ مال في المذهبِ (هامش رد المحتارِ ۳: ۲۲۶) ﴿۲﴾ ومعناه فی جمیع کتب الفقهِ﴿۳﴾ دا ځمکه بکر ته ورکول ضروري دي، په دې بیع باندې شفعه کول بې قاعدې کار دی. وهو الموفق

﴿۱﴾ (فتاوی هندیة ۵: ۱۹۹، الباب السابع عشر فی المتفرقات)

وقال العلامة الکاسانی رحمه الله تعالی: ولو زاد المشتری البائع فی الثمن فالزیادة لاتلزم الشفیع . (بدائع الصنائع ۴: ۱۳۱، فصل وأمّا بیان ما یتملک به ، کتاب الشفعة)

﴿۲﴾ (الدر المختار ۳: ۱۹۵، باب التعزیر ، مطلب فی التعزیر بأخذ المال)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالی: والحاصل انّ المذهب عدم التعزیر بأخذ المال. (البحر الرائق ۵: ۴۱، فصل فی التعزیر)

مطلق حیله او حیله د شفعې د ساقطولو لپاره ممنوع نه ده

سوال: مايقول العلماء الكرام فى المسئلة الآتية : انَّ الشفيعَ انِ ادَّعى على المشترِي فما يقول العلماء الكرامُ فى حقِّ الحيلةِ لدفعِ الشفعةِ مع ارادة المشترى بهذه الحيلة سقوط حق الشفيع و تضيقه و اضراره و مع أنَّه أى الشفيعُ من أهلِ الخيرِ والصلاحِ ، و أرادَ بالشفعةِ محض دفعِ المفسدةِ و المضارِّ الدائرة عليه على صورةِ عدمِ تملك هذه البقعةِ فى الحالِ والمستقبل ؟

والشفعةُ ثابتة بالأحاديث الصحيحة وبوَّبَ لها المحدثونَ وَ أيضاً الكتب الفقهيةُ مملوءةٌ منها ، فيعلمُ من هذا أنَّ الشفعةَ منْ أهم المسائل و أهمُّ الحقوقِ عند الشارعِ ، وأيضاً منشأ الشارعِ الذى حكمَ لأجلها بالشفعةِ للجارِ مخالفٌ لعمومِ الحيلِ فى كلِّ موضعٍ و حالٍ .

فلوْ جار هذه الحيلةُ فى كلِّ الأحوالِ و فى كلِّ موضعٍ لا أبالى بأنْ أقولَ فى حقِّ المحدثينَ و الفقهاء انهُمْ أضاعوا أعمارهمْ و أوْقاتهم فى المسئلة التى تبطلُ بمحض الحيلةِ فى كلِّ موضعٍ و حالٍ .

أرحنى من هذا الاشكالِ بحيثُ لا يبقى لى الوسوسة و المقال ؟ أجركم على الله

المستفتي: مولانا تاج الرحيم تالاش دير ۱۹۷۵م / منى / ۲۵ /

جواب: ليعلمَ انَّ حيلةَ الشفعة لم يمنعْ منها القرآنُ و لا الأحاديثُ ، و اختلفَ فيها أصحابنا و مال أبويوسفَ الى عدم الكراهةِ اذا كانت لدفعِ ثبوتها ابتداء ويفتى بقوله كما فى رد المحتار ٥: ١٦٣ (۱) والحيلُ كلُّها ليستْ مشروعة و لا غير

(۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: والحيلة لعدم ثبوتها ابتداءً لا تكره عند أبى يوسف وعلى قوله الفتوى كما فى الدرر والغرر. (رد المحتار ٥: ١٧٦، فروع كتاب الشفعة)

مشروعة على الاطلاقِ﴿۱﴾ كمالايخفى على مــن راجــعَ الى القــرآنِ﴿۲﴾ والحديثِ﴿۳﴾وهو الموفق .

د دويم مشتري حيله په لومړي مشتري د شفعې لپاره مانع نه ده

سوال: مايقول العلماء الكرام فى المسئلةِ الآتية :رجلٌ اشترى عقاراً بعقارٍ وليسَ له حقٌ متصلٌ بها من الجوانبِ الأربعةِ ، و لواحدٍ منَ الشفعاءِ دار متصل بهــا أشــد الاتصالِ فادعى صاحب هذا الدارِ المذكورِ على المشترى الشفعة موافقاً بالشرائط

﴿۱﴾ قال العلامة العينى رحمه الله تعالى: وقال الخصّاف فى أوّل كتاب الحيل لا بأس بالحيل فيما يحل ويجوز، وإنّما الحيلة شيء يتخلّص به الرجل من الحرام ويخرج به إلى الحلال، فما كان من هذا ونحوه فلا بأس به، وإنّما يكره من ذلك أن يحتال الرجل فى حق لرجل حتى يبطله أو يحتال فى باطل حتى يموهه أو يحتال فى شئ حتى يدخل فيه شبهة. (البناية على الهداية ۱۲:۱۶۱، كتاب الشفعة ، قبيل مسائل متفرقة)

﴿۲﴾ قال العلامة الكاسانى رحمه الله تعالى :والأصل فى شرع الحيلة قوله سبحانه وتعالى فى قصة سيدنا أيوب عليه الصلوٰة والسّلام: خذ بيدك ضغثًا فاضرب به ولا تحنث. (بدائع الصنائع ۴:۱۳۳، كتاب الشفعة ، قبيل كتاب الذبائح والصيود)

﴿۳﴾ وعن أبى هريرة رضى الله عنه أن رسول الله ﷺ استعمل رجلاً على خيبر فجاء ه بتمر جنيب فقال أكلّ تمر خيبر هكذا؟ قال: لا والله يا رسول الله! إنا لنأخذ الصاع من هذا بالصاعين والصاعين بالثلاث، فقال لا تفعل بع الجمع بالدراهم ثم ابتع بالدراهم جنيبًا، وقال فى الميزان مثل ذلك. (مشكوٰة المصابيح)

وفى المرقاة . قال النووى احتج أصحابنا بهذا الحديث أن الحيلة التى يعملها بعض الناس توسلاً إلى مقصود الربا ليس بحرام ......هو ليس بحرام عند الشافعى هو ملهب الإمام الأقدم الأعظم وتبعه من تبعه من علماء الأمم. (مرقاة المفاتيح ۶:۶۳، باب الربا)

الفقهيةِ ، لكنَّ المشترى بعد اقراره بالشراءِ أقرَّ بأنه باعَ هذا العقارَ المذكورَ على فلانٍ قبل دعوى الشفعةِ و أقرَّ لفلان الآخر (المشترى الثانى) أنه اشترى وسطها و ترك الجوانب الأربعةَ من العقارِ الى المالك أى المشترى الأول لأجلِ دفعِ الشفعةِ فاشتبهَ هذه المسئلة على .

(۱) هل يجوزُ دعوى صاحب الدارِ (الشفيع) على المشترى الأوّلِ أمْ لا؟

(۲) هل ينقض تصرفاته من البيعِ و غيره أمْ لا ؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا تاج الرحيم تالاش دير ۱۹۷۵م / مئی / ۲۵ /

جواب: فى الصورةِ المسئولة جازت الشفعة لوجود الجوارِ وهو السبب المعتبر عند الأحنافِ و تأيدَ بالرواياتِ المرفوعةِ﴿۱﴾والأصلُ أنَّ تصرفات المشــترى تنقض كما فى رد المحتارِ ٥: ١٥٣ :﴿۲﴾فيكون بيع المشترى وسط العقارِ باطلاً كالعدمِ و لا تغيره الحيلة ، نعم! لوْ باعَ مالك العقارِ وسط العقارِ على زيدٍ ثمَّ باعَ الجوانبَ على بكرٍ لافادة الحيلةِ﴿۳﴾لكنها لمْ يتحققْ ههنا .وهو الموفق

﴿۱﴾ وقال العلامة المرغينانى رحمه الله تعالى: الشفعة واجبة للخليط......ثم للجار أما الثبوت......فلقوله عليه الصلوة والسّلام الجار أحق بسقبه، قيل يا رسول الله ما سقبه؟ قال شفعته، ويروى: الجار أحق بشفعته.(الهداية ۴: ۳۸۹، كتاب الشفعة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: كما ينقض الشفيع جميع تصرفاته أى المشترى.(الدر المختار ۵: ۱۶۳، باب طلب الشفعة)

﴿۳﴾ قال العلامة الكاسانى رحمه الله تعالى: ومنها أن يبيع دارًا ذراعًا منها فى طول الحد الذى يلى دار الشفيع، فالشفيع لا يستحق الشفعة.
(بدائع الصنائع ۴: ۱۳۲، كتاب الشفعة، بيان الحيلة فى إسقاط الشفعة)

په شفعه کې شریک فی نفس المبیع په شریک فی المرافق باندې وړاندې دی

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وايي چې زيد او خالد دواړه د تره زامن دي. ځمکه يې شريکه ده، د کورني وېش وروسته د هر يوه برخه بېله او هر يو يې پرې ولکه کړې چې اوس مهال پرې کښت کوي، د خالد د حقيقي ورونو زامنو چې د هغه سره شريك دي، په خپل منځ کې يې کورنی وېش هم نه دی کړی، خالد به کښت کولو او هغوی ته به يې وخت په وخت غله او پيداوار ورکولو، هغه هلکان اوس غواړي چې خپله ځمکه په زيد باندې خرڅه کړي. ايا د شريعت له مخې خالد په زيد باندې شفعه کولای شي؟ ايا د کاغذونو د شراکت له امله عدالت د شفعې حق باطلولای شي؟ حال دا چې کله زيد د خالد د وربرونو نه دغه ياده ځمکه اخيستل؛ نو خالد ته يې وويل: چې د ځمکې کاغذونه راکړه! هغه راته وويل چې د اخيستلو لپاره يې زه ستا نه زيات حق دار يم، ته ماته ځمکه واپس راکړه او خپلې روپۍ واخله! ددې وروسته دوه ځله د سولې کوشش وشو؛ خو دواړو ونه منل. اوس تاسو مهرباني وکړئ د يادې مسئلې حل راته وښايئ! بينوا توجروا

المستفتي: قاضی خليل احمد امير جميعت علماء اسلام بالاکوټ هزاره

۱۹۷۰م / ۵ / ۸ /

جواب: خالد د خپلو وربرونو سره د ځمکې وېش نه دی کړی، د همدې له امله خالد شريك فی نفس المبيع دی او د زيد سره خو د ځمکې تقسيم وختي شوی دی. د همدې له امله هغه شريك فی المرافق ګڼل کيږي، په ياد صورت کې د خالد لپاره د شفعې حق ثابت څه چې بلکې ... لمك ثابت دی، په شرط ددې چې خالد طلب مواثبه او طلب اشهاد کړی وي، که نه نو شرعاً به دده لپاره د شفعې حق نه وي ثابت. يدلُّ عليه ما فی الهداية فی بـاب الشـفعة : ولـيس للشريك فی الطريق والشرب والجار شفعة مع الخليط فی الرقبة، و فيها: اعلم أنّ الطلبَ على ثلثة أوجه طلب المواثبة وهو أنْ يطلبها كما علمَ حتى لو بلـغ الشفيع البيع ولمْ يطلبْ شفعته بطلت الشفعة لما ذكرنا ولقوله عليه السلام :

الشفعة لمن واثبها﴿۱﴾و بمعناه فی ردالمحتار﴿۲﴾والبحر﴿۳﴾والنهر وجمیع کتب الفقه فقط ، وهو الموفق

مشفوعه ځمکه اخیستل

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې کومه ځمکه تر شخړې لاندې وي، شفيع وربانديې د شفعې دعوه هم کړې وي؛ نو ايا د داسې ځمکې خرڅول روا دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: سيد محمد زاده باچا علاقه ميدان تحصيل لال قلعه ، ضلع دير

۱۹۸۵م / ۶ / ۲۸ /

جواب: مشتري دا مشفوعه ځمکه خرڅولای شي؛ خو که دعوه شفيع وګټي؛ نو دا اخيستل او خرڅول بيا هيڅ اعتبار نه لري.(هنديه۵: ۲۰۱)﴿۱﴾والله أعلمُ .

﴿۱﴾ الهداية ۴: ۳۹۰-۳۹۲،کتاب الشفعة ، باب طلب الشفعة والخصومة فیها)

﴿۲﴾ قال الحصکفی رحمه الله تعالی : (للخليط) متعلق بتجب (فی نفس المبيع) ثمّ إن لم يکن او سلّم (له فی حق المبيع) کالشرب والطريق (ثم لجار ملاصق)

(الدر المختار ۵: ۱۵۴،۱۵۵، کتاب الشفعة)

﴿۳﴾قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالی:وتجب للخليط فی نفس المبيع ثم فی حق المبيع کالشرب والطريق إن کان خاصًا، ثمّ للجار الملاصق...... فإن علم الشفيع بالبيع أشهد فی مجلسه علی الطلب وهو طلب المواثبة وسمی به لقوله عليه الصلوٰة والسّلام: الشفعة لمن واثبها......والشرط أن يطلب إذا علم علی الفور من غير تأخير ولا سکوت لأن سکوته بعد علمه يدل علی رضاه بالمشتری فتبطل شفعته.....ثم علی البائع لو فی يده أو علی المشتری أو عند العقار وهذا طلب التقرير.

(البحرالرائق ۸: ۱۲۶،۱۲۸،۱۲۹، کتاب الشفعة ، باب طلب الشفعة)

﴿۴﴾ وفی الهندية: ويجب أن يعلم أنّ تصرف المشتری...... (بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

ایا د ځمکې په منځنی برخې خرڅولو سره د شریک او همسایه د شفعې حق ساقطیږي؟

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې د دوه شریکانو څخه یو شریک د خپلې ځمکې منځنی برخه خرڅه کړه، شاو خوا ځمکه یې خپل ځان ته پرېښوده ددې لپاره چې څوك شفعه ونه کړي، اوس یې شریك وربانديې د شفعې دعوه کړې ده، ایا د یادې حیلې له امله د شریك او همسایه د شفعې حق ساقطیږي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي فضل مولی میذان ۱۹۷۵م / اپریل / ۲۸ /

جواب: د شراکت له امله چې کومه شفعه وشي، هغه ددې حیلې له امله نه ساقطیږي، لأنها تنفی الجوار دون الشركة والخلطة﴿۱﴾وهو الموفق.

(بقیه حاشیه) فی الدار المشفوعة صحیح إلی أن یحکم بالشفعة للشفیع وله أن یبیع وأن یؤجر ویطیب له الثمن والأجر وکذا له أن یهدم وما أشبه ذلک من التصرفات غیر أن للشفیع أن ینقض کل التصرف إلا القبض.

(فتاوی هندیة ۵: ۱۸۱، الباب الثامن فی تصرف المشتری فی الدار المشفوعة)

وقال العلامة الکاسانی رحمه الله تعالی: وکذا له أن یبیع ویهب ویوصی وإذا فعل ینفذ إلا أن للشفیع أن ینقض ذلک بالأخذ بالشفعة لأن حقه سابق علی حق المشتری فیمتنع اللزوم.

(بدائع الصنائع ۴: ۲۴، کتاب الشفعة، بیان ما یملک به المشفوع فیه)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: ثم شرع فی الحیل فقال (وإن باع) رجل (عقارًا إلا ذراعا) مثلا فی جانب حد (الشفیع فلا شفعة) لعدم الاتصال...... (وإن ابتاعه بثمن) کثیر (ثم دفع ثوبًا عنه فالشفعة بالثمن لا بالثوب) فلا یرغب فیه، وهذه حیلة تعم الشریک والجار (الدر المختار)...... (بقیه حاشیه اگلے صفحه پر)

د نږدې دکان په خرڅېدو د شفعې حکم

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وايي چې زه په جهانګیر پوره کې دکان نمبر ۳۲۲۳ کې د کال ۱۹۴۹ څخه په میاشتینی کرایه ۲۰ روپی او سېږم، د وخت په تېرېدو سره مې دا دکان د سید ایوب څخه په ۵۰۰۰ روپۍ واخیست. دې وروسته په همدې بازار کې د محمد افضل په نوم سړي د شپې یوولس بجې شاوخوا د ایوب شاه کور ته لاړ او زما دا دکان ۳۲۲۳ یې په خپل نوم کړ او یو بل دکان هم چې زما د دکان سره نږدې ؤ ۳۲۲۴ نمبر یې دی د خپل ورور محمد اسلم په نوم کړه او دواړه یې واخیستل، ایا دا معامله جائز ده؟ څه وخت وروسته یې وجې محمد افضل په ما باندې عدالت کې مقدمه درج کړه او د دکان د خالي کولو لپاره یې خپل ټول زور په کار راوست؛ خو زه هم په خپله خبره ولاړ وم؛ نو ایا اوس زه خپل خواته دکان باندې شفعه کولای شم او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: غلام مرتضی جهانګیر پوره د پېښور ښار ۱۴۰۳ هـ / محرم الحرام / ۲۲ /

جواب: که چیرې تا دکان نمبر ۳۲۲۳ اخیستی وي او د هغې په خوا کې ۳۲۲۴ نمبر دکان خرخیږي او تا په دې دویم اخیستونکي باندې شرعي شفعه کړې وي؛ نو ته دا دویم دکان هم اخیستلای شې او که شرعي شفعه دې نه وي کړې؛ نو ته هم حق لرې (هدایة ﴿۱﴾، شامي ﴿۲﴾، والله أعلمُ.)

(بقیه حاشیه)...... وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (هذه حیلة تعم الشریک والجار) أی بخلاف ما قبلها فإنهما لا یحتال بهما فی حق الشریک أما الأولی فظاهر.
(ردالمحتار ۵: ۱۷۰، ۱۷۱، ۱۷۲، کتاب الشفعة، باب ما یبطلها)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: الشفعة واجبة للخلیط...... ثم للجار...... لقوله علیه الصلوة والسلام الجار أحق بسقبه، قیل یا رسول الله! ما سقبه؟ قال شفعته ویروی: الجار أحق بشفعته. (الهدایة ۴: ۳۸۹، کتاب الشفعة)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی:...... (بقیه حاشیه اګلے صفحه پر)

د مشتري په مرینې د زوی په شفیع باندې سره له خبرتیا په دعوه کې څنګ کول

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې (۱) زید د بکر څخه ځمکه واخیستل، عمر ورباندې شفعه وکړه، طلب مواثبه او طلب اشهاد یې هم پوره کړی دی.

(۲) بکر او زید خپله دا اقرار کوي چې عمر ته د ځمکې د خرڅولو په اړه هیڅ درك نه ؤ او د هغه په خپل بیان باندې د تحصیل دار امضاء (دستخط) هم شته، اوس زید وفات شوی دی او د زید زوی په عمر باندې شاهد پېش کوي چې ته خبر وې، په شریعت کې دا شاهدي د اعتبار وړ ده او که نه؟

(۳) د زید زوی عمر ته د خبرتیا په اړه سوګند ورکولای شي او که نه؟

بینوا توجروا

المستفتي: حاجي اکرام الحق بټ خېله. ملاکنډ ایجنسي ۱۳۸۹ هـ/ ۱/ ۱/

جواب: په یاد صورت کې د زید په زوی دعوه شوې ده او هغه د خپل ځان دفاع کوي، په داسې طریقې سره چې مدعي په طلب کې سره له خبرتیا څنډ کړی دی، ددې له امله د مدعي لپاره ضروري دي چې اقرار دي په دلیل سره ثابت کړي، کنه نو د سوګند نه خو خلاصی نشته، یعني د زید زوی به سوګند کوي، في الدر المختار: هذا اذا لم ینکر المشتری طلب الشفیع الشفعة، فان أنکر فالقول له بیمینه ﴿۱﴾، فقط، وهو الموفق.

(بقیه حاشیه) (قوله لم لجار ملاصق) ولو متعددًا ..... وفی القهستانی الملاصق المتصل بالمبیع ولو حکما کما إذا بیع بیت من دار فانّ الملاصق له ولأقصی الدار فی الشفعة سواء. (رد المحتار ۵: ۱۵۵، کتاب الشفعة)

﴿۱﴾ (الدر المختار ۵: ۱۶۰، باب طلب الشفعة)

وفی الهندیة: وإذا اتفق البائع والمشتری أن الشفیع علم بالشراء منذ أیام ثم اختلفا بعد ذلک فی الطلب فقال الشفیع طلبت منذ علمت و قال المشتری ما طلبت فالقول قول المشتری وعلی الشفیع البینة.

(فتاوی هندیة ۵: ۱۷۳، الباب الثالث فی طلب الشفعة)

حاکم د دوه مشتریانو څخه د یوه بیع فسخ کړه. ایا دا مشتري د شفعې حق لري؟

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې د زید ځمکه د عمر سره ګرو (رهن) ده، ددې ځمکې دواړو خواته د خالد ځمکه ده. زید دا ځمکه په خالد باندې (چې شفیع هم دی) خرڅه کړه، وروسته یې په بکر باندې هم خرڅه کړه، کله چې د دوی دا دوسیه عدالت ته ورسېدل؛ نو هغوی د تقدیم د بیع ته اعتبار ورکړ او ګرو ته یې ترجیح ورکړه، د شرعي حکم په خلاف بکر یې د ځمکې مالك جوړ کړ، په همدې عدالت کې خالد په دې ځمکه باندې د شفعې دعوه وکړه چې زه ددې ځمکې شفیع یم، لومړی د اخیستو حق زما دی، طلب مواثبه او طلب اشهاد یې کړی دی، حاکم د شفعې دعوه ومنله او شرعي فتوی یې غوښتې ده. تاسو مهرباني وکړئ موږ ته شرعي مسئله را په ګوته کړئ چې خالد (د ځمکې همسایه) زیات حق دار دی او که بکر (چې ځمکه ورسره ګرو ده)؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي محمد جان علاقه جندول، ضلع دیر

جواب: خالد د حاکم په وړاندې مکذب ختلی دی، دده لپاره شفعه صحیح ده، د بکر لپاره د شفعې هیڅ لاره نشته، قال في شرح المجلة ۹۷۱ ص: یرتفع التناقض أیضاً بتکذیب الحاکم ﴿۱﴾ وهکذا في سائر کتب الفروع ﴿۲﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ (شرح المجلة ۹۷۱، المادة: ۱۶۵۴)

﴿۲﴾ وفي الأنقروية: والتناقض یرتفع بتصدیق الخصم وبتکذیب الحاکم أیضًا.

(فتاوی انقرویة ۲:۱۶۳، الثاني عشر في التناقض)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: ثم اعلم أن التناقض یرتفع بتصدیق الخصم وبتکذیب الحاکم أیضًا.

(رد المحتار ۴:۲۱۸، مطلب في مسائل التناقض)

مشتري د شفيع څخه په وعده خلافۍ باندې قضاءً څه نيوکه (مؤاخذه) نشته

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې يو قوم دا اراده وکړه چې ځمکه به په شريکه خرڅوو، څو کاله وروسته يو سړی پيدا شو چې هغه خپله ځمکه يوازې خرڅه کړه، ايا نور قوم دده په ځمکه شفعه کولای شي او که نه؟ قاضي يا حاکم په ده باندې زور کولای شي چې ته دا ځمکه پرېږده او که نه؟ د وعدې په خلاف ورزی خو ديانةً ګناه شته؛ خو پاتي نور قوم د مشتري څخه ځمکه واپس اخيستلای شي او که نه؟

يو سړي ځمکه واخيستل او شفيع ورباندې شفعه وکړه. شفيع مشتري ته ووېل: اوس زما سره روپۍ نشته چې زه دا ځمکه واخلم. مشتري ورسره وعده وکړه چې څو کاله وروسته زه دا ځمکه خرڅوم؛ نو تا ته به يې په دغه روپو درکړم.

(۱) ايا د مشتري لپاره په خپله وعده دربدل لازمي دي؟

(۲) شفيع د مشتري څخه د وعدې يا شفعې په سبب ځمکه بېرته اخيستلای شي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي محمد اکبر قريشي، وانه کيمپ تحصيل وانه، ضلع ډی آی خان

ځواب: (۱، ۲) په دواړو صورتونو کې يوازې د مشتري له خوا وعده شته، ددې له امله ديانةً د خپلې وعدې څخه اوښتل ناجائز دي او قضاءً په دې باندې هيڅ نيوکه نشته، يعنې شفيع او نور کسان د استحقاق په ډول دا ځمکه نه شي اخيستلای، و في الأشباهِ والنظائرِ ۳۰۷ : كتاب الحظر و الاباحة : الخلف في الوعدِ حرامٌ ،وفي ص ۳۰۸ :و قال صاحب عقد الفريدِ في التقليدِ انما يوصف بما ذكر بأنَّ خلفَ الوعدِ نفاقٌ اذا قارنَ الوَعد العزم على

الحلف﴿۱﴾الخ وفي شفعة الدرالمختار على هامش رد المحتار ٥ ، ۱۹۱ : ويملك بالأخذ بالتراضي أوْ بقضاء القاضي﴿۲﴾انتهى وهوالموفق .

شفيع د مشتري څخه مرابحةً د ځمکې په اخيستلو د شفعې د حق باطلولو حکم

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې زيد ځمکه واخيستل او عمر ورباندې شفعه وکړه، د څو ورځو په تېرېدو سره د شاهدانو په وړاندې عمر د ځمکې مرابحةً اخيستلو ته تيار شو، زيد ورته په جواب کې وويل: چې سمه ده، زه به د خپلو ورونو سره مشوره وکړم، هغوی ورته د نه خرڅولو مشوره ورکړه، ځمکه د زيد په ملکيت کې همداسې پاتې شوه، اوس عمر شفعه کوونکی شفعه کوي، ايا د عمر دا اقدام (چې دی يې د مشتري څخه په بيع مرابحې اخيستلو ته تيار شو) حق د شفعې باطلوي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد غنی مډل سکول حياء سيری ملاکنډ ، ضلع دير ۱۹۷۳م/ ۲/ ۲۲

جواب: په شرط ددې چې رښتيا او ثابت وي ددې مشتري د شفعې حق باطل شوی دی، يدل عليه ما في الدر المختار على هامش رد المحتار ٥ : ۲۱ : أوْ طلب منه أنْ يوليه عقد الشراء ، وقال العلامة الشامي : أي يبيعه توليةً وهو البيع بمثل الثمن الأول ، ومثل التولية والمرابحة﴿۳﴾. فقط

﴿۱﴾(الأشباه والنظائر مع شرحه للحموی ۳: ۲۳٦، کتاب الحظر والإباحة)

﴿۲﴾الدرالمختار ٥: ۱٥۳ کتاب الشفعة)


وفي شرح المجلة :يكون الشفيع مالكًا للمشفوع بتسليمه بالتراضي مع المشتري أو بحكم القاضي.(شرح المجلّة ۳: ٦۲۲ المادة : ۱۰۳٦ . الفصل الرابع في بيان حكم الشفعة)

﴿۳﴾(ردالمحتار ٥: ۱۷۰، کتاب الشفعة ،باب ما يبطلها)

وفي شرح المجلّة:وكذا طلبه من المشتري أن يوليه عقد الشراء أي يبيعه بمثل الثمن الأوّل ، ومثل التولية المرابحة.(شرح المجله ۳: ٥۹۳، المادة: ۱۰۲۳)

د یو طرف او دریو واړه طرفونو همسایه په حق د شفعه کښ سره برابر دي

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې (۱) د یادې نقشې سره سم د



دریم نمبر پټي والا خپله ځمکه په پنځم نمبر پټي والا باندې خرڅه کړه.

(۲) د دویم نمبر پټي والا شفعه وکړه.

(۳) د دویم نمبر پټي والا په لومړي او شپږم پټي کې هم شریك دی.

(۴) د باراني اوبو ویاله د دویم نمبر پټي څخه دریم نمبر پټي ته ور روانه ده، د نقشې سره سم د شمال نه جنوب لور ته دی.

سوالونه......(۱) ایا د دویم نمبر پټي مالك د شپږم نمبر پټي والا په نسبت د همسایه ګیری یا نزدې والي له امله زیات حق دار دی او که نه؟

(۲) ایا د دویم نمبر پټي مالك د باراني اوبو یا مسیل الماء له امله د شپږم پټي والا په نسبت د شفعې زیات حق دار دی او که نه؟

ایا د دویم او دریم نمبر پټیانو والا د اسایش حقوق سره شریکي دي؟ که شریکي وي؛ نو ایا هغه د اسایش حقوق کبدلای شي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: سلطان محمد ګورنمنټ هائی سکول، صابر آباد، کرك ۱۹۸٦م/ مارچ/ ۳/

جواب: د قواعدو په رڼا کې دا دواړه جار ملاصق (نزدې لګېدلي همسایه ګان) ګڼل کیږي، د دویم نمبر پټي مالك د شپږم نمبر پټي والا څخه زیات حق دار نه دی. (شرح المجلة) ﴿۱﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ وفي شرح المجلة: وأما الجار الملاصق فهو من كان عقاره متصلًا بالمبيع ولو حكمًا كما إذا بيع بيت من دار فانّ الملاصق له ولأقصى الدار في الشفعة سواء، وشمل ما إذا كان الجار متعددًا حتى أن الملاصق من جانب واحد......(بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

﴿١﴾ وفي شرح المجلة: وأما الجار الملاصق فهو من كان عقاره متصلاً بالمبيع ولو حكمًا كما إذا بيع بيت من دار فانّ الملاصق له ولأقصي الدار في الشفعة سواء، وشمل ما إذا كان الجار متعددًا حتّى أن الملاصق من جانب واحد......(بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

په بيع کې د موجوديدو پرمهال طلبات نه کولو سره حق د شفعې باطليږي

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې يوه ښځه يو زوی او يوه لور لري، خپله ځمکه يې په سعادت خان نومي سړي د دوه شاهدانو په وړاندې خرڅه کړه، په کوم وخت کې چې مشتري دوی درې واړو ته روپۍ ورکولې؛ نو انتقال بند شوی ؤ، دې سره دوی ورته وويل چې څنګه انتقال پيل شو؛ نو مور به ستا انتقال وکړو، اوس شپاړس کاله پوره شول چې ځمکه د مالك (مشتري) په لاس کې ده، په دې باندې لور او مور خوشحاله دي؛ خو زوی يې غواړي چې په دې ځمکه باندې شفعه وکړي، د شريعت له مخې د دې مسئلې حکم بيان کړئ! بينوا توجروا

المستفتي: سعادت خان پير پيائي ١٩٧٥م/ فروري / ١٢/

جواب: په شرط د دې چې رښتيا او ثابت وي؛ نو كه په ژبه د ايجاب او قبول وينا پوره شوې وي، ځمکه د مالك (مشتري) ده، زوی ورباندې شفعه نه شي کولای، لعدمِ الطلباتِ في الظاهرِ والمسئلةُ منَ الواضحاتِ فلا حاجةَ الى نقلِ العباراتِ﴿١﴾ وهو الموفق.

(بقيه حاشيه) ولو بشبر كالملاصق من ثلاثة جوانب فهما سواء.

(شرح المجلة ٣: ٥٧٣ المادة: ١٠٠٨ ، الفصل الأوّل فى بيان مراتب الشفعة)

﴿١﴾ وفى شرح المجلة: يلزم فى الشفعة ثلاث طلبات وهى طلب المواثبة وطلب التقرير والإشهاد وطلب الخصومة والتملك.

(شرح المجلة ٣: ٦٠٢ المادة: ١٠٢٨، الفصل الثالث فى بيان طلب الشفعة)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ويبطلها ترك طلب المواثبة أو ترك الإشهاد عليه أى على طلب المواثبة قادرًا عليها.

(فتاوى تنقيح الحامدية ٢: ١٨٣، كتاب الشفعة)

شفيع د مشتري څخه د قيمت نه په زياتو روپو اقرار سره شفعه باطليږي

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې زيد په عمر باندې ځمکه خرڅه کړه، د زيد همسايه بکر د شفعې دعوه وکړه، عمر ددې حق د ساقطولو لپاره دا حيله جوړه کړه چې د شاهدانو په وړاندې عمر د زيد لس زره (١٠٠٠٠) نوري روپۍ په ځان باندې ومنلې؛ نو په دې سره د بکر د شفعې حق باطليږي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: عالمګير کوهستان.....

جواب: په ياد صورت کې د شفعې حق باطليږي. كما فى رد المحتار ٦: ٢٤٢ : و يبطلها شراء الشفيعِ من المشترى﴿١﴾وهو الموفق.

جواب: په دې خرڅه شوې ځمکه کې د شفعې پرته د نورو ورونو هيڅ حق نشته، اِلَّا اَنْ يكونَ بيع السابقِ هو الوفاءُ﴿۱﴾وهو الموفق .

په دوسيه (مقدمه) کې د ځمکې په ګټلو شاوخوا نورو ځمکو باندې د شفعې حکم

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې د زيد پلار د خالد سره شريکي ځمکه واخيستل، زيد لا وړوکی ؤ چې پلار يې وفات شو، زيد د خپلو ځمکو بې خبره ؤ، ډېر وخت وروسته ورته درك وشو چې زه هم ځمکې لرم، دغه وخت دده په ځمکو عمر قبضه کړې وه، ددې ځمکې دواړه برخې شاړې وې، عمر وايي چې دا ځمکې زما دي او دی ددې ځمکې شاوخوا ډېرې وچې ځمکې لري، کله چې صحيح معلومات وشو؛ نو په حکومتي کاغذونو کې د زيد نوم ؤ، د هغې سره د پټواري نوم شاهدان او تاريخ هر څه ليکل شوي وو، زيد د عمر سره خپله دوسيه (مقدمه) همداسې جاري وساتل، تر دې چې زيد وګټل، د مقدمې د فيصله کېدو سره- سره زيد د عمر په ټولو ځمکو شفعه هم وکړه؛ نو ايا زيد د عمر څخه هغه ځمکې چې وروسته يې اخيستي دي په شفعه باندې اخيستلای شي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: حاجي محمد متعلم ۱۹۷۲ م/۱٦/۷/

جواب: که د زيد ځمکه موات نه وي؛ نو د طلبات ثلاثه وروسته بې د عمر څخه په شفعه باندې اخيستلای شي،﴿۲﴾په شرط ددې چې دا ځمکه هم موات نه وي، لأنّ الموات لا يملك الا

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وفي القهستاني عن قاضي خان لا شفعة في بيع الوفاء لأن حق المالك لا ينقطع راسًا.

(رد المحتار ۵:۱۵۴، كتاب الشفعة)

﴿۲﴾ وفي شرح المجلة: يلزم في الشفعة ثلاث طلبات...... (بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

بالاحياءِ ﴿۱﴾ وهو الموفق .

د شفیع په مرګ سره حق د شفعې وارثانو ته نه انتقالیږي

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وايي چې شفیع په عدالت کې د طلب مواثبه وروسته دوسیه درج کړه، د قاضي د فیصلې نه وړاندې شفیع وفات شو، (۱) نو ایا ددې مدعي حق د شفعې د مرګ له امله باطل شو؟

(۲) ددې مړي (د شفعې مدعي) وارثان د شفعې وارثان ګرځي او که نه؟

(۳) که د مړي (شفیع) وارثان ددې مړي په نوم د مدعي په ډول په مدعی علیهم باندې دعوه تازه کړي او قاضي هم دغه حکم فیصله کړي؛ نو ددې به څه حکم وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: متعلم دار العلوم حقانیه ... ۱۹۸۷ م /۲۲/ ۱/

جواب: د شفعې حق د شفیع په مرګ سره ساقطیږي، د شفیع وارثانو ته نه منتقل کیږي، کما فی شرحِ المجلة ص ۵۸۶ م ۱۰۳۸ : لو ماتَ الشفيعُ بعدَ طلبِ المواثبةِ والتقريرِ و قبلَ أنْ يكونَ مالكاً للمشفوعِ بتسليمه بالتراضى مع المشترى أوْ بحكمِ الحاكمِ لا ينتقلُ حقُّ الشفعةِ الى ورثته ﴿۲﴾ هیڅ مسلمان قاضي لره روا نه دي

(بقیه حاشیه) وهى طلب المواثبة وطلب التقرير والإشهاد وطلب الخصومة والتملك. (شرح المجلة ۳: ۶۰۲، المادة نمبر ۱۰۳۸ : الفصل الثالث فى بيان طلب الشفعة)

﴿۱﴾ قال العلامة المرغينانى رحمه الله تعالى: ثمّ ان أحياه بإذن الإمام ملكه وإن أحياه بغير إذنه لم يملكه عند أبى حنيفة وقالا يملكه لقوله عليه الصلوة والسّلام من أحيا أرضًا ميتةً فهى له. (الهداية ۴: ۴۷۸، كتاب إحياء الموات)

﴿۲﴾ (شرح المجلة ص ۶۲۳، المادة: ۱۰۳۸) ......(بقیه حاشیه اگلے صفحه پر)

چې د مړ شفعه کوونکي شفعه په میراث کې وارثانو ته ومني. وهو الموفق

د شفیع د اجازې بغیر د ځمکې په خرڅولو بایع تاواني کول او په ځمکه د شفعې حکم

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې که په یو کلي کې د رسم او رواج سره سم ځینې فیصلې کیږي، حاکم او قاضي نه وي، د بېلګې په توګه که یو سړی د خپل همسایه د مشورې بغیر خپله ځمکه خرڅه کړي، د رواج سره سم بې په هغه باندې یو لك روپۍ جرمانه وټاکل او بل سړی پیدا شو چې په هغه باندې یې شفعه وکړه، ایا په شریعت کې دې جرمانې او شفعې ته اعتبار شته او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: فضل الله مهمندي ... ۱۹۷۳ م /۷/۵/

جواب: په همسایه باندې جرمانه ټاکل او اخیستل ناروا ده، لأنه تعذیرٌ بأخذ المالِ وهومنسوخٌ صرَّحَ به فی ردالمحتارِ ﴿۱﴾ والفتح ﴿۲﴾ والبحرِ ﴿۳﴾ والخلاصة

(بقیه حاشیه) وقال العلامة الحصكفی رحمه الله تعالٰی: ویبطلها موت الشفیع قبل الأخذ بعد الطلب أو قبله ولا تورث خلافًا للشافعی ولو مات بعد القضاء لم تبطل.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۵: ۱۷۰، كتاب الشفعة، باب مایبطلها)

﴿۱﴾ قال العلامة الشامی رحمه الله تعالٰی: (قوله لابأخذ المال فی المذهب) قال فی الفتح وعن أبی یوسف یجوز التعزیر للسلطان بأخذالمال وعندهما وباقی الأئمة لایجوز؛ ......ولا یفتٰی بهذا لما فیه من تسلیط الظلمة علی أخذ مال الناس فیاكلونه.

(ردالمحتار ۳: ۱۹۵، باب التعزیر، مطلب فی التعزیر بأخذ المال)

﴿۲﴾ (ومثله فی فتح القدیر ۵: ۱۱۲، فصل فی التعزیر)

﴿۳﴾ قال ابن نجیم رحمه الله تعالٰی: والحاصل أن المذهب عدم التعزیر بأخذ المال. (البحر الرائق ۵: ۴۱، فصل فی التعزیر)

او که همسایه طلب مواثبه نه وي کړی؛ نو د هغه لپاره شفعه کول او په شفعه باندې تړوله ځمکه اخیستل ناروا ده، صرّحَ به فی کتابِ الشفعةِ ، فلیراجعْ الی کتبِ الفقهِ﴿۱﴾ والمسئلة واضحةٌ . وهوالموفق .

په خرڅه شوې ځمکه د خرڅ لپاره په قرض روپۍ ورکول د شفعې سبب نه دی

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې د عبد الحق میراث خرڅیږي، یو خواته دده لور زما سره په نکاح کې ده، دویمه دا چې په دې ځمکې د خرڅې لپاره مي خرڅوونکي ته نهه زره پنځه سوه (۹۵۰۰) روپۍ په قرض ورکړي وې، اوس تاسو مهرباني وکړئ چې زه د عبد الحق د ځمکې اخیستلو زیات حق لرم او که نور شفعه کوونکي؟

په دې لیکنه باندې تاسو پوره سوچ وکړئ بیا موږ ته ځواب ولیکئ! بینوا توجروا

المستفتي: محمد نذیر د تختی اوسېدونکی ، تحصیل فتح پور ، سوات

.... ۱۹۷۳م /۵/۷/

جواب: شاید چې ستا د ښځې (چې د خپل پلار سره په مال کې شریکه ده) حق د نورو شفعه کوونکو په نسبت قوي وي﴿۲﴾ او دا چې هَغوی ستا قرض داره دي؛ نو ته په دې سره د شفعې هیڅ حق داری نه ګرځې، لعدمِ تحقق واحدٍ من الأسباب﴿۳﴾ وهوالموفق .

﴿۱﴾ قال العلامة طاهر ابن عبد الرشید رحمه الله تعالیٰ : والشفعة تجب بالبیع ویستحق بالطلب وهو نوعان طلب المواثبة وطلب الإشهاد .

(خلاصة الفتاوی ۴:۲۵۶، کتاب الشفعة ، الفصل الثالث فی طلب الشفعة)

﴿۲﴾ قال العلامة الکاسانی رحمه الله تعالیٰ :أن أسباب استحقاق الشفعة إذا اجتمعت یراعی فیها الترتیب فیقدم الأقوی فیقدم الشریک علی الخلیط والخلیط علی الجار .

(بدائع الصنائع ۴:۱۰۳، کتاب الشفعة)

﴿۳﴾قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالیٰ :......(بقیه حاشیه اګلے صفحه پر)

د شفعې د دعوې نه د مشتري د اخيستلو نه انکار او د ګرو (رهن) اقرار کول

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې زيد ځمکه واخيستل او ورسره دا اقرار يې هم وکړ چې عمر ورباندې د شفعې دعوه کړې ده، اوس زيد د خپل زور بيان (بيع) څخه منکر دی او وايي چې: ما دا ځمکه په ګرو اخيستې ده، په بيع قطعي مې نه ده اخيستې، مهرباني وکړئ ددې مسئلې شرعي حل راته بيان کړئ! بينوا توجروا

المستفتي: مولوي شمس الدين دير

جواب: که شفيع رښتيا هم د شاهدانو په واسطه دا حيله ثابته کړي؛ نو دا حيله به د نشت برابر او هيڅ اعتبار به نه ورکول کيږي، د شفيع حق نه به هيڅ زيان ونه رسوي. ﴿۱﴾ وهو الموفق

د شفعه نه کولو په وعده د بيع وروسته د شفعې په کولو د ځمکې د پيداوار حکم

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې حضرت سلطان تقريباً شپاړس جريبه ځمکه د چا نه اخيستې ده، د اخيستلو پرمهال يې شفعه کوونکي خبر کړه، هغوی تولو ورته په خوښه ځواب ورکړ چې موږ يې نه اخلو، د ځمکې د اخيستلو وروسته هغوی شفعه وکړه او ځمکه يې وګټل؛ نو ددې شفعه کوونکي لپاره د شريعت له مخې ددې ځمکې څخه ګټه اخيستل روا دي او که ناروا؟ بينوا توجروا

المستفتي: حافظ محمد ايوب

(بقيه حاشيه) وسببها اتصال ملک الشفيع بالمشتري بشركة أو جوار.

(الدرالمختار ۵: ۱۵۲، کتاب الشفعة)

﴿۱﴾ وفي الهندية: وبعد ذلک يسأل القاضي المدعى عليه فيقول هل اشتريت أم لا؟ فإن أنكر الشراء قال للشفيع أقم البينة أنه اشترى فإن عجز عن إقامة البينة وطلب يمين المشتري استحلف بالله..... فإن نكل أو أقر أو قامت للشفيع بينة قضى بها لظهور الحق بالحجة.

(فتاوى هندية ۵: ۱۷۳-۱۷۵، الباب الثالث في طلب الشفعة)

جواب: كه يقيني دا شفعه شوې وي؛ نو د وعدې په خلاف كولو سره په ځمكه كې حراموالى نه راځي، كما في الهندية ٥: ٣٠٢ تسليم الشفعة قبل البيع لا يصح انتهى﴿١﴾و بمعناهُ في جميعِ معتبراتِ الفقه﴿٢﴾ وهو الموفق.

د نابالغ ځمكه اخيستل او د بلوغ وروسته په خرڅي شوي ځمكې د شفعې حكم

سوال: د دين عالمان په دې اره څه وايي چې زيد مړ شو او درې بچيان يې شاته پاتې شول. نومونه يې بكر، خالد او احمد دي. مشر زوى يې بكر نوميږي، احمد تر ټولو وړوكى او نابالغ دى. بكر ځيني ميراث د تقسيم نه وړاندې په وارثانو خرڅ كړ، اوس چې كله احمد غټ شو، خپله برخه د دعوې كولو وروسته د بكر څخه واخلي او كه د مشتري نه؟ ايا احمد دعوه كولاى شي او كه نه؟ كه دعوه كولاى شي؛ نو په بكر باندې او كه په مشتري باندې؟ كه بكر خپله برخه د دواړو نه ترلاسه كړي؛ نو په پاتې برخه كې حق لري او كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد اسحاق شريك دار الحديث، جامعه حقانيه

جواب: كه بكر د شرعي اجازې بغير دا ځمكه خرڅه كړې وي؛ نو دا خرڅول كالعدم او هيڅ اعتبار نه لري.﴿٣﴾احمد د مشتري څخه خپله برخه اخيستلاى شي،

﴿١﴾(فتاوى هندية ٥: ١٨٢، كتاب الشفعة، الباب التاسع فيما يبطل به حق الشفعة بعد ثبوته)

﴿٢﴾ وفي شرح المجلة: وإنما يكون الرضى والتسليم مبطلًا للشفعة إذا وقع بعد البيع وأما التسليم قبله فلا يبطلها كما في مجمع الأنهر. (شرح المجلة ٣: ٥٩٠، المادة: ١٠٢٤)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ويبطلها تسليمها بعد البيع فقط بخلاف تسليمها قبله كما تقدم لأن إسقاط الحق قبل وجوبه لا يصح وبعده يسقط بالإسقاط. (فتاوى تنقيح الحامدية ٢: ١٨٢، كتاب الشفعة)

﴿٣﴾ قال العلامة الحموي رحمه الله تعالى: ولو ادعى يتيم بعدم بلوغه أن بيع عقاره بغير مسوغ فادعى المدعى عليه المسوغ، فالقول قول اليتيم وعلى المدعى عليه البينة لأن اليتيم أنكر خروجه عن ملكه إذ بيعه والحالة هذه عندنا باطل......(بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

مشتري به د بکر څخه د خپلو روپو غوښتنه کوي. «۱» که احمد طلب مواثبه او طلب اشهاد د بلوغ وروسته کړی وي؛ نو پاتې ځمکه په شفعه باندې اخیستلای شي، «۲» په شرط ددې چې طلب خصومت یې د یوې میاشتې څخه زیات د عذر نه بغیر نه وي ځنډولی، کنه نو د مفتی به قول په اساس دی د شفعې کولو حق نه لري، دا ټولې مسئلې د شامي او عالمګیري څخه راخیستل شوي دي، «۳» وهو الموفق.

د اوبو وار (نمبر) خرڅول او په ځمکه د شفعې حکم

سوال: ددین عالمان په دې اړه څه وایي چې که یو کس خپل د اوبو وار د ځمکې نه بغیر خرڅ کړي.

(بقیه حاشیه) کما صرّح به فی التاتارخانیة. (غمز عیون البصائر ۳:۲۶۳، کتاب الوصایا)

«۱» قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: الاستحقاق هو طلب الحق...... (والحکم به حکم علی ذی الید) حتّی یؤخذ المدعی من یده ......ویثبت رجوع المشتری علی بائعه بالثمن إذا کان الاستحقاق بالبینة.

(الدر المختار ۳:۲۱۶، باب الاستحقاق)

«۲» وفی الهندیة: الصغیر کالکبیر فی استحقاق الشفعة ......ثم إذا أوجبنا الشفعة للصغیر الذی یقوم بالطلب والأخذ من قام مقامه شرعًا فی استیفاء حقوقه وهو أبوه...... فإن لم یکن أحد من هؤلاء فهو علی شفعته إذا أدرک فإذا أدرک فقد ثبت له خیار البلوغ والشفعة.

(فتاوی هندیة ۵:۱۹۲، الباب الثانی عشر فی شفعة الصبی)

«۳» قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: ویطلبها الشفیع فی مجلس علمه وهو یسمی طلب المواثبة ثم یشهد علی البائع لو العقار فی یده أو علی المشتری وإن لم یکن ذا ید أو عند العقار وهو طلب إشهاد ثم بعد هذین الطلبین یطلب عند قاض وهو یسمی طلب تملیک وخصومة وبتاخیره مطلقا بعذر وبغیره شهرًا أو أکثر لا تبطل الشفعة وقیل یفتی بقول محمّد إن اخّره شهرًا بلا عذر بطلت.

(الدر المختار ۵:۱۵۸،۱۵۹، باب طلب الشفعة)

ایا په دیکښې بیا شفعه جاري کیږي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبید الله حقاني، کوئټه، ۱۴۰۲ هـ/ربیع الأول/ ۱۹/

جواب: دا اخیستل او خرخول ناجائز دي او په دیکښې شفعه نه کیږي، ﴿۱﴾ وهو الموفق.

۲۲/ کاله پس په بیع د خبرېدو وروسته د شفعې حکم

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې بکر په خالد باندې ځمکه خرڅه کړه، ۲۲/ کاله وروسته ولید په دې ځمکه باندې د شفعې دعوه وکړه، په داسې حال کې چې مخکې ولید ته معلومات نه ؤ چې بکر خپله ځمکه خرڅه کړې، ایا ولید اوس شفعه کولای شي؟ بینوا توجروا

المستفتي: فضل معبود، جندول، معیار، دیر ۱۳۹۴ هـ/ذی القعده /۲/

جواب: که په تېره شوې زمانه کې ولید یقیني همداسې بې خبره پاتې ؤ بیا شفعه کولای شي، کما یفهمُ منْ قولهمْ ویبطلها المشتری فی مجلسِ علمه منْ مشترٍ أوْ رسوله أوْ عدلٍ أوْ عددٍ﴿۲﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ چونکہ شفعہ کا دارومدار بیع کی صحت پر ہے اور شرب کی بیع صحیح نہیں، کما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ولا يباع الشرب ولا يوهب ولا يوجر ولا يتصدق به لأنه ليس بمال متقوم في ظاهر الرواية. (الدر المختار ۵:۳۱۷، فصل الشرب)

﴿۲﴾ (الدر المختار ۵:۱۵۷، باب طلب الشفعة)

وقال العلامة حسام الدين رحمه الله تعالى: والنوع الثالث جهل يصلح عذرا وهو جهل من أسلم في دار الحرب فإنه يكون عذرًا له في الشرائع......وجهل الشفيع بالبيع.

وفي حاشيته: قوله جهل الشفيع بالبيع فإنه يكون عذرًا حتى إذا علم به بعد زمان يثبت له حق الشفعة.

(حسامی ص ۱۲۰، فصل في العوارض المكتسبة، أما الجهل)

وصیت شوې ځمکه په مرض الوفات کې خرڅول او د موصی وربلندې شفعه کول

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې زما تره خپله پلرنی ځمکه د وصیت له مخې چې په کال ۷۳/ ۵/ ۱۲/ کې یې کړی، اوس هم زما سره په کاغذي شکل پروت دی، په هغې باندې د شاهدانو او لیکونکي امضاء هم شته.

(۲) کوم وخت چې زما تره د مرګ په مرض اخته شو، چا ورته شیطاني وکړه او زما خلاف یې سړی راپورته کړ، هغه عدالت ته لاړ او ځمکه یې د خپلې لور په نوم خرڅه شوې ولیکل. (۲۰۰) روپۍ یې مخکې ورکړي او (۹۰۰) روپۍ یې په عدالت کې ورکړي، ټولې روپۍ ددې ځمکې د اصلي قیمت نیمایي دي، ددې لپاره چې بل سړی ددې ځمکې د اخیستلو نیت ونه کړي.

(۳) دا ځای زما د کور سره د دوه طرفونو مغرب او جنوب نه لګېدلی دی، ددې له امله که زه شفعه وکړم، بیا هم زه په حقه یم.

(۴) د یادې ځمکې شپږسوه روپۍ وړاندې ورکول بېخي غلطه خبره ده، نهه سوه چې یې په عدالت کې کومې ورکړي هغه صحیح دي.

د پورته تفصیل له مخې یوازې زه په حقه یم چې دا ځای واخلم، ځکه چې د زوړ وصیت له مخې هم زه ددې ځمکې مالك یم او په شفعه کې هم زه زیات حق دار یم، ستاسو مهرباني به وي په شرعي فیصلې مو ونازوئ ددې لپاره چې هلته په شرعي عدالت کې پکار راشي. بینوا توجروا

المستفتي: محمد مسکین خان، موضع کهتړ تحصیل و ضلع اټك ۱۹۸۴م/۴/۲۶/

جواب: د تره (مړي) په لور باندې د ځمکې د خرڅولو له امله خپل وصیت ته هیڅ اعتبار نه دی ورکړی، دا موصی له کولای شي چې په دې ځای باندې شفعه وکړي، ﴿۱﴾ که چیرې پلار د غه ځمکه په ډېر قیمت اخیستې وي؛ نو

﴿۱﴾ وقال العلامة الحصكفي: وله أي للموصى..... (بقیه حاشیه اګلے صفحه پر)

داخرخول دمرض الموت په حالت کې باطل او هيڅ اعتبار نه لري. (الهندية)﴿۱﴾

وهوالموفق.

د هبه شوي ځمکې په بدل کې روپۍ ورکول او شفيع د بيع په دعوې د شفعې حکم

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې زيد د شاهدانو په وړاندې بکر ته يو څه ځمکه هبه کړه، څه ورځې وروسته بکر ورته د هبه شوي ځمکې روپۍ ورکړې، ددې وروسته عمر په دې هبه شوي ځمکې د شفعې دعوه وکړه چې دا هبه شوې ځمکه نه ده، بلکې په روپو يې اخيستې ده، ددې له امله زما شفعه نه ساقطيږي، هغوی هم شاهدان وړاندې کوي، په دوی دواړو کې به د چا شاهدان د اعتبار وړ وي؟ او فيصله به د چا په حق کې کيږي؟ بينوا توجروا

المستفتي: سيد شريف جهانبتي کلي ضلع دير ۱۴۰۱ هـ/۸/۱۹/

جواب: په ياد صورت کې بکر مدعی عليه او دفاع کوونکی دی، لومړی به دده د هبې د شاهدانو خبره اورېدل کيږي.

(بقيه حاشيه) الرجوع عنها بقول صريح وتصرف يزيل ملكه فإنه رجوع كالبيع والهبة.

(الدرالمختار ۵: ۴۶۵، ۴۶۶ كتاب الوصايا)

وقال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالى: الشفعة واجبة للخليط ......ثم للجار......لقوله عليه الصلوٰة والسّلام: الجار أحق بسقبه، قيل يارسول الله! ماسقبه؟ قال شفعته.

(الهداية ۴: ۳۸۹، كتاب الشفعة)

﴿۱﴾وفي الهندية: ومن الموقوف إذا باع المريض في مرض الموت من وارثه عيناً من أعيان ماله إن صح جاز بيعه وإن مات من ذلك المرض ولم تجز الورثة بطل البيع.

(فتاوى هندية ۳: ۱۵۴، الباب الثاني عشر في أحكام البيع الموقوف)

دويم دا چې كه د هبې شاهدان نه وي، بيا به د سوګند وركولو صورت او شهادت خبره مخې ته راځي، شرح المجلة ٩٣١ ﴿١﴾ بخلاف دعوى الرجلين فانه ترجحَ فيه بيّنةُ البيع والشراءِ على بينةِ الهبةِ المجانيةِ كمافى شرح المجلة:١٣٣ ﴿٢﴾

وهو الموفق.

په شفعه كې مشتري د هغه قيمت حق لري په كوم چې ده خپله اخيستې ده

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې په كال (١٩٤٤م) كې موږ څلورو ورونو څه ځمكه واخيستل، په دې باندې يو سړي د شفعې دعوه وكړه، دوسيه (كېس) ترې موږ وګټله. ددې وروسته هغوى په هائى كورټ (لوړ دار القضاء) كې خپله دعوه وچلول او هلته يې رانه وګټل، دوى موږ ته د كال (١٩٤٤م) قيمت وايي، چې هغه وخت دغه ځمكه موږ په دوه دېرش زره روپۍ اخيستې وه، اوس ددې ځمكې قيمت تقريباً دوه لكه څلويښت زره روپۍ جوړيږي. اوس په شريعت كې موږ د كال (١٩٤٤م) قيمت حق لرو او كه د اوسنيو روپو؟ بينوا توجروا

المستفتي: ماسټر سيد نواب ضلع مردان

جواب: كومې روپۍ چې تا په كال (١٩٤٤م) كې وركړې وې، اوس هم ته د هغو روپو شرعي حق لرې، ﴿٣﴾ فقط.

﴿١﴾ قال العلامة سليم رستم باز رحمه الله تعالى: إذا اثبت من ادعى دفع الدعوى دفعه تندفع دعوى المدعى وإلا يحلّف المدعى الأصلى بطلب صاحب الدفع فإن نكل المدعى عن اليمين ثبت دفع المدعى عليه وإن حلف عادت دعواه الأصلية.

(شرح المجلة ٩٣١، المادة: ١٦٣٢، الفصل الثانى فى دفع الدعوى)


﴿٢﴾ قال العلامة سليم رستم باز: ترجح بينة البيع على بينة الهبة والرهن والإجارة.

(شرح المجلة ١١٣٣، المادة: ١٧٦٣، الفصل الثانى فى ترجيح البينات)

﴿٣﴾ وقال العلامة الكاسانى رحمه الله تعالى: ثمن...... (بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

(بقیہ حاشیہ) المشتری إما أن يكون ممّا له مثل كالمكيلات والموزونات والعدديات المتقاربة وإما أن يكون ممّا لامثل له......فإن كان ممّا له مثل فالشفيع يأخذ بمثله لأن فيه تحقيق معنى الأخذ بالشفعة إذ هو تملك بمثل ماتملك به المشترى.

(بدائع الصنائع ۴: ۱۳۱، كتاب الشفعة، فصل أما بيان مايتملك به)


فتاویٰ فریدیہ جلد ہشتم
کتاب الرهن

الله

الله



قال اللہ تبارک وتعالیٰ

وَاِنْ كُنْتُمْ عَلٰى سَفَرٍ وَّلَمْ تَجِدُوْا كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَّقْبُوْضَةٌ.

(سورة البقرة)

كتاب الرهن

قال الله تعالى: وَإِن كُنتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَّقْبُوضَةٌ (سورة البقرة)

رهن او ارتهان روا دي

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې ما په يو درسي كتاب كې وليدل، كله چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم له دې فاني نړۍ نه سترګې پټې كړې؛ نو د هغه زغره د دېرش صاعه وربشو په بدل كې د يو يهودي سره ګرو وه، ما ته ددې د بر زيات شك پيدا شو چې ګرو اېښودل څنګه دي؟ ايا څه شى په ګرو اېښودل روا دي؟ او بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم څنګه د ګرو عمل ترسره كړى دى؟ بينوا توجروا

المستفتي: ډاكټر حبيب الرحمن زاهد، فارميسي ېيي نوښهره ۱۹۸۵م/۱/۱۰/

جواب په بخاري شريف كتاب البيوع او كتاب الرهن كې دا روايت شته، ﴿۱﴾ په داسې طريقه د رهن او ارتهان عمل ترسره كولو باندې د ټول امت اتفاق دى، ﴿۲﴾ يوازې ناجائزه دا ده چې مرتهن د مرهونې څخه ګټه واخلي. ﴿۳﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ عن عائشة رضى الله تعالى عنها قالت اشترى رسول الله صلى الله عليه وسلم من يهودى طعاما ورهنه درعه.

(الصحيح لإمام البخارى ۱ : ۳۴۱، باب الرهن عند اليهود و غيرهم وباب من رهن درعه)

(كذا فى كتاب البيوع ۱ : ۲۷۷ باب شرى النبى صلى الله عليه وسلم بالنسيئة)

﴿۲﴾ وفى شرح المجلة: الرهن مشروع بالكتاب والسنة وإجماع الأمة. أما الكتاب فقوله تعالى: فرهان مقبوضه و أما السنة: فما روى عن عائشة رضى الله تعالى عنها ...... وقد انعقد الإجماع عليه. (شرح المجلة ۱ : ۴۳۱، المادة : ۷۰۱، الكتاب الخامس فى الرهن)

﴿۳﴾ وقال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: لا انتفاع به..... (بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

کوم شیان رهن کول روا دی؟

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وايي چې کوم شیان په ګرو (رهن) کې ایښودل روا دي؟ ساه لرونکي حیوانات او که بې ساه؟ لکه سره زر، سپین زر، زیورات، مال او ګډان که نور څه ...؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد سعید جي آئي ایس ایبټ آباد ۱۹۸۵م/ مارچ/۳۱/

جواب: په ګرو (رهن) باندې د واړه ډول شیان ایښودل روا دي «۱» وهو الموفق.

شریکي ځمکه د شریک ځخه په رهن کې ایښودل

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وايي چې یوه توټه ځمکه د دوه ورونړو تر منځ شریکه ده، په دوی کې یو وړور خپله ځمکه د بل وړور سره ګرو ږدي، ایا د شریعت له مخې یو وړور د بل وړور سره خپله ځمکه په ګرو ایښودلای شي؟ بینوا توجروا

المستفتي: .... نامعلوم

(بقیه حاشیه) مطلقا لا باستخدام ولا سكنى ولا لبس ولا إجارة ولا إعارة سواء كان من مرتهن او راهن إلا بإذن كل للآخر. (در مختار ۵: ۳۴۲ كتاب الرهن)

«۱» وفى الهندية: مايجوز بيعه يجوز رهنه وما لا يجوز بيعه لا يجوز رهنه كذا فى التهذيب.....رهن الحيوان المملوك بالدين جائز.

(فتاوى هندية ۵: ۴۳۵-۴۳۶، الفصل الرابع فيما يجوز رهنه وما لايجوز)

وقال الدكتور وهبة الزحيلي: وشروط المرهون عند الحنفية أن يكون مالا متقوما معلوما، مقدور التسليم، مقبوضا، محازا، فارغا عما ليس بمرهون، منفصلا متميزا عنه، عقارا كان أو منقولا، مثليا كان أو قيميا.

(الفقه الإسلامي وأدلته ۶: ۴۳۲۱، كتاب الرهن: شروط المال المرهون)

جواب: که دا ګروي د تقسیم نه وړاندې شوې وي بیا نه دی صحیح، لما فی الدر المختار: لا یصحُّ رهنُ مشاع لعدمِ کونه ممیزاً کما مرَّ مطلقاً مقارنـاً أوْ طاریاً عنْ شریکه أوْ غیره یقسم أوْلاً «۱» فقط، وهو الموفق.

د مرهونې خوړل، ساتنې او هلاکت په صورت کې قرض ساقطېدل

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې زید ژوندی چېلی، چې شیدې لري او قیمت یې ۲۵۰ روپۍ دی، د ۱۰۰ روپو قرض په بدل کې له عمر سره ږدي، اوس به په عمر باندې د چیلي واښه، اوبه، اوسپړو ځای، بهر ویستل او ساتنه یې تړوله په ده باندې ده. عمر په دې خفه دی چې شیدې به یې څوک استعمالوي؟ که شیدې خامخا زید ته رسوي؛ نو واښه، اوبه او د تربیې ذمه داري یې بیا په چا ده؟ بغیر له دې که دغه چېلی د الله په خوښه مړه شي او زید ته یې اوس یا څه وخت وروسته خبر ورکول شي؛ نو تاوان به یې په چا وي؟ بینوا توجروا

المستفتي محمد سعید شاه جي، اتی ایس ایبټ آباد.... ۱۹۷۵ م/ مارچ / ۳۱/

جواب: د دې ګروي خوراك په راهن واجب «۲» او نوره ساتنه یې په مرتهن

«۱» (الدر المختار ۵: ۳۴۸ باب مایجوز ارتهانه وما لا یجوز)

وفی الهندیة: واما شرط جوازه فأن یکون المال المرهون مقسومًا محوزًا. ومنها الحیازة عندنا، فلا یصح قبض المشاع سواء کان مشاعًا یحتمل القسمة أولا یحتملها و سواء رهن من اجنبی اومن شریکه و سواء قارن العقد أو طرا علیه.

(فتاوی هندیة ۵: ۴۳۲،۴۳۳، الفصل الأول فی تفسیر الرهن ورکنه وشرائطه)

«۲» قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: ویجب علی المرتهن أن یحفظه بنفسه وعیاله کما فی الودیعة وضمن إن حفظ بغیرهم. (الدر المختار ۵: ۳۴۵، کتاب الرهن)

ده.﴿۱﴾ که ګروي د مرتهن سره هلاکه شي: نو د خپل قرضې نه دي ژړه ووينځي، برابره خبره ده چې دا مرګ او هلاکت په اختياري ډول وي او که په الهي خوښه وي. ﴿۲﴾ وهو الموفق

راهن د مرتهن په اجازه يا د قرض ورکولو بغير مرهونه خرڅول

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې احمد خپله ويجاړه ځمکه د سليم خان سره د ۵۰۰۰ روپو په بدل کې رهن ايښې ده، د سليم خان په بې خبرۍ کې احمد خان خپله ګرو شوې ځمکه په ناصر خان باندې په بيع قطعي سره خرڅه کړه.
مرتهن دعوه وکړه چې زما د اجازې بغير مرهونه ځمکه خرڅول نه صحيح کيږي؛ نو ته زما روپۍ راکړه بيا به ځمکه زما له لاسه ازاده کړې. يا يې په ما باندې خرڅه کړه: دا راز پرېکړه وشوه چې احمد خان د ناصر خان څخه خپله ځمکه واخيستل او بېرته يې په سليم خان باندې دده د روپو په بدل کې خرڅه کړه، تر اوسه پورې د راهن دا خيال دی چې د ځمکې اصلي مالك ناصر خان دی او په ما باندې د سليم خان (مرتهن) روپۍ واجب الأداء دي، وخت تېرېدو تر دې چې دوه کاله پوره شوه: خو احمد ونه کولای شو چې سليم خان ته روپۍ ورکړي او د سليم خان همدا فکر دی چې مرهونه ځمکه زما د اجازې بغير نه خرڅيږي، د ناصر خان عقد کالعدم او هيڅ اعتبار نه لري؛ نو کله چې زه دا ځمکه په بيع قطعي سره واخلم تو له شخړه به پای ته ورسيږي، ځکه چې مخکې هم دا ځمکه زما په ذمه داري کې وه او اوس د شرعي فيصلې بغير زه د ځمکې پرېښودو ته تيار نه يم. تاسو مهرباني وکړئ او د شرعي مسئلې نه مو خبر کړئ چې ځمکه د چا ده؟ بينوا توجروا
المستفتي ضياء المرسلين، مدرسه امداد العلوم، مسجد عزيزيه ايبټ آباد ۱۴۰۳ هـ / شعبان / ۲۶/

﴿۱﴾ و في شرح المجلة: الرهن ان كان حيوانا فعلفه و اجرة راعيه على الراهن.
(شرح المجلة ۳: ۱۲۲، المادة ۷۲۳ الفصل الأول في بيان مؤنة المرهون ومصارفه)

﴿۲﴾ قال العلامه الحصكفي رحمه الله تعالى: وهو مضمون إذا هلك بالأقل من قيمته ومن الدين ...... و المعتبر قيمته يوم القبض لا يوم الهلاك. (الدرالمختار ۵: ۳۴۱ كتاب الرهن)

جواب: راهن د مرتهن بې اجازې مرهونه شی (تر دې چې قرضه بې ورته نه وي ادا کړې) په چا نه شي خرڅولای او که خرڅه يې کړي؛ نو دا بيع به موقوفه وي، كما فى شرح التنوير فى أوّلِ باب التصرُّفِ فى الرهنِ : توقف بيع الراهنِ رهنه على اجازةِ مرتهنه أوْ قضاء دينه «۱» د مرتهن د مرافعې له امله دا بيع فسخ كېدلای شي، كما فى شرح التنويرِ : أوْ رفعَ الأمرَ الى القاضى ليفسخَ البيع «۲» په ياد صورت کې د دې جزئياتو په اساس د احمد خان او ناصر خان ترمنځ بيع فسخ شوه، حاکم هم نه شي کولای چې په زوره په مرتهن باندې ځمکه خرڅه کړي، ځکه چې مرتهن هم شرعي مالك نه دی او د حاکم دا خرڅول هيڅ اعتبار نه لري. فليراجعْ الى الهنديةِ ۱ : ۵۵۳: باب النفقاتِ «۳»وهو الموفق.

د مرهونې ځمکې د ګټې اخيستلو حکم

سوال: مايقول العلماء السادة أئمة الدين نفع الله بهم المسلمين: هل يجوز الانتفاعُ بالمرهونةِ امْ لا ؟ و قدْ جاء فى التنزيلِ (فَرِهَانٌ مَّقْبُوضَةٌ) بينوا بالبرهان آجركم الرحمن ؟

المستفتي: ميراخان الأفغاني...... ۱۹۷۵ م / ۱۲/ ۲۹/

«۱» (الدر المختار ۵: ۳۶۱ باب التصرف فى الرهن والجناية عليه)

«۲»(الدر المختار ۵: ۳۶۱ باب التصرف فى الرهن والجناية عليه)

«۳» وفى الهندية: وإذا حبس للنفقة فما كان من جنس النفقة سلمه القاضى [illegible]ها بغير رضاه بالإجماع وما كان من خلاف الجنس لا يبيع عليه شيئامن ذلک ولكن يأمره أن يبيعه بنفسه وكذا فى سائر الديون فى قول أبى حنيفة رحمه الله تعالى.

(فتاوى هندية ۱ :۵۵۳ باب النفقات)

وفى البزازية: ليس للحاكم بيع الرهن إذا كان الراهن مفلسًا عند الإمام.

(البزازيه على هامش الهندية ۲ :۷۳، ۷۴ كتاب الرهن: نوع فى تصرفهما فيه)

جواب اعلمْ أنَّ الرهنَ والارتهانَ جائزتانِ لقوله تعالی : (فَرِهَانٌ مَّقْبُوضَةٌ)﴿۱﴾و لأنَّ النبی صلی الله علیه وسلمَ رهنَ درعه عند یهودیٍّ ،رواه البخاری﴿۲﴾و لا خلافَ فی جوزاهما﴿۳﴾نعم! اختلفوا فی حکم الانتفاعِ بالمرهونةِ ، قالَ أحمدُ بجوازِ انتفاعِ الرکوبِ واللبنِ ، وقالَ الحنفیةُ بعدمِ الجوازِ مطلقاً اذا کان الانتفاعُ مشروعاً أوْ معروفاً﴿۴﴾لأنَّ کلَّ قرضٍ جرَّ نفعاً فهو رباً ، وهو لفظُ الحدیثِ ، رواه الحارثُ فی مسنده﴿۵﴾ویؤیده ما رواه ابنُ ماجةَ مرفوعاً : اذا أقرضَ أحدکمْ قرضاً فأهدی الیه أوحمله علی الدابةِ فلا یرکبها ولا یقبلها ،﴿۶﴾ و کذا ما رواه البخاریُّ فی

﴿۱﴾(سورة البقرة آیت : ۲۸۳)

﴿۲﴾(الصحیح للإمام البخاری ۱: ۳۴۱ باب الرهن عند الیهود وغیرهم)

﴿۳﴾ وفی شرح المجلة:الرهن مشروع بالکتاب والسنة وإجماع الأمة ...... وقد انعقد الإجماع علیه.(شرح المجلة ۳: ۱۳۱، المادة : ۷۰۱، الکتاب الخامس فی الرهن)

﴿۴﴾قال العلامة وهبة الزحیلی رحمه الله تعالی: وقال الحنفیة لیس للمرتهن أن ینتفع بالمرهون استخداما ولا رکوبا ولا سکنی ولا قراءة فی کتاب إلا بإذن الراهن...... و أما الحنابلة فقالوا فی غیر الحیوان لا یجوز الانتفاع به بغیر إذن الراهن بحال وأما الحیوان فیجوز للمرتهن أن ینتفع به إن کان مرکوبا او محلوبا علی أن یرکب و یحلب بقدر نفقته. (الفقه الإسلامی و أدلته ۶: ۴۲۸۹تا۴۲۹۳، انتفاع المرتهن بالرهن)

﴿۵﴾عن علی رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : کل قرض جر منفعة فهو ربا، رواه الحارث بن أبی أسامه وإسناده ساقط وله شاهد ضعیف عن فضالة بن عبید عند البیهقی و آخر موقوف عن عبد الله بن سلام عند البخاری. (بلوغ المرام من أدلة الأحکام ۲۸۲ رقم حدیث ۸۱۲)

﴿۶﴾(سنن ابن ماجة ۱۷۷، باب القرض)

تاريخه مرفوعاً : اذا أقرضَ الرجلُ الرجلَ فلا يأخذْ هديته﴿۱﴾وكذا ما رواه البخاريُّ عنْ أبي بردةَ رضي الله عنهُ قال قدمتُ المدينةَ فلقيتُ عبدَ الله ابنَ سلامٍ فقالَ انك بأرضٍ فيها الربا فاشٍ فاذا كان لك على رجلٍ حقٌ فأهدى اليك حملَ تبنٍ أوْ حملَ شعيرٍ أوْ حبل قتٍ فلا تأخذه فانه ربا.﴿۲﴾وفي الهندية ۳: ۲۶۴ : قال محمدٌ في كتاب الصرفِ أنَّ أبا حنيفةَ (رحمه الله) كانَ يكرهُ كل قرضٍ جرَّ منفعةً ، قال الكرخي هذا اذا كانت المنفعةُ مشروطةً في العقد.﴿۳﴾و في رد المحتار ۵: ۴۲۷: قال (طحطاوى) قلتُ والغالبُ من أحوالِ الناسِ أنهم يريدونَ عندَ الدفعِ الانتفاع و لو لاه لما أعطاه الدراهمَ و هذا بمنزلة الشرطِ لأنَّ المعروفَ كالمشروط ،﴿۴﴾فانْ قلتَ ان الاذنَ معروفٌ فليكنِ الانتفاعُ جائزاً ؟ قلتُ : هذا مبيحٌ و كونُ انتفاعِ المرتهنِ معروفاً محرمٌ و ما اجتمعَ الحلال والحرام الا غلبَ الحرام على الحلالِ ، فافهمْ ، وما تمسك به الامام أحمد منسوخٌ ، لأنَّ الراوى لمْ يعملْ به أوْ محمولٌ على اذن الراهنِ أى اذا لمْ يكن مشروطاً و لا معروفاً أوْ على المروَةِ وفي المقامِ تفصيلٌ مزيدٌ ، وفيما ذكرنا كفايةٌ بفضله تعالى . وهو المصوب

د هندوانو پرېښودل شوي مرهونې په قرض کې حسابول

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې د زيد سره د يو هندو دکان د دوه زره روپو په بدل کې ګروۍ، د هندوانو د تلو وروسته دکان د زيد سره پاتې شو، تر پنځه ويشت کالو پورې يې عمر ته يد پنځه ويشت روپۍ کرايه

﴿۱﴾(مشكوة المصابيح ۲۴۶ باب الربوا)
﴿۲﴾(الصحيح للإمام البخارى ۱: ۵۳۸ باب مناقب عبد الله بن سلام)
﴿۳﴾(فتاوى هندية ۳: ۲۰۲ الباب [illegible]ع عشر فى القرض والاستقراض)
﴿۴﴾(رد المحتار ۵: ۳۴۳ كتاب الرهن)

ورکړ، په اخري کال يې عمر ته د دکان د خالي کولو وينا وکړه، هغه ورته وويل: چې زه درته د دکان کرايه درکوم او د دکان څخه نه شم وتلای. په ديکښې خبره عدالت ته ورسېده، په عدالت کې زيد او عمر دواړه د يو بل مدعيان جوړ شوه او د حکومت په کور کې دکان د يو هندو په نوم دی، مهرباني وکړئ دا بيان کړئ چې دکان اوس د چا حق دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبد الحليم غورغشتوي کيملپور .... ۱۳۹۷ هـ / ذی الحجه / ۱۱/

جواب: د هندوانو د ځمکو مالك به هغه څوك وي چې حکومت يې مالك جوړ کړي، کما يشير اليه في قوله تعالىٰ: (مَّا أَفَاءَ اللَّهُ) (الآية)﴿۱﴾نو که زيد د خپلو دوه زره روپو په بدل کې دغه ياده ځمکه قبضه کړې وي، بس دی يې مالك دی، لجواز أخذ الحقِّ من غيرِ جنسٍ كما في رد المحتارِ ۵:۳۷۳:﴿۲﴾وهو الموفق .

په رهن کې د اجارې دارومدار د طرفينو په نيت پورې اړه لري. نه يوازې د مرتهن په نيت

سوال: د دين عالمان په دې اړه څه وايي چې زيد د عمر نه په دوه زره روپو کې ځمکه ګرو (رهن) کړه؛ خو زيد ددې ګرو شوي ځمکې د پيداوار نه د ګټې اخيستلو په غرض عمر ته قلنګ يا اجاره ورکوي، ايا دا حيله جائز ده؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي عبد الباقي کالش والى . تحصيل بټګرام . ضلع مانسهره ۱۴۰۱ هـ / ۷ / ۶/

﴿۱﴾(سورة الحشر آيت : ۷)

﴿۲﴾وقال العلامه ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ :(قوله و جوزه الشافعي)قدمنا في كتاب الحجر أن عدم الجواز كان في زمانهم ، أما اليوم فالفتوى على الجواز (قوله وهو الأوسع) لتعينه طريقًا لاستيفاء حقه فينتقل حقه من الصورة إلى المالية كما في الغصب والإتلاف.

(رد المحتار ۵: ۳۰ فروع كتاب الحظر والإباحة)

جواب: د شریعت په رباکې د مرتهن لپاره دا حیله ناکافي ده. ځکه چې د اجارې دارومدار د طرفینو په اراده او د هغوی په نیت پورې تړلي ده. ﴿۱﴾ یوازې د مرتهن نیت ته اعتبار نشته. همدا راز دا روپۍ د عامو خلکو د قیمت څخه کمې دي، فيندرج تحت کل قرض جر نفعاً فهو رباً ﴿۲﴾دا راز په دې سره د بنده حق ساقطیږي او د الله تعالی حق الله کما کان پاتې دی. وهو الموفق.

د مرتهن په رهن باندې د قبضې نه بغیر راهن ته په اجاره ورکول

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وایي چې زید خپله ځمکه د زرو روپو په بدل کې د بکر سره رهن ایښې؛ خو د رواج سره سم ځمکه بکر (مرتهن) ته ونه سپارل شوه، زید یې د نورو بزګرو په خبر کړي او بکر ته دومره څه ورکوي چې نور خلك یې ورکوي او خپله د بزګرۍ په اندازه پیداوار اخلي. لس کاله وروسته زید د عمر برخه بنده کړه، عمر د خپلو روپو غوښتنه وکړه چې ماته مې روپۍ راکړه! زید ورته وویل: چې د لسو کالو حساب وکړه، که ستا د روپو په اندازه مې در رسولي وي؛ خو خیر او خلاص، که زما روپۍ تا ته رسېدلي وي، هغه به ماته راکړې! اوس سوال دا دی چې بکر ته کوم پیداوار ورکول شوی، ایا د هغې حسابول صحیح دي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي پیر محمد ویسه، دارالعلوم تعلیم القرآن ضلع اټک ...... ۱۴۰۱ هـ/ ۷/ ۸/

﴿۱﴾قال العلامه الحصکفی رحمه الله تعالی: وشرعا تملیک نفع مقصود من العین بعوض. (الدر المختار ۵: ۲ کتاب الإجارة)

﴿۲﴾وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله کل قرض جرّ نفعًا حرام) أی إذا کان مشروطا. (رد المحتار ۴: ۱۹۳ فصل فی القرض، مطلب کل قرض جرّ نفعًاحرام)

وعن علی رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم کل قرض جرّ منفعةً فهو ربًا رواه الحارث ابن أبی أسامه.

(بلوغ المرام عن أدلة الأحکام ۲۸۲ رقم حدیث ۸۱۲)

جواب: دا معامله ناروا ده، د رهن لپاره قبضه ضروري ده،﴿۱﴾او که دا معامله د قبض نه وروسته شوې وي؛ نو بیا به رهن ته هیڅ اعتبار نه وي، فلیراجع الی الهندیة ۵: ۲۹۳:﴿۲﴾وهو الموفق.

د مرتهن لپاره مرهونه ځمکه راهن یا بل چاته په اجاره ورکول

سوال: د دین عالمان په دې اړه څه وايي چې زید د بکر څخه زر روپۍ واخیستلې او د بکر سره یې خپله ځمکه گرو کړه، د گرو وروسته بکر ځمکه بېرته زید ته په اجاره یا زراعت باندې ورکړه، اوس دوی دواړو چې کوم عقد مزارعت یا اجاره کړې ایا دا روا دی؟ په راهن او مرتهن کې کوم گناهگار دی او که نه؟ دغه راز که مرتهن د راهن نه بغیر د بل چا سره عقد مزارعت یا اجاره وکړي؛ نو ددې به څه حکم وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: حافظ سلطان محمود تور ډهیر

﴿۱﴾وفی الهندیة: قال محمد رحمه الله تعالیٰ فی کتاب الرهن لا یجوز الرهن إلا مقبوضا فقد أشار إلی أن القبض شرط جواز الرهن.

(فتاوی هندیة ۵: ۴۳۲، الفصل الأول فی تفسیر الرهن ورکنه الخ)

﴿۲﴾وفی الهندیة: ولو کان الرهن أرضا بیضاء فمزارعة الراهن و البذر من المرتهن جائزة والخارج علی الشرط، وقد خرجت من الرهن ولا تعود إلیه إلا بتجدید.

(فتاوی هندیة ۵: ۲۶۴ کتاب المزارعة،الباب الخامس عشر فی الرهن فی المزارعة)

وقال العلامه ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: (سئل) فیما إذا استأجر المرتهن الدار المرهونة من راهنها فهل یبطل الرهن؟ (الجواب) نعم! قال فی البزازیة فی أواخر الرهن وفی العتابیة استأجر المرتهن الأرض المرهونة بطل.

(فتاوی تنقیح الحامدیة ۲: ۲۵۵ کتاب الرهن)

جواب: که مرتهن دا ځمکه په عقد اجاره سره راهن ته ورکړي؛ نو د رهن معامله ختمه شوه، ټول پیداوار به د راهن وي او که د ربیم ګړي سړي ته یې په اجاره ورکړي؛ نو که د راهن په اجازه یې ورکړې وي بیا هم د رهن عقد ختم شو او روپۍ به راهن اخلي، که د راهن بې اجازې یې پردي سړي ته په اجاره ورکړي؛ نو د رهن عقد شته؛ خو مرتهن ګناهګار شو او دا روپۍ به خامخا صدقه کوي، يدل عليه ما فى الهندية ۵: ۴۸۹: ولو ارتهنَ الرجلُ دابَّـةً وقبضها ثمَّ آجرها منَ الراهنِ لا تصحُ الاجارةُ ويكونُ للمرتهنِ أنْ يعودَ فى الرهنِ و يأخذ الدابَّةَ و ان آجر المرتهن من أجنبى بأمر الراهنِ يخرج من الرهنِ و تكـون الأجرة للراهنِ و ان كانت الاجارةُ بغير اذن الراهنِ يكون الأُجـرةُ للمـرتهنِ و يتصدقُ به و للمرتهنِ أنْ يعيدها فى الرهنِ﴿۱﴾انتهى ، قلـتُ : والمزارعـةُ و الاجارةُ لا فرقَ بينهما فى الحكمِ و لا فى العلة ، فقط وهوالموفق .

د مرهونې ځمکې مرتهن ته بخښل یا ترې بې زاره کېدل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې که راهن او مرتهن د ګرو شوي ځای او ځمکې پیداوار یو بل ته وبخښي، یا د ګرو شوي ځای په بدل کې چې کومې روپۍ ورکول شوي ددې د ادا کولو پرمهال یو بل ته پیداوار وبخښي او هبه یې کړي؛ نو ایا دا بخښنه د شریعت له مخې روا ده که ناروا؟ بینوا بالکتاب توجروا یوم الحساب .

المستفتي مولوي عبد الرازق ملا کنډ ایجنسي ..... ۱۳۹۹هـ/ جمادی الثانی / ۱۱/

جواب: د مرهونې ځمکې هسې هلاکیږي، په دیکښې یو بل ته بخښنه ضروري څه چې توبه به هم کوي، وفى رد المحتار ۴: ۱۷۷: أوْ بعد الاستهلاك لا يتأتى رد عينه

﴿۱﴾(الفتاوی الهندية ۵: ۳۶۴-۳۶۵ ؛الباب الثامن فى تصرف الراهن أو المرتهن فى المرهون)

فتعين ردالمثل وهومحض حقّ العبدِ و يصحُّ ابراء العبد عنْ حقه﴿١﴾انتهى،وهو الموفق.

د مرتهن رهن واپس کول او د راهن څخه پیداوار سوالي غوښتل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې یو مرتهن راهن ته ببرته خپله مرهونه ځمکه واپس کړه او وې ویل چې دا ځمکه کړه او پیداوار یې ماته راکوه: راهن دا ابینودل شوي شرط سره سم پیداوار مرتهن ته ورکوي، اوس چې کله رهن بند شو؛ نو راهن دا پیداوار ببرته اخیستلای شي او که نه؟ د مرتهن لپاره ددې پیداوار استعمال روا دی - که نا روا او که صدقه کول یې واجب دي؟ په هلاك او استهلاك کې څه فرق شته او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: حاجي صدیق خان مهتمم سراج العلوم کاهي ضلع هنګو ۱۹۶۹م/۵/۷/

جواب: په حقیقت کې دلته مرتهن مستعیر (سوالي) دی او راهن معیر دی، مرتهن دا شرط لګولی چې ما به ددې مرهونې ځمکې بغیر د کوم بدل نه مالك جوړوې او راهن ورسره منلې، دا شرط اګر که تاوان لرې کوي؛ خو رهن نه لرې کوي، قال العلامة الشامي ۵: ۴۵۲: فالعاريةُ توجب سقوط الضمانِ سواءٌ كان المستعيرُ هو الراهنُ أوِ المرتهنُ اذا هلك وقتُ الاستعمال و لاترفعُ عقد الرهنِ وحكم الوديعة كحكم العاريةِ﴿٢﴾انتهى بتفسيرٍ يسيرٍ، ددې پیداوار مالك به مرتهن شي او په مرتهن باندې یې صدقه کول واجب نه دي، يدلُّ عليه ما في الهندية ۳: ۲۶۶: رجلٌ قالَ لآخرَ أقرضني ألفاً على أنْ أعيرك أرضي هذه تزرعها ما دامت الدراهمُ في يدى فزرع المقرض (اصالةً أوْ وكالةً) لا يتصدقُ بشيءٍ و أكرهُ له هذا.﴿٣﴾انتهى قلتُ: وجه الدلالة

﴿١﴾(رد المحتار ۴: ۱۹۷، باب الربا، مطلب في الإبراء عن الربا)

﴿٢﴾(رد المحتار ۵: ۳۶۳، باب التصرف في الرهن والجناية عليه وجنايته على غيره)

﴿٣﴾ فتاوى هندية ۳: ۲۰۳، الباب التاسع عشر في القرض والإستقراض)

أنّ كراهةَ الانتفاعِ على المرهونِ انما هى لأجلِ القرضِ و حكمُ الاعارةِ ابتداء والاعارةُ بعد الاستعارةِ لا فرق فيه ، فافهمْ ، وهو الموفق .

د راهن قرض ادا کولو وروسته د مرتهن فک رهن انتقال نه کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې يو سړي د بل سړي نه قرض واخیست، د قرض په بدل کې یې خپله ځمکه ورسره ګرو کړه او وې ویل: تر کله پورې چې مې روپۍ نه وي درکړې. ځمکه او ټولې ګټې یې ستا دي، تر دېره وخته پورې ترې مرتهن خپله ګټه اخیستل، وروسته د ځمکې مالك دده روپۍ ورکړې او خپله ځمکه یې لاس ته راوړه؛ خو اوس مرتهن د انتقال فك رهن څخه انکار کوي، ددې څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد المنان مډل سکول تربت، سیالکوټ ایبټ آباد

۱۴۰۲ هـ / صفر المظفر / ۲۹/

جواب: د فك رهن انتقال نه شرعي مطلوب دی او نه هم شرعاً ممنوع دی؛ خو دومره ده چې د مرتهن او دده د وارثانو د فك رهن په نه انتقالولو کې د حرام خورۍ زیاته خطره ده، ددې خطرې څخه د ځان ساتنې لپاره احتیاط دا دی چې دا انتقال دي ورسره ومني ﴿۱﴾ وهو الموفق .

﴿۱﴾ وفى المشكوة: وعن النعمان بن بشير قال قال رسول الله ﷺ: الحلال بيّن والحرام بيّن وبينهما مشتبهات، لا يعلمهن كثير من الناس فمن اتقى الشبهات استبرأ لدينه وعرضه ومن وقع فى الشبهات وقع فى الحرام .

وفى المرقاة: قال النووى رحمه الله تعالى يحتمل وجهين : احدهما أن من يكثر تعاطى الشبهات يصادف الحرام وان لم يعمده.......... والمعنى حال من وقع فى الشبهات حيث يخاف عليه أنه يقع فى المحرمات كحال الراعى أى الراتع يرعى حول الحمى يوشك أن يرتع فيه.

(مرقاة المفاتيح ٦: ٣٦ باب الكسب ، الفصل الأول)

مرتهن راهن ته ځمکه په زراعت ورکول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې يو سړي بل سړي ته د اته سوه روپو (۸۰۰) قرض په بدله کې ځمکه په ګرو ورکړه، راهن خپله مرهونه ځمکه د مرتهن په خوښه کرل، په هر موسم کې به يې پيداوار مرتهن ته ورکولو، د راهن د خولې خبره ده چې ما د مجبورى له امله پيداوار مرتهن ته ورکولو، څو کاله وروسته چې راهن مرتهن ته خپلې اته سوه روپۍ ورسولې؛ نو ددې وروسته اوس د ځمکې پيداوار د چا حق دی؟ که د راهن حق وي؛ نو د استهلاك په وخت کې مرتهن باندې د ځمکې تاوان شته او که نه؟ مسئله راته ښه روښانه کړئ!

ايا په شريعت کې د سود نه يې زاري کېدلای شي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: حاجي صديق خان مهتمم دار العلوم سراج العلوم، کاهی هنګو ......

۱۹۶۹ م / ۲ / ۹

جواب: که مرتهن د راهن سره عقد مزارعت قبل القبض کړی وي؛ نو له يوه د رهن عقد نه صحيح کيږي، عقد مزارعت يې هم فاسد دی، اګر که تخم د مرتهن له خوا وي، وفي الهندية ۵: ۴۶۲: قال محمدٌ رحمه اللهُ تعالى في كتاب الرهنِ لا يجوزُ الرهنُ الا مقبوضاً فقد أشارَ الى أنّ القبضَ شرطُ جوازِ الرهنِ﴿۱﴾(وفيها أيضاً ۵: ۴۶۲) و أما الثلثة الفاسدة فأحدها الخ والثانى أنْ يكونَ البذرُ من أحدهما والباقى من الآخرِ و ذلك فاسدٌ﴿۲﴾مرتهن ته تو له برخه يا د تخم د اندازې نه بغير ورکول ضروري دي، ﴿۳﴾که چيرې مرتهن د راهن سره عقد مزارعت د قبض وروسته کړی وي؛ نو راهن ته د قبضې ورکولو سره سم د رهن عقد ختم شو، لأنّ الاجارةَ حكمها ما ذكر فكذا يكونُ حكمُ المزارعة ما ذكر للشركةِ في العلة (قالَ في الهندية ۴: ۴۳۵) كان أبو على النَسفى

﴿۱﴾(الفتاوى الهندية ۵: ۴۳۳، الفصل الأول في تفسير الرهن وركنه وشرائطه)

﴿۲﴾(الفتاوى الهندية ۵: ۲۳۸، الفصل الثانى في بيان أنواع المزارعة)

﴿۳﴾قال الدكتور وهبة الزحيلى رحمه الله تعالى: واذا كان (بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

يحكى عنْ أستاذه أنَّ المستأجرَ لو آجره من المؤاجرِ لا يصحُ ثمّ اذا كانتْ لا تصحُّ عندنا ، هل يكونُ ذلك نقضاً للعقدِ الأوّلِ ، فيه اختلافُ المشائخِ والصحيحُ أنَّ العقدَ ينفسخُ، ذكره الطحاويُّ كذا فى السراج الوهّاجِ،﴿١﴾ انتهى لَمْ أجدِ التصريحَ فكفى هذا دلالةً و وجه الدلالةِ فسخُ العقدِ فى الوجهينِ فافهمْ.

(۲) په حقوق الله كې ابراء نه صحيح كيږي، دلته د بندګانو د حقوقو پورې اړه لري او د بندګانو د حقوقو څخه ابراء صحيح ده ﴿۲﴾ فقط وهوالموفق .

د ځمكې په كښت وركولو كې د بزګر څخه په ګرو اخيستل

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د اړتيا پرمهال د ځمكو ځيني مالكان د بزګرانو نه روپۍ اخلي، بيا دغه روپۍ د قرضې په نوم د ځمكې د مالك سره وي او بزګر هم په نيمه باندې ځمكه كري، ايا دا جائز دي او كه نا جائز؟ بينوا توجروا

المستفتي: قاضى بشير الله عمر زئى ضلع چارسده

۱۴۰۱ هـ / صفر المظفر / ۱۲/

(بقيه حاشيه) البذر من العامل كان عليه لصاحب الأرض أجر مثل أرضه لأن العقد فى الحالتين يكون استئجارا...... لا يطيب كل الخارج للمزارع وإنما يأخذ منه قدر بذره وقدر أجر مثل الأرض و يتصدق بالفضل الزائد.

(الفقه الإسلامى وأدلته ٦: ٤٦٩٨، المبحث الرابع حكم المزارعة الصحيحة والفاسدة)

﴿١﴾ (الفتاوى الهندية ٤: ٤٢٥ تا ٤٢٦، الباب السابع فى إجارة المستأجر)

﴿٢﴾ وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : و بعد الاستهلاک لا يتأتى رد عينه فتعين رد المثل وهو محض حق العبد ويصح إبراء العبد عن حقه .... أن الإبراء لا يعمل فى الربا لأن رده لحق الشرع.

(ردالمحتار ۴: ۱۹۷، باب الربا، مطلب فى الإبراء عن الربا)

جواب: ددې د جواز لپاره څينې نورې ېلګې شته، لکه د ځمکې مالك چې د مستأجر نه رهن واخلي او د جامو مالك چې د خياط څخه رهن واخلي، فليراجع الى شرح المجلة ٣٨٧ المادة : ٧١٠، ﴿١﴾ وهو الموفق.

امانتاً رهن اخيستل

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زموږ څينې خلك دا رواج لري، کله چې چا ته ځمکه په نيمه ورکوي؛ نو د بزګر نه څه روپۍ هم اخلي، د بېلګې په توګه په لس جريبه ځمکه باندې پنځه زره (۵۰۰۰) روپۍ د امانت په نوم له ځانه سره وړدي، ددې لپاره چې بزګر ونه تښتي او د مالك روپۍ يا نور شيان له ځانه سره ونه تښتوي، کله چې بزګر تول وخت پوره کړي يا په نيمه کې بزګر کار پرېږدي؛ نو د حساب کولو پرمهال چې په چا باندې زياتي روپۍ راشي هغه به ورکوي، ددې مسئلې شرعي حل څه دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد امتياز د ساغي مندر پايان شبقدر ضلع چارسده او سپدونکی
۱۹۹۰م / ۲ / ۱۳/

جواب: د ارتهان دا معامله نه ده صحيح، لعدمِ صحّةِ الارتهانِ على الأماناتِ کما في شرحِ التنويرِ : ولا بالأماناتِ (هامش رد المحتارِ ۵: ۴۳۶) ﴿۲﴾ د مزارعت د عقد وړاندې او يا وروسته بيا د ارتهان عقد نه فاسدوي، والله أعلمُ بالصواب

﴿۱﴾ وفي شرح المجلة: ويجوز أيضاً أخذ الرهن من المستاجر ببدل الإجارة...... ولو استأجر خياطا ليخيط له ثوبا وأخذ من الخياط رهنا بالخياطة جاز.
(شرح المجلة لسليم رستم باز ص ۳۸۷ المادة ۷۱۰ الفصل الثاني في شروط انعقاد الرهن)
(ومثله في الفتاوى الهندية ۵: ۳۳۵ الفصل الثالث فيما يجوز الارتهان به ومالايجوز)
﴿۲﴾ (الدر المختار ۵: ۳۵۰ كتاب الرهن : باب مايجوز ارتهانه ومالا يجوز)
وفي الأنقروية: الرهن بالأعيان على ثلاثة أوجه أحدها أن يكون بعين هي أمانة وهو باطل.
(فتاوى أنقروية ۲: ۳۹۳، كتاب الرهن)

قرض تر لاسه کول او بیا رهن نه ورکول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زید د ضرورت په اساس د عمر څخه سل روپۍ په قرض واخیستلې، عمر ورته وویل چې له ما سره څه شی ګرو کړه بیا روپۍ واخله؛ زید همداسې وکړه چې ۳۹/ تولې هنسلې «۱» یې له عمر سره کېښودلې او روپۍ یې واخیستلې، څه وخت وروسته زید عمر ته خپلې روپۍ ورکړې او د خپلو هنسلیو غوښتنه یې تری وکړه، عمر ورته وویل چې تا راته په بیع راکړي دي، د جرګې په ذریعه پوره تحقیق وشو؛ خو د بیع ثبوت یې وړاندې نه کړ، اوس عمر ورته وایي چې زر (۱۰۰۰) روپۍ نوري راکړه او خپلې هنسلې واخله؛ که روپۍ ورنه کړل شي او هنسلې تری لاس ته کړای شي؛ نو ددې په څه حکم وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: .... عزیز الرحمن

جواب: په شرط ددې چې رښتیا او ثابت وي، د عمر په نوم سړی خیانت ګر او سود خور دی، «۲» د همدې له امله په ده باندې هم د نورو فاسقانو په څېر حکم جاري کیږي او هغه دا چې دی د وعیداتو حق دار دی «۳» وهو الموفق.

«۱» هنسلي د زیوراتو یو ډول دی او په غاړه کیږي (فیروز اللغات ص ۱۴۵۱)

«۲» وعن علی رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ: کل قرض جر منفعة فهو ربا رواه الحارث بن أبی أسامة.

(بلوغ المرام عن أدلة الأحکام ص ۲۸۲ رقم الحدیث ۸۱۲)

«۳» قال الله تبارک وتعالی: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَذَرُوْا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبٰوٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا فَاْذَنُوْا بِحَرْبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ. (سورة البقرة آیت: ۲۷۸-۲۷۹)

وعن عبد الله بن حنظلة غسیل الملائکة رضی الله تعالی عنه قال: قال رسول الله ﷺ درهم ربا یاکله الرجل وهو یعلم أشد من ستة وثلثین زنیة.

(مشکوة المصابیح ص ۲۵۶ باب الربا)

سپین زر (د رهن بدل) ورک شو، نو په راهن باندې کوم شی واجب دی؟

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زید ځلوبښت کاله وړاندې بکر ته تقریباً د ۱۳/ سوه روپو سپین زر ورکړه او په بدل کې یې ترې ځمکه ګرو کړه، اوس بکر خپله ځمکه بندول غواړي او زید ته د اوسنی زمانې کاغذي دیارلس سوه روپۍ ورکوي. زید ورته وایي چې ما درته سپین زر درکړي و، د هغه وخت سپین زر ددې وخت د کاغذي روپو دیارلس سوه سره برابر نه دي، بلکې د هغه وخت د دیارلس سوه روپو سپینو زرو په بدل کې چې اوس کوم نوټ برابر راځي هغه راته راکړه، ستاسو څخه هیله ده چې په زید او عمر کې څوک په حق او څوک ملامت دی؟ بینوا توجروا
المستفتي: قاري عبد الخالق ګچبوړی تحصیل بټګرام ضلع هزاره...
۱۹۷۴م/ ۸/ ۷/

جواب: دا سکې غالب الفضه دي، په دې مستقرض (راهن) باندې ددې مثل یا دیارلس تولې سپین زر یا ددې اوسنی قیمت ورکول واجب دي، کما فی رد المحتار فی فصل القرض: والمرادُ بها دراهم غالبة الغشّ بخلاف ما کانت فضتها خالصة أو غالبة فانها أثمان خلقة فلا تبطل ثمنیتها بالکساد کما حققناهُ فی أول البیوع، رد المحتار ۴: ۱۷۲: ﴿۱﴾و صرحَ فی البیوعِ بردِّ مثلها ۴: ۲۵ ﴿۲﴾خو په مرتهن باندې د دې ځمکې څلوېښت کاله مزدوري ورکول

﴿۱﴾(رد المحتار ۴: ۱۹۲، فصل القرض)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: اعلم أنه إذا اشتری بالدراهم التی غلب غشها أو بالفلوس ولم یسلمها للبائع ثم کسدت والانقطاع عن أیدی الناس کالکساد، ویجب علی المشتری رد المبیع لو قائمًا و مثله أو قیمته لو هالکا...... قال أبو الحسن لم تختلف الروایة عن أبی حنیفة فی قرض الفلوس إذا کسدت أن علیه مثلها.

(رد المحتار ص ۲۶-۲۷ مطلب مهم فی احکام النقود إذا کسدت أو انقطعت)

ضروري دي، لما في الخانية : رجلٌ استقرضَ انما أسكنه في داره عوضاً عنْ منفعة القرضِ لا مجاناً ، و كذا لو أخذ المقرض من المستقرض حماراً ليستعمله الى أنْ يرده عليه الدراهم بحواله رد المحتار ٥: ٥٣:﴿١﴾ فافهم ،وهوالموفق.

که د رهن بدل بې ځایه شي؛ نو د بې ځایه کېدو د ورځې قیمت به معتبر وي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د پاکستان د ازادۍ وړاندې په باجوړ ایجنسۍ کې افغاني کرنسي د قراني په نوم چلېدلې، د پاکستان نه مخکې به خلکو په افغانیو روپو د یو بل سره ځمکې ګرو کولې، اوس هغه قراني روپۍ نشته، د رهن پرمهال قراني روپۍ د پاکستانیو روپو دوه برابره وې، اوس د قراني قیمت د ۶۰/ پاکستانیو څخه هم ډېر دی.
اوس د ځمکې مالکان دا کوشش کوي چې خپله ځمکه راخلاصه کړي او د روپو مالکان دا کوشش کوي:
چې دوی ته دې مخکینی قراني روپۍ ورکول شي، ایا په راهن باندې پخواني افغاني قراني روپۍ د رهن د ورځې معتبر دي- که د انقطاع د ورځې قیمت او که اوسنی قیمت به معتبر وي؟ په داسې حال کې چې د څو کالو راهیسې مرتهن د ګرو شوي ځمکې څخه ګټه هم اخیستلې ده، که مرتهن خامخا قراني روپۍ غواړي؛ نو راهن د خپلې ځمکې پیداوار غواړي؛ نو اخیر ددې دواړو مسئلو شرعي حل به څه وي؟ بینوا توجروا
المستفتي: مولوي محمد ایوب، جار کالوني باجوړ ایجنسي
۱۴۰۹ هـ / رمضان/ ۹/

جواب: په یاد صورت کې به راهن مرتهن ته د ګرو شوي ځمکې حق کوم بدل ؤ هغه به پوره ورکوي، والظاهرُ أنّ المعتبرَ قیمته یوم الانقطاعِ کما هو قول محمد رحمه الله لعدم القضاء و لعدم الغصب ههنا﴿۲﴾

﴿۱﴾رد المحتار ٥: ٣٣ قبيل باب ضمان الأجير)
﴿۲﴾وقال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالىٰ: و يجب على المستقرض (رد) مثل (أفلس القرض إذا كسدت و اوجب محمد قيمتها يوم الكساد وعليه الفتوى.
(الدر المختار ٣: ٢٧٠ باب الصرف)

په مرتهن باندې ضروري ده چې د رهن د وخت مزدوري راهن ته ورکړي، کما يدلُّ عليه ما فى رد المحتارِ ۶: ۶۳: قبيلَ باب ضمان الأجيرِ : رجلٌ استقرضَ دراهمَ و أسكنَ المقرض فى داره قالوا يجب أجر المثل على المقرض لأنَّ المستقرضَ انما أسكنه فى داره عوضاً عنْ منفعةِ القرضِ لا مجاناً فافهمْ ﴿۱﴾وهو الموفق .

د راهن په مړينې د قرض د ادا کولو لپاره رهن شوې ځمکه خرڅول

سوال: د دين عالمان او مفتيانددې مسئلې په اړه څه وايي چې د زيد ځمکه د قرضې په بدل کې ګروه، زيد خپله قرضه ادا نه کړه او هغه وفات شو، ايا ددې قرض د ادا کولو لپاره ګرو شوې ځمکه خرڅول جائز دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي نصر الله زيارت سمندر، تحصيل ضلع لورالائى بلوچستان

۱۴۰۹ هـ / رمضان/ ۹/

جواب: جازَ بيع المرهَنِ بأمر الحاكمِ ﴿۲﴾وكذا جاز بيع الوصى و من قامَ بمقامه من أهلِ المحلةِ أوْ أخِ الأكبرِ﴿۳﴾ كما فى آداب الأوصياءِ على هامشِ جامعِ الفصولينِ ۲: ۱۲۴: و ليسَ له بيعُ العقارِ الا لزيادةِ الثمنِ أوْ لضرورةِ الدينِ الخ. وهو الموفق

﴿۱﴾(رد المحتار ۵:۳۴ قبيل باب ضمان الأجير)

﴿۲﴾وفى البزازية:وفى العتبة للمرتهن بيع الرهن بإجازة الحاكم وأخذ دينه إذا كان الراهن غائبا لا يعرف موته ولا حياته.

(بزازية على هامش الهندية ۶: ۷۳ كتاب الرهن، نوع فى تصرفهما فيه)

﴿۳﴾قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: (مات الراهن باع وصيه رهنه بإذن مرتهنه وقضى دينه) لقيامه مقامه (فإن لم يكن له وصى نصب القاضى له وصيا...... هذا لو ورثته صغارًا فلو كبارا خلفوا الميت فى المال فكان عليهم تخليصه.

(الدر المختار ۵: ۳۶۹ كتاب الرهن، قبيل فصل فى مسائل متفرقة)

د مرهونه ځمکې په پیداوار کې به عشر مرتهن ورکوي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایې چې د مرهونه ځمکې په پیداوار کې د عشر په ویستلو د راهن ذمه فارغیږي او که نه؟ غریب یې استعمالولای شي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: تاج محمود حسن ابدال کیملپور

جواب: په راهن باندې عشر نشته، بلکې مرتهن به عشر اداکوي، وقالا على المستأجرِ كمستعيرٍ مسلمٍ ﴿۱﴾ مرتهن په کښت او ګټې اخیستلو کې مستعیر دی او بې اجازې ګټه اخیستلو کې (په شرط ددې چې ثابت وي) غاصب دی. ﴿۲﴾ وهو الموفق

د مرهونې څخه ګټه اخیستل او د مرتهن په امدن کې د خیرات او صدقو حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایې چې (۱) د مرهونې څخه د ګټې اخیستلو والا راهن وي او که مرتهن څه حکم لري؟ ایا د دوی سره اړیکه ساتل پکار دي او که نه؟

(۲) د راهن په امدن او مرتهن په نغدو روپو کې صدقه او خیرات کول روا دي او که ناروا؟ بینوا توجروا

المستفتي: تاج محمود حسن أبدال کیملپور

جواب: (۱) مرتهن که په ناجائزه توګه د مرهونې څخه ګټه اخلي هغه فاسق دی، ﴿۳﴾.

(۲) جائز دی. وهو الموفق.

﴿۱﴾ (الدرالمختار ۱: ۱۰٦ باب العشر)

﴿۲﴾ قال العلامة سليم رستم باز: ليس للمرتهن الانتفاع بالرهن بدون إذن الراهن وإن فعل وهلك الرهن حالة استعماله ضمنه ضمان الغصب...... ولكن للمرتهن استعمال الرهن وأخذ ثمره ولبنه إذا أذنه الراهن ...... لأنه لما أباح له السكنى أخذ حكم العارية.

(شرح المجلة ۳۱۵-۳۱٦، المادة: ۷۵۰ الفصل الثانی فی تصرف الراهن والمرتهن فی الرهن)

﴿۳﴾ قال العلامة وهبة الزحيلي: إن شرط الانتفاع...... (بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

تر څو چې بیع په دلیل سره ثابته نه وي مرتهن د مرهونې مالک نه شي جوړېدای

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د طاهر پلار د بارک خان سره خپله څه ځمکه په ګرو اینېې وه، د طاهر خان پلار د ځینو خبرو له امله بارک خان ته روپۍ نه ورکولې، چې په دیکښې شپېته اویا کاله تېر شوه، اوس طاهر دعوه کوي چې ګرو شوې ځمکه زما ملکیت دی، ایا طاهر د ګرو ځمکې مالک جوړېدای شي؟ اوس بارک خان د طاهر څخه د خپلو روپو غوښتنه کولای شي او که نه؟ اوس هم یو شاهد ژوندی دی چې وایي: په دغه قیمت باندې د طاهر پلار ځمکه په بارک باندې خرڅه کړې وه، په دې اړه شرعي حکم څه دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولانا محمد صفدر فاضل جامعه دار العلوم حقانیه، پیر سباق ضلع نوشهره

جواب: ددې حدیث لا یغلق الرهنُ الرهنَ په اساس مرتهن ددې مرهونې مالک نه جوړېږي؛ ﴿۱﴾ خو که په دلیل یا شرعي شهادت سره دا ثابته کړي چې راهن دا مرهونه مرتهن ته د هغو روپو په بدل کې پرې اینېې وه بیا یې مرتهن مالک جوړېدای شي، ﴿۲﴾ که ثابته یې نه کړي؛ نو خپلې روپۍ به اخلي او طاهر ته به ځمکه

(بقیه حاشیه) علی الراهن فی العقد فهو حرام لأنه ربا ...... وکل قرض جر نفعًا مشروطًا أو متعارفًا فهو عند الحنفیة ربا، وقد صرح ابن نجیم فی الأشباه: أنه یکره (تحریما) للمرتهن الانتفاع بالرهن. (الفقه الإسلامی وأدلته ۶: ۴۲۹۰ کتاب الرهن، انتفاع المرتهن بالرهن)

وقال العلامة ابن عابدین: (وفاسق) من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر. (رد المحتار ۱: ۴۱۴ قبیل مطلب البدعة خمسة اقسام)

﴿۱﴾ عن سعید ابن المسیب أن رسول الله ﷺ قال لا یغلق الرهنُ الرهنَ من صاحبه الذی رهنه له غُنمه وعلیه غُرمه. (مشکوة المصابیح ص ۲۵۰ باب السلم والرهن)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: فإن صحت الدعوی سأل المدعی علیه عنها فإن أقر أو أنکر فبرهن المدعی قضی علیه. (فتاوی هندیة ۴: ۱۳، کتاب الدعوی، الباب الثالث فی الیمین)

ورکوي.﴿۱﴾ وهو الموفق

د بيع الوفاء په صورت کې هم د مرهونې نه ګټه اخيستل ناروا دي

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زيد د عمر څخه د روپو په بدل کې څه ځمکه په دې شرط ګرو کړې ده چې ددې ګټه به زما وي، ايا د مرتهن لپاره ددې ګټه اخيستل روا دي او که نه؟ که د عقد کولو پرمهال دا شرط ونه لګوي، بلکې د عامو خلکو د رواج سره سم چې د دليل قطعي مثال لري، ددې نه بغير مرتهن و راهن ته قرض روپۍ نه ورکوي. دا صورت روا دی او که ناروا؟ ځينې سپين لباسي وايي: چې دا معامله روا ده او دې ته بيع الوفاء ويل کيږي، بيع الوفاء روا ده. اوس تاسو مهرباني وکړئ د بيع الوفاء تعريف راته وکړئ او حکم يې بيان کړئ، که په دې صورتونو کې د مرتهن لپاره ګټه اخيستل روا نه وي؛ نو دا سود دی که هسې ګناه ده؟ که سود وي؛ نو ليکونکی، شاهد او سود کوونکي به ګناهګاره وي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: ولي محمد صاحب فاضل جامعه دار العلوم حقانيه مقام ترخېل بنو

۱۳۹۴ هـ / شعبان / ۲۸/

جواب: د مرتهن لپاره د مرهونې څخه ګټه اخيستل نا روا دي، مشهوره طريقه وي او که مشروطه، كما فى الهندية ۳: ۲۶۴: قال محمدٌ رحمه الله تعالى في كتاب الصرف. انّ أبا حنيفةَ رحمه الله كان يكره كل قرض جرَّ منفعة قال الكرخي هذا اذا كانت المنفعة مشروطةً فى العقد﴿۲﴾ وفى رد المحتار ۵: ۳۲۰: قال الطحاوى: قلتُ والغالبُ من أحوال النّاسِ أنهم يريدون عندَ الدفعِ الانتفاعَ، ولو لاه لما أعطاه الدراهمَ، وهذا بمنزلةِ الشرطِ لأنّ المعروفَ كالمشروطِ﴿۳﴾ بيع الوفاء د محققينو په نزد په رهن کې شامله ده.

﴿۱﴾ وفى شرح المجلة: من اخذ من مديونه رهنا فله أن يمسك الرهن الى أن يستوفى جميع ماله من الدين بذمتها، فلو أدّى أحدهما ما عليه لم يكن له أن يقبض من الرهن شيئا.

(شرح المجلة ۳: ۱۸۳ المادة: ۷۳۰ الباب الرابع فى بيان أحكام الرهن)

﴿۲﴾ (فتاوىٰ هندية ۳: ۲۰۲، الباب التاسع عشر فى القرض والاستقراض)

﴿۳﴾ (رد المحتار ۵: ۳۴۳ كتاب الرهن)

وصورته أنْ يبيعه العين بألف على أنه اذا ردَّ عليه الثمن ردَّ عليه العينَ ، (الدر المختارِ) قيلَ هو رهنٌ ، قال العلامة الشامی قدمنا آنفاً عن جواهر الفتاوی أنّه الصحيح ، (رد المحتارِ ۴: ۲۵۷)﴿۱﴾د حکم په اړه يې تفصيل راروان دی چې سود په اجماع د امت سره په دليل قطعي او يقيني سره حرام دی، د مرهونې څخه ګټه اخيستل ظني حرام او اختلافي دي، ددې له امله داګټه اخيستل مکروه تحريمي دي، کماصرَّحَ به فی رهن ردالمحتار﴿۲﴾ د بيع الوفاء په صورت کې ددې نه هم زياته اساني ده، لكونِ الأوّلِ اختلافاً بينَ العلماء و هذا اختلاف بين العلماءِ . وهو الموفق

د مرتهن لپاره د مرهونه ځمکې څخه ګټه اخيستل

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې کوم پيداوار د مرهونه ځمکې څخه تر لاسه شي، د مرتهن لپاره د هغې استعمال څنګه دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: تاج محمود حسن ابدال کيملپور

جواب: روا دی خو ملك يې خبيث دی، د همدې له امله د تخم نه بغير نور پيداوارا صدقه کول غوره دي،﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾(رد المحتار ۴: ۲۷۴ کتاب البيوع ،باب الصرف ،مطلب فی بيع الوفاء)

﴿۲﴾وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالیٰ: وما نقله الشارح عن الجواهر أيضًا من قوله لا يضمن يفيد أنه ليس بربا، لأن الربا مضمون فيحمل على غير المشروط، وما فی الأشباه من الكراهة على المشروط، ويؤيده قول الشارح الآتي آخر الرهن إن التعليل بأنه ربا يفيد أن الكراهة تحريمية.(رد المحتار ۵: ۳۴۲ كتاب الرهن)

﴿۳﴾وفی شرح المجلة: ومنافع الغصب غير مضمونة إلا إذا كانت متولدة أو بدلا عن جزء من أجزاء المغصوب كما صرحوا بذلک فی كتاب الغصب......(بقيه حاشيه اګلے صفحه پر)

د ټاکلي مودې رهن حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د خاصې مودې لپاره رهن څنګه دی؟ که تر دوه یا درې کالو پورې یې رهن وکړ او مرتهن د راهن د مال نه ګټه واخیستل بیا به یې څه حکم وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: د اسلامیه مدرسې د کارکوونکو له خوا مدینة العلوم لورالائی بلوچستان ۱۹۷۷م / ۳۰/ ۱۰/

جواب: په شریعت کې د ټاکلي مودې لپاره رهن نشته، څه وخت چې راهن وغواړي د مرتهن روپۍ دې ورکړي بس هغه وخت د رهن معامله ختمولای شي او مرتهن به د ګټې اجر مثل ورکوي او یا به استبراء کوي، ﴿۱﴾ یدل علیه ما فی رد المحتار ۵: ۵۳: وهو الموفق.

(بقیه حاشیه) وعن هذا ما أفتی به فی الخیریة لو سکن المرتهن دار الرهن أنه لا تلزمه اجرة مطلقا إذن الراهن أو لا، معدة للاستغلال أو لا ،حتی لو آجر المرتهن کانت الأجرة له لأنه العاقد لکنها لا تطیب له وسبیلها التصدق.

(شرح المجلة ۳: ۱۹۳، المادة: ۷۵۰، الفصل الثانی فی تصرف الراهن والمرتهن فی الرهن)

وفی الهندية: وإن کانت الإجارة بغیر إذن الراهن یکون الأجر للمرتهن یتصدق به.

(فتاوی هندیة ۵: ۴۶۴، الباب الثامن فی تصرف الراهن أو المرتهن فی المرهون)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالٰی: وفی الخانیة رجل استقرض دراهم وأسکن المقرض فی داره، قالوا یجب اجر المثل علی المقرض لأن المستقرض إنما أسکنه فی داره عوضًا عن منفعة القرض لا مجانا. (رد المحتار ۵: ۳۴ مطلب أسکن المقرض فی داره یجب أجر المثل: کتاب الإجارة)

﴿۲﴾ وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالٰی: وبعد الاستهلاک لا یتأتی رد عینه فتعین رد المثل وهو محض حق العبد ویصح ابراء العبد عن حقه.

(ردالمحتار ۴: ۱۹۷ باب الربا، مطلب فی الإبراء عن الربا)

د حکومتي قانون سره سم د ټاکلي مودې وروسته مرهونه د مرتهن ملک ګرځول او د رهن نه د ګټې اخیستلو د جواز صورت

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې (۱) د پاکستان حکومت اوسنی قانون دا دی چې مرهونه څمکه د ټاکلي مودې وروسته د مرتهن ملک ګرځوي، د حکومت په داسې کار کولو سره ایا شرعاً مرتهن د مرهونې مالک ګرځي او که نه؟ او ایا مرتهن ددې وروسته د مرهونې څخه ګټه اخیستلای شي او که نه؟

(۲) ستاسو په نزد د حکومت ددې کار له امله د مرهونې سره باید څه وکړل شي؟ ایا د راهن او مرتهن دواړو لپاره یو شان ګټه اخیستل ناروا دي؟ او په دوی کې د یوه لپاره هم د جواز صورت نشته؟ بینوا توجروا

المستفتي: .... بنده سیف الله بنوي د دار العلوم حقانیه زده کوونکی

جواب: ددې قانون نه زه خبر نه یم، په شرط ددې که رښتیا وي؛ نو مرتهن نه ددې مرهونې مالک جوړیدای شي او نه هم دده لپاره ترې ګټه اخیستل روا دي، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايغلقُ الرهنُ الرهنَ من صاحبه الذى رهنه﴿۱﴾ (رواه الشافعى) قال رسول الله صلى الله عليه وسلمَ ألا لا تظلموا ، ألا لا يحلُّ مال امرئ الا بطيبِ نفسٍ منه﴿۲﴾رواه البيهقى فى شعب الايمان.

(۲) بغیر له اجازې د دواړو لپاره د مرهونې نه ګټه اخیستل ناروا دي، د اجازت وروسته د دواړو لپاره ترې ګټه اخیستل روا دي، په شرط ددې چې دا ګټه اخیستل مشروط نه وي، که معروفه وي (كما فى زماننا) نو بیا هم ناروا ده، فى الدرالمختار: لاانتفاعَ به مطلقاً لاباستخدامٍ ولاسكنى ولالبس و لا اجارة و لا اعارة

﴿۱﴾(مشكوة المصابيح ۲۵۰باب السلم والرهن)

﴿۲﴾(مشكوة المصابيح ۲۵۵ باب الغصب والعارية)

سواءٌ كانَ من مرتهنٍ أوْ راهنٍ الا باذن كلٍّ للآخر ، وقيلَ انهم يريدونَ عند الدفعِ الانتفاعَ ولو لاه لما أعطاه الدراهمَ و هذا بمنزلةِ الشرطِ لأنَّ المعروفَ كالمشروطِ وهو مما يعين المنعَ ﴿۱﴾ وهو الموفق .

د مرتهن سره رهن شوی دکان په کرایه ورکول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زيد د بکر سره خپل دکان ګرو (رهن) کړ، بکر درهيم سرې ته دا دکان په کرايه ورکړ او اوس هغه کرايه دی په خپل ذاتي استعمال کې راولي، ايا دده لپاره شرعاً ددې کرايه اخيستل جواز لري او که نه؟

(۲) اوس زيد ورته وايي چې د يادې کرايې څخه زما روپۍ کمې کړه، خو بکر ددې خبرې منلو ته هيڅکله تيار نه دی او وايي چې دا کرايه ماته زما د روپو په بدل کې د دکان څخه وصول شوي دي، ايا د بکر دا فکر صحيح دی او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: .... پهلوان غلام محمد ګجرانواله ... ۱۳۹۵ هـ / صفر / ۱۷/

جواب: د زيد د اجازې بغير د بکر لپاره ددې دکان نه هيڅ ډول ګټه اخيستل روا نه دي، داسې هم جائز دي چې بکر يې په خپلو روپو کې زيد ته شمار کړي بيا برابره خبره ده چې زيد يې خپله استعمالوي او که بل ته يې په کرايه ورکوي، أما الأوّلُ فلما ثبتَ أنَّ كلَّ قرضٍ جرَّ نفعاً فهو رباً ﴿۲﴾ و أما الثاني فلما في رد المحتارِ ۵: ۵۳: و في الخانيةِ رجلٌ استقرضَ دراهمَ و أسكنَ المقرض في داره،قالوا يجبُ أجرُالمثلِ على المقرضِ لأنَّ المستقرضَ انماأسكنه في

﴿۱﴾ الدر المختار مع رد المحتار ۵: ۳۴۲-۳۴۳ كتاب الرهن)

﴿۲﴾ عن علي رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ......(بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

داره عوضاً عنْ منفعةِ القرضِ لا مجاناً و كذا لو أخذ المقرض من المستقرضِ حماراً ليستعمله الى أنْ يردَّ عليهِ الدراهمَ﴿۱﴾انتهى ، وفيه أيضاً (۵: ۴۵۲) و أما الاجارةُ فالمستأجر انْ كانَ هُوالراهنُ (الى أنْ قال) أوْ أجنبيــاً بمباشــرةِ أحدهما العقد باذنِ الآخرِ بطلَ الرهن والأجرةُ للراهنِ﴿۲﴾وهوالموفق .

د رهن ځخه ترلاسه شوې ګټه او د مشهور قیمت په حساب يې قرض کې مجرا کول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زيد د بکر څخه ځمکه ګرو کړه، په ځمکه کې يې د تصرف وروسته مشهور قيمت حساب کړ، د روپو د پوره کېدو وروسته يې ځمکه واپس کړه چې خپلې روپۍ مې په دې ګټې کې حساب کړې؛ نو په شريعت کې ددې څه حکم دی؟ بينوا توجروا

المستفتي .... محمد اعظم کريانه مرچنټ ، بيرون کوهاټي ګېټ پښاور ... ۱۹۷۰م/۹/۱۲/

جواب: هذه الحيلةُ لمْ أرها ولا أجوزها لأنَّ منافعَ المغصوبِ غــيرُ مضــمونةٍ فكيفَ منافع المرهونةِ معَ أنَّ الحرمة لحقِّ الله تعالى﴿۳﴾ وهوالموفق .

(بقيه حاشيه) كل قرض جرّ منفعة فهو ربا رواه الحارث بن أبي اسامة وإسناده ساقط، وله شاهد ضعيف عن فضالة بن عبيد عند البيهقي وآخر موقوف عن عبد الله بن سلام عند البخارى. (بلوغ المرام عن أدلة الاحكام ص ۲۸۲ رقم الحديث : ۸۱۲)

﴿۱﴾(رد المحتار ۵: ۳۴۳ قبيل باب ضمان الأجير)

﴿۲﴾(رد المحتار ۵: ۳۶۳ باب التصرف في الرهن والجناية عليه)

﴿۳﴾في شرح المجلة: لأن الرهن في تلك الحالة في يده مغصوب، ومنافع الغصب غير مضمونة إلا إذا كانت متولدة أو بدلا عن جزء من أجزاء المغصوب كما صرحوا بذلك في كتاب الغصب وعن هذا أفتى في الخيرية فيما لو سكن المرتهن دار الرهن انه لا تلزمه أجرة مطلقا إذن الراهن أو لا معدة للاستغلال أو لا .(شرح المجلة ۳: ۱۹۴، المادة : ۷۵۰ الفصل الثاني في تصرف الراهن والمرتهن)

په مرهونه ځمکه باندې د قیمت نه زیات مصرف کول او د هغې ګټه ترلاسه کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زید د دوه زره (۲۰۰۰) روپو په بدل کې د بکر څخه ورانه ځمکه واخیستل، زید دغه ځمکه اباده کړه او ګټه یې ترې واخیستل، ایا د داسې رهن شوي ځمکې څخه ګټه اخیستل روا دي او که ناروا؟ مرتهن چې کومه ځمکه اباده کړې، ایا ددې ګټې خوړلو لپاره کومه حیله کیږي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: .... محمد اعظم کریانه مرچنټ، بیرون کوهاټي ګیټ پشاور ... ۱۹۷۰م / ۹/ ۱۲/

جواب: لو انتفعَ من الأرضِ قدر ما زادَ من قيمة الأرضِ بعمارته فلمْ أرَ مَـنْ أنكرَ عليه و يؤيده ما في كتب الأموالِ ۲۸۹: أنَّ عمرَ بنَ عبد العزيزِ كانَ يقضي في الرجلِ اذا أخذ الأرضَ فعمرها و أصلحها ثمَّ جاءَ صاحبها يطلبها أنه يقولُ لصاحبِ الأرضِ ادفعْ الى هذا ما أصلحَ فيها فانما عملَ لك فانْ قال لا أقدرُ على ذلكَ قالَ للآخرِ ادفعْ اليه ثمنَ أرضه«۱»انتهى وهوالموفق.

مرتهن د راهن څخه د ځمکې قابل د کرلو جوړولو خرچه اخیستل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې خان زمان ۲۵/. کناله ځمکه د ۳۶۲ روپو په بدل کې په کال ۱۹۴۸م کې ګرو کړې ده، اوس یو کال وروسته کال ۱۹۴۹ کې د رهن تاکلې موده او روپۍ دواړه ورسوځېدلې، راهن خپله ګرو کړې ځمکه غواړي؛ خو مرتهن ورباندې د ترقی حیثیت دعوه کړې ده او وایي چې ماته مې خپلې روپۍ راکړه؛ غرض دا چې په اسلامي قانون کې مرتهن د ترقئ حیثیت کېدو د خرچې

(۱) (کتاب الأموال للقاسم بن سلام ۱: ۳۶۷، رقم: ۷۱۲، باب احياء الأرضين، دارالفكر بيروت) و (كتاب الأموال لابن زنجويه ۲: ۶۳۲ رقم: ۱۰۶۷، باب إحياء الأرض و احيازها)

حق دار دی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: .... مظفر خان ولد خان زمان فضل آباد مردان

۱۳۹۹ هـ / رمضان / ۱۷/

جواب: که د ترقئ حیثیت نه مراد دا وي چې ځمکه یې د کرلو قابله ګرځولې وي؛ نو مرتهن ددې خرچې د غوښتلو حق لري، ﴿۱﴾او که ددې نه مراد بل څه وي؛ نو مهرباني وکړئ وضاحت یې راولیږئ؛ وهو الموفق .

د پنځوسو کالو راهیسې تر لاس لاندې ځمکه باندې د رهن دعوه کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د مدعی علیه سره د پنځوسو کالو راهیسې د پلار او نیکه نه یوه ځمکه وریاتې وه، دو مره وخت وروسته اوس یو سړی رایورته شوی او دعوه یې کړې چې دا زموږ ځمکه ده ستا د پلار او نیکه سره موږ رهن ایښې وه، مدعي ورته وایي چې دا ځمکه ستا پلار او نیکه زما په پلار او نیکه باندې په دولس سوه روپۍ خرڅه کړې وه، قاضي د مدعی علیه څخه د شاهدانو د وړاندې کولو غوښتنه وکړه، هغه ورته خپل شاهدان وړاندې کړه، قاضي د مدعی علیه په حق باندې فیصله وکړه، څو ورځې وروسته قاضي وویل چې زه په خپله فیصله کې غلط شوی یم، اوس ستاسو څخه هیله ده تر څو موږ د شرعي مسئلې نه خبر کړئ؛ بینوا توجروا

المستفتي: .... مولوي حکم زمان ..... ۱۴۰۴ هـ / ربیع الأول / ۱۷/

﴿۱﴾في کتاب الأموال :أن عمر بن عبد العزيز کان يقضي في الرجل إذا أخذ الأرض فعمرها واصلحها ثم جاء صاحبها يطلبها أنه يقول لصاحب الأرض ادفع إلى هذا ما اصلح فيها فإنما عمل لک فإن قال لا أقدر على ذلک قال للآخر ادفع إليه ثمن أرضه.

(کتاب الأموال للقاسم بن سلام رحمه الله تعالى ۱:۳۶۷،رقم: ۷۱۲ باب إحياء الأرضين ،دار الفکر بيروت)

و (کتاب الأموال لابن زنجويه ۲:۲۴۶ رقم :۱۰۶۷ ،باب إحياء الأرض و إحيازها)

جواب: په ظاهره ددې مدعي دعوه د زائد الميعاد (ډېر وخت وروسته) له امله د اورېدو وړ نه ده، ﴿۱﴾ددې له امله چې قاضي د داسې دعوې د اورېدلو نه منع دی، همدارازحَکَم (فیصله کوونکی) هم د داسې خطرناکې مسئلې د حل کولو نه منع دی، ﴿۲﴾دغه راز کله چې مدعی علیه دا ځمکه د خپل نیکه ملکیت مني؛ نو د نورو ترونو د موجودوالي په حالت کې په ټولو مدعی علیهم باندې دده دعوه څنګه شي؟ والله أعلمُ بالصواب.

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدين : إذا ترک الدعوی ثلاثًا وثلاثين سنة ،ولم يكن مانع من الدعوی ثم ادّعی لاتسمع دعواه لأن ترک الدعوی مع التمکن يدل علی عدم الحق ظاهرًا.
(ردالمحتار: ۴: ۳۸۲ کتاب القضاء ،مطلب إذا ترک الدعوی ثلاثا وثلاثين سنة الخ)

﴿۲﴾وقال العلامة ابن عابدين :إن عدم سماع الدعوی بعد هذه المدة إنما هو للنهی عنه من السلطان فيكون القاضی معزولًا عن سماعها ......وسبب النهی قطع الحيل والتزوير.
(ردالمحتار ۴: ۳۸۱ کتاب القضاء ،مطلب هل يبقی النهی بعد موت السلطان)





كتاب القسمة

قال اللّٰہ تبارک وتعالیٰ

وَنَبِّئْهُمْ اَنَّ الْمَآءَ قِسْمَةٌ بَيْنَهُمْ.

(سورة القمر)

كتاب القسمة

قال الله تعالى: وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ الْمَاءَ قِسْمَةٌ بَيْنَهُمْ (سورة القمر)

د شاملاتو د تقسيم طريقه

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د شاملاتو د تقسيمولو طريقه څه ده؟ بينوا توجروا

المستفتي .... نامعلوم ..... ۱۴۰۳ هـ / ذی القعده / ۱۷/

جواب: كه شاملات د شريكي بې تقسيمه ځمكې نوم وي؛ نو ددې د تقسيم طريقه د نورو شريكو ځمكو د تقسيم څخه بېله نه ده. هغه دا چې خپل شريكان او د هغوى برخې بايد لومړى معلومي شي او د هغې په تناسب دې شاملات تقسيم شي، لأنَّ القسمةَ تعين الحصةِ الشائعةِ يعنى احراز الحصصِ بعضها من بعضٍ كما فى شرح المجلةِ ۶۱۸﴿۱﴾و فيها أيضاً : ينبغى للقسامِ اذا أرادَ قسمة دار أنْ يصورها على قرطاسٍ و يمسح بالذراعِ عرصتها ويقومَ أبنيتها ويعادلَ بينَ الحصص بحسبِ أنصباء أصحابها الخ ۲۳۶﴿۲﴾.

كه اصلي برخې معلومول نا ممكن وي؛ نو په استصحاب الحال باندې دې عمل وكړي، يدلُّ عليهِ ما فى شرحِ المجلةِ ۲۰ الأصلُ بقاء ما كانَ على ما كانَ و يقالُ لذلك الاستصحابُ وهو الحكم بقاء أمر محقق لَمْ يظنَّ عدمه وهو على نوعينِ ... الثانى اتخاذ الحالِ الحاضرِ دليلاً على ماكانَ عليه الشيئ فى الزمن السابق﴿۳﴾وهو الموفق .

﴿۱﴾(شرح المجلة ۶۱۸، المادة ۱۱۱۴، الباب الثانى فى القسمة)

﴿۲﴾(شرح المجلة ۲۳۶، المادة ۱۱۵۱، الفصل الخامس فى كيفية القسمة)

﴿۳﴾(شرح المجلة ۲۰، المادة ۵)

د يو شريک په غوښتنه په تقسيم کوي

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې موږ درې ورونه او يوه خور يو، موږ څلور واړه په شريکه د پلار په ميراث کې يو جوړ کور لرو، اوس زموږ خور په زوره زموږ نه تقسيم غواړي او موږ يو وړور هم ورباندې خوښ نه يو، ايا په شريعت کې زموږ خور ته دا حق شته چې دا يوازې د تقسيم غوښتنه وکړي؟ بينوا توجروا

المستفتي: بسك استاذ چار باغ صوابی ..... ۱۳۸۹ هـ / رجب المرجب / ۱۷/

جواب: دا چې د تقسيم سبب موجود دی؛ نو خامخا به تقسيم ورته کيږي، که خامخا ورونه ددې جوړ کور نه ګټه اخلي؛ نو په حرامو کې د مبتلا کېدو خطره ده، (فی الهندية ٥: ٣٢٧) و أمّا سببها فطلب الشركاءِ أوْ بعضهم الانتفاع بملكه على وجه المخصوصِ ﴿۱﴾ كذا فى التبيين وبمعناه فى الدرالمختارِ ﴿۲﴾ وهوالموفق .

په شريکي ځمکه کې د تقسيم نه وړاندې تصرف کول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې يو سړي په ميراث کې ځمکه پرېښوده، د هغه سړي يوه لور ده او وايي چې که په ميراث کې زما حق وي؛ نو د يوې ګوتې په اندازه بې هم خپلو ورونو ته نه بخښم، اوس که ددې سړي وارثان د خپلې خور خبرې ته اعتبار ورنه کړي او ځمکه هديرې ته وقف کړي؛ نو په داسې ځمکه کې د مړو ښخول څه حکم لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: .... عبد الستار دوړ شمالي وزيرستان ..... ۱۴۰۲ هـ / رجب المرجب / ۲/

﴿۱﴾ (فتاوى هندية ٥: ۲۰۳، كتاب القسمة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: و سببها طلب الشركاء أو بعضهم الانتفاع بملكه على وجه الخصوص فلو لم يو جد طلبهم لا تصح.

(الدر المختار ٥: ۱۷۸، كتاب القسمة)

جواب: په شریکي ځمکه کې داسې تصرفات کول منع دي، (شرح المجلة) ﴿۱﴾

وهوالموفق.

د مصلحت په تقسیم کې د دواړو طرفونو خوشحالي ضروري ده

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې:

(۱) د حبیب الله او کلیم د مور او پلار چې کوم کور دی، په یوې کوټې، یوې برنډې او یوې حویلی (سرای) باندې مشتمل دی، ددې کور نیمه برخه حبیب الله ته ورکوو او نیمه کلیم الله ته، د پلار د علاج په باره کې مو د دواړو دعوې لرې کړي دي.

(۲) د کلیم الله د جنوب دېوال خواته چې کومه خالي ځمکه ده، د حبیب الله له خولې چې دا مې د خپل زوی نثار احمد د کور لپاره خاص کړې ده، زه دا ځای په خوښه کلیم الله ته ورکوم او د کلیم الله دعوې ته د ځمکې په باره کې اعتبار نشته.

اوس د شریعت له مخې تاسو فیصله وکړئ چې زما دعوه چې د صلحې له امله ساقطه شوې ده، ایا د دې اعتبار شته تر دې چې شرعي او قطعي

﴿۱﴾و فی شرح المجلة :لیس لأحدهم التصرف فی المال المشترک بلا إذن الباقین لأن الشرکة لا تتضمن الوکالة فکان کل واحد منهم أجنبیا فی حصة غیره.

(شرح المجلة ۳: ۱۱، المادة ۱۰۲۹ ،الفصل الثانی فی بیان کیفیة صاحب الملک)

وقال العلامة المرغینانی رحمه الله تعالیٰ: فشرکة الأملاک العین یرثها رجلان و یشتریانها فلا یجوز لأحدهما أن یتصرف فی نصیب الآخر إلا بإذنه و کل واحد منهما فی نصیب صاحبه کالأجنبی.

(الهدایة ۳: ۶۲۳، کتاب الشرکة)

فیصله نه وي شوې؟ بینوا توجروا

المستفتي: .... بسک استاذ چارباغ صوابی ..... ۱۳۸۹ هـ/ رجب المرجب / ۱۷/

جواب که د حبیب الله نور وارثان نه وي او خپله په دې فیصلې باندې راضي وي؛ نو دا فیصله به د دوارو په خوښه او رضا نافذه وي، که نه نو له سره به فیصله کوي ﴿۱﴾ وهو الموفق .

تر ډېره وخته پورې د ویجاړې ځمکې د تقسیمولو طریقه

سوال د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د یو قوم خلکو څه وخت مخکښې دا سې ځمکه واخیستل چې تقریباً د یو نیم سل (۱۵۰) کالو راهیسې همدا سې ویجاړه پرته وه. اوس قوم غواړي چې دا ځمکه په خپل منځ کې تقسیم کړي، اوس سوال دا دی چې تر دومره وخته پورې پرته ځمکه به خامخا د چا میراث وي، ددې نه وړاندې کله تقسیم نه دی شوی، اوس به ددې تقسیم حکم څه وي؟ او ددې تقسیم به څنګه کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتي: .... مولوي عبد الرؤف مدرس مدینة العلوم ژوب .....

۱٤۰۲ هـ/ شعبان / ۲۸/

﴿۱﴾ قال الدکتور وهبة الزحیلی رحمه الله تعالی :فقال الحنفیة: القسمة نوعان......قسمة رضائیة و هی التی یفعلها الشرکاء بالتراضی و هی تعتبر عقدا من العقود ......إلی أن قال بعد ثلثة أوراق :اشترط الحنفیة شروطاً فی قسمة التراضی......رضاء الشرکاء فیما یقسمونه بأنفسهم إذا کانوا من أهل الرضاء أو رضا من یقوم مقامهم فإن لم یوجد الرضا لا تصح القسمة .

(الفقه الإسلامی و أدلته ٤٧٣٢،٤٧٤٣،المبحث الثانی، أنواع القسمة)

و فی شرح المجلة: یشترط فی قسمة التراضی رضا کل واحد من المتقاسمین بناء علیه إذا غاب أحدهم لا تصح قسمة التراضی .

(شرح المجلة ٣: ٦٩،المادة ١١٢٨)

جواب: په یاد صورت کې دې د نیکونو د سرونو په سر ځمکه تقسیم کړي، که نه نو بیا دې وارثان خپلې متعیني برخې یوسي، کوم چې مشکوك دې په هغوی کې دې توقف وکړي، كما فى شرح التنوير على هامش رد المحتار ۶: ۷۹۸: فلو جهل عينه أعطى كل باليقينِ و وقف المشكوك فيهِ حتى يتبينَ أوْ يصطلحوا (شرح المجمع)﴿۱﴾وهوالموفق .

د تقسیم نه وروسته د بل شریک په ونو باندې دعوه کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان دې مسئلې په اړه څه وايي چې د زید په ملکیت کې کومې ځمکې وې، تولې یې وارثانو (چې د زید خپل زامن دي عمر، خالد او ولید) په خپل منځ کې تقسیم کړې؛ خو ونې یې په خپل زور حالت پرېښودې، ځکه چې هغه ډیرې وړې وې، څوارلس کاله وروسته خالد وايي د عمر په ځمکه کې چې کومې ونې دي هغه زما دي، اوس د شریعت له مخې تاسو موږ ته فیصله وکړئ چې دا ونې به د چا وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: .... مولوي فضل مولی موضع فاطمه، ضلع وتحصیل مردان ..... ۱۹۷۲ م/ ۱۰/ ۴/

جواب: د خالد دعوه باطله ده او هیڅ اعتبار نه لري، يدلُّ عليه ما فى الهندية ۵: ۲۳۹: ويدخل الشجر فى قسمةِ الأراضى و ان لم يذكروا الحقوقَ والمرافقَ كما تدخل فى بيع الأراضى﴿۲﴾وهوالموفق .

﴿۱﴾(الد رالمختار ۶: ۷۹۸ كتاب الفرائض :فصل فى الغرقى والحرقى،ايچ ايم سعيد)
و فى الهندية :و إن علم موت احدهما اوّلاً ولايدرى أيهم هو أعطى كل واحد اليقين و وقف المشكوك حتى يتبين أو يصطلحوا كذا فى خزانة المفتين .
(فتاوى هندية ۶: ۴۵۷،الباب الثامن فى المفقود والأسير والغرقى)
﴿۲﴾(فتاوى هندية ۵: ۲۱۵ كتاب القسمة ،الباب الرابع فيما يدخل تحت القسمة الخ)
و فى شرح المجلة: تدخل الأشجار فى قسمة......(بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

د پلار او نیکه ځمکه د تقسیم وروسته د وارثانو ملکیت منل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې په یو کلي کې څو قومانو په شریکه خپله ځمکه تقسیم کړې، د هغوی د لومړي تقسیم نه څوك خبر نه دي چې نیکه ګانو یې څه ډول تقسیم کړې وه؛ خو دومره معلومه ده چې دا ځمکه د کوم مسلمان یا کافر حاکم بې اجازې تقسیم شوې ده، ددې ځمکې څلور واړه حدود هم معلوم دي او هر مالك پکښې خپل مالکانه تصرف هم کوي، لکه: خرڅول، اخیستل، اجاره او دا لړی د میراث په نوم همداسې روانه ده، سوال دا دی چې دا تقسیم شوې ځمکه د دوی خپل ملکیت دی او که نه؟ او بې وازې تقسیم د ملك سبب جوړیږي او که نه؟ تفصیلي بیان راته ولیکئ؛ بینوا توجروا

المستفتي: .... مولوي عالمګیر حقاني تحصیل پټن ضلع کوهستان
..... ۱۴۰۸ هـ/ شعبان/ ۲۲/

جواب: دا تقسیم صحیح او نافذ دی، کوم خلك چې اوس ددې ځمکو مالکان دي دا د دوی ملکیت ګڼل کیږي، ﴿۱﴾ دا خو د بزګرو خلکو چل وي چې هغوی لومړی څنګه ځمکه لاس ته راوړي؟ وهوالموفق .

(بقیه حاشیه) الأراضی من غیر ذکر ...... کقولهم بجمیع مرافقها او بجمیع حقوقها أو بالتصریح بذکرها .(شرح المجلة ۳: ۱۰۸، المادة ۱۱۶۳، الفصل الثامن فی بیان أحکام القسمة)

﴿۱﴾ و قال العلامة ابن عابدین :قال المحقق ابن حجر المکی ......إنا نحکم للوی الأملاك والأوقاف ببقاء أیدیهم علی ما هی علیه ......فان استمرار الید علیه والتصرف فیها تصرف الملاك فی أملاکهم أو النظار فیما تحت أیدیهم الأزمان المتطاولة قرائن ظاهرة أو قطعیة علی الید المفیدة لعدم التعرض لمن هی تحت یده و عدم انتزاعها منه...... إن الأراضی التی فی أیدی الناس بمصر والشام المجهول انتقالها إلیهم تقر فی أیدی أربابها ولا یتعرض لهم فیها بشیء أصلا .....باحتمال أنها کانت مواتا فأحییت أو أنها انتقلت إلیهم بوجه صحیح.

(ردالمحتار ۳: ۲۸۱باب العشر والخراج والجزیة، مطلب لیس للامام ان یخرج شیئا من ید أحد الخ)

د تقسیم پوره کېدو وروسته څوک د رجوع حق نه لري

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د قاضي محمد فیضان (چې حکومتي قاضي او د جامع جومات خطیب هم دی) په فیصله کې د دولسو کالو یو هلك خپل ورور وکیل جوړ کړی دی او قاضي هم د هغه وکالت ومنلو، دې وکیل د شریکانو څخه خپله برخه معلومه کړه او ترې بېله یې کړه، د وکیل په واسطه یې په خپله ځمکه کې یو جوړ کور هم واخیست، او ه کاله کیږي چې په دې کور کې مالکانه تصرف کوي، د تقسیم وروسته د ماشوم وکیل شریکانو ته دا اقرار وکړ چې دا تقسیم مې په خپله خوښه کړی دی، په راروانه زمانه کې به هیڅکله په دې یاد تقسیم کې څه مداخله نه کوم، اوس اوه (۷) کاله وروسته دوی غواړي چې زوړ تقسیم یو ځل بیا لغو اعلان کړي، ایا دا جائز دي که ناجائز؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الرزاق موضع سید اباد ملاکنډ ایجنسی ...... ۱۹۶۹م / ۲/ ۲۲/

جواب: په شرط ددې چې رښتیا وي دا تقسیم لازم شو او ددې وروسته بیا دا تقسیم نه فسخ کیږي، فی رد المحتار ناقلاً من النهایة و لا رجوع بعد تمام القسمة (۵: ۲۲۹) ﴿۱﴾ (وَ فی الهندیة ۵: ۲۴۱) یجب أنْ یعلمَ بأنَّ الملك لا یقع لواحدٍ منَ الشرکاءِ فی سهمٍ بعینه بنفسِ القسمة بل یتوقف ذلك علی أحد معانٍ أربعةٍ اما القبض أوْ قضاء القاضی أو القرعة أوْ بأنْ یوکلوا رجلاً یلزم کل واحدٍ منهمْ سهماً ﴿۲﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ (رد المحتار ۵: ۱۸۳ کتاب القسمة، مطلب فی الرجوع عن القرعة)

﴿۲﴾ (فتاوی هندیة ۵: ۲۱۷، الباب الخامس فی الرجوع عن القسمة)

و فی شرح المجلة: بعد تمام القسمة لا یسوغ الرجوع.

(شرح المجلة ۴: ۱۰۲ المادة ۱۱۵۷، الفصل السابع فی بیان فسخ القسمة)

د بلوغ وروسته تقریر نه کولو باندې د حکم تقسیم غیر لازم دی

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې یو سړی مړ شو، دده په وارثانو کې یو هوښیار هلك او دوه بالغ نارینه وو، د قاضي محمد فیضان په وړاندې ماشوم یو بالغ سړی خپل وکیل جوړ کړ، قاضي صاحب یې وکالت ومنلو او د تقسیم اجازه یې ورکړه، د تقسیم وروسته د تقسیم خط او اقرار خط دواړه راوړل شوه چې بیا به هیڅکله هم یو په بل باندې هیڅ قسم دعوه نه کوي، ددې نه مخکې فتوی کې دا لیکل شوي ؤ کومه چې ستاسو په خدمت کې وړاندې شوې وه.

«دا تقسیم خو د قاضي په اجازه شوی ؤ، دغه راز د بلوغ وروسته تر ډېره وخته پورې یې تقریر کړی ؤ؛ نو تقسیم یې صحیح ؤ» الخ

اوس قاضي محمد فیضان حکم (دریمه ګړی) سړی دی، په حکومت کې د قضا منصب نه لري، یوازې حکومتي امامتي لري؛ نو په یاده مسئله کې د قاضي او حکم تر منځ کوم توپیر شته او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الرزاق موضع سید اباد ملاکنډ ایجنسی

جواب: د یتیمانو د وکالت مسئله د قاضي نه اعلی حاکم طرف ته سپارل کیږي، نه دا چې حکم ته، ددې له امله د حکم تقسیم غیر لازم دی، په شرط ددې چې دې ماشوم د بلوغ وروسته تقریر نه وي کړی.﴿۱﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ وفي شرح المجلة: و إذا كان في جملتهم صغير فوليه أو وصيه قائم مقامه و إن لم يكن للصغير ولي ،ولا وصي كان موقوفا على أمر الحاكم فينصب وصي من طرف الحاكم وتصير القسمة بمعرفته المراد بعدم الصحة في قوله لا تصح عدم النفاذ لما تقدم في المادة (۱۱۲٦)من أنها تصح موقوفة على إجازة الغائب أو إجازة الصغير بعد بلوغه .

(شرح المجلة ٣: ٧٠،المادة: ١١٢٨)

د حق د پوره کېدو د اقرار او تصرفاتو وروسته د غبن دعوه کول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې شريکانو په خپله خوښه د ځمکې د تقسيمولو پرمهال باراني ځمکه لږه او للمه ځمکه يې زياته وټاکله، ددې وروسته يې دغه ياده ځمکه د قرعه اندازۍ په حساب په خپل منځ کې تقسيم کړه، د تقسيم وروسته ټولو دا ليکلى اقرار وکړ چې موږ دا تقسيم په خپله خوښه کړى، ددې وروسته موږ په يو بل باندې د هيڅ دعوې حق نه لرو، د تقسيم وروسته د لومړۍ برخې مالك د خپلې ځمکې نه يو څه ځمکه خرڅه کړه، تر اوه کاله پورې يې په دې ځمکه کې مالکانه تصرف وکړ، د دويمې برخې مالك په خپله ځمکه خرچه وکړه او قابل يې ددې کړه چې کرلو ته تياره شي، اوس د اوه کالو وروسته د لومړۍ برخې مالك د غبن دعوې ته اعتبار شته او که نه؟ بينوا توجروا.

المستفتي: مولوي عبد الرزاق موضع سيد اباد، ډنډ ډهيرى مالاکنډ ايجنسى ۱۹۶۹م/ ۲/ ۲۲/

جواب: دا غبن فاحش نه دى او د اقرار خط څخه معلومېږي چې تقسيم يې په خپله خوښه کړى دى، د غبن دعوې ته يې هيڅ اعتبار نشته، (فى الهندية ۵: ۲۵۱) ﴿۱﴾ادعى أحد المتقاسمين الغلط فى القسمة من حيثُ القيمة بأنْ ادعى غبناً فى القسمة فانْ كانَ يسيراً لَا تسمعُ دعواهُ وَ لاتقبلُ بينته وَ انْ كَانَ فاحشاً، فانْ كَانَتْ بتراضى الخصمين لا بقضاء القاضى لمْ يذكر فى الكتاب وحكي عن الفقيه أبي جعفر أنه كانَ يقولُ انْ قيلَ تسمع فله وجهٌ، وانْ

﴿۱﴾(فتاوى هندية ۵: ۲۲۶، الباب الحادى عشر فى دعوى الغلط فى القسمة)

وقال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: و لو ظهر غبن فاحش فى القسمة فان كانت بقضاء بطلت و لو وقعت بالتراضى بطل ايضا فى الاصح و تسمع دعواه ذلک ان لم يقر بالاستيفاء و ان اقر به لا تسمع دعوى الغلط والغبن للتناقض. (در مختار مختصرا)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: قيد بالفاحش لانه لو يسيرا يدخل تحت تقويم المقومين لا تسمع دعواه و لا تقبل بينته. (ردالمحتار ۵: ۱۸۷ كتاب القسمة)

قیلَ لا تسمع فله وجهٌ کذا فی الفتاوی الصغری ، وهو الصحیح وعلیه الفتوی ، کذا فی الغیاثیة و ذکر الاسبیجابی فی شرحه. هذا کله اذا لَمْ یقر الخصم بالاستیفاءِ ، اما اذا أقرَّ بالاستیفاءِ فانه لا تصحُّ دعواهُ الغلط والغبنُ . وهو الموفق

د تقسیم وروسته د یو شریک برخه په استحقاق کې تلل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د هر وخت مخکښې زما پلار په نولس سوه (۱۹۰۰) روپۍ څمکه اخیستې وه، په دیکښې یې هغه ته یو ملکري دري سوه (۳۰۰) روپۍ ورکړې او ځان یې ورسره په دریمه ۳/۱ برخه کې شریک کړ؛ خو هغه وخت هغوی تقسیم نه و کړی، د پلار د وفات وروسته مي د شاهدانو په وړاندې د هغه په خوښه دده ۳/۱ برخه ورته ورکړه، یو کال ۹ میاشتې وروسته ددې شریک په څمکه کوم حق داري دعوه وکړه، اوس سوال دا دی که دا برخې والا پردی سړی که څمکه وګټي؛ نو د خپل شریک سره به زه په تاوان کې شریک یم او که نه؟ (۲) که په دې څمکه دعوه وشي او خرچه ورباندې وشي؛ نو ایا په کې به هم زه تاواني کېږم او که نه؟ په داسې حال کې چې زموږ دواړو تر منځ خو تقسیم په خوښه شوی دی او د دواړو تر منځ پولې هم موجودې دي، بینوا توجروا

المستفتي: نور محمد کریانه مرچنټ مین بازار هنګو ضلع کوهاټ

۱۳۸۹هـ/ شوال /۲۶/

جواب: که ددې شریک بعض یا ټوله څمکه بل مستحق سړی په دعوه کې وګټي؛ نو بې شکه چې ته به له هغه سره برابر شریک یې او که په تا راشي؛ نو هغه به هم ستا سره په تاوان کې برابر شریک وي. وفی الهندیة ۵: ۲۴۹، ألوجه الثانی اذا استحقَّ جزء بعینه مما أصابَ واحدٌ منهمْ وفی هذا الوجه القسمة صحیحة فیما بقی بعد الاستحقاقِ، الا أنّ للمستحقِّ علیه الخیارلأنّه تعیبَ نصیبه بسبب الشرکة

فانْ نقض القسمة عاد الأمرُ الی ماکانَ قبلَ القسمة و تستأنف القسمة فیما وراء المستحق ، وانْ أجازَ القسمة یرجعُ علی صاحبه بعوضِ المستحقِّ﴿۱﴾وهو الموفق.

د تقسیم د پوره کېدو وروسته د یوه شریک برخه هلاکېدل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې درې ورونه د میراخوان، زکی او عظیم په نامه دي، دوی د پلار د مړینې وروسته خپله ځمکه تقسیم کړه، لس کاله وروسته د دوه ورونو میراخوان او زکي ځمکه سیند یوړه چې اوس هیڅ شی پکښې نه کرل کیږي، ایا ددې دوه ورونو د حق پوره کولو لپاره دریېم ورور بیا د تقسیم کولو حق لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: مدرسه تعلیم القرآن کرک ۱۴۰۱

جواب: که د تقسیم وروسته کومه ځمکه هلاکه شي؛ نو دا به د مالك ځمکه هلاکه وي، دغه هلاکه شوې ځمکه به شریکي نه وي، لما فی شرح المجلةِ م ۱۱۶۲ ص ۶۴۳ : کل واحدٍ من الشرکاءِ یصبح بعد القسمة مالکاً لحصته بالاستقلالِ ولا یبقی لأحدهمْ علاقة فی حصة الآخرِ ، هذا لوْ کانت القسمة صحیحةً أما الفاسدةُ فلا تفید الملك الا بالقبضِ﴿۲﴾وهو الموفق.

﴿۱﴾(فتاوی هندیة ۵: ۲۲۴،الباب العاشر فی القسمة یستحق منها شئ)
و قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالیٰ: و إن استحق بعض معین من نصیبه لا تفسخ القسمة اتفاقًا.....بل المستحق منه یرجع بحصة ذلک فی نصیب شریکه إن شاء أو نقض القسمة دفعًا لضرر التشقیص .(در مختار ۵: ۱۸۶،۱۸۷، کتاب القسمة)

﴿۲﴾(شرح المجلة لسلیم رستم باز رحمه الله ۶۴۳،المادة ۱۱۶۲ ،الفصل الثامن فی أحکام القسمة)
و فی الهندیة: و أما حکمها فتعین نصیب کل واحد منهم من نصیب صاحبه بحیث لا یبقی لکل واحد منهم تعلق بنصیب صاحبه کذا فی التبیین .
(فتاوی هندیة ۵: ۲۰۲ کتاب القسمة، الباب الأول فی تفسیر ها)

د تقسیم وروسته د طرفینو د یو بل په برخه کې مداخله کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان د دې مسئلې په اړه څه وايي چې زید او عمر دواړه د تره زامن دي، د دوی د نیکونو ترمنځ ځمکه تقسیم شوې وه، اوس د زید ځمکه یو زورواکي (غاصب) په خپله ولکه کې راوستې ده، زید د زورواکي سره په څه چل سوله وکړه، ایا د زید لپاره دا جائز دي چې د عمر (تره زوی) کور ته راشي او د څه شي په غوښتلو مداخله وکړي؟بینوا توجروا

المستفتي: محمد سعید دیر ۱۴۰۱

جواب: د تقسیم وروسته زید او عمر د یو بل څخه بېل شوي، نه د یو بل څخه د څه شي تقاضا کولای شي او نه هم د بل په کار کې مداخله کولای شي، کما فی شرح المجلة م ۱۶۲ ص ۶۴۳ کلُ واحدٍ منَ الشرکاءِ یصبحُ بعد القسمة مالکاً لحصته بالاستقلالِ و لا یبقی لأحدهمْ علاقة فی حصةِ الآخرِ(۱)وهو الموفق.

د اجازې ورکولو وروسته تقسیم نافذیږي

سوال: د دین عالمان او مفتیان د دې مسئلې په اړه څه وايي چې د یو قوم د کبنت شریکي ځمکه وه، د قوم مشر (سر خېل) ټوله ځمکه په خپلو قومیانو تقسیم کړه، دومره ځمکه وه چې معلومه اندازه هر چا څومره د کبنت لپاره تیاره کړه، هغه دده لپاره شوه؛ خو ځمکه اوس هم بنه ډېره ده او څوك چې اوسمهال د ځمکې د برابرولو وس نه لري؛ نو کله چې یې وس وموند؛ نو خانته دې ځمکه تیاره کړي،

---

(۱)(شرح المجلة ۶۴۳ بالمادة ۱۱۶۲،الفصل الثامن فی احکام القسمة)

و فی الهندیة و اما حکمها فتعین نصیب کل واحد منهم من نصیب صاحبه بحیث لا یبقی لکل واحد منهم تعلق بنصیب صاحبه.

(فتاوی هندیة ۵: ۲۰۴ کتاب القسمة، الباب الأول فی تفسیرها)

که د قرعه اندازی نه بغیر دا ځمکه تقسیم شي؛ نو ایا د شریعت له مخې دا تقسیم جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: سلطان محمد دولت زئی .... ۱۹۸۴م / اپریل / ۱۸/

جواب: که قوم ته د قوم سرخېلو اجازه ورکړې وي؛ نو د دوی تقسیم باقاعده نافذ دی، ﴿۱﴾ برابره خبره ده چې قرعه اندازي شوې وي او که نه. وهو الموفق

په تقسیم کې د غلطی ثابتېدو وروسته بل تقسیم کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې که تقسیم کوونکو ته څو کاله وروسته معلومه شي چې په تقسیم کې غلطي شوې ده؛ نو بېرته له سره تقسیم کول شرعاً روا دي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الرؤف .... ۱۹۶۹م / ۶ / ۲۴/

جواب: په تقسیم کې د غلطی ثابتېدو وروسته له نوي سره بل تقسیم کول روا دي او که د تقسیم په غوښتنه کې ځنډ وشي؛ نو دعوې ته هیڅ زیان نه رسوي، والدليل على الأمر الأوّل (ما فى الخلاصة الفتاوى ۲: ۲۱۰) وفى الأصلِ دعوى الغلط فى القسمة على ثلثة أوجه ، الثانى لو قالَ نصيبى النصفُ و ما وصلَ الى الا الثلث و الباقى فى يدك و أنكرَ الآخرُ تحالفاً و ترادا كالبيعِ﴿۲﴾، وفى الخانية على هامشِ الهندية ۳: ۱۹۰، ثمّ الغلطُ فى القسمة على وجوهٍ منها أنْ يكونَ الخصومةُ فى القبض فقالَ أحدهما لم أقبضْ حقى وقالَ الآخرُ

﴿۱﴾و فى شرح المجلة :قسمة الرضا القسمة التى تجرى بين المتقاسمين فى الملك المشترک بالتراضى او برضى الكل عند القاضى ......فلو قسم القاضى بطلب جميع الشركاء كانت قسمة رضا .

(شرح المجلة ۴: ۵۸،المادة ۱۱۲۱)

﴿۲﴾(خلاصة الفتاوى ۴: ۲۱۰،الفصل الثانى فى دعوى الغلط فى القسمة)

قبضته فانهما يتحالفان ويترادان القسمة لأن القبض له شبة بالعقد ﴿۱﴾وفى الهندية ۵: ۲۵۳، قاسم قسم داراً بين رجلين وأعطى أحدهما أكثر من الآخر غلطاً ، وبنى أحدهما فى نصيبه قال (محمد) يستقبلون القسمة فمن وقع بناءه فى قسم غيره رفع بناءه و لا يرجعان على القاسم بقيمة البناء و لكنهما يرجعان بالأجر الذى أخذه كذا فى الظهيرية﴿۲﴾وفى البدايع ۷: ۲۶: و أما صفات القسمة فأنواع، منها أن تكون عادلة غير جائرة الى أن قال فاذا وقعت جائرة لم يوجد التراضى ولا افراز نصيبه بكماله لبقاء الشركة فى البعض فلم تجز وتعاد و على هذا اذا ظهر الغلط فى القسمة المبادلة بالبينة بالاقرار تستأنف لأنه ظهر أنه لم يستوف حقه فظهر أن معنى القسمة لم يتحقق بكماله ﴿۳﴾وفى مبسوط السرخسى ۱۴: ۹۴ ، اذا قسم القوم أرضاً ميراثاً بينهم أو شركاء وتقابضوا ثم ادعى أحدهم غلطاً فى القسمة فانه لا يشتغل باعادة القسمة بمجرد دعواه ولكن ان أقام البينة على ذلك فقد أثبت دعواه بالحجة فتعاد القسمة بينهم حتى يستوفى كل ذى حق حقه لأن الخ بالاختصار﴿۴﴾(و فى تكملة البحر الرائق) قسم القسام الدار فاعطى أحدهم أكثر من حقه غلطاً وبنى فيها فانهم يستقبلون القسمة فان وقع البناء فى قسم غيره دفع نفقته و لا يرجع على القاسم﴿۵﴾

﴿۱﴾(الفتاوى الخالية على هامش الهندية ۳:۱۵۳، كتاب القسمة)

﴿۲﴾(الفتاوى الهندية ۵:۲۲۸،الباب الحادى عشر فى دعوى الغلط فى القسمة)

﴿۳﴾(بدائع الصنائع ۵:۲۷۵كتاب القسمة :صفات القسمة)

﴿۴﴾(مبسوط السرخسى ۱۵ :۶۴باب دعوى الغلط فى القسمة)

﴿۵﴾(تكملة البحر الرائق ۸:۱۵۲ كتاب القسمة)

والدلیلُ علی الأمرِالثانی مافی الأشباه((أنَّ الحقَّ لایسقطُ بتقادمِ الزمان))﴿۱﴾ رواه فی رد المحتار ۴: ۴۷۶، وفیه أیضاً الثانی أنَّ النهی حیثُ کانَ للقاضی لا ینافی سماعها من المحکمِ﴿۲﴾(وفیه ۵: ۶۴۹) ثمَّ اعلمْ أنَّ عدمَ سماعها (عند رؤیة التصرف و تأخیر الدعوی) لیسَ مبنیاً علی بطلانِ الحقِّ حتی یـردَ أنَّ هذا قولٌ مهجورٌ لأنه لیس ذلك حکماً ببطلانِ الحقِّ و انما هو امتناعٌ مـن القضاةِ الخ﴿۳﴾(قلتُ انَّ المحکومَ لیسَ بممنوعٍ)نو نتیجه دا شوه چې د غلطی د ثبوت وروسته بیا تقسیم جائز دی وهو الموفق

د هلاکېدو وروسته په پاتې مال کې به د برخو په سر تقسیم کیږي

د شفوي سوال خواب دی:

جواب: باسم ملهم الصواب: روښانه دي چې د حاجي محمد عیسی خان، عبد الله خان، عبد الرحمن او نواب ده داسې ؤ چې هر یو ملګري یې یو - یو لك درهمه او عبد الرحمن -نواب دوی یکښې څلور - څلور لکه دراهمه جمع کړه، عبد الرحمن او نواب به سودا اخیستل، څلور لکه د عام شراکت او اته لکه یې د خصوصي شرکت لپاره پریښودې، ددې وروسته ځینې سودا حکومت ونیول، ځینې مالونه هلاك شوه او ځینې نور یې پاتې دي، کوم چې پاتې وه هغه مو په دولسو برخو تقسیم کړه، پنځه برخې عبد الرحمن واخیستلې او پنځه برخې نواب، پاتې یوه برخه یې حاجي محمد عیسی خان او بله برخه یې عبد الله خان واخیسته

د پلار د تقسیم نه پنځوس کاله وروسته د زامنو د عین دعوه د اورېدو قابله نه ده

سوال: د دین عالمان او مفتیان د دې مسئلې په اړه څه وایي چې کهٔ د دوه سرو تر منځ د پنځوسو

﴿۱﴾(الأشباه والنظائر ۳۲۲: کتاب القضاء والشهادات والدعاوی)
﴿۲﴾(رد المحتار ۴: ۳۸۱ مطلب هل یبقی النهی بعد موت السلطان)
﴿۳﴾(ردالمحتار ۵: ۵۲۳ مسائل شتّی)

کالو مخکې یوه څمکه تقسیم شوې وي؛ څو اوس پنځوس کاله وروسته د یوې ډلې زامن یې دا دعوه لري چې ستا برخه زیاته او زما د کمه ده. ایا د داسې دعوه کوونکي دعوه د اوریدو وړ ده؟ بینوا توجروا

المستفتي ډاکټر ظهور محمد دیر .... ۱۹۸۳ م / اګست / ۳۱/

جواب: په شرط ددې چې مستفتي رښتونی وي:﴿۱﴾نو دا دعوه د اوریدو قابله نه ده، وهو الموفق .


﴿۱﴾وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : إذا كان المدعى ناظرًا او مطلعا على تصرف المدعى عليه لا تسمع الدعوى على ورثته، و كذا لو مات المدعى لا تسمع دعوى ورثته...... باع عقاراً أو حيوانا أو ثوبا و إبنه أو امرأته او غيرهما من أقاربه حاضر يعلم به، ثم ادعى الإبن مثلاً انه ملكه لا تسمع دعواه و جعل سكوته كالإفصاح قطعا للتزوير والحيل.


(فتاوى تنقيح الحامدية ۲ : ۳، كتاب الدعوى)

وفى الخانية: دعوى الغلط إنما تسمع إذا لم يقر بالاستيفاء أما إذا أقر بالاستيفاء لا تسمع دعوى الغلط والغبن.

(الفتاوى الخانية على هامش الهندية ۳: ۱۵۴، كتاب القسمة)

و فى ردالمحتار :رجل تصرف زمانا فى أرض و رجل آخر يرى الأرض والتصرف و لم يدع و مات على ذلك لم تسمع بعد ذلك دعوى ولده فتترك على يد المتصرف .(ردالمحتار ۵: ۵۴۴مسائل شتّى)


الله
الله
فتاوی فریدیہ جلد اتم
کتاب المزارعة



إنّ النّبیّ
صلی اللّٰہ علیہ وسلّم
عامل أھل خیبر علی نصف ما یخرج
من ثمر و زرع.

(متفق علیہ)

كتاب المزارعةِ

اِنَّ النبيَّ صلى الله عليه وسلمَ عاملَ اَهلَ خيبرَ على نصفِ ما يخرجُ منْ ثمرٍ اَوْ زرعٍ (متفقٌ عليه)

د زراعت ګټي

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د زراعت ګټي څه دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: احسان الحق رائی وند..... ۱۳۹۸ هـ/ ۹/ ۳/

ځواب: د زراعت ګټي د بخاري شريف په شروحاتو کې شته، ټولي ګټي راته يو ځاى نه دي تيري شوي، ﴿۱﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ عن انس رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ ما من مسلم يغرس غرسا أو يزرع زرعا فيأكل منه طير أو انسان أو بهيمة إلا كان له به صدقة.

وقال العلامة بدر الدين العينى رحمه الله تعالى: ذكر ما يستفاد منه: فيه فضل الغرس والزرع واستدل به بعضهم على أن الزراعة أفضل المكاسب..... فحيث كان الناس محتاجين إلى الأقوات أكثر، كانت الزراعة أفضل للتوسعة على الناس..... وفيه حصول الأجر للغارس والزارع وإن لم يقصدا ذلك حتى لو غرس وباعه أو زرع وباعه كان له بذلك صدقة لتوسعته على الناس في أقواتهم.

(عمدة القارى ۱۲: ۱۵۵، كتاب المزارعة، باب فضل الزرع والغرس إذا أكل منه)

وقال العلامة ابن حجر: وحمل حديث الباب على اتخاذها للكفاف أو لنفع المسلمين بها وتحصيل ثوابها وفي رواية لمسلم إلا كان له صدقة إلى يوم القيامة ومقتضاه ان اجر ذلك يستمر مادام الغرس أو الزرع مأكولا منه.

(فتح البارى ۵: ۴ كتاب الحرث والمزارعة، باب فضل الزرع والغرس الخ)

د کلي د ضرورت سره - سره بل شی کرل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د یوې ځمکې مالك په خپله ځمکه کې تمباکو کري. په داسې حال کې چې ددغه ځای ټول خلك غلې ته اړتیا لري؛ نو ایا د تمباکو کرل جائز دي؟ بینوا توجروا
المستفتي: صوفي عبد الرحمن. ډاکخانه بانیان بټگرام هزاره..... ۱۳۸۷ هـ/رجب/ ۳/

جواب: په شریعت کې د ځمکې مالك ته اختیار دی؛ خو خلکو ته د خدمت او خیر رسولو تقاضا بیا دا ده چې د خلکو څه ته ضرورت وي هغه شی وکرل شي.﴿۱﴾ وهو الموفق.

عمل او تخم په مزارع باکلو سره زراعت فاسدیږي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې یو سړی بل ته ووایي: یو غويی. او دوه برخې تخم به زه درکړم او یوه برخه تخم به ستا وي او کوم پیداوار چې وکړي. دوه برخې به زما او یوه برخه به ستا وي، د مزارعت دا صورت صحیح دی او که نه؟ بینوا توجروا
المستفتي: حافظ محمد شفیع مدرس مدرسه نجم المدارس کلاچی ډیره اسماعیل خان.... ۱۴۰۲ هـ/ شعبان / ۸/

جواب: د مزارعت دا صورت فاسد دی، ځکه چې د کوم علت له امله عمل او تخم په مزارع باکلو سره عقد فاسدیږي؛ نو دغه راز په مزارع باندې عمل او بعض تخم باکلو سره هم دا عقد فاسدیږي، كما في الهندية ۵: ۲۳۸: و أمّا الثلاثة الفاسدة فأحدها أنْ تكونَ الأرض والبقرُ من أحدهما والباقي من الآخرِ فذلك فاسدٌ ، وعنْ أبي يوسفَ رحمه الله أنه يجوزُ لمكان العرف ،

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: والذى استقر عليه رأى المتأخرين أن الإنسان يتصرف في ملكه وإن أضر بغيره مالم يكن ضررًا بيّنًا.
(ردالمحتار ۵: ۱۹۱ قبيل كتاب المزارعة)

والفتوى على ظاهرِ الروايةِ لأنَّ منفعةَ الأرضِ لا تجانس منفعةَ البقرِ .... فاذا لم تكن منفعةُ البقرِ من جنسِ منفعة الأرضِ لا يكونُ البقرُ تبعاً للأرضِ فيبقى استيجار البقرِ مقصوداً بشيءٍ من الخارجِ وذلك فاسدٌ﴿١﴾ فافهمْ . وفى الخانيةِ : فانْ كانتِ الأرضُ لأحدهما وشرطا أنْ يكونَ البذرُ منهما انْ شرطا العملَ على غيرِ صاحبِ الأرضِ و شرطا أنْ يكونَ الخارجُ بينهما نصفينِ كانت فاسدةً (الفتاوى الخانية على هامش الهندية ۳: ۱۷۷)﴿۲﴾والله أعلمُ.

مزارع مالک ته د ټاکلي برخې ورکولو نه د انکار په صورت کې د مزارعت حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې څلوېښت کناله ځمکه د يو مزارع په لاس کې ده، د ځمکې مالك دا ځمکه د يو سړي نه اخيستې وه، هغه به د مزارع نه يو سل شل روپۍ (۱۲۰) اجاره اخيستله، اوسني مالك مزارع ته خبر ورکړ چې زما او ستا معامله به نيم په نيمه وي، مزارع ورسره ومنل، څلور کاله کيږي چې مزارع يې نه مني، د ځمکې مالك د خپلې ځمکې غوښتنه کوي او وايي چې ماته مې د ځمکې په پيداوار کې نيمايي برخه راکړه! مزارع ددې خبرې نه انکار کوي او نه هم مالك ته ځمکه

﴿۱﴾(الفتاوى الهندية۵ :۲۳۸، الباب الثانى فى بيان أنواع المزارعة)

﴿۲﴾ (الفتاوى الخانية على هامش الهندية ۳: ۱۷۷، كتاب المزارعة)

وفى الفتاوى الكاملية: سئلت عمن دفع أرضه إلى آخر ليزرعها بنفسه وبقره ونصف البذر منه والنصف الآخر من العامل والمتحصل بينهما نصفين وعمل العامل على ذلک فهل لا تكون هذه المزارعة صحيحة؟ فالجواب نعما لا تكون صحيحة بل هى فاسدة.

(الفتاوى الكاملية ۲۳۳ كتاب المزارعة)

سپاري، بلکې وايي چې په پخوانی طريقې به عمل وکړو، هغه دا چې ته به هم زما نه يو سل شل روپۍ واخلې او بس؛ ددې معاملې د فسخ کېدو له امله د مزارع لرې کول روا دي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم..... ۱۹۷۷م / ۹ / ۷/

جواب: د مستفتي د بيان سره سم زړه اجاره د طرفينو په خوښه ختمه شوه او د مزارعت عقد لازم شو، دا چې مزارع يو بزگر وي؛ نو دا عقد هم له هغه وخته ختم شوی چې د ځمکې مالك ورته ځواب ورکړی ؤ، د هغې وروسته تر اوسه پورې دا مزارع غاصب گڼل کيږي او په هغه باندې اجر مثل ورکول لازم دي، «۱» دغه راز د مزارعت نه لرې کېدل په ده واجب او فرض، مخالفت يې حرام دی. «۲» وهو الموفق.

د ځمکې د ساتنې او د مالك د خدمت په شرط د مزارعت حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زموږ په خوا کې داسې رواج دی چې کله څوك خپله ځمکه چاته په زراعت ورکوي؛ نو د ځمکې او مالك دواړو ساتنه په مزارع باندې فرض ده. د ځمکې نيم پيداوار به مالك ته ورکوي او نيم به مزارع ته، د ثلث او ربع لپاره نور شرطونه دي،

«۱» وفي الهندية: وسئل شيخ الإسلام عطاء بن حمزة عمن زرع أرض إنسان ببذر نفسه بغير إذن صاحب الأرض هل لصاحب الأرض أن يطالبه بحصة الأرض؟ قال نعم ان جرى العرف في تلك القرية أنهم يزرعون الأرض بثلث الخارج أو ربعه او نصفه او بشئ مقدر شائع يجب ذلك القدر الذى جرى به العرف.

(الفتاوى الهندية ٥: ١٤٤ كتاب الغصب، الباب العاشر في زراعة الأرض المغصوبة)

«۲» وفي شرح المجلة: ليس للمستاجر استعمال الماجور بعد انقضاء الإجارة إلا بإذن صاحبه فلو فعل كان غاصبًا...... ولو انقضت الإجارة واراد الآجر قبض ماله يلزم المستاجر تسليمه إياه. (شرح المجلة ٢: ٢٩٣، المادة: ٥٩٢، ٥٩٣)

اوس که مزارع نیمه برخه واخلي او د مالك خدمت نه کوي؛ نو ایا دا عقد به صحیح وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: مشرف خان ۱۹۷۴م/۴/۳/

جواب: دا معامله حرامه ده، ځکه چې دا مزارعت فاسده دی، والعقودُ الفاسدةُ في حكمِ الربوا كما صرحوا به﴿۱﴾، وفي الدرالمختارِ: والمزارعةُ والمعاملةُ لأنهما اجارةٌ، وفي رد المحتارِ ۴: ۲۲۷ فيكونان معاوضة مال بمالٍ فيفسدانِ بالشرط الفاسدِ و لا يجوزُ تعليقهما بالشرطِ﴿۲﴾انتهى بقدر الضرورة. وهوالموفق.

د مسافرو او یتیمانو سره شریکه ځمکه د ځیلې برخې نه زیاته کرل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د یو قوم ډېره ځمکه ده؛ خو زموږ په قوم کې هم لکه د نورو قومونو مسافر او یتیمان شته او د قوم ځیني نور خلك چې همدلته اوسیږي د خپلې ځمکې سره - سره د هغوی ځیني ځمکه کري؛ نو ایا ددې دهقانانو لپاره ددې کښت څخه د غلې یا دانو نه کټه اخیستل روا دي او که ناروا؟ بینوا توجروا

﴿۱﴾وفي حاشية شرح الوقاية: وكل أنواع الربوا في لحصنا بلغت السبعة كما في تطهير الأموال...... وربما الفساد كما في البيوع الفاسدة.

(تكملة عمدة الرعاية على هامش شرح الوقاية ۳: ۲۳، باب الربوا، حاشيه: ۱)

﴿۲﴾(الدرالمختار مع ردالمحتار ۴: ۲۵۳ ما يبطل بالشرط الفاسد ولا يصح تعليقه به)

وفي الهندية: والأصل أن صاحب الأرض مع المزارع إذا شرط في عقد المزارعة شرطًا فاسدًا ينظر إليه إن كان في الشرط فائدة لأحدهما فهو على وجهين إن كان الشرط داخلًا في صلب العقد...... فإن المزارعة تفسد بهذا الشرط ولا تعود جائزة.

(الفتاوى الهندية ۵: ۲۴۵، الباب الثالث في الشروط في المزارعة)

المستفتي: عبد الستار بلوچي د دار العلوم حقانیه زده کوونکی ۱۴۰۱

هـ / ربیع الثانی / ۱۴/

جواب: که دا ځمکه شرعاً شریکي ملك وي؛ نو د مزارعینو لپاره د خپلي برخې نه د زیاتي ځمکې کرلو پرمهال د پیداوار نه یې ګټه اخیستل ناروا دي، ﴿۱﴾ که دا ځمکه د موات د قبیل څخه وي او عرفي شریکي ځمکه وي بیا یې په کرلو کې ګناه نشته ﴿۲﴾ وهو الموفق .

د حکومت په اجازه د شاملاتو ځمکه کرل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زما د ځمکې سره نژدې د شاملاتو ځمکه ده چې څوك یې د پوښتنې نشته. ایا زه یې د خپلې ځمکې د کرلو پرمهال یو ځای کړلای شم او که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتي: نامعلوم ..... ۱۹۷۹ م / جولائی / ۱۵/

جواب: د حکومت په اجازه ددې ځمکې کرل جائز دي. په دې شرط چې حکومت

﴿۱﴾ وفی شرح المجلة: كلّ من الشركاء في شركة الملك أجنبي في حصة سائرهم فليس أحدهم وكيلا عن الآخر ولا يجوز له أن يتصرف في حصة شريكه بدون إذنه.

(شرح المجلة ۶۰۱، المادة: ۱۰۷۵)

﴿۲﴾ وفي شرح المجلة: من أحيى أرضا من الأراضي الموات بالإذن السلطاني صار مالكا لها وإن أذن السلطان أو وكيله لرجل بإحياء أرض على أن لا يتملكها بل لمجرد الانتفاع بها، فلذلك الرجل يتصرف بتلك الأرض كما أذن له ولكنه لا يكون مالكا لها.

(شرح المجلة ۲۸۸، المادة: ۱۲۷۲)

اعتراض ونه لري، یدلُّ علیه ما فی رد المحتار ۵: ۳۸۱ ﴿۱﴾ وهو الموفق .

د حکومت د زرعي اصلاحاتو حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې ایا دا زرعي اصلاحات د قرآن او یا حدیث څخه ثابت دي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد ایاز خان قریشي محله، قریشیان اکوړه خټک ..... ۱۹۸۴م / اپریل / ۲۸/

جواب: غالبه دا ده چې زرعي اصلاحات ﴿۲﴾ د شریعت سره ټکر لري

وهو الموفق

په مالک او مزارع دواړو باندې د تراکتور (ټریکټر) خرچه مثل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زموږ په ځای کې د ځمکو د کرلو دا رواج وي چې غوبې او تخم د ځمکې د مالک وي او عمل یوازې د بزګر (مزارع) وي او کوم پیداوار چې لاس ته راځي؛ نو دوه برخې یې د مالک او یوه برخه د بزګر وي، او س په پوره ته صورت کې یو بل رواج

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: وفی الملتقی: أرض لا ینتفع بها عادية أو مملوكة فی الإسلام لیس لها مالک معین مسلم أو ذمی ...... ملکها جواب قوله إذا أحيا أی ملک رقبة موضع احیاه دون غیره ...... إن أذن له الإمام فی ذلک وقالا یملکها بلا إذنه وقول الإمام هو المختار ولذا قدمه فی الخانية والملتقی کعادتهما وبه أخذ الطحاوی وعلیه المتون. (ردالمحتار ۵: ۳۰۶، ۳۰۷ کتاب إحیاء الموات)

وفی شرح المجلة: من أحیی أرضا من الأراضی الموات بالإذن السلطانی صار مالکا لها. (شرح المجلة ۲۸۸ الفصل الخامس فی إحیاء الموات)

﴿۲﴾ د زرعي اصلاحاتو څخه د پاچا بهټو زرعي اصلاحات مراد دي چې د مالک د خوښې پرته د هغه ځمکه پردي دهقان ته ورکړي (مفتي سیف الله حقاني)

بیا داسې هم جوړ شوی دی چې نن سبا خلك د غوبې په ځای تراکتور راولي؛ نو په هغې کې دوه برخې خرچه مالك ورکوي او یوه برخه خرچه یې بزګر ورکوي، په دې صورت کې د تراکتور چې کوم رواج دی ایا شرعاً دا معتبر دی او که نه؟ که دا ناجائز وي؛ نو د تراکتور د استعمالولو کوم صورت جائز کېدای شي؟بینوا توجروا

المستفتي: مولوي محمد صدیق ۱۹۸۶م/ ۹/ ۶/

جواب: په کومو ښارونو کې چې د ځمکې د اړولو بغیر د فصل خوند نه وي، هلته بیا اړول په مزارع باندې لازم دی. کما یدل علیه مافی الهندية۵: ۲۳۷ ﴿۱﴾ خو کله چې د عقد په وخت کې غوا د ځمکې په مالك لازمه شوه؛ نو د غوبې په ځېر د تراکتور خرچه هم په ده باندې لازمه ده، یدلُ علیه مـا في الهندیة ۲۴۰: ۲۴۴؛ نو په مزارع باندې د تراکتور بعض خرچه راوستل عقد فاسدوي ﴿۲﴾ وهو الموفق.

یادونه: زموږ سناسو د ښارونو مزارعت نه صحیح شراکت او نه هم صحیح مزارعت دی. والله أعلمُ

﴿۱﴾ وفي الهندية: ومنها ولاية جبر المزارع على الكراب وعلمها وهذا على وجهين إما إن شرط الكراب في العقد أو سكتا عن شرطه، فإن شرطاه يجبر عليه وإن سكتا عنه ينظر إن كانت الأرض مما تخرج الزرع بدون الكراب زرعا معتادا يقصد مثله في عرف الناس لا يجبر المزارع عليه، وإن كانت لا تخرج أصلا أو تخرج شيئا قليلاً لا يقصد مثله بالعمل يجبر على الكراب. (الفتاوى الهندية ۵: ۲۳۷ كتاب المزارعة ، الباب الأول)

﴿۲﴾ وفي الهندية: وفي كل موضع لم تفسد المزارعة إذا شرط البقر على أحدهما لا تفسد المزارعة إذا شرط استيجار البقر على أحدهما، وإن شرط في المزارعة عقد آخر وهو استيجار البقر فيكون صفقةً مشروطةً في صفقة...... وأما إذا شرطت الدابة على أحدهما والعلف على غير صاحبها فهي فاسدة كذا في محيط السرخسي. (الفتاوى الهندية ۵: ۲۴۰، ۲۴۴، الباب الثاني في أنواع المزارعة، الباب الثالث في الشروط في المزارعة)

د حکومت د زرعي اصلاحاتو د قانون مطابق د یوه سړي زیاته ځمکه لاندې کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې که پلار خپلو بچیانو ته هبه وکړي او قبضه هم ورکړي او د ځمکې ګټه هم بچیان خوري ایا دا د دوی لپاره جائز دي او که ناجائز؟ دغه راز د موجوده قانون سره سم که پلار د ځمکې تقسیم کړی وي او د زرعي اصلاحاتو د قانون مطابق د هغه سره یوازې د هغه خپله ځمکه وي؛ خو یاد قانون دی د مجرم په توګه جرمانه کړي او دده نوره زیاتي ځمکه چې د زامنو ملکیت یې دی هغه هم قبضه کړي او په جرمانه کې یې حساب کړي، ایا د حکومت لپاره دا جائز دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد ایاز خان قریشي محله، قریشیان اکوړه خټک..... ۱۹۸۴ م/ اپریل/ ۸/

جواب: پلار د ځمکو مالک دی، دده هبه او دغه راز بل څوک یې مالک جوړولای شي، ﴿۱﴾ برابره خبره چې په خوله وي او که د لیکلو په صورت کې وي؛ خو دومره ده چې د تقوی له لحاظه د ځینو تصرفاتو څخه پلار هم منع دی، ﴿۲﴾ په هر حال کوم قانون چې د پلار د شرعي تصرفاتو لاره بندوي؛ نو دغه قانون بدلېدلای شي، دا اسلامي اصول نه دي. ﴿۳﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: وشرائط صحتها في الواهب العقل والبلوغ والملك. (الدر المختار ۴: ۵۶۷ كتاب الهبة)

﴿۲﴾ وفي الهندية: رجل وهب في صحته كل المال للولد جاز في القضاء ويكون آثما فيما صنع كذا في فتاوى قاضي خان. (فتاوى هندية ۴: ۳۹۱، الباب السادس في الهبة للصغير)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدين: وليس للإمام أن يخرج شيئا من يد أحد إلا بحق ثابت معروف. (ردالمحتار ۳: ۲۸۱ مطلب ليس للإمام أن يخرج شيئا من يد أحد)

وفي شرح المجلة: لا يجوز لأحد ان يأخذ مال...... (بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

د مزارعت په ځمکه کې د مزارع د لاس کښېنول شوو ونو حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې يو مالك بزګرته د کرلو لپاره ځمکه ورکوي او وايي چې زما خدمت به کوې او ددې ځمکې چې څومره پيداوار وي هغه يې ستا، په ديکښې د ځان لپاره کور جوړ کړه او ونې ولګوه؛ د وخت په تېرېدو سره د ځمکې مالك د بزګر نه خپله ځمکه بېرته اخلي او غواړي چې د کور په لرګيو او ونو باندې هم قبضه وکړي، د مزارع د خوارۍ هيڅ بدله نه ورکوي او نه هم څه مزدوري ورکوي، په دې اړه مو په شرعي فتوى باندې ونازوئ؛ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي عبد الكريم باجوړ ايجنسى

جواب: دا مزارع د لرګيو او ونو مالك دى. د ځمکې په مالك باندې فرض دي چې بزګر ته مزدوري ورکړي او يا هم څه برخه ورکړي. ﴿۱﴾وهو الموفق .

(بقيه حاشيه) أحد بلا سبب شرعي اى لا يحل في كل الأحوال وذلك كالغصب والسرقة...... فمن تناول مال أحد بإحدى هذه الطريق فهو ظالم غاصب يجب عليه رده قائمًا او مثله أو قيمته هالكًا. (شرح المجلة ۱:۲۶۳، ۲۶۵، المادة:۹۷)

﴿۱﴾قال العلامة سليم رستم باز: لو أحدث المستاجر بناء في العقار الماجور أو غرس شجرة فالآجر مخير عند انقضاء مدة الإجارة إن شاء قلع البناء والشجرة وإن شاء أبقى ذلك وأعطى قيمته كثيرةً كانت أو قليلةً. (شرح المجلة ۲۹۰، المادة: ۵۳۱)

وقال العلامة الحصكفي: وتصح إجارة الأرض للبناء والغرس...... فإن مضت المدة قلعهما وسلمها فارغة إلا أن يغرم له المؤجر قيمته أى البناء والغرس...... ويملكه أو يرضى المؤجر بتركه أى البناء والغرس فيكون البناء والغرس لهذا والأرض لهذا، مختصرًا.

(الدر المختار ۴:۲۰، ۲۱، كتاب الإجارة)

تخم او مزدوري په عامل باندې ناکل

سوال: دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زيد خپله ځمكه بكر ته په مزدوری باندې ورکړه، هغه داسې چې تخم او مزدوري به په بكر باندې وي، زيد ته به يوازې د پيداوار د نيمه برخه ورکوي. ايا د مزارعت دا صورت جائز دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: (تنگ اسلاف) صلح الدين د دارالعلوم حقانيه زده كوونكی .....
۱۴۰۲ هـ / ربيع الأول/ ۱/

جواب: دا صورت جائز دی، لما ف رد المحتار ۵: ۲۴۲: أرضٌ وبذرٌ كذا أرض كذا عمل منْ واحدٍ ذی ثلاث كلها قبلتْ﴿۱﴾ وهوالموفق .

غويی او مزدوري په مزارع او تخم نيم په نيمه اچول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زيد خپله ځمكه بكر ته په دې شرط وركړه چې غويی او مزدوري به ته وراچوې او تخم به نيم په نيمه وي، پيداوار به هم نيم ستا او نيم به زما وي. ايا دا صورت جائز دی؟ بينوا توجروا

المستفتي (تنگ اسلاف) صلح الدين د دارالعلوم حقانيه زده كوونكی .....
۱۴۰۲ هـ / ربيع الأول/ ۱/

جواب: دا د مزارعت فاسده صورت دی، رد المحتار ۵: ۲۴۴﴿۲﴾ وهوالموفق .

﴿۱﴾ (ردالمحتار ۵: ۱۹۵، كتاب المزارعة)

وفی الهندية: فاحدها أن تكون الأرض من احدهما والبذر والبقر والعمل من الآخر وشرطا لصاحب الأرض شيئاً معلوماً من الخارج جاز.

(فتاوی هندية ۵: ۲۳۸، كتاب المزارعة، الباب الثانی فی بيان أنواع المزارعة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفی رحمه الله تعالیٰ: دفع رجل أرضه إلی آخر علی أن يزرعها بنفسه وبقره والبذر بينهما نصفان والخارج بينهما كذلك ...... (بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

په مزارعت کې خرج شوي روپۍ نيم په نيمه تقسيمول

سوال: د دين عالمان او مفتيان د دې مسئلې په اړه څه وايي چې په مزارعت کې د مزارع او د ځمکې د مالك نه چې کومې روپۍ مصرف شوي دي؛ نو نيم په نيمه تقسيم به يې څنګه دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد اسحاق کوهستاني ..... ۱۹۷۲م / ۷ / ۱۸/

جواب: که دا شرط يې لومړی لګولی وي؛ نو دا د فاسد مزارعت صورت دی، که د اول نه شرط شوی نه وي، بلکې غير معروف وي بيا جائز دی، يدلُّ عليه الأصل المذكور في الهندية (۵: ۲۷۲) ﴿۱﴾ فقط.

د ځمکې د مالك په مرګ د مزارع نه ځمکه اخيستل

سوال: د دين عالمان او مفتيان د دې مسئلې په اړه څه وايي چې د محمد شريف تره او پلار يې

(بقيه حاشيه) فعملا على هذا فالمزارعة فاسدة.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله على أن يزرعها) أى الآخر وكذا الضميران بعده فالمزارعة فاسدة لما سيذكر من اشتراط الإعارة.

(ردالمحتار مع الدر المختار ۵:۱۹۷، كتاب المزارعة)

﴿۱﴾ وفي الهندية: وأما الشروط المفسدة للمزارعة فأنواع..... ومنها شرط البقر عليه ومنها شرط الحصاد والرفع إلى البيدر والدياس والتذرية والأصل أن كل ما يحتاج إليه الزرع قبل إدراكه وجفافه مما يرجع إلى إصلاحه من السقي والحفظ وقلع الحشاوة وحفر الأنهار ونحوها فعلى المزارع وكل عمل بعد تناهي الزرع وإدراكه وجفافه قبل قسمة الحب مما يحتاج إليه لخلوص الحب وتنقيته يكون بينهما على شرط الخارج وكل عمل يكون بعد القسمة من الحمل إلى البيت ونحوه مما يحتاج إليه الإحراز المقسوم فعلى كل واحد في نصيبه. (فتاوى هندية ۵:۲۳۷ كتاب المزارعة، الباب الأول)

حاجي مهربان ته د کرلو لپاره ځمکه ورکړې وه، اوس محمد ابراهيم چې د حاجي مهربان زوی دی هغه ځمکه کړي، اوس زه غوارم چې دده نه خپله ځمکه بېرته واخلم؛ نو په شريعت کې زما لپاره څه حکم دی؟ زه محمد ابراهيم په ځمکه باندې همداسې پرېږدم، که مزدوري ترې واخلم او که بې مزدوری يې پرېږدم؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم

جواب: که دا ځمکه ستا پلار حاجي مهربان ته په اجاره ورکړې وي او اوس ستا پلار او تره مړ شوی وي؛ نو د هغوی په مرګ سره هم دا عقد نور خلاص شو، که ته او ستا وارثان دده ته په مزارعت باندې خوشحاله نه يئ؛ نو خپله ځمکه ترې بغير د مزدوری او څه خبرو اخيستلای شئ، په شرط ددې چې کښت رسېدلی وي او که کښت لا کچه وي؛ نو تر پخېدو پورې به انتظار ورته کوئ؛ نو بيا به عقد مزارعت پای ته ورسيږي، لما في الدرالمختار: بخلاف ما لوْ ماتَ أحدهما قبلَ ادراك الزرعِ حيث يكونُ الكلُّ على العاملِ أوْ وارثه لبقاء العقد استحسانا«۱» که دا ځمکه عاريتاً (سوالي) ورکول شوې وي، د کښت د کرلو نه دي وړاندې ترې نه اخلي، په مستعير (دهقان) باندې لازم دي چې اوس دي د ځمکې مالك ته روپۍ ورکړي او د پخولو تر وخته پورې دي خپل کښت پرېږدي، لما في الدرالمختار: ولوْ استعارها ليزرعها لمْ تؤخذْ منهُ قبل أنْ يحصد الزرع وقتها أوْ لا فترك بأجر المثل مراعاة للحقين«۲» فقط.

«۱» (الدرالمختار ۵: ۱۹۷، کتاب المزارعة)

وفي الهندية: إذا دفع الرجل إلى رجل أرضا مزارعة والبذر من قبل المزارع فمات رب الأرض بعد ما نبت الزرع قبل أن يستحصد فالقياس أن تنقض المزارعة ولورثة رب الأرض أن يأخذوا أرضهم وفي الإستحسان يبقى العقد إلى أن يستحصد الزرع ولا يجب إجارة مبتداة. (فتاوی هندية ۵: ۲۵۴، الباب التاسع فيما إذا مات رب الأرض الخ)

«۲» (الدرالمختار ۴: ۵۶۳ كتاب العارية)

وفي الخانية: ولو أن رجلا أعار أرضا ليزرعها......(بقیه حاشیه اگلے صفحه پر)

په مزارعت کې مزارع د ځمکې د مالک نه د قرض اخیستلو شرط لګول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زموږ په ځایونو کې داسې رواج دی چې مزارع د ځمکې د مالك نه تقریباً لس زره (۱۰۰۰۰) روپۍ قرض اخلي، ددې لپاره چې په مزارع د کومو خلکو قرض هغه ورته ادا کړي او یا هم د کښت لپاره د غوا او یوې غم وکړي، مزارع بیا دا روپۍ د ځمکې مالك ته هغه وخت ورکوي چې دی مزارعت پرېږدي؛ نو ایا ددې روپو اخیستل او ورکول روا دي او که ناروا؟ بینوا توجروا

المستفتي: ملا عبید الله تحصیل و ډاکخانه دوکی ضلع لورالائی بلوچستان..... ۱۹۹۹م / ۳ / ۲۱/

جواب: که دا شرط د عقد په منځ کې لګول شوی وي یا مشهور وي؛ نو دا عقد بیا فاسد دی. ﴿۱﴾ وهوالموفق.

(بقيه حاشيه) وقت لذلك وقتاً أولم يوقت فلما تقارب الحصاد أراد أن يخرج المستعير في القياس له ذلك، وفي الاستحسان لا يكون له ذلك حتى يحصد الزرع فيترك الأرض في يده إلى الحصاد بالأجرة.

(فتاوى قاضي خان على هامش الهندية: ۳:۳۸۳، فصل فيما يضمن المستعير)

﴿۱﴾ وفي الهندية: والأصل أن صاحب الأرض مع المزارع إذا شرطا في عقد المزارعة شرطًا فاسدًا ينظر إليه إن كان في الشرط فائدة لأحدهما فهو على وجهين، إن كان الشرط داخلا في صلب العقد...... فإن المزارعة تفسد بهذا الشرط ولا تعود جائزة.

(فتاوى هندية ٥:۲۳٥، الباب الثالث في الشروط في المزارعة)

وقال العلامة الحصكفي: والمزارعة والمعاملة أي المساقاة لأنهما إجارة، (الدر المختار)

وفي ردالمحتار: (قوله لأنهما إجارة) فيكونان معاوضة مال بمال فيفسدان بالشرط الفاسد ولا يجوز تعليقهما بالشرط. (ردالمحتار ۳:۲٥۳ مايبطل بالشرط الفاسد ولا يصح تعليقه به)

وفي شرح المجلة: المعروف عرفًا كالمشروط شرطًا.

(شرح المجلة ۱:۱۰۰، المادة:۴۳)

د تمباکو د کرلو حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د تمباکو د کرلو څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: حاجي عبد الله چارسده ..... ۱۴۰۲ هـ / ذی الحجه / ۲۴/

جواب: د تمباکو کرل روا دي، ځکه چې تمباکو خپله یو مباح شی دی، کما فی أشربة رد المحتار﴿۱﴾وهو الموفق .

د افیونو د کرلو حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د افیونو کرل او تجارت څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: ګل حبیب ، ډاکخانه ګوهاټی بنګله، تحصیل صوابی ضلع مردان..... ۱۹۷۲ م / ۹ / ۱۹/

جواب: د خش خاشو لپاره د افیونو کرل او په مزدوری باندې د افیونو کرل د تعاون علی المعصیت له امله مکروه دي.﴿۲﴾ولأنَّ هذه الارادة معصيةٌ كارادة الخمرية عند العصر ، ولأنَّ

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله والتتن الخ) أقول قد اضطربت آراء العلماء فيه...... فإنه لم يثبت إسكاره ولا تفتيره ولا إضراره بل ثبت له منافع فهو داخل تحت قاعدة: الأصل في الأشياء الإباحة.

(ردالمحتار ۵: ۳۲۶ كتاب الأشربة)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وصحّ بيع غير الخمر)...... ثم إن البيع وإن صحّ لكنه يكره كما في الغاية.

(ردالمحتار ۵: ۳۲۳، كتاب الأشربة)

المعصيةَ قائمةٌ بعينِ الخارجِ أشيرَ اليهِ في رد المحتارِ ۵: ۳۴۵ ﴿۱﴾ وهوالموفق .

د افیون او تمباکو د کرلو حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د تمباکو او افیون کرل حلال دي او که حرام؟ بینوا توجروا

المستفتي: ګل مست خان پشاور ..... ۱۹۷۳م / ۴ / ۱۱/

جواب: د خرخولو لپاره د افیونو کرل ناجائز او د دوایي لپاره یې کرل جائز دي، رد المحتارِ ۵: ۶: فانه لم يثبتْ اسكاره و تفتيره ولا اضراره بل ثبتَ له منافع فهو داخلٌ تحت قاعدة : الأصلُ في الأشياء الاباحةُ ﴿۲﴾ وفيهِ أيضاً ۵: ۴۰۱: ثم انّ البيعَ وانْ صحّ لكنه يكرهُ كما في الغايةِ ﴿۳﴾ فافهمْ . هوالموفق

د مالک بې اجازې د ځمکې کرل

سوال: ما يقولُ العلماء الكرامُ في المسئلةِ الآتيةِ : رجلٌ زرعَ في أرض المهـــاجرينَ بدونِ اذنِ صاحبه في أرضِ أفغانستانَ هلْ يجوزُ أمْ لا؟ للمهاجرينَ وغيرِه معَ أنّ الزرعَ

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله لا عصرها لقيام المعصية بعينه) فيه منافاة ظاهرة لقوله سابقًا لأن المعصية لا تقوم بعينه...... ولعلّ المراد هنا عصر العنب على قصد الخمرية فإن عين هذا الفعل معصية بهذا القصد.

(ردالمحتار ۵: ۲۷۷، فصل في البيع، كتاب الحظر والإباحة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار ۵: ۳۲۶ كتاب الأشربة)

﴿۳﴾ (ردالمحتار ۵: ۳۲۳ كتاب الأشربة)

فاسدةٌ للمسلمينَ؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم فاضل جامعه دارالعلوم حقانیه ..... ۱۴۰۴ھ / جمادی الثانی/۸/

جواب: جازتِ الزراعةُ عندَ الاذنِ صريحاً أوْ دلالةً ﴿۱﴾ وهوالموفق .

﴿۱﴾ في الهندية: وأما ركنها فالإيجاب والقبول وهو أن يقول صاحب الأرض للعامل دفعت اليک هذه الأرض مزارعة بكذا ويقول العامل قبلت ورضيت أو مايدل على قبوله ورضاه فإذا وجدا تم العقد بينهما.

(فتاوى هندية ۵:۲۳۵ كتاب المزارعة، الباب الأول)







كتاب احياء الموات

قال النبى صلى الله عليه وسلّم
من احيىٰ أرضًا ميتة فهى له .
(دار قطنى)

کتاب احیاء الموات

قالَ النبیُّ صلی الله علیه وسلمَ: منْ احیی أرضاً میتةً فهی له (دار قطنی)

د موات تعریف او ددې د وقف کولو حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د موات د ځمکې تعریف څه دی؟ تفصیلي لیکل راته وکړئ او داسې ځمکه چې څلورو خواوو ته یې غر وي. یوازې یو دعوه دار یې وي، ایا دا ځکه موات ده؟ ایا د داسې ځمکې وقف کول صحیح دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم

ځواب: الأرض المواتُ هی أرضٌ خارجُ البلدِ لمْ تکنْ ملکاً لأحدٍ ولا حقاً لـه خاصاً فلا یکونُ داخلَ البلدِ مواتٌ أصلاً و کذا ما کانَ خارجُ البلدِ عنْ موافقها محتطباً بها لأهلها أوْ مرعی لهمْ لا یکونُ مواتاً حتی لا یملك الامامُ اقطاعها و کذلك أرضُ الملحِ والقارِ والنفطِ ونحوها مما لا یستغنی عنها المسلمونَ لا تکونُ أرضَ مواتٌ بحذفٍ یسیرٍ (بدائع ۶: ۱۹۴)﴿۱﴾قلت أما أرض المسؤل عنها ان کانت یصدق علیها هذا التفسیر فلا یصحُّ وقفها لعدمِ الملكِ و شرطٌ فی الوقفِ الملك کما فی الهندیةِ ۲: ۳۶۶: و منها الملك وقت الوقفِ﴿۲﴾انتهی بقدرِ الضرورةِ وهوالموفق.

د موات ځمکې د ابادولو وروسته خرڅول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د شاملاتو په ځمکه د خلکو قبضه

﴿۱﴾(بدائع الصنائع ص ۲۸۳، کتاب الأراضی)

﴿۲﴾(فتاوی هندیة ۲: ۳۵۴ کتاب الوقف، الباب الأول فی تعریفه ورکنه الخ)

کول روا دي او که ناروا؟ او ددې نه ګټه اخیستل خنګه دي؟ دغه راز ددې ځمکې خرڅول څنګه دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: عمر خان بنو ..... ۱۹۷۶م / ۶/ ۱۰/

جواب: که دا ځمکه موات وي؛ نو چا چې اباده کړه او د کښت لپاره یې تیاره کړه، بس هغه یې شرعي مالك دی، بیا د دغه سړي لپار یې خرڅول او کرل دواړه جائز دي، والتفصیلُ فی رد المحتارِ ۵: ۳۸۱، ۳۸۲﴿۱﴾او که دا ځمکه موات نه وي؛ نو مالکانه تصرف پکښې کول ناجائز دي، لعدمِ الملك فیها ، دغه راز په موات کې یوازې دومره نه کافي کیږي چې دا د فلاني ځمکه ده، لأنّ سببَ الملك هو الاحیاءُ ﴿۲﴾فافهمْ ! وهوالموفق .

د شاملاتو د ونو حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې په مانسهره کې درې قسمه ځمکې دي، یو خو هغه ځنګلات دي چې ځمکې او ونې یې د حکومت تر لاس لاندې دي، دویم قسم هغه شاملات دي چې مالکان یې نژدې

﴿۱﴾وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: إذا أحیا مسلم أو ذمی أرضًا غیر منتفع بها ولیست بمملوکة لمسلم ولا ذمی وهی بعیدة من القریة إذا صاح من بأقصی العامر وهو جهوری الصوت لا یسمع بها صوته ملکها عند أبی یوسف وهو المختار. (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: وفی الملتقی: الموات أرض لا ینتفع بها عادیة أو مملوکة فی الإسلام، لیس لها مالک معین مسلم أو ذمی، وعند محمّد إن ملکت فی الإسلام لا تکون مواتًا...... (قوله ملکها) جواب قوله إذا أحیا أی ملک رقبة موضع أحیاه دون غیره. (ردالمحتار ۵: ۳۰۶-۳۰۷ کتاب إحیاء الموات)

﴿۲﴾فی الهندیة: والملک فی الموات یثبت بالإحیاء بإذن الإمام عند أبی حنیفة رحمه الله تعالی وعندهما یثبت بنفس الإحیاء.

(فتاوی هندیة ۵: ۳۸۶، کتاب إحیاء الموات ، الباب الأول)

اوسېدو والا خلك دي، دريېم قسم هغه ځمكه ده چې د خلكو ذاتي وي او ونې پكښې پيدا شي، د ځنګلي ځمكو لكه شاملاتو چې انګريزانو په خپل وخت كې يوازې د خپلو وفادارو خلكو په نوم كړي دي؛ خو اوسمهال قبضه يوازې د هغو خلكو په لاس كې ده چې خواته يې اوسيږي؛ نو اوس سوال دا دى چې دغه د انګريزانو وفادار وايي چې دا ځمكې زموږ دي او ګټه به يې هم زموږ لاسونو ته راځي او هغه خلك چې نژدې ورته پراته دي هغوى بيا وايي چې د ځمكې ګټه به په شريكه استعمالوو، تاسو مهرباني وكړئ او د شرعي مسئلې نه مو خبر كړئ! بينوا توجروا

المستفتي: ..... نور احمد مانسهره هزاره

جواب: كه دا ځمكې يقيني شاملات وي؛ نو دا ځمكې او د ځمكو ټولې ګټې د نژدې كليوالو خلكو دي «۱» وهو الموفق .

د موات ځمكې د اباد وونكو څخه بېرته اخيستل ناجائز دي

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې يو سړي په خپله خواري او په خپلو روپو يوه مواته ځمكه اباده كړه، تر اوسه پورې دا دى سل كاله پوره كېدو والا دي خلكو كتل او يو سړي هم اعتراض نه درلود، او س چې كله د ځمكې قيمت پورته شو؛ نو څينې زور واكي خلك راپورته شوه او دعوه

«۱» قال العلامة سليم رستم باز رحمه الله تعالى: الأشجار النابتة بلا غرس في ملك واحد هي ملكه ليس لآخر أن يحتطب منها إلا بإذنه فإن يفعل يكن ضامناً".

(شرح المجلة ص ۶۷۸، المادة ۱۲۴۴، الفصل الأول في الأشياء المباحة وغير المباحة)

وفي البدائع: وأما الآجام المملوكة في حكم القصب والحطب فليس لأحد أن يحتطب من اجمة رجل إلا بإذنه لأن الحطب والقصب مملوكان لصاحب الأجمة ينبتان على ملكه وإن لم يوجد منه الإنبات أصلاً. (بدائع الصنائع ۵: ۲۸۲، كتاب الأراضي)

کوي چې دا ځمکه زموږ ده او دلیل هم وايي: چې په شریعت کې هم دا زموږ کیږي، ځکه چې ددې ځمکې سره خوا کې زموږ ځمکه ده، ایا دا شرعي دلیل جوړیدای شي؟ ددې ځمکې ابادوونکي غریبانان خلك دي، په حکومت کې هیڅ لاس نه لري او زموږ مقابله ډله هم په حکومت کې وړاندې دي او هم د دنیا له لحاظه مخکې دي؛ نو اوس شرعي حکم څه دی؟ که موږ د حکومت په خلاف ودریږو؛ نو ددې به څه حکم وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد المتین ضلع وتحصیل دیر ...... ۱۴۰۲ هـ / جمادی الثانی /۵/

جواب: ومنه الصدقُ والصوابُ : په شرط ددې چې دا ځمکه موات وي؛ نو ابادوونکي یې شرعي مالکان دي، د ابادوونکو څخه یې ددې ځمکې اخیستل ناجائز دي، لحدیثِ: منْ أحیی مواتاً من الأرضِ فهو لــه، رواه فی شرحِ السنة وغیره﴿۱﴾وفی شرحِ التنویرِ علی هامش رد المحتارِ۵: ۳۸۱ اذا أحیی مسلمٌ أوْ ذمی أرضاً ..... ملکها﴿۲﴾د صاحبینو په نزد بیا خبره یو څه اسانه ده، ځکه چې د هغوی په نزد د امام اجازه شرط نه ده، د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد اګر که د امام اجازه ضروري ده؛﴿۳﴾ خو د اوسنیو حاکمانو د عام اجازت او په ابادولو یې د انعام ورکولو له امله هیڅ اشکال هم نشته.

وهو الموفق .

﴿۱﴾عن سعید بن زید عن النبی ﷺ قال: من أحیی أرضا میتة فهی له ولیس لعرق ظالم حق.(أبو داؤد ص ۴۳۷، باب إحیاء الموات)

﴿۲﴾الدر المختار ۵: ۳۰۶، کتاب إحیاء الموات)

﴿۳﴾وفی الهندیة: والملک فی الموات یثبت بالإحیاء بإذن الإمام عند أبی حنیفة وعندهما یثبت بنفس الإحیاء.

(فتاوی هندیة ۵: ۳۸۶ کتاب إحیاء الموات)

په متحده هندوستان کې د انګریزانو له طرفه د ورکول شوو ځمکو حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي کومه ځمکه چې د مغلو په وخت کې د خلکو شخصي ملکیت وو، انګریزانو ته د خدمت کولو له امله هغوی دا ځمکې ځینو خاصو خلکو ته ورکړې

(۲) دا چې اوس مسلمان حاکمان لري؛ نو اوس ددې ځمکو څه حکم دی؟ په پورته صورت کې چې کوم پیداوار ترلاسه شي: نو په هغې کې د زکات څه حکم دی؟ ایا زکات ورکول یې جائز دي او که ناجائز؟ که ناجائز وي؛ نو ددې ځمکو مالکان به بیا څوك وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: تول اند ستري کمپني پوسټ بکس..... ۱۷۵۰ لاهور

جواب: هغه وخت چې په هندوستان کې انګریزان وو، عالمان په دې باندې مختلف وو چې ایا هندوستان دار الحرب دی او که نه؟ نو راجحه دا وه چې هندوستان دارالحرب نه دی، ﴿۱﴾ لهذا کومې ځمکې چې انګریزانو خپلو وفادارو خلکو ته ورکړې وي، که د دغو ځمکو مالکان وي او خپلې ځمکې ورته معلومې وي؛ نو مالکانو ته دې وسپارل شي ﴿۲﴾ او که دا معلومول ګران وي؛ نو بیا د دوی

﴿۱﴾ قال العلامة محمود حسن الکنکوهی رحمه الله تعالی: د هندوستان په اړه عالمان اختلاف لري، خو زیاتره عالمان وایي: چې هندوستان دارالحرب دی او ځینې یې انکار کوي، په فتاوی رشیدیه کې بیلې-بیلې فتاوی شتون لري، د ځینو عبارتونو څخه دارالحرب راجح معلومیږي او ځینې یې ددې په عکس باندې دي، د شاه عبد العزیز رحمه الله دلیکلو نه د ځینې عالمانو په قول هندوستان دارالحرب نه دی او ځینې یې وایي چې دارالحرب دی او د مولانا عبد الحی رحمه الله دلیکو څخه معلومیږي چې هندوستان د هیڅ چا په نزد دارالحرب نه دی

(فتاوی محمودیة ۱۶:۳۶۸ - ۳۷۳ باب الربا).

﴿۲﴾ وفی البدائع: اما الأراضی المملوکة العامرة فلیس لأحد..... پاتې په بل مخ باندې

نه دا ځمکې اخیستل او نورو ته ورکول ناجائز دي،﴿۱﴾ فقط ، هو الموفق .

د قوم په شریکي شاملات کې د تصرف کولو له امله ملک نه ثابتیږي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زید د عمر په هغه ځمکه دعوه کړې چې شاملات ده او وایي چې دا ځمکه زما ده، ځکه چې دا زما په تصرف کې ده او کله وایي چې دا راته په تقسیم کې رسېدلې ده، په داسې حال کې چې زید او عمر دواړه د تره زامن دي او د یو بل نه یې د ځمکې تقسیم مخکې کړی دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: سعید الرحمن مالاکنډ ایجنسی ۱۹۷۹ م/۶/۱۸/

جواب: که شاملات د موات نوم وي؛ نو دا ځمکه د هغه چا ده چا چې اباده کړې وي،﴿۱﴾ که د شریکي ملکیت او بې تقسیمه ځمکې نوم وي بیا به د هر وارث پوره برخه ورکوي،

(بقیه حاشیه) أن يتصرف فيها من غير إذن صاحبها لأنّ عصمة الملك تمنع من ذلك ....لأن الملك فيها قائم وإن طال الزمان حتّى يجوز بيعها وهبتها وإجارتها وتصير ميراثًا إذا مات صاحبها.(بدائع الصنائع ۵: ۲۸۱،كتاب الأراضي)

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ان الأراضي التي في أيدي الناس بمصر والشام المجهول انتقالها إليهم تقر في يد أربابها ولا يتعرض لهم فيها بشيء أصلا ......باحتمال أنها كانت مواتًا فاحييت أو أنها انتقلت إليهم بوجه صحيح.

(رد المحتار ۳: ۲۸۱، باب العشر والخراج، مطلب ليس للإمام أن يخرج شيئًا من يد أحد إلّا بحق ثابت معروف)

﴿۱﴾عن عائشة عن النبي ﷺ قال: من عمّر أرضًا ليست لأحد فهو أحق.

(صحيح البخاري ۱: ۳۱۴،باب من أحيى أرضًا الخ)

وفي الهندية : الملك في الموات يثبت بالاحياء بإذن الإمام عند أبي حنيفة رحمه الله تعالى. (فتاوى هندية ۵: ۳۸۶،كتاب إحياء الموات، الباب الأول في تفسير الموات الخ)

په دیکښې بیا دتصرف او نه تصرف دلیل نیول بې ګټې دي. «۱» وهو الموفق .

د موات ځمکې په احیاء کولو سره مالک جوړېدل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي تقریباً اوولس (۱۷) کاله کیږي چې یوه مواته ځمکه مي اباده کړې ده؛ نو ایا اوس په هغې کې را سره د بل چا حق شته؟ بینوا توجروا

المستفتي: میا مستقیم خطیب ، سواتي مسجد ، بټ خېله ، ضلع مردان

..... ۱۳۹۶ هـ / ذی الحجه / ۳۰/

جواب: کـه دا ابـاده شـوې ځمکـه د چـا ملکیـت نـه وي، دغـه راز د نـزدې اوسېدونکو څه حقوق هم ورپورې نه وي تړلي؛ نو دا به د ابادوونکو خلکو ځمکه وي، د هغه نه یې په زوره اخیستل جائز نه دي. «۲» وهو الموفق .

«۱» وفی شرح المجلة لسلیم رستم باز رحمه الله تعالی :کلّ من الشرکاء فی شرکة الملک اجنبی فی حصة سائرهم فلیس احدهم وکیلًا عن الآخر، ولا یجوز له من ثمّ أن یتصرف فی حصة شریکه بدون إذنه. (شرح المجلة ۱ ۰:۶ ، المادة ۱۰۷۵)

«۲» عن سعید بن زید عن النبی ﷺ قال: من أحیی أرضًا میتةً فهی له ولیس لعرق ظالم حق. (أبوداؤد ۲۳۷، باب إحیاء الموات)

وفی شرح التنویر :إذا أحیا مسلم او ذمی أرضًا غیر منتفع بها ولیست بمملوکة لمسلم ولا ذمی...... وهی بعیدة من القریة إذا صاح من بأقصی العامر لا یسمع بها صوته ملکها .(الدرالمختار ۵: ۳۰۷، کتاب إحیاء الموات)

وفی الهندیة : قال القدوری فما کان عادیًا أی قدم خرابه لا مالک له أو کان مملوکًا فی الإسلام لا یعرف له مالک بعینه وهو بعید عن القریة.....فهو موات......والملک فی الموات یثبت بالإحیاء.

(فتاوی هندیة ۵: ۳۸٦، کتاب احیاء الموات ، الباب الأول فی تفسیر الموات)

د افغان مهاجرینو څخه د پاتې شوو ځمکو حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې دلته په زرګونو جریبه ځمکه بې کښتنه او بې کرلو همداسې ورانه ویجاړه پرته ده، په دې ځای کې یوازې به خلکو ګډې څرولې، د پاکستان جوړېدو نه مخکښې د باتوزیو قوم افغانستان ته هجرت وکړ، تر اوسه پورې هلته اوسیږي، دلته راته خبره لږ واضحه کړئ چې د انګریزانو په دور کې به د ځمکو ټېکس یوازې ددې ځای اوسېدونکو قومونو ورکولو، اوس د دومره وخت وروسته چې کله د پاکستان د ځمکو د تقسیم وخت راورسېد؛ نو ایا په افغانستان کې د اوسېدونکو قومونو حق په دې ځمکه کې شته او که نه؟ که وي نو څرنګه به تقسیمیږي، د نارینه او ښځینه وو فرق هم راته بیان کړئ؛ بینوا توجروا

المستفتي نامعلوم..... ۱۹۸۷م / ۱۱ / ۱۰/

جواب: داسې ځمکې په حقیقت کې موات ګڼل کیږي، د یو سړي په نامه یې یادول دا رواجي خبره ده، کوم شرعي کار نه دی، ﴿۱﴾ که بیا هم دا شرعي حق ومنل شي؛ نو مفتي بیا عالم الغیب نه دی چې ملکیتي ځمکه متعین کړي؛ خو د جنګ د ختمولو لپاره دا حکم ورکولای شي چې دغه مهاجرین هم په دغو ځمکو کې حق لري، لعدمِ الأسبابِ التي یخرج بها الشيءُ عنِ الملك﴿۲﴾ او که پخواني پلرونه او نیکه ګان معلوم وي؛ نو له هغوی څخه دې د ځمکې تقسیم

﴿۱﴾وفي شرح التنویر: إذا أحیا مسلم أو ذمي أرضا غیر منتفع بها ولیست بمملوکة لمسلم ولا ذمي......وهي بعیدة من القریة إذا صاح من بأقصی العامر وهو جهوري الصوت لا یسمع بها صوته ملکها.

(الدر المختار ۵: ۳۰۷ کتاب إحیاء الموات)

﴿۲﴾قال العلامة سلیم رستم باز رحمه الله تعالی: أسباب التملک ثلاثة، الأول الناقل للملک من مالک إلی مالک آخر کالبیع والهبة ......(بقیه حاشیه اگلے صفحه پر)

شروع کړي، تر دې اوسني نسل پورې دي ورسوي او په موجوده خلکو کې دي ښځو ته هم په تقسيم کې برخه ورکړي، وهو الموفق .

د موات ځمکې يا د عامو حقوقو سره تړلې ځمکې د ځايي پښتنو په نوم خاص کول لوی ظلم دی

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې که لوهار يا بل مولوي صاحب په ورانه ځمکه کې ځان ته کور جوړ کړي، يا هغه د کرلو لپاره جوړه کړي؛ نو خلك هغه ته وايي چې دا د پښتنو ځمکه ده، ستا حق په ديکښې نشته، د شريعت له مخې ددې ځمکې څه حکم دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد حکيم باجوړ ..... ۱۹۸۹ م / فروري /۲۷/

جواب: کومه ځمکه چې موات وي، يا عام حقوق ورپورې تړلي وي؛ نو هغه په ځايي پښتنو پورې خاص کول لوی ظلم دی،﴿۱﴾ وهو الموفق .

(بقيه حاشيه) والثانی أن يخلف واحد الآخر کالإرث، والثالث إحراز شیئ مباح لامالک له. (شرح المجلة : ٦٧٩، المادة ١٢٤٨، الفصل الثانی فی کيفية استملاک الأشياء المباحة)

﴿١﴾عن سعيد بن زيد عن النبی ﷺ : قال من أحيیٰ أرضا ميتةً فهی له وليس لعرق ظالم حق.(أبو داؤد ٢: ٢٣٧، باب إحياء الموات)

وفی الفقه الإسلامی وأدلّته:ويجوز إحياء کلّ من يملک المال لأنّه فعل يملک به کالاصطياد.

(الفقه الإسلامی وأدلّته٦:٤٦٢٥، شروط الإحياء)

وفی الهندية:الملک فی الموات يثبت بالإحياء باذن الإمام عند أبی حنيفة رحمه الله تعالیٰ. (فتاوی هندية ٥: ٣٨٦،کتاب إحياء الموات ، الباب الأول فی تفسير الموات)

د شریکي ځمکې کاریز هم شریکې دی

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې په یوه ځمکه کې تر تولو وړاندې یو قوم اباد شو او په هغه ځای کې د هغه کاریز هم مالکان شول، وروسته بل قوم راغلو او د لومړي قوم نه یې یوه شپه او یوه ورځ اوبه په پیسو واخیستلې بیا د لومړي قوم سره د کاریز په پاکولو کې یې پوره برخه واخیستل، د دواړو ډلو تر منځ څه غیر اباده ځمکه پرته وه، د اولني قوم خلکو په دې ځمکه کې ښې کېښودې. دویم قوم ورته ووېل چې لومړی ددې ځمکې تقسیم وکړئ او بیا یې اباده کړئ، اولنی قوم ورته وایي: چې په دیکښې ستاسو برخه نشته، ایا په دیکښې د دویم قوم حق شته او که نه؟ په داسې حال کې چې په عرف کې دغه ځمکه د دواړو قومونو تر منځ شریکه ګڼل کیږي. بینوا توجروا

المستفتي: عبد الرحیم بلوچستان ..... ۱۴۰۳ هـ / شعبان / ۲۱ /

جواب: که دغه ځمکه موات وي؛ نو اول، دویم او نور ټول قومونه یو شان حق پکښې لري، که دا ځمکه د اولي ډلې شریك ملکیت وي؛ خو تقسیم کړی بې نه وي؛ نو بیا اول قوم حق لري چې کورونه پکښې جوړ کړي. ﴿۱﴾ او که دا ځمکه ددې ابادو شویو کلیو مالچر (چراګاه) وي؛ نو بیا دویم قوم هم پوره

﴿۱﴾ عن سعید بن زید عن النبی ﷺ قال من احیٰی ارضا میتة فهی له ولیس لعرق ظالم حق. (أبو داؤد ۲: ۳۳۷، باب إحیاء الموات)

وقال العلامة سلیم رستم باز رحمه الله تعالیٰ: الأوّل أن تکون الأرض غیر مملوکة لأحد سواء کان فیها آثار العمارة أو لا، لأنها لو کانت مملوکة لمسلم أو ذمی لم تکن مواتًا وإن مضت علیها القرون وصارت خربة.

(شرح المجلة ۲۸۸، المادة ۱۲۷۰، الفصل الخامس فی إحیاء الموات)

حق لري، و لا بعيدَ أنّ هذه الأراضي بالأراضي المتروكة﴿۱﴾ وهو الموفق .

تولي ځمکې بې تقسيمه ګټل د اباحيه ډلې يوه حيله ده

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي کومي ځمکې چې د وخت بادشاه نه وي تقسيم کړي، ايا دا په موات کې شامل دي او که نه؟ او دا ځمکې بل ته ورکولای شي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: ګل کريم جان ملا کنړ درګئ ..... ۱۹۷۹م / جولانی/۱۹/

جواب: زموږ په ښارونو کې تولي ځمکې تقسيم شوي دي، دا ځمکې بې تقسيمه ګټل د اباحيه ډلې يوه حيله ده، په حکومت باندې لازم دي چې د اباحيه ډلې څخه دا ځمکې واخلي او په ځايي بې کوره خلکو بې تقسيم کړي، ځکه چې دا ځمکې دوی د بهتو پاچا په وخت کې نيولي دي. وهو الموفق .

اسمي او رسمي توګه شريکي ځمکې په موات کې شامل دي

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د يو قوم داسې شريکي ځمکه ده چې د کرل کېدو ده، د قوم ملکانو اعلان وکړ چې د معلومي اندازې مطابق دي هر سړی ځان ته ځمکه اباده کړي؛ خو ځمکه دومره ډېره ده چې د معلومي اندازې نه هم زياته ده او کوم چې غريبانان خلك دي هغوی يې اوس د ابادولو وس نه لري؛ نو کوم وخت چې دوی د ابادولو وس پيدا کړ بيا يې ابادولی شي، ايا ددې ځمکې ابادول ددې خلکو لپاره روا دي؟ او ددې ځمکې د پيداور نه ګټه اخيستل روا دي او که ناروا؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبد الستار دولت زئی ..... ۱۹۸۴م / مارچ /۱۲/

﴿۱﴾ وفي شرح المجلة: الأراضي القريبة إلى العمران تترك إلى الأهالي مرعى ومحتصدًا ومحتطبًا ويقال لها الأراضي المتروكة.

(شرح المجلة ۳:۲۰۳، المادة ۱۲۷۱، الفصل الخامس في إحياء الموات)

جواب: دا ابادي جائز ده، ددې پیداوار حلال دی، ځکه چې په حقیقت کې دا د موات ځمکه ده، په اسمي او رسمي توګه شریکي ده وهوالموفق .

شریکي شاملات د خپلې برخې په اندازه اباد ول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زموږ په ځای کې شپږ سوه (۶۰۰) ایکړه ځمکه شاملات موجود ده، پنځه سوه (۵۰۰) کسان پکښې شریك دي؛ خو تر اوسه پورې ددې ځمکې تقسیم نه دی شوی، څو تنو برخو والا په دې ځمکو قبضه اچولې او ځای - ځای یې ځان ته کورونه، باغونه او کښتونه کړلي دي، د نورو شریکانو څخه یې پوښتنه هم نه ده کړې، ایا د نورو شریکانو بې اجازې داسې تصرف کول په غصب کې شمارل کیږي او که نه؟ او ایا د دوی لپاره په بې تقسیمه ځمکه باندې باغونه او کورونه جوړول جائز دي؟ بینوا توجروا

المستفتي محمد عثمان کوئټه ..... ۱۴۰۲ هـ / شعبان /۲۳/

جواب: که دا شاملات موات وي؛ نو په دې کښې هر قسم تصرف کول بې اجازې هم جائز دي،﴿۱﴾ خو که دا دخلکو ملکیت وي او تقسیم کړی یې نه وي؛ نو بیا په دې شرط

﴿۱﴾ وفی شرح التنویر: إذا أحیا مسلم أو ذمی ارضًا غیر منتفع بها ولیست بمملوکة لمسلم ولا ذمی ......وهی بعیدة من القریة إذا صاح من باقصی العامر......لا یسمع بها صوته ملکها.

(الدر المختار ۵:۳۰۷ کتاب إحیاء الموات)

وفی الهندیة : قال القدوری فما کان عادیا ای قلم خرابه لامالک له أو کان مملوکًا فی الإسلام لایعرف له مالک بعینه وهو بعید عن القریة......فهو موات.

(فتاوی هندیة ۵:۳۸۶، کتاب إحیاء الموات، الباب الأول فی تفسیر الموات الخ)

﴿۲﴾ عن سعید بن زید عن النبی ﷺ: قال من احیی...... (بقیه حاشیه اگلے صفحه پر)

په خپله برخه کې تصرف جائز دی چې نورو شریکانو ته پکښې ضرر نه وي.
(د شرح المجله نه اخیستل شوی: ۶۰۴ او ۶۰۵ مخ) ﴿۱﴾ والله تعالیٰ اعلم.

کله چې د ځمکې موات او ملکیت معلوم نه وي، نو قبضه لرونکي سړي ته دي مصلحتاً پریږدي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زموږ د پلار یو څه شاړه ځمکه وه، په هغې کې یې ځان ته کور جوړ کړی ؤ او یو ځنګل هم پکښې ؤ، کله چې زموږ پلار وفات شو؛ نو کور همداسې وران پروت ؤ او ځنګل هم زموږ د کمزوری له امله خراب شو، اوس چې کله موږ وس پیدا کړ او د ځمکې د ابادولو اراده مو وکړه؛ نو یو سړی پیدا شو چې دا ځمکه زما ده او ستاسو پلار زما نه په زوره اخیستې وه، اوس زموږ لپاره څه کول پکار دي؟ زموږ لپاره یا د مدعیانو لپاره شاهدان ضروري دي او که قسم؟ که شاهدان په موږ وي؛ نو څه ډول یې پېش کړو او که په هغوی باندې وي؛ نو څه ډول به یې پېش کوي؟ بینوا توجروا
المستفتي: سعید الرحمان شریک دوره حدیث دار العلوم حقانیه اکوړه ختك

(بقیه حاشیه) أرضًا میتةً فهي له ولیس لعرق ظالم حق.
(أبوداؤد ۴۳۷، باب إحیاء الموات)
وفي شرح التنویر: إذا أحیا مسلم أو ذمي أرضًا غیر منتفع بها ولیست بمملوكة لمسلم ولا ذمي...... وهي بعیدة من القریة......ملکها.
(الدرالمختار ۵: ۳۰۷ کتاب إحیاء الموات)
﴿۱﴾وفي شرح المجلة لسلیم رستم باز رحمه الله تعالی: انتفاع الحاضر بالملك المشترك بوجه لا یضر الغائب یعد رضی من الغائب.
(شرح المجلة ۶۰۴-۶۰۵، المادة ۱۰۷۹)

جواب: که په دې ځمکه کې تقسیم جاري شوی وي بیا دا مملوکه ځمکه ده او په دیکښې د ملکیت ټول حکمونه جاري کیږي، که تقسیم پکښې نه وي شوی، دا بیا په موات کې شامله ده او د موات حکمونه پرې جاري کیږي، هغه داسې چې چا د کرلو لپاره تیاره کړه؛ نو ځمکه به هم د هغه وي او که د کرلو لپاره یې تیاره نه کړه؛ نو بیا به غیر مملوکه گڼل کیږي، که څوک ورباندې دعوه کوي، دعوې ته به یې هیڅ اعتبار نه وي. ﴿۱﴾ د چا په قبضه کې چې وي، مصلحتاً او رفعاً للنزاع به د هغه په قبضه کې پاتې وي او د هغه د اجازې بغیر د بل چا تصرف بنه کار نه دی. یدلُّ علیه جمیعُ ما مرَّ فی الهندیة ۵: ۴۲۱ وأراضی ما وراء النهرِ و خوارزم لیستْ بموات لدخولها فی القسمة انتهی ، و فیها أیضاً : ومن أحیی أرضاً میتةً بغیرِ اذنِ الامامِ لا یملکها فی قولِ ابی حنیفةَ رحمه اللّٰه ، و قالَ صاحباهُ یملکها ،﴿۲﴾ انتهی قلتُ : ولا بدّ منَ الافتاء علی قولهما فی الأوطانِ التی لا امام لهمْ للضرورةِ ، و فی البدائعِ : والمباحةُ نوعانِ أیضاً نوعٌ هو مرافقُ البلدة محتطباً أوْ مرعًی لمواشیهمْ و نوعٌ لیسَ من مرافقها وهو المسمی بالموات (۶: ۱۹۲ ، ۱۹۳)﴿۳﴾ و قالَ فی(ص:۱۹۴) فالأرض المواتُ هی أرضٌ خارج البلدِ و لمْ تکنْ ملکاً لأحد ولاحقاً له خاصاً فلا یکونُ داخلُ البلدِ مواتٌ أصلاً ، و کذا ماکانَ خارجُ البلدة منْ مرافقهامحتطباً لأهلها أوْمرعی لهمْ لا یکونُ مواتاً

﴿۱﴾عن سعید بن زید عن النبی ﷺ: قال من أحیی أرضامیتةً فهی له ولیس لعرق ظالم حق. (أبوداؤد ص ۴۳۷ ، باب احیاء الموات)

وفی شرح المجلة ::الاول ان تکون الأرض غیر مملوکة لأحد سواء کان فیها آثار العمارة أولا،لأنها لوکانت مملوکة لمسلم أو ذمی لم تکن مواتًا وان مضت علیها القرون وصارت خربة.(شرح المجلة ص ۶۸۸ ، المادة ۱۲۷۰)

﴿۲﴾(فتاوی هندیة۵: ۳۸۶ کتاب إحیاء الموات ، الباب الأول فی تفسیر الموات الخ)

﴿۳﴾(بدائع الصنائع ۵: ۲۸۱،کتاب الأراضی)

حق لا يملك الامام اقطاعها لأنّ ما كانَ منْ مرافقِ أهلِ البلدةِ فهوَ حقُّ أهلِ البلدةِ كفناءِ دارهمْ و فى الانقطاعِ ابطالُ حقهمْ«۱»الخ وفى كتاب الخـراجِ (ص: ۶۳) فاذا لَمْ تكنْ فى هذه الأرضينَ أثر بناء و لا زرع و لَمْ تكن فيئـاً لأهلِ القريةِ و لا مسرحاً و لا موضعُ مقبرةٍ و لا محتطبهمْ و لا موضعُ مرعى دوابهمْ و أغنامهمْ وليسَ بملك لأحدٍ و لا فى يدِ أحدٍ فهـى مـواتٌ «۲» د کتاب الخراج د عبارت نه معلومیږي چې د ید او قبضې له امله هم ځمکه د موات د حکم څخه وځي، دا او ددې په څېر نوري ځمکې د موات او بیت المال دواړو احتمال لري، د فساد او جنګ ختمولو لپاره داسې ځمکې د هغه چا وي، د چا چې ورباندې قبضه وي. فقط والسلام، وهو الموفق.

په ملکیتي ځمکه کې د کوهي ایاره د حریم حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې په وطن کې زموږ ځمکه ده او په خوا کې یې د بل سړي ځمکه هم ده، هغه په خپله ځمکه کې په ماشین باندې کوهۍ شروع کړې دی، اوس دغه کوهۍ زموږ کوهي ته زیان رسوي، ځکه چې د دوی کوهۍ دې ته ډیرې نږدې دی، ایا اوس موږ دغه کوهۍ بندولای شو او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ۱۹۸۶م/ ۴/ ۶/

جواب: دا دویم سړی د کوهي د کنستلو نه څوك نه شي منع کولای. کما فى شرحِ المجلةِ ۶۹۴ ، المادة : ۱۲۹۱ : لا حريمَ لبئرٍ حفرالانسانُ فىْ ملكه وللجارِ أيضـاً أنْ يحفرَ بجانبها بئراً أخرى فى ملك نفسه و ليسَ للأوّلِ منعه منْ حفرِ البئرِ بقوله أنّه

«۱»(بدائع الصنائع ۵:۲۸۳ کتاب الأراضى)

«۲»(کتاب الخراج ۱۳۷، فى موات الأرض فى الصلح والعنوة وغيرهما)

يجذب ماء بئرى﴿۱﴾وهوالموفق .

يوازې په نښو د ځمکې د احياء حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زموږ ځينې داسې ځمکې هم شته چې اوه اته کاله کيږي د ټول قوم تر منځ شريکه ده او هيڅ تقسيم يې نه دی شوی، په هغې کې غرونه او ونې هم شته، ځينې داسې ځمکې هم شته چې خلکو ابادي کړي دي، په هغې کې دوه قومه دي، يو قوم پکښې د ځان لپاره ځمکې کرلي دي او د سېلابونو د درېدو لپاره يې ځمکې ته ديوالونه هم وهلي چې کښت يې خراب نه کړي. بل قوم راغی او هغوی دعوه لري چې دا زموږ ځمکه ده، په دې باندې موږ نښې ايښې وې، اولني قوم ورته وويل: چې موږ دلته نښې نه دي ليدلي او اوس موږ قبضه کړې، بلکې ابادي کړې مو هم دي. لهذا دا اوس زموږ خپلې ځمکې دي، اوس تاسو شرعي فيصله وکړئ؛ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم

جواب: په ظاهره کې خو داسې څرګنديږي چې لومړي قوم موات ځمکه اباده کړې ده، په ديکښې اګر که د حاکم له خوا سرعام اجازه نه وي؛ خو دلالةً اجازه وي او دا قاعده ده کله چې موات ځمکه يو قوم د حاکم په اجازه اباده کړي؛ نو دا بيا د هغه خپله ځمکه شي، يوازې په نښو سره موات ځمکه نه قبضه کيږي، لهذا دا ځمکه د لومړي قوم ده، دويم قوم ته اختيار نشته چې په دې ځمکه بې ځايه قبضه وکړي، يدل عليه ما في الدر المختارِ : اذا أحيي مسلمٌ أوْ ذمي أرضاً غير منتفعٍ بها وليست بمملوكةٍ لمسلمٍ ولا ذمي وهي بعيدةٌ منَ القرية ملكها انْ

﴿۱﴾(شرح المجلة لسليم رستم باز رحمه الله تعالى ۵۹۳، المادة: ۱۲۹۱، الفصل السادس في حريم الآبار المحفورة والمياه المجراة الخ)

وقال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي :لو حفر بئرافي أرضه فأدى إلى نضوب ماء بئرالجار وجب سدّ ماء البئر عند الحنابلة ولا شيئ عليه عند الحنفية لأن الماء الموجود تحت الأرض غير مملوك لأحد. (الفقه الإسلامي وأدلته ۲۶۳۷:۲، احكام إحياء الموات)

أذنَ له الامامُ في ذلك ، وقالا يملكها بلا اذنه ، انتهى مختصراً «۱» وفيه : ومنْ حجرَ أرضاً أي غيره منها بوضعِ علامة منْ حجرٍ أوْ غيره ثمّ أهملها ثلثَ سنينَ دفعت الى غيره وقبلها هو احقُّ بها وانْ لم يملكها بالاحياءِ والتعميرِ لا بمجرد التحجيرِ ، فقط «۲» وهوالموفق .

د غرونو ونې د چا ملكيت نه دي

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د غرونو ونې د چا ملكيت دي او كه چا كاټ كړې بس د هغه دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم

جواب: ظاهره دا ده چې دا ونې د چا ملكيت نه دي. كما يشيرُ اليهِ عبارةُ الهنديةِ ۱: ۱۹۷: و ما يجمع من ثمار الأشجار التي ليستْ بمملوكةٍ كأشجارِ الجبالِ يجبُ فيها العشرُ كذا في الظهيريةِ ، «۳» كه دا قوم خپل ملكيت ثابت نه كړي؛ نو ددې ونو مالك به هغه څوك وي چا چې ماتي كړې. وهوالموفق

غير مملوكه شاملات هر څوك ابادولای شي نه شاملات مملوكه

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې په (دالئي ميلئ) نومي ځای كې د دوري خېل (قوم) اوغوتر خېل (قوم) شاملات څمكه ده،

«۱» (الدر المختار ۵: ۳۰۶-۳۰۷ ، كتاب إحياء الموات)

«۲» (الدر المختار ۵: ۳۰۷، كتاب إحياء الموات)

«۳» (فتاوى هندية ۹: ۱۸۲ ، الباب السادس في زكاة الزروع والثمار)

وفي شرح المجلة :" الأشجار التي تنبت بلا غرس في الجبال المباحة يعني غير المملوكة مباحة. (شرح المجلة ۳: ۱۸۲ ، المادة ۱۲۴۳ ، الباب الرابع في بيان شركة الإباحة الخ)

زما تره اسمعیل خان هم په دې شاملاتو کې د نهه (۹) کناله ځمکې مالک دی، ددې دواړو قومونو ځينو خلکو يې خپلې برخې ابادي کړي او زياتره خلك يې يا له بې وسۍ او يا هم د لريوالي له امله همداسې پرېښودي، په کال (۱۹۶۶) کې ددې دواړو قومونو ځينو نورو خلکو هم د ځمکو ابادولو نيت وکړ، د دوري خېل قوم دوه سپين ږيرو لکه حاجي سپين ګل او محراب ګل (چې دواړه ورونه دي) غوښتل يې چې د خپل پلار او نيکه ځمکه اباده کړي؛ خو موږ ابادولو ته پرې نښودل، ځکه چې يو ځل مو ورسره ضد وکړ؛ خو بيا هم د شخړو وروسته مو محراب ګل ته د نيمي ځمکې اجازه ورکړه، موږ يوه ورځ خپل زور وکړ؛ خو په بله ورځ يې رانه ټوله ځمکه ونيول، ايا زموږ لپاره په دې شاملات ځمکه کې برخه شته او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: امين خان پتى الكوړى كرك ..... ۱۹۸۳م / جولائی /۲۴/

جواب: ومنهُ الصدقُ والصوابُ: که شاملات د غير مملوکه (موات) نوم وي؛ نو هر قومي او غير قومي سړی يې ابادولای شي. ﴿۱﴾ که شاملات ځمکه د چا ملکيت او بې تقسيمه ځمکه وي؛ نو په هغې کې د ټول قوم حق شريك دی، بعضې خلك اجازه نه لري چې يوازې يې وخوري ﴿۲﴾ فقط، وهو الموفق .

﴿۱﴾ عن سعيد بن زيد عن النبي ﷺ قال من احيٰى ارضًا ميتةً فهي له وليس لعرق ظالم حق. (أبو داؤد ۲: ۴۳۷، باب إحياء الموات)

وفي الهندية: ومن أحيا أرضًا ميتةً بغير إذن الإمام لا يملكها في قول أبي حنيفة رحمه الله تعالى وقالا صاحباه يملكها.

(فتاوى هندية ۵: ۳۸۶، كتاب احياء الموات، الباب الأول في تفسير الموات)

﴿۲﴾ وفي شرح المجلة: كل من الشركاء في شركة الملك اجنبي في حصة سائرهم فليس احدهم وكيلاعن الآخر ولا يجوز له أن يتصرف في حصة شريكه بدون إذنه.

(شرح المجلة لسليم رستم باز رحمه الله تعالى ۶۰۱، المادة: ۱۰۷۵)

موات ځمکه د اباداوونکو وروسته د وارثانو ملکیت دی

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې تقریباً درې سوه کاله وړاندې غیر اباده یو ځنګل همداسې وران او ویجاړ د ابادی نه دوه درې میله لرې په غرونو کې پروت ؤ، زید دا پخوانی ځنګل د ځان لپاره جوړ کړ او ونې یې ترې کاټ کړې، تر دې چې د اوبو نهر یې هم ورته راتېر کړ، د زید د ابادولو نه وړاندې په دې وطن کې کافران وو او دا ځای دار الحرب ګڼل کېده، د مجاهدینو په لاس دا ځای فتح شو چې په هغوی کې یو د زید نیکه هم شریك ؤ او د کافرو په لاس شهید شو، ددې ځای نه اوس زید ګټه اخلي، څه وخت وروسته دې ځمکې ته نزدې خلکو باندې د حکومت ولکه راغله او ځینې خلك یې په حکومتي چارو کې بوخت شول، یو سړی چې عمر نومېږي په حکومت کې یې غټو رتبو ته لاس ورسېد او په دې غیر اباد ځنګل یې د خپل ملکیت دعوه وکړه چې زه ددې ځای اوسېدونکی او ته د بل ځای نه راغلی یې! لهذا دا زما حق کېږي او په زوره یې په زید باندې ددې ځمکې اجاره ومنل، څه وخت وروسته د پاکستان حکومت جوړ شو، د زید وارثانو د عمر وارثان د اجارې نه منع کړه او د عمر وارثانو ته یې وویل: چې دا ځنګل زموږ دی او د کافرانو څخه یې د خپلې وینې په نذرانه کولو نیولی او موږ اباد کړی دی، ستاسو هیڅ حق په دیکښې نشته، ایا اوس شرعاً دا ځمکه د زید رسیږي او که نه؟ ددې اجارې له امله دا ځمکه د زید له لاسه وځي او که نه؟ او عمر چې دې ځمکې ته نزدې اباد دی ایا ددې ځمکې زیات حق دار دی او که زید چې لومړی یې اباده کړې ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: عزیز الرحمن ضلع هزاره تحصیل بټګرام ...... ۱۹٦۹م / ۹/۷/

جواب: په شرط ددې چې مستفتي رښتینی وي؛ نو دا ځمکه د زید او دده د وارثانو ده، عمر او دده وارثان په دې ځمکه کې هیڅ حق نه لري، قال رسول الله صلی الله علیه و سلم: مَنْ عَمَّرَ أَرضاً لیستْ لأَحدٍ فهوَ أحقُّ

(رواه البخاری﴿۱﴾وفی الدر المختارِ : اذا أحیی مسلمٌ أوْ ذمی أرضاً غیر منتفعٍ بهاولیست بمملوکةٍ لمسلمٍ ولا ذمی وهی بعیدةٌ منَ القریةِ ملکهاانْ اذنَ له الامامُ فی ذلك، وقالا یملکها بلا اذنه،انتهی مختصراً﴿۲﴾او په یاد صورت کې د عمر د ملکیت لپاره هیڅ سبب نشته، د زید لپاره د صاحبینو په مذهب ملك ثابت دی،د همدې امله یوازې زید به یې مالك وي،وهو الموفق .

د قوم په شریکي شاملات کې نارینه وو ته برخه ورکول او ښځې بې برخې پرېښودل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زموږ په ځای کې یو شریکي ځای ؤ، یو قوم چې د باتوزی په نامه یادیږي ځمکه یې په خپلو نارینه وو (بالغ او نابالغو) باندې تقسیم کړه، یوې ښځې ته یې هم پکښې برخه ورنه کړه، د تقسیم وروسته اوس هم نیمه ځمکه پاتې ده، مهرباني وکړئ داسې حیله راته وښیئ چې موږ هم خپله برخه ځمکه ترلاسه کړو؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الستار بلوچستان ..... ۱۴۰۲ هـ / رجب المرجب /۱/

جواب: که دا ځمکه غیر اباده وي؛نو دا په حقیقت کې موات ده،﴿۳﴾ددې مملوکه کېدل

﴿۱﴾ (صحیح البخاری ۱:۳۱۴،ابواب الحرث والمزارعة وما جاء فیها ، باب من احیٰ أرضًا الخ)

﴿۲﴾ (الدر المختار ۵:۳۰۶-۳۰۷،کتاب إحیاء الموات)

﴿۳﴾ وفی شرح التنویر : إذا أحیا مسلم أو ذمی أرضًا غیر منتفع بها ولیست بمملوکة لمسلم ولا ذمی......وهی بعیدة من القریة إذا صاح من بأقصی العامر وهو جهوری الصوت لا یسمع بها صوته ملکها.(الدر المختار ۵:۳۰۷،کتاب إحیاء الموات)

وفی الهندیة :قال القدوری فما کان عادیا ای قدیم......(بقیہ حاشیہ اگلے صفحہ پر)

رواجي او كاغذي دي، په ديكښې د نارينه وو لپاره برخه وركول هيڅ د اعتراض وړ نه دي،﴿١﴾ وهو الموفق .

د غره په لمن كې د حوض جوړولو له امله شاوخوا خلك منع كول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې ما د غره په لمن كې يو حوض جوړ كړی دی او شاوخوا عامره ځمكه لري، اوس چې ددې شاوخوا كوم خلك قبر كني او يا هم قبضه كوي؛ نو زما لپاره د دوی منع كول جائز دي او كه ناجائز؟ او زما دا قبضه صحيح ده او كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: رحمان الدين ضلع كوهاټ ډاكخانه كربوغه ..... ۱۹۹۰ م / ۳/۲۸/

جواب: كه دا شاوخوا ځمكه د حكومت په كاغذونو كې د چا پسې وي؛ نو هغه يې مالك دی او كه دا ځمكه د چا په نوم نه وي؛ نو بيا به عرف او رواج ته اعتبار وي، لكه د كوهي په مسئله كې چې فتاوی هنديه ۵: ۳۸۷ ليكلي دي: و اذا حفرَ بئراً فى أسفلِ جبلٍ ملكه الى أعلاه كذا فى الغياثيةِ ﴿۲﴾ وفى المجلة المادة : ۳٦، العادة محكمة يعنى أنَّ العادة عامة كانتْ أوْ خاصة تجعلُ حكماً لاثباتِ حكمٍ شرعى﴿۳﴾ دغه راز لكه څرنګه چې وړوكی نهر

(بقيه حاشيه) خرابه لا مالك له أو كان مملوكًا فى الإسلام لايعرف له مالك بعينه وهو بعيد عن القرية......فهو موات.

(فتاوی هندية ۵: ۳۸٦ ، كتاب إحياء الموات ، الباب الأول فى تفسير الموات)

﴿١﴾ وفى شرح المجلة : يعمل أيضًا بسجلات المحاكم إذا كانت قد ضبطت سالمة عن الفساد والحيلة على الوجه الذى يذكر فى باب القضاء.

(شرح المجلة ۵: ۳۸۷، المادة ۱٧۳۸ ، الفصل الأول فى بيان الحجج الخطية)

﴿۲﴾فتاوی هندية۵: ۳۸٧ ، كتاب إحياء الموات ، الباب الأول فى تفسير الموات الخ)

﴿۳﴾(شرح المجلة لسليم رستم باز رحمه الله تعالى ۳۴ ، المادة ۳٦)

حریم لري؛ نو حوض هم حریم لري، كما يدل عليه ما في الهندية ٥: ٣٩١: و كذا العينُ والحوضُ الذى دخلَ فيهِ الماء بغيرِ احرازٍ و احتيالٍ فهوَ بمنزلةِ النهرِ الخاصِّ، ﴿١﴾ فافهمْ ، وهوالموفق .

د موات یا شریکي ځمکې په ابادولو د مالك جوړېدو حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زموږ قومي شریکي ځمکه ده، نیمه باراني ده او نیمه اوس هم د کرلو ده، نیمه یې تقسیم شوې ده او نیمه یې لا پاتې ده، اوس هغه باراني ځمکه هم خپلې اوبه لري او قیمت یې پورته شوی دی، په متنازع فیه ځمکه کې یو سړي د کرلو والا ځمکه خرڅه کړه، دویمه ډله ورته په هغه باراني ځمکه کې خپله برخه نه ورکوي او په زوره یې د هغوی په باراني ځمکه قبضه کړې ده، دا دویمه ډله په قانوني او شرعي توګه دا باراني ځمکه خپل حق ګڼي، اوس تاسو موږ ته شرعي فیصله وکړئ چې دا جنګ ختم شي؟ بینوا توجروا

المستفتي: قوام الدين تجوړي بنو

جواب: که متنازع فیه ځمکه موات وي؛ نو ابادوونکی یې شرعي مالك دی، که ځمکه شریکي بې تقسیمه وي؛ نو ابادوونکی یې په ابادولو مالك نه جوړیږي، لما في شرحِ المجلةِ ص ٦٨٨ : الأولُ أنْ تكونَ الأرضُ غيرَ مملوكةٍ لأحدٍ سواءٌ كانَ فيها آثارُ العمارةِ أوْ لا ، لأنَّهـا لوْ كانت مملوكةً لمسلمٍ أوْ ذمي لمْ تكنْ مواتاً وانْ مضتْ عليها القرونُ وصارتْ خربةً ﴿٢﴾ وهوالموفق.

﴿١﴾ فتاوى هندية ٥: ٣٩١، كتاب الشرب، الباب الأول في تفسيره وركنه

﴿٢﴾ (شرح المجلة ٣: ٢٠٢، المادة ١٢٧٠، الفصل الخامس في إحياء الموات)

د غیر مملوک غر په ابادولو د مالک کېدو مسئله

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې په بټ خېله کې په یو غیر اباد غر او ځمکه باندې د خلکو جنګ دی، د مفتي صاحب په حکومت کې اخباري بیان راغلی ؤ چې په غره کې چا ځان ته څومره ځمکه هواره کړه بس هغه یې مالك دی، دغه راز که اوس څوك په غره کې ځان ته د کولنګ په ذریعه ځمکه هواره کړي؛ نو ددې مالك به څوك وي؟ دلته ګوجر خلك اوسیږي او ځانونو ته یې په خواری ځایونه په غره کې تیار کړي دي، اوس ځیني ظالمان یې نه پرېږدي او په زوره ترې ځمکې اخلي. بینوا توجروا

المستفتي: مولوي محمد زرین بټ خېله ...... ۱۹۷۵ م / ۳/ ۹/

جواب: کوم غر چې د چا مملوك نه وي او د عامو خلکو ګټې ورسره نه وي تړلي؛ نو په شریعت کې یې هغه څوك مالك دی چا چې اباد کړ، (هندیة ۵: ۴۲۰)﴿۱﴾ورد المحتار ۵: ۲۸۶﴿۲﴾فلیراجعْ ، وهو الموفق .

﴿۱﴾ وفی الهندیة: قال القدوری فما کان عادیًا أی قدم خرابه لا مالک له أو کان مملوکًا فی الإسلام لایعرف له مالک بعینه وهو بعید عن القریة بحیث إذا وقف إنسان من أقصی العامر فصاح لم یسمع الصوت فیه فهو موات......وإذا حفر بئرًا فی أسفل جبل ملکه إلی أعلاه.

(فتاوی هندیة ۵ :۳۸۷، کتاب إحیاء الموات ، الباب الأول فی تفسیر الموات الخ)

﴿۲﴾قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالٰی :وفی الملتقی: الموات أرض لا ینتفع بها عادیةً أو مملوکةً فی الإسلام لیس لهامالک معین مسلم أو ذمی وعند محمد إن ملکت فی الإسلام لا تکون مواتًا......قوله وهو المختار أی اشتراط البعد المذکور، لأن الظاهر أنّ ما یکون قریبًا من القریة لا ینقطع ارتفاق أهلها عنه فیدار الحکم علیه.

(رد المحتار ۵:۶ ۳۰ـ۳۰۷، کتاب إحیاء الموات)

زموږ د هېواد تقسیم کوم عادل پاچا کړی دی؟

زموږ په ښارونو کې د پاچا له خوا د ځمکو د ابادولو عام اجازت دی

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زموږ ملك (هېواد) خو تقسیم شوی؛ نو دا کوم عادل پاچا تقسیم کړی دی؟ ځکه چې کورنی تقسیم خو جائز نه دی، په قاضي خان کې یې لیکلي دي: مَنْ أحیی الأرضَ المیتةَ بغیرِ اذنِ الامامِ فهو فی حکمِ المواتِ. بینوا توجروا

المستفتي: دوست محمد قادري رضوي خرکی ملا کنډ ..... ۱۳۹۹ هـ / رمضان المبارك /۱۸/

جواب: که یو سړی دا دعوه وکړي چې دا ښارونه مسلمانانو په زوره فتح کړي دي، د دوی مالونه غنیمت، ښځې او نارینه یې مینځې او غلامان دي، په دې ټول هېواد کې څوك ازاد انسان نشته، ټول د مینځو بچیان دي، مالکان او اربابان یې نامعلوم دي؛ نو ایا دا انکحه او توارث به پرېښودلای شي؟

یادونه: په دې ښارونو کې د پاچا له خوا د ځمکې د ابادولو عام اجازت دی.

باب الشربِ

د شریکانو بې اجازې د غره د اوبو ویاله بندول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د غره څخه د اوبو یوه ویاله راروانه ده، ښي او چپ طرفونو ته یې ځمکې ابادي دي، د یو طرف ځمکو والا د خپلې ځمکې د اوبولو لپاره د ویالې بندولو ته بند تړي، نور خلك ورته وایي چې د ځمکې د خړوبولو لپاره دلته بند مه تړه ځکه چې دا بیا زموږ ځمکو ته زیان اړوي. ایا دا نور خلك بند منع کولای شي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد دراز وزیرستان ..... ۱۴۰۲ هـ/ رمضان المبارك /۸/

جواب: که ددې بند تړلو له امله نورو ځمکو ته زیان رسېدل یقیني او یا هم غالب وي؛ نو بیا د بند منع کول جائز دي، که زیان رسېدل هسې وهم وي بیا یې منع کول جائز نه دي. کما فی الهندیة وکذا لوْ أرادَ واحدٌ منهمْ أنْ ینصبَ علیهِ رحی ماء لَمْ یکنْ له ذلك الابرضاء أصحابه فانْ کان الموضع الذی یضع علیه الرحی ملکه بانْ کانت حافتا النهرِ وبطن النهرِملکه و یضره حق اجراء الماءِ ینظر انْ أضرَّ باجراء الماءِ منع عنهُ وانْ لَمْ یضرلم یمنعْ عنه.﴿۱﴾وهو الموفق.

﴿۱﴾(الفتاوی الهندیة ۵: ۳۹۶ الباب الثالث فیما یحدثه الإنسان وما یمنع عنه)

وقال العلامة الحصكفي: (ولیس لأحد من الشرکاء) في النهر (أن یشق منه نهرا أو ینصب علیه رحی)(إلا رحی وضع في ملکه ولا یضر بنهر ولا بماءٍ.....) (بلا رضاهم). (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله إلا رحی وضع في ملکه) صورته أن یکون حافتا النهر وبطنه ملکا له ولغیره حق إجراء الماء. (ردالمحتار ۵: ۳۱۳ فصل الشرب)

په مملوکه ځمکه کې د نهر کنستلو نه منع کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې یوه ځمکه په دوه برخو تقسیم شوې چې په منځ کې کوم نهر نه لري، د دواړو برخو مالکانو هر یو خپلې ځمکې ته څلور طرفه دېوال وهلی دی، دویمې برخې والا د دېوال سره نزدې د ځان لپاره نیم ګز خالي ځای د نهر لپاره ایښی دی، ایا هغه بل سړی دی ددې نهرکنستلو نه منع کولای شي او که نه؟بینوا توجروا
المستفتي: مولوي محمد عثمان ډاکخانه بلوزئی ضلع پشین ...../ ۱۴۰۹ هـ / رمضان المبارک/۱۹/

جواب: د اول سړي لپاره جائز نه دي چې دویم سړی د نهر کنستلو نه منع کړي، ځکه چې دا ضرر فاحش نه دی. کما في شرح المجلة ص ۶۵۸، المادة : ۱۱۹۹، الضرر الفاحش هو كل ما يمنع الحوائجَ الأصليةَ يعني المنفعةَ الأصلية المقصودةَ ﴿۱﴾ وهو الموفق .

د غره چینه د زړې لارې نه بلې لارې ته منع کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زمونږ په کلي کې د غره نه له پخوا راهیسې په زړه لاره یوه چینه بهېږي او د اوبو په اندازه کې يې هم تر اوسه کوم فرق نه دی لیدل شوی، درې کاله کیږي چې کله اوبه نه بل خواته خلکو ځان ته اوبه تاو کړي وې، مونږ دغو خلکو ته ورغلو بیخي ختمي شي او کله ډيرې کمې راځي، کله چې مونږ معلومه کړه؛ نو د غره

﴿۱﴾(شرح المجلة ۳: ۱۴۲ المادة: ۱۱۹۹: الفصل الثاني في حق المعاملات الجوارية)

وقال ابن عابدين رحمه الله تعالى: والذى استقر عليه رأى المتأخرين أن الإنسان يتصرف فى ملكه وإن أضرّ بغيره مالم يكن ضررًا بيّنا، وهو ما يكون سببا للهدم أو ما يوهن البناء أو يخرج عن الانتفاع بالكلية وهو ما يمنع من الحوائج الأصلية كسدّ الضوء بالكلية والفتوى عليه.(ردّ المحتار ۵: ۱۹۱، قبيل كتاب المزارعة)

چې کورئ د ډېر وخت نه دغه اوبه زموږ په طرف راروانې وې او اوس تاسو بې اجازې اړولې دي، په دېکښې ستاسو هيڅ حق نشته؛ خو هغوی بيا - بيا دا وينا کوي چې موږ ته هم پکښې نيمې اوبه راکړئ؛ اوس ددې مسئلې شرعي حکم څه دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: گل نواز پاړا چنار کرم ايجنسی ... ۱۹۷۲م / ۹ / ۲۰/

جواب: که د پورته خلکو بند بې ځايه کړی نه وي، بلکې په خپل زور حالت بې همداسې پرې ايښی وي؛ نو د لاندې خلکو دعوو ته هيڅ اعتبار نشته. يدلُّ عليه ما فى الهندية ۵: ۴۳۱: والماء الذى ينحدرُ عنِ الجبلِ فى الوادى اختلفوا فيه ، قيل: لأهلِ الأعلى السكر والمنع عنْ أهلِ الأسفلِ ولكنْ ليسَ لهمْ قصد الاضرارِ بأهلِ الأسفلِ فى منعِ الماءِ ما وراء الحاجة واختاره السرخسى رحمه الله تعالى وقيل الخ﴿۱﴾وهوالموفق .

د مالکانو بې اجازې د ويالې نه اوبه وړل

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې په يو کلي کې د سلو کالو نه يوه زړه وياله د اوبو لپاره کنستل شوې ده، په کومه ځمکه کې چې دا وياله کنستل شوې ده، دا يوازې د همدغو کليوالو ده او هغوی دا وياله د خپل جومات او باغونو لپاره کنستلې وه. اوس دوی غواړي چې د وياله په ځمکه کې د اوبو پيپ تېر کړي، اوس دويمه داسې ډله ده چې نه يې د وياله سره کار ؤ او نه يې هم د اوبو د پيپ سره کار شته او وايي چې:

﴿۱﴾ (الفتاوى الهندية ۵: ۳۹۶. الباب الثالث فيما يحدثه الإنسان وفيما يمنع عنه)

وفى النتف فى الفتاوى: وأما الماء الذى ينبع من الجبال فينصب إلى الأودية أو ماء الأمطار والسيول فإنها لمن سبقت إليه (يده) فيكون أولى بالسقى حتى يرتوى ثم الذى يليه، وإن جرى لقوم فيها رسم حملوا على ذلك الرسم، و ليس لأحد منهم أن ينقض ذلك الرسم. (النتف فى الفتاوى ص ۳۸۳ كتاب الشرب : ماء النبع)

ددې پیپ څخه به موږ ته هم اوبه راکوئ؛ ایا په شریعت کې ددې سړي زموږ سره د اوبو حق شته او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: د پاولا کچپوری ضلع مانسهرې اوسېدونکي ...... ۱۹۷۹ م / ستمبر/۱۶/

جواب: ددې بل سړي لپاره هیڅکله نه دي جائز چې د دوی د پیپ نه اوبه په زوره واخلي او یا هم د هغوی د اوبو ویاله بنده کړي، کما فی شرح المجلة ص ۶۵۷: لا يمنعُ أحدٌ من التصرفِ فى ملكه أبداً الا اذا أضرَّ بغيره ضرراً فاحشاً﴿۱﴾و فيه أيضاً ص ۶۱، لا يجوزُ أنْ يتصرفَ فى ملك غيره بلا اذنه﴿۲﴾وهوالموفق .

د غره په لمن کې د شریکانو بې اجازې تصرف کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې په ځمکو باندې کوم بند شرقاً او غرباً جوړ شوی دی، د مغرب خواته چې کوم بند دی هغه زما دی او مشرق خواته چې کوم بند دی هغه د بل سړي دی، د دوی ځمکو ته اوبه د جنوب له خوا راځي لومړی مغربي خواته زما ځمکې اوبه کوي بیا چې کله زما نه زیاتي شي؛ نو بیا مشرقي خواته ورځي او د هغوی ځمکې اوبه کوي، د پورته څخه د راتلونکو اوبو لومړی حق دار زه یم،

﴿۱﴾(شرح المجلة ۲: ۱۲۰، المادة ۱۱۹۷: قبيل الفصل الثاني فى حق المعاملات الجوارية)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ولا سقى ارضه وشجره وزرعه و نصب دولاب ونحوها من نهر غيره وقناته وبئره إلا باذنه......ولو كانت البئر أو الحوض أو النهر فى ملك رجل فله أن يمنع مريد الشفة من الدخول فى ملكه.

(الدر المختار ۵: ۳۱۱-۳۱۲، فصل الشرب)

﴿۲﴾(شرح المجلة ۱: ۲۶۲، المادة: ۹۶)

په داسې حال کې چې د پورته څخه کومې اوبه راځي؛ نو مخې ته يې لومړی زما بند دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولانا علي جان لورالائی بلوچستان ...... ۱۴۰۳ هـ / ربیع الثانی /۴/

جواب: د فقهاؤ مشهوره قاعده ده: القدیمُ یترك علی قدمه په بناء د نبکته یا پورته شینکیو لمنو اوبه نوي خلك د زړو خلکو بې اجازې نه شي استعمالولای.﴿۱﴾ والله أعلمُ.

د چا په مملوکه چینې باندې د شرب دعوه کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې په بیره نومې ځای کې مې خپله ځمکه ده او په هغې کې یوه چینه ده چې د پلار او نیکونو له وخته مو پرې خپل کښت او پټي اوبه کول، څوك شریك مو نه درلود او کومې اوبه چې به لاندې رواني وې؛ نو هغه به تر څلور فرلانګه پورې همداسې رواني وې، اصلي چینه په خپله زما په واك کې ده. اوس څلور فرلانګه لرې خلك راپورته شوي او وايي چې د چینې اوبه راسره نیمې کړه! په دې اړه پاك او سپېڅلی شریعت موږ ته څه حکم کوي؟ بینوا توجروا

المستفتي: سبوق د بیله او سبدونکی تحصیل توګره پټن ضلع کوهستان ..... ۱۴۰۳ هـ / شعبان /۲۷/

جواب: په شرط ددې چې ریښتیا وي، په دې چینه کې د مملك کوهي په څېر څوك د شرب دعوه نه شي کولای، کما یدلُ علیه فی الهندیة ۵: ۳۹۱ و لیسَ لأحد أنْ یسقی أرضه أوْ زرعه منْ نهر الغیر أوْ عینه أوْ قناته اضطرَّ لذلك أوْ لَمْ یضطرَّ الخ ولو کانت البئرُ أو العینُ

﴿۱﴾وفی شرح المجلة: القدیم یترک علی قدمه یعنی القدیم المشروع ما لم یوجد دلیل علی خلافه یترک علی حاله لحسن الظن بالمسلمین بأنه ما وضع إلا بوجه شرعی...... ،هذه القاعدة تجری فی حق المرور والمجری والمسیل وحق الشرب أو إحداث زیادة کوة من أحد الشرکاء فی النهر الخاص. (شرح المجلة ۱: ۲۳ ، المادة: ۶)

أوالحوضُ أوِ النهرُ في ملك رجلٍ فله أنْ يمنعَ من يريد الشفة من الدخولِ﴿۱﴾

وهوالموفق .

﴿۱﴾ (الفتاوی الهندية ٥: ۳۹۱ ،كتاب الشرب، الباب الأول في تفسيره)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ: ولا سقى أرضه وشجره وزرعه ونصب دولاب ونحوها من نهر غيره وقناته وبئره إلا بإذنه...... ولو كانت البئر أو الحوض أو النهر في ملك رجل فله أن يمنع مريد الشفة من الدخول في ملكه.


(در مختار ٥: ۳۱۱،۳۱۲: فصل الشرب)






فتاوی فریدیہ جلد اتم

کتاب الصید





قال النبی

صلی اللّٰہ علیه وسلّم

لعدی بن حاتم إذا أرسلت کلبک المعلّم

وذکرت اسم اللّٰہ فکل و إن أکل منه فلا

تاکل لأنّه أمسک علی نفسه .

(متفق علیه)

کتاب الصید

قالَ النبیُّ صلی اللّٰه علیه وسلمَ: لعدیِّ بنِ حاتمٍ اِذا أرسلتَ کلبكَ المعلّمَ و ذکرتَ اسمَ اللّٰهِ فکُلْ واِنْ أکلَ منهُ فلا تأکلْ لأنّه أمسكَ علی نفسه . (متفقٌ علیه)

د ښکار حکم

سوال: د دین عالمانو او مفتیانو ددې مسئلې په اړه څه وایي چې یو سړی د ښکار ډېر شوق لري، په شریعت کې داسې سړي ته تر کومه پورې د ښکار اجازه ده، ایا روزانه په ښکار کولو سره خو به ګناهګار نه وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: بهادر کوټکی ..... ۱۹۷۵م /۸/ ۱۰/

جواب: ستاسو درانه حضور ته السلام علیکم! ښکار کول خپله یو مباح کار دی؛ خو ډېر وخت ښکار کول ښه نه دي، ددې لپاره چې په غفلت کې اخته نه شي﴿۱﴾ او د کوم ښکار له امله چې لمونځ قضا کیږي او یا هم جماعت ته پکښې نقصان رسیږي بیا ناجائز دی.﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه اللّٰه تعالیٰ: هو مباح بخمسة عشر شرطاإلا لمحرم فی غیر الحرم أو للتلهی أو حرفة علی ما فی الأشباه.

وقال العلامة الشامی رحمه اللّٰه تعالیٰ: قوله مما یورث السرور وقبل الغفلة واللهو لحدیث من اتبع الصید فقد غفل). (الدر المختار مع رد المحتار ۵: ۳۲۸کتاب الصید)

﴿۲﴾قال العلامة ابن حجر رحمه اللّٰه تعالیٰ: کل لهو باطل إذا شغله أی شغل اللاهی به عن طاعة اللّٰه ای کمن التهی بشیء من الأشیاء مطلقا سواء کان ماذونا فی فعله او منهیا عنه کمن شغل بصلاة نافلة أو بتلاوة او ذکر او تفکر فی معانی القرآن مثلاً حتی خرج وقت الصلوٰة المفروضة عمدًا فإنه یدخل تحت هذا الضابط، وإذا کان هذا فی الأشیاء المرغب فیها المطلوب فعلها فکیف حال ما دونها.

(فتح الباری ۱۱: ۹۱، کتاب الإستئذان ، باب کل لهو باطل إذا شغله عن طاعة اللّٰه)

ښکار ساتل، په قفس کې بندول، الوزول او په خپل منځ کې یې جنګول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې خلك ازاد مرغان لکه کوتره، مرز او فاخته (دا د کوترې په شکل کې وي، په کابل کې ډېرې دي (ژباړن) نیسي، په قفس کې یې بندوي او مرزان خو بیا د یو بل سره جنګوي، د الله په نزد به یې د ساتونکو څه حال وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد صادق پبی ..... ۱۴۰۲ هـ / صفر المظفر / ۳۰/

جواب: د ښکار ساتل روا دي، ﴿۱﴾ لحدیث یا أبا عمیر ما فعل النغیر ﴿۲﴾ خو په قفس کې یې بندول او د یو بل سره یې جنګول روا نه دي، لما فی الهندیة ۵: ۴۱۶: حبس بلبلاً فی قفصٍ وعلفها لا یجوزُ کذا فی القنیةِ ﴿۳﴾ ولحدیثٍ نهی عنِ التحریشِ بینَ البهائمِ رواهُ ابوداؤدَ ﴿۴﴾ د مارغانو الوزول هم منع دي، لحدیثِ شیطانة یتبها الشیطان (مشکوة) ﴿۵﴾ څوك چې دا کارونه کوي هغه به ګناهګار وي. وهوالموفق

د شاهین او باز ښکار کول او الوزول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې په اوسني دور کې خلك د باز او شاهین ښکار کوي، په شریعت کې د داسې ښکار څه حکم دی؟ دغه راز که دا حیوانات خرڅ شي؛ نو د دې روپو استعمال

﴿۱﴾ قال المحدث علی القاری رحمه الله تعالی: لا بأس أن یعطی الصبی الطیر لیلعب به من غیر أن یعذبه . (مرقاة المفاتیح ۹: ۱۲۲، باب المزاح)

﴿۲﴾ (الصحیح للإمام البخاری ۲: ۹۰۵ کتاب الأدب، باب الانبساط إلی الناس)

﴿۳﴾ (فتاوی هندیة ۵: ۳۸۱ کتاب الکراهیة، الباب الثلاثون فی المتفرقات)

﴿۴﴾ (سنن ابی داؤد ۲: ۳۳۶ کتاب الجهاد، باب فی التحریش بین البهائم)

﴿۵﴾ (مشکوة المصابیح ص ۳۸۶ باب التصاویر)

ښکه دی؟ ځیني خلك وایي چې دا خپله مردار دي؛ نو په پیسو یې خرڅول هم حلال نه دي، بینوا توجروا

المستفتي: باز محمد ولد نور خان پوسټ ماستر ډاکخانه تجوړي بانك ..... ۱۹۸۵ م / ۲ / ۱۱/

جواب: د دغو مارغانو ښکار کول روا دي، د هدایې لیکوال لیکي چې د ښکار کولو نه مطلب کله - کله غوښه وي، کله څرمن او کله هم د تکلیف لرې کول وي، «۱» په هر حال چې وي؛ نو باز او شاهین خو لوی مارغان دي. ددې په ښکار کولو کې خفاء (پټوالی) له کومه شو؟ «۳» وهوالموفق

مارغان بندول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د مارغانو بندول ښکه دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: اکرام الحق راولپنډی ..... ۱۹۷۸ م / ۱۱ / ۹/

جواب: د مارغانو بندول ناجائز دي، یدلُ علیه ما فی الهندیة: حبس بلبلاً فی قفص و علفها لا یجوزُ کذا فی القنیة، «۳» وهوالموفق .

«۱» وفی الهدایة: ویجوز اصطیاد مایؤکل لحمه من الحیوان وما لایؤکل ...... ولأن صیده سبب للانتفاع بجلده أو شعره أو ریشه أو لاستدفاع شره وکل ذلک مشروع.

(هدایة۴:۵۱۵، کتاب الصید، فصل فی الرمی)

«۲» قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالیٰ : ویحل الصید بکل ذی ناب ومخلب من کلب وباز ونحوهما بشرط قابلیة التعلیم وبشرط کونه لیس بنجس العین.

(الدر المختار ۵: ۳۲۹، کتاب الصید)

«۳» (فتاوی هندیة ۵ : ۳۸۱ کتاب الکراهیة، الباب الثلاثون فی المتفرقات)

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ : وفی القنیة رامزًا حبس بلبلًا فی القفص وعلفها لایجوز. (رد المحتار ۵: ۲۸۳ کتاب الحظر والإباحة : فصل فی البیع)

د ملخ (جراد) تعریف او حکم یې

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زموږ په بلوچستان کې یو قسم حیوان دی او زموږ خلك ورته تاز وایي، خلك یې نیسي او په غوړو کې یې ځان ته کباب وي، ما ویل که دا د عربو هغه جراد وي؛ نو ددې څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولانا غلام سرور صاحب د کویټې ښار

جواب: ملخ (جراد) حلال دی، كما صرح به في الحديث﴿۱﴾ والفقه﴿۲﴾ ددې لوی-لوی سیلونه وي، دا شنه او توروالي ته چې کوم نژدې وي او په غنمو کې چې کښیني؛ نو مردار بوی ترې ځي، دا جراد نه دي، د قواعدو په رڼا کې ددې خوړل هم مباح دي، لحديث أبي داؤدَ: وماسكتَ عنهُ فهو عفوٌ﴿۳﴾ خو که د بدن روغتیا ته تاوان کوي ﴿۴﴾ بیا یې خوړل صحیح نه دي، وهو الموفق.

﴿۱﴾ عن عمر رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: أحلت لنا ميتتان ودمان الميتتان الحوت والجراد والدمان الكبد والطحال.
(مشكوة المصابيح ۳۶۱، كتاب الصيد، باب ما يحل أكله وما يحرم، الفصل الثاني)

﴿۲﴾ قال العلامة الشامي رحمه الله تعالى: وكل ما لادم له فهو مكروه أكله إلا الجراد.
(ردالمحتار ۵: ۲۱۵ كتاب الذبائح)

﴿۳﴾ عن ابن عباس رضي الله تعالى عنه قال كان أهل الجاهلية يأكلون أشياء ويتركون أشياء تقذرًا فبعث الله نبيه ﷺ وأنزل كتابه وأحل حلاله وحرم حرامه فما أحل فهو حلال وما حرم فهو حرام وما سكت عنه فهو عفو. (أبوداؤد ۲: ۵۳۹، كتاب الأطعمة، باب مالم يذكر تحريمه)

﴿۴﴾ وفي الهندية: أكل الطين مكروه هكذا ذكر في فتاوى أبي الليث رحمه الله تعالى وذكر شمس الأئمة الحلواني في شرح صومه إذا كان يخاف على نفسه أنه لو أكله أورثه ذلك علة أو آفة لايباح له التناول وكذلك هذا في كل شيئ سوى الطين.
(فتاوى هندية ۵: ۳۴۰، كتاب الكراهية، الباب الحادي عشر في الكراهة في الأكل)

د څرمنې سره لګېدلې کاټ شوي اندام

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې که په ټوپک کوم مارغه ولګیږي او وزر یې کاټ شي یا یې پښه کاټه شي؛ نو د څرمنې پوړې یې پیوست وي او ددې وروسته بیا مارغه حلال شي؛ نو ددې کاټ شوي وزر او پښې څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد السلام بوری والا ضلع وهاړی ۱۹۷۸م/۷/۲۲/

جواب: د ژوندي حیوان نه کاټ شوي اندام حرام دی. ﴿۱﴾ وهوالموفق .

فارمي مارغان او هګۍ یې حلالې دي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې نن سبا د شپور ماشین په واسطه کوم چرګان پیدا کیږي ایا دا حلال دي او که حرام؟ کله چې د توالد او تناسل اختلاط نه وي؛ نو دا قدرتي پیدایش نه شو؛ نو بیا ددې خوړل حرام راځي که حلال او که مکروه؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد عبد الله فردوس کالونی کراچی نمبر ۱۸ ..... ۱۴۰۱ هـ/ ربیع الأول /۱۸/

﴿۱﴾ وعن ابی واقد اللیثی رضی الله تعالیٰ عنه قال قدم النبی ﷺ المدینة وهم یجبون اسنمة الإبل ویقطعون الیات الغنم فقال ما یقطع من البهیمة وهی حیة فهی میتة لا تؤکل، رواه الترمذی وأبوداؤد.

(مشکوٰة المصابیح ص ۳۵۹ کتاب الصید والذبائح ، الفصل الثانی)

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالیٰ: العضو یعنی الجزء المنفصل من الحی حقیقة وحکما ....کمیتته کالأذن المقطوعة .

(الدرالمختار ۵:۲۱۸ قبیل کتاب الأضحیة)

جواب: د صحیح حدیثونو ﴿۱﴾ او فقهاء کرامو د تصریحاتو له مخې ﴿۲﴾ دا مرغان حلال دي، برابره خبره ده چې دا مرغان د بل مرغه نه پیدا شي، که د ماشین په ذریعه پیدا شي او که بې ماشینه پیدا شي، دغه راز ددې مرغانو هګۍ هم حلالي دي، ﴿۳﴾ وهو الموفق .

د پلاسټک څخه جوړ شوي ماهیانو او چینجیانو باندې ښکار کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې په ښار کې د پلاستك څخه جوړ شوي ماهیان او چینجیان د ښکار کولو لپاره خرڅیږي، د ژوندي ساه لرونکو حیواناتو سره د مشابهت له امله ددې شیانو جوړول او په دې باندې ښکار کول حلال دي او که حرام؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد السلام بورې والا ضلع وهاړی ..... ۱۹۸۷ م / ۱۱ / ۲۲/

﴿۱﴾عن زهدم الجرمی قال دخلت علی أبی موسٰی وهو یأکل دجاجة فقال: ادنُ فکل فإنی رأیت رسول الله ﷺ یأکله هذا حدیث حسن.

(سنن الترمذی ۲: ۵، أبواب الأطعمة: باب ماجاء فی أکل الدجاج)و

(مشکوٰة المصابیح ۲: ۳٦۰، باب مایحل أکله)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: والمستأنس منه کالدجاج والبط......والغراب الذی یأکل الحب والزرع ونحوها حلال بالإجماع، کذا فی البدائع.

(فتاوی هندیة ۵: ۲۸۹، الباب الثانی فی بیان ما یؤکل من الحیوان)

﴿۳﴾قال العلامة الکاسانی رحمه الله تعالی: وإذا خرجت من الدجاجة المیتة بیضة تؤکل سواء اشتد قشرها أو لم یشتد ......لنا أنه شیٔ طاهر فی نفسه مودع فی الطیر منفصل عنه لیس من أجزائه فتحریمها لایکون تحریمًا له.

(بدائع الصنائع ٤: ۱٦۰، کتاب الذبائح: بیان کیفیة الذبح)

جواب: د ژوندي ساه لرونكي حيوان عكس جوړول ناجائز دي، ﴿۱﴾ خو په دې سره بيا په ښكار كولو كې مرسته حاصلول بيا ناروا نه دي. وهوالموفق.

د ژوندي حيوان كاټ شوي اندام حكم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې يو سړي په غشي يو حيوان وويشت او په غره ولوېد، ددې حيوان د بدن كومه برخه د غره دپاسه پاتې شوه. كله چې حيوان لاندې راښكته شو؛ نو هغه يې حلال كړ، د هغه پاتې شوي اندام خوړل څنګه دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: حبيب الرحمن شير كلى ضلع راولپنډى ...... ۱۴۰۱ هـ/ ۸/ ۱۶/

جواب: د حديثو او فقهي روايتونو په رڼا كې د كوم ژوندي حيوان اندام چې غوڅ شي؛ نو د هغې خوړل بيا حرام دي،، ﴿۲﴾ هداية ﴿۳﴾ شامي،وهوالموفق.

﴿۱﴾ عن عبد الله بن مسعود رضى الله تعالى عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول: أشد الناس عذابًا عند الله المصوّرون متفق عليه .(مشكوة المصابيح ص ۳۸۵، باب التصاوير)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وظاهر كلام النووى فى شرح مسلم الاجماع على تحريم تصوير الحيوان ، وقال وسواء صنعهٗ لما يمتهن أو لغيره فصنعته حرام بكل حال لأن فيه مضاهاة لخلق الله تعالى .

(رد المحتار ۱: ۴۷۹ مكروهات الصلاة : مطلب إذا تردد الحكم بين سنة وبدعة)

﴿۲﴾ وفى الهداية :وإذا رمى صيدا فقطع عضوًا منه أكل الصيد لما بيناه، ولا يؤكل العضو ......لقوله عليه السلام ما ابين من الحى فهو ميت.(هداية ۴: ۵۱۳ كتاب الصيد ،فصل فى الرمى)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: كصيد رمى فقطع عضو منها فانه يؤكل لا العضو خلافاللشافعى، ولنا قوله عليه الصلوة والسلام: (ماأبين من الحى فهو ميتة).

(الدرالمختار ۵: ۳۳۶ كتاب الصيد)

خنزیر ولې حرام دی؟

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زما د کور سره نږدې د محمد حیات خان کور هم دی. کله - کله مو د کافرانو سره بحث راشي؛ نو هغوی زموږ نه پوښتنه کوي چې تاسو خنزیر ولې حرام ګڼئ؟ نو موږ دا اقرار ورسره کوو چې حرام خو دی لیکن موږ ته پوره معلومات نشته چې ولې حرام دی؟ اوس تاسو راته ددې معلومات راکړئ؛ بینوا توجروا

المستفتي: محمد اعظم لندن ..... ۱۹۸۹ م / جون /۱۷/

ځواب: تاسو د دوی نه پوښتنه وکړئ چې خنزیر ولې حلال دی او څه ګټې پکښې دي؟ دغه راز خنزیر ډېر بې غیرته حیوان دی، ځکه چې دوی د یو ښځینه خنزیر سره په یو وخت کې ډېر زیات خنزیران جماع کوي، دغه راز خپله مرداري خپله خوري او څوک چې د کوم حیوان غوښه خوري په هغه کې یې نښې موجودیږي،﴿۱﴾ فقط وهوالموفق.

د ماهیانو په نیولو کې د شراکت حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د ماهیانو د ښکاري سره څوک په داسې معامله شرکت وکړي چې د ښکار آلات به عاریتاً یا تملیکاً زه درکړم او عمل به ستا وي، د آلاتو ورکوونکي به مثلاً ۴/۱ یا ۳/۱ برخه وي؛ نو ددې څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد السلام ضلع وهاړی ..... ۱۹۸۷ م / ۱۱ / ۲۲/

﴿۱﴾قال العلامة محمد کامل رحمه الله تعالیٰ: سئلت عن علة تحريم أكل الخنزير ماهی؟ فأجبت بما في تفسير الشيخ الأكبر قدّس سره من أن العلة في تحريمه غلبة السبعية والشرة ومباشرة القاذورات والدياثة على طبيعته فيولد أكله في آكله ذلک والله تعالیٰ أعلم.
(فتاوی کاملیة ۲۷۳ کتاب الحظر والإباحة، مطلب فی علة تحريم أكل الخنزير)

جواب: د ماهیانو په نیولو کې شراکت ته هیڅ عتبار نشته، دا ټول صورتونه کالعدم دي، کما فی شرح التنویرِ : لا تصحُ شرکة فی احتطابٍ و احتشاشٍ و اصطیادٍ و استقاءٍ و سائرِ مباحاتٍ ... وما حصله أحدهما فله و ما حصلاهُ معاً فلهما الخ هامش رد المحتارِ ١: ٤٨٢، ٤٨٣﴿١﴾ وهوالموفق.

د حلالولو پرمهال د بدن نه په تېزی سره وینې وتلو سره ښکار حلال دی

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایې چې یو سړي د ښکار کولو پرمهال په ټوپك بسم الله وویل او ښکار لاندې راولوېد؛ خو په هغه کې د ژوند هیڅ اثر نه ؤ او نه هم څه حرکت پکښې ؤ، کله چې یې حلالولو؛ نو وینه یې په تېزۍ سره ووتل، اوس به دا ښکار حلال وي او که حرام؟ که وینه ونه وځي؛ نو بیا به یې څه حکم وي؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: بهادر گل کوټکی ..... ١٣٩٥ هـ/ شوال /١٣/

جواب: د کوم حیوان نه چې د حلالېدو پرمهال تېزه وینه ووځي؛ نو هغه پاك دی، اګر که د ژوند بله هیڅ علامه پکښې نه وي، کما فی ذبائح الدر المختارِ : ذبحَ شاةً مریضةً فتحرکتْ أوْ خرجَ الدمَ حلتْ و الا لا انْ لمْ تدرِ حیاتــه ، وفی رد المحتارِ٥: ٢٠٢ ،قوله أوْیخرجُ الدم أی کمایخرج منَ الحی﴿٢﴾وهوالموفق.

﴿١﴾(الدر المختار٣: ٣٨٢ کتاب الشرکة ، فصل فی الشرکة الفاسدة)

وفی الهندیة : لاتصح الشرکة فی الاحتطاب والاصطیاد والاستقاء کذا فی الکافی ......وما اصطاد کل واحد منهما ...... فهو له دون صاحبه.

(فتاوی هندیة٢: ٣٣٢ کتاب الشرکة :الباب الخامس فی الشرکة الفاسدة)

﴿٢﴾(الدر المختار مع رد المحتار ٥: ٢١٧ کتاب الذبائح)

وفی الهنـدیة : وان ذبح شاة أو بقرة فخرج منها دم ولم تتحرک وخروجه مثل ما یخرج من الحی اکلت عند أبی حنیفة وبه نأخذ. (فتاوی هندیة٥: ٢٨٦ کتاب الذبائح)

كه په ښكار كې هر ډول ژوند وي، نو حلالول يې صحيح دي

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې كه ښكاري د مرمۍ والا په ټوپك ښكار وولي او د ويشتو سره يې سمدستي حلال كړي، خو ښكاري ته دا معلومه نه شي چې ايا دا حيوان ژوندى ؤ او كه مړ، نو ددې په څه حكم وي؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد ګلاب دكاندار دير ...... ۱۹۷۶م/ ۴ /۳/

جواب: په كوم ښكار كې چې ادنى ژوند وي بيا يې هم حلالول صحيح دي او كه بيخي ژوند پكښې نه وي بيا نو مردار دى، كما في رد المحتار ۵: ۴۱۶، و كـذا الفتوى على اعتبارمطلق الحياة في الصيد على مامرّعن الزيلعي«۱» وهوالموفق.

د شمشتي (ضب) ښكار او د حلال ګڼونكي حكم يې

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د شمشتي (ضب) خوړونكي او حلال ګڼونكي څه حكم لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: غلام نبي لياقت كريانه مرچنټس ميانوالى ..... ۱۴۰۱ هـ/ ۳۰/ ۵/

«۱»(رد المحتار ۵: ۳۳۴ كتاب الصيد)

قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: أن الحياة الخفية معتبرة عنده وعندهما غير معتبرة حتى حلّت المتردية والنطيحة والموقوذة ونحوها بالذكاة إذا كان فيها حياة وإن كانت خفية عنده و عندهما لا تحل إلا إذا كانت حياتها بينة ...... فلا يحل الأكل إلّا بالذكاة كانت حياته خفية أو بينة لجرح المعلم أو غيره من السباع وعليه الفتوى. لرائق ۸: ۲۲۴ كتاب الصيد)

جواب: أكلُ الضبِّ مختلفٌ فيه لاختلافِ الرواياتِ الحديثيةِ﴿۱﴾ فليسَ مستحله كافراً ولا فاسقاً و لا مستحقُّ التعزيرِ . وهوالموفق

د سويکي (خرگوش) حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې دلته په سعودي کې ما د ډېرو خلکو نه اورېدلي دي چې د سويکي (خرگوش) غوښه حرامه ده، موږ د شرعي مسئلې نه خبر کړئ! بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم

جواب: د سويکي (خرگوش) غوښه خوړل حلال دي. لما رواهُ أبو داؤدَ عنْ أنسٍ بنِ مالكٍ قالَ كنتُ غلاماً حزوراً فأصدتُ أرنباً فشويتها فبعثَ معي أبوطلحةَ بعجزها

﴿۱﴾ عن ابن عباس رضى الله تعالىٰ عنه ان خالد بن وليد أخبره أنه دخل مع رسول الله ﷺ على ميمونة رضى الله تعالىٰ عنها وهى خالته وخالة ابن عباس رضى الله تعالىٰ عنه فوجد عندها ضبًا محنوذًا فقلمت الضبّ لرسول الله ﷺ فرفع رسول الله ﷺ يده عن الضب، فقال خالد أحرام الضب يا رسول الله؟ قال لا! ولكن لم يكن بارض قومى فأجدنى أعافه، قال خالد فاجتررته فأكلته ورسول الله ﷺ ينظر اليّ . متفق عليه . ... عن عبد الرحمٰن ابن شبل رضى الله تعالىٰ عنه أن النبى ﷺ نهى عن أكل لحم الضب رواه أبوداؤد .
(مشكوٰة المصابيح ص ۳۶۱،۳۶۰ كتاب الأطعمة)

وقال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالىٰ : ولا يحل ذو ناب يصيد بنابه ...... والضب وماروى من أكله محمول على الابتداء . (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ :(قوله على الابتداء) أى ابتداء الاسلام قبل نزول قوله تعالىٰ: وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ .
(رد المحتار مع الدر المختار ۵: ۲۱۵ كتاب الذبائح)

الی النبیّ صلی الله علیه وسلمّ فأتیته بها فقبلها. ﴿۱﴾ والله أعلمُ

د ملا چرګک (هُدْهُدْ) حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې ملاچرګک (هُدْهُدْ) حلال دی او که حرام؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم

جواب: ملاچرګک (هدهد) مکروه دی، کما فی رد المحتار ۵: ۲۹۷ ، فلیراجعْ ﴿۲﴾ وهوالموفق .

طوطي حلاله ده

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې طوطي حلاله ده او که مرداره؟ مهرباني وکړئ د دلائلو په رڼا کې يې وليکئ او ثواب ترلاسه کړئ! بینوا توجروا

المستفتي: مولوي عثمان الله نمبر ۶ ملټري پوليس يونټ کرآف آيس بی پي او نمبر ۱۱ ...... ۱۹۹۱م / ۳۱/ ۵/

جواب: طوطي د شوافعو په نزد مرداره او د احنافو په نزد حلاله معلوميږي. ﴿۳﴾

﴿۱﴾ (سنن أبی داؤد ۲: ۵۳۱ کتاب الأطعمة: باب فی أکل الأرنب)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالیٰ: وحل الجراد...... والأرنب والعقعق .

(الدرالمختار ۵: ۲۱۶ کتاب الذبائح)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: ویکره الصرد والهدهد.

(رد المحتار ۵: ۲۱۵ کتاب الذبائح)

﴿۳﴾ قال العلامة عبد الرحمٰن الجزیری رحمه الله تعالیٰ: ویحل من الطیر أکل العصافیر بجمیع أنواعها والسمان ...... والبلبل والببغاء.

(کتاب الفقه علی المذاهب الأربعة ۲: ۸ کتاب الحظر والإباحة، مبحث مایمنع أکله وما یباح)

ځکه چې دانه مښو که لري او نه هم پنجې.﴿۱﴾ او نه هم د حشراتو څخه ده﴿۲﴾ والأصلُ فی الأشیاءِ الحلُّ﴿۳﴾ لحدیث ابنِ عباسٍ رضی اللّٰه عنهُ و ما سکتَ عنهُ فهوَ عفوٌ﴿۴﴾ ولَمْ أجِدْ حکمَ البغاءِ صریحاً معَ التتبعِ ، نعمْ فی رد المحتارِ ۵: ۲۶۷ وحرمَ الشافعی الخطابَ والبغاءَ والطاؤسَ والهدهدَ﴿۵﴾. وهو الموفق

د ټوپک ښکار د حلالولو نه بغیر نه حلالیږي

سوال: د دین عالمان او مفتیان د دې مسئلې په اړه څه وایي چې د ټوپک ښکار حلال دی او که مردار؟ ځکه چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په دور کې خو ټوپک نه وُ؛ نو تفصیلي بیان راولیږه. بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ...... ۱۴۰۲ هـ / جمادی الأولی /۲۴/

ځواب: په ټوپک باندې ښکار کول جائز دي؛ خو که د حلالې نه بغیر حیوان مړ شي؛ نو مردار دی، لما في قاضی خان : لا یحلُّ صیدُ البندقةِ والحجرِ والمعراضِ﴿۶﴾ واللّٰهُ أعلمُ

﴿۱﴾ عن ابن عباس رضی اللّٰه تعالیٰ عنه : قال نهی رسول اللّٰه ﷺ عن کل ذی ناب من السبع وعن کل ذی مخلب من الطیر.
(اعلاء السنن ۱۷: ۱۵۳، کتاب الذبائح ، باب النهی عن أکل ذی ناب من السباع الخ)

﴿۲﴾ عن ابن عمر رضی اللّٰه تعالیٰ عنه قال: نهینا عن خشاش الأرض.
(مسند الإمام الأعظم ص ۱۹۱، کتاب الأطعمة والأشربة والضحایا والصید والذبائح)

﴿۳﴾ (الأشباه والنظائر ص ۲۶ قاعدة هل الأصل فی الأشیاء الإباحة)

﴿۴﴾ عن ابن عباس رضی اللّٰه تعالیٰ عنه ....فبعث اللّٰه نبیه ﷺ وأنزل کتابه وأحل حلاله وحرم حرامه، فما أحل فهو حلال وما حرم فهو حرام وما سکت عنه فهو عفو.
(سنن أبی داؤد ۲: ۵۳۹ کتاب الأطعمة: باب ما لم یذکر تحریمه)

﴿۵﴾ (رد المحتار ۵: ۲۱۵ کتاب الذبائح)

﴿۶﴾ (فتاوی خانیة علی هامش الهندیة ۳: ۳۶۰ کتاب الصید والذبائح)

په مرمۍ، چریو والا مرمیو او مردک باندې د ښکار حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې په توپک باندې د مرغۍ ویشتل څنګه دي چې دا درې مرمۍ پکښې وي، ۱: د توپک مرمۍ، ۲: د چریو والا مرمۍ ۳: په مردک باندې، که په دې درې مرمیو باندې مرغۍ وویشتل شي؛ نو ایا مرغۍ به حلاله وي او که حرامه؟ بینوا توجروا

المستفتي: سید حبیب الله شاه پشین بلوچستان ۱۹۷۶م/۵/۱۲/

جواب: دا ټول قسمونه په موقوذه کې شامل دي او حرام دي،﴿۱﴾ خلافاً للمالكيةِ﴿۲﴾ لأنها بقوّةِ البارودِ و تدخلُ الصيدَ فهوَ بالثقلِ الحكمى فافهمْ كالمقتولِ .وهوالموفق

﴿۱﴾ قال الله تعالىٰ :حرمت عليكم الميتة والدم .....والموقوذة الخ .(سورة المائدة:۳)

عن عدى ابن حاتم رضى الله تعالىٰ عنه قال سألت النبى ﷺ عن المعراض فقال إذا أصاب بحده فكل وإذا أصاب بعرضه فلا تاكل فإنه وقيذ.

(أبوداؤد۲: ۳۹۲ كتاب الذبائح ، باب فى الصيد)

و فى ردالمحتار :قال قاضى خان لا يحل صيد البندقة والحجر والمعراض والعصا و ما أشبه ذلك وإن جرح لأنه لا يخرق. (ردالمحتار ۵: ۳۳۵ كتاب الصيد)

﴿۲﴾قال العلامة الجزيرى رحمه الله تعالىٰ :المالكية قالوا إنه لم يوجد نص من المتقدمين فى الصيد برصاص البنادق ولكن كثيرًا من المتاخرين يوثق بهم قالوايحل أكل ما يصطاد به ويميته لأنه يريق الدم ويسرع فى القتل أكثر من غيره والغرض من الذكاة الشرعية إنما هو الإجهاز السريع على الحيوان كى يستريح من التعذيب فكلّما كان أسرع فى الإجهاز عليه كان استعماله احسن ولا يشترط أن يكون الجرح بالشق بل يصح ان يكون بالخرق ايضًا.

(كتاب الفقه على المذاهب الأربعة۲: ۲۹ مباحث الصيد و الذبائح ، الشروط المتعلقة بآلة الصيد)

په توپک او چرې باندې وقذ (څیرې کېده) راځي جرح (زخمي کېده) نه راځي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې (۱) زموږ په کلي کې د پخوانیو سپین ږیرو له وخته داسې رواج دی چې کله څوك په توپك ښکار کوي او د وار نه وړاندې بسم الله وایي؛ نو مرغۍ چې ولګیږي او په ځمکه راولویږي، اګر که هغه مړ شوی وي چاړه ورباندې تېره کړي او وایي چې دا حلال دی، د قرآن او حدیث په رڼا کې راته جواب راکړئ!

(۲) په کارتوس کې چې کومې مرمۍ دي هغه څوکې نه لري بلکې د چریو په ذریعه حیوان مړ کوي، ایا په دې باندې ښکار جائز دی او که نه؟

(۳) په 7mm مرمۍ باندې چې د الله اکبر په نعرې د غره پسه ولګیږي او چېرته لرې مړ ولویږي، وروسته په چاړه حلال شي ایا دا حیوان به حلال وي او که حرام؟ یعني د غوښې نه یې ګټه اخیستل روا دي او که ناروا؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الشکور ..... ۱۹۷۵ م / جون /۳/

جواب: ستاسو درانه حضور ته السلام علیکم ښکاره خبره ده کله چې په توپك باندې یو حیوان ښکار شي او بیا حلال نه شي؛ نو دا مردار دی، ځکه چې په مرمۍ سره جرح (زخم) نه راځي بلکې وقذ (شلېدل) راځي. ﴿۱﴾ دغه راز په چریو باندې هم جرح نه راځي بلکې وقذ راځي، کما لا یخفی علی منْ أمرّ هما علی العضوِ، موقوذه حرامه ده، ﴿۲﴾ وصرحَ به فقهاءنا حیثُ قالوا : أوْ ببندقةٍ ثقیلةٍ ذات حدة حرم لقتلها بالثقلِ لا بالحدِّ فلیراجعْ الی رد المحتارِ ۵: ۴۱۷ ﴿۳﴾

وهوالموفق .

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی : قال قاضی خان لایحل صید البندقة والحجر والمعراض والعصا وما اشبه ذلک وإن جرح لأنه لا یخرق . (رد المحتار ۵:۳۳۵ کتاب الصید)

﴿۲﴾ قال الله تعالی : حرّمت علیکم المیتة......والموقوذة . (سورة المائدة:۳)

﴿۳﴾ (رد المحتار ۵ :۳۳۵ کتاب الصید)

په ټوپک باندې ویشتل شوی حیوان په موقوذه کې داخل دی

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې نن سبا ځینې خلك په ټوپك باندې غرونو کې د حیواناتو ښکار کوي، اوس د زخمي کېدو وروسته حیوان مړ پیدا شو؛ نو دا حیوان به حلال وي او که حرام؟

بینوا توجروا

المستفتي: حبیب الله پشاوري ..... ۱۹۷۴م / ۵ /۲۸/

جواب: د ټوپك ښکار په موقوذه کې شامل دی، ددې له امله د داسې ښکار خوړل حرام دي. قال الله تعالی: ﴿ وَالْمَوْقُوذَةُ ﴾﴿۱﴾وقال رسولُ الله صلی الله علیهِ وسلمَ :انّه وقیذٌ (رواهُ أبوداؤدَ)﴿۲﴾وصرّحَ جمیعُ الفقهاءِ بحرمةِ صید البندقةِ﴿۳﴾فلیراجعْ الی کتابِ الصیدِ . وهوالموفق

په ځوکورې مرمۍ د ښکار کولو حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې که د غشي په څېر ځوکې والا مرمۍ وي، د شلېدو په ځای حیوان زخمي کړي؛ نو د نورو شرائطو د پوره کېدو پرمهال ددې غوښه خوړل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الله صدر نوښار ..... ۱۹۹۱م / ۱ /۱۳/

﴿۱﴾(سورة المائدة : ۳)

﴿۲﴾عن عدی بن حاتم رضی الله تعالی عنه ، قال سألت النبی صلى الله عليه وسلم عن المعراض فقال إذا أصاب بحده فکل وإذا أصاب بعرضه فلا تأکل فإنه وقيذ.

(أبوداؤد ۲: ۳۹۳ کتاب الذبائح ، باب فی الصید)

﴿۳﴾قال العلامة الشامی رحمه الله تعالی : قال قاضی خان لا یحل صید البندقة والحجر والمعراض والعصا وما أشبه ذلک وإن جرح لأنه لا یخرق. (رد المحتار ۵: ۳۳۵کتاب الصید)

جواب: په توپك باندې ويشتل شوى حيوان د حلالولو بغير نه پاكيږي.﴿۱﴾ ځکه چې دا مرمی کله ګرمه شي؛ نو د وژلو او شلولو کار ورکوي. د څوکې هيڅ مطلب نه پاتې کيږي. وهو الموفق

په توپك باندې ښکار شوی حيوان د قرآن او حديث په رڼا کې حرام دی

سوال: د دين عالمان او مفتيان د دې مسئلې په اړه څه وايي چې کوم ښکار په توپك وويشتل شي بيا د ښکاري رسېدو نه وړاندې هغه مړ شوی وي، يا ښکار وتښتي په پټيانو کې يې مړ پيدا کړي او يا هم ښکاري د لټون وروسته مايوسه شي بيا يې بل وخت پيدا کړي؛ نو د داسې ښکار خوړل حلال دي او که حرام؟ ايا داسې ښکار په موقوذة کې شامل دی او که په ماضطررتم کې؟ بينوا توجروا

المستفتي: امام فيض محمد ...... ۱۹۷۳م / ۵ / ۱۰ /

جواب: په توپك باندې ويشتل شوی حيوان د حلالولو بغير نه پاكيږي، لأنه وقيذٌ وصرّحَ بحرمته فى القرآنِ﴿۲﴾ والحديثِ﴿۳﴾ والفقهِ﴿۴﴾ وهو الموفق .

﴿۱﴾قال الله تعالى: حرّمت عليكم الميتة......والموقوذة . (سورة المائدة : ۳)
وفى الخانية : ولا يحل صيد البندقة والحجر والمعراض والعصا وما اشبه ذلك لأنه لا يخرق . (فتاوى خانية على هامش الهندية ۳: ۳۶۰، كتاب الصيد والذبائح)
﴿۲﴾قال الله تعالى : حرّمت عليكم الميتة ......والموقوذة . (سوره المائدة : ۳)
﴿۳﴾عن عدى بن حاتم رضى الله تعالى عنه قال سألت النبى ﷺ عن المعراض فقال إذا أصاب بحده فكل وإذا أصاب بعرضه فلا تأكل فإنه وقيذ.(سنن أبى داؤد ۲: ۳۹۴ كتاب الذبائح ، باب فى الصيد)
﴿۴﴾وفى الخانية : ولا يحل صيد البندقة والحجر......(بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

په توپک لګېدلی ښکار او د فقهاؤ اختلاف

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې (۱) کوتره مې په توپک وویشتل د حلالولو نه وړاندې خپله مړه شوې وه؛ نو ددې خوړل څنګه دي؟

(۲) که ښکاري پې در پې همداسې د ښکار په لټه کې وي او څه وخت وروسته يې مړ پیدا کړي؛ نو ایا ددې خوړل جائز دي؟

(۳) که ښکاري د مرمۍ د ویشتلو پرمهال د الله تعالی نوم واخلي او حیوان وولي؛ نو ایا د ښکار د حلالېدو لپاره یوازې د الله تعالی نوم کافي دی، په دې مسئله کې د عالمانو اتفاق دی او که اختلاف؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ۱۹۷۸م/ ۱۰/ ۹/

جواب: که په توپک باندې ښکار شوی حیوان د حلالولو نه وړاندې مړ ومونډل شي؛ نو خوړل يې حرام دي، لکونه وقیذاً مثلَ ما قتله المعراض﴿۱﴾ خلافاً للأوزاعیْ ومکحولٍ وابنِ أبی لیلی وغیره﴿۲﴾وهوالموفق .

(بقیه حاشیه) والمعراض والعصاوما أشبه ذلک لأنه لا یخرق .
(فتاوی خانیة علی هامش الهندیة۳: ۳۶۰ کتاب الصید والذبائح)

﴿۱﴾فی البحر : (وما قتله المعراض بعرضه أو البندقة حرم) لما روی أن عدی بن حاتم قال للنبی ﷺ إنی أرمی الصید بالمعراض فأصیب فقال: إذا رمیت بالمعراض فخرقت فکله وإن أصابه بعرضه فلا تأکله .(البحرالرائق۸: ۲۲۹ کتاب الصید)

﴿۲﴾قال العلامة العینی رحمه الله تعالی : (قال ابن عمر رضی الله تعالی عنه فی المقتولة بالبندقة تلک الموقوذة) ......أخرجه ابن أبی شیبة فی مصنفه عن عبید الله بن عمر رضی الله تعالی عنه أنهما کان یکرهان البندقة إلا إذا أدرکت ذکاته . أخرج عبد الرزاق عن ابن جریج قال عطاء إذا رمیت صیدًا ببندقة فأدرکت ذکاته فکله وإلا فلا تأکله . ...(قوله وما أصاب بعرضه فلا تأکل) وبه قال أبو حنیفة ومالک......(بقیه حاشیه اګلے صفحه پر)

د قنفذ حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې قنفذ د احنافو په نزد حلال دی او که حرام؟ او دا مسئله په کوم کتاب کې ذکر ده؟

بینوا توجروا

المستفتي: نظر محمد لاهور صوابی ...... ۱۹۸۶ م / مارچ/۶/

جواب: واضحه دې وي چې قنفذ د احنافو په نزد مکروه دی، کما فی الهندیة ۵: ۳۲۱ ﴿۱﴾ والفقهُ علی المذاهبِ الأربعة ﴿۲﴾ وغیره ﴿۳﴾ خو مشکله دا ده چې قنفذ شیشکه ده او که شکون؟ په عجائب المخلوقات ﴿۴﴾ او حیات الحیوان

(بقیه حاشیه) والشافعی والثوری وأحمد ...... وقال ابن بطال وذهب الأوزاعی ومکحول وفقهاء الشام إلی جواز أکل ما قتل بالمعراض خزقه أو لم یخزق وکان أبو الدرداء وفضالة بن عبید لا یریان به بأسًا.

(عمدة القاری ۲۱: ۹۳، ۹۴ باب صید المعراض، کتاب الذبائح والصید)

﴿۱﴾ فی الهندیة: وجمیع الحشرات وهوام الأرض من الفار والجراد والقنافذ والضب والیربوع وابن عرس ونحوها ولا خلاف فی حرمة هذه الأشیاء إلا فی الضب.

(فتاوی هندیة ۵: ۲۸۹ کتاب الذبائح: الباب الثانی فی بیان ما یؤکل من الحیوان)

﴿۲﴾ قال العلامة عبد الرحمن الجزیری رحمه الله تعالی: الحنفیة والحنابلة قالوا یحرم أکل القنفذ صغیره وکبیره.

(کتاب الفقه علی المذاهب الأربعة ۲: ۸ کتاب الحظر والاباحة، مبحث ما یمنع أکله وما یباح)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: ولا یحل ذوناب ...... ولا الحشرات واحدها حشرة بالتحریک فیهما: کالفارة...... والقنفذ. (رد المحتار ۵: ۲۱۴ کتاب الذبائح)

﴿۴﴾ فی عجائب المخلوقات: (قنفذ) الحیوان الذی...... (بقیه حاشیه اگلے صفحه پر)

کې اولنی ظني دی.﴿۱﴾ وهو الموفق

قنفذ شیشکه ده او که شکونړ؟

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د قنفذ په اړه زمونږ خواته اختلاف دی چې ایا ددې خوړل روا دي او که ناروا؟ او قنفذ دوه شیان دي: یو ته مونږ شیشکه او بل ته شکونړ وایو، دا هم راته روښانه کړئ چې په دې دواړو کې کوم یو مراد دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد دین غزني خېل لکی مروت ..... ۱۴۰۴ هـ/ محرم/۱۹/

جواب: د فقهي په کتابونو کې لکه: (البدائع،﴿۲﴾ الفقهُ علی المذاهب

(بقیه حاشیه)یقال له بالفارسیة خارپشت سلاحه علی ظهره وهو الشوک الذی علیه ویتقنع بحیث لا یبین من أطرافه شيء...... قالوا أی موضع أراد أن یرمی إلیه الشوکة من شوکه یرمیه کرمی النشاب ولا یخطئ شیئاً فتمرّ الشوکة کمرّ السهم المسدد وتثبت فیه.

(عجائب المخلوقات علی هامش حیوٰة الحیوان ۲: ۳۵۷-۳۵۹ ناشر عبد المجید أحمد حنفي بشارع الحسیني رقم ۱۸)

﴿۱﴾قال العلامة الدمیری رحمه الله تعالی: القنفذ (سیهی)دا دوچې حیوان دی، مار ښه په شوق خوري، هیڅ زیان ورته نه رسوي، که مار ورته ټک ورکوي. نو دی بوه ول وانښه خوري چې د مار زهر پرې اثر نه کوي قنفذ په دوه ډوله دي، یو هغه چې په ښارکې اوسیږي دې ته (قنفذ) وایي، په صورت کې د مږك په اندازه دی. دویم هغه ډول دی چې یوازې په شام او عراق کې موندل کیږي او دېته (دلدل) هم وایي، دا په صورت کې د سپي په برابر وي، د دواړو ترمنځ داسې تړون وي لکه څرنګه چې د مږاو مږك ترمنځ وي، د سیهی په خوله کې پنځه غاښونه وي (حیوٰة الحیوان ۲: ۵۲۷، القنفذ)

﴿۲﴾وفی البدائع: وجمیع الحشرات وهوام الأرض من الفأر والقراد والقنافذ والضّبّ والیربوع وابن عرس ونحوها ولا خلاف في حرمة هذه الأشیاء إلّا في الضبّ.

(بدائع الصنائع ۴: ۱۳۶، کتاب الذبائح والصیود)

الأربعة وغيرهما) «۱» کې د قنافذو حرمت صراحتاً ذکر شوی دی؛ خو دومره ده چې ایا دا قنفذ هغه دی چې افغانان ورته شکونړ وایي او که شیشکه؟ د حیات الحیوان د عبارت نه معلومیږي چې قنفذ شیشکي ته وایي شکونړ ته نه وایي «۲» وهو الموفق

قنفذ (شیشکه) حرامه او شکونړ حلال دی

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې یو حیوان دی چې پښتانه ورته شکونړ وایي. خلك یې خوري او وایي چې خوړل یې حلال دي؛ خو زه وایم چې خوړل یې حرام دي. ځکه چې د پښتنو یوه مشهوره خبره هم ده چې: شکونړ حلال دی؛ خو رنګ یې د مردارو دی. ددې پوره وضاحت راته وکړئ! بینوا توجروا

المستفتي: سید عمر خان اې ایس سي سنټر ضلع نوښار ...... ۱۹۸۵م / ۷ / ۹

«۱» قال العلامة عبد الرحمن الجزيری رحمه الله تعالی: الحنفية والحنابلة قالوا يحرم أكل القنفذ صغيره وكبيره.
(كتاب الفقه على المذاهب الأربعة ۲: ۸ كتاب الحظر والإباحة، مبحث ما يمنع أكله وما يباح)

«۲» قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالی: ولا يحل ذوناب...... ولا الحشرات واحدها حشرة بالتحريك فيهما: كالفارة...... والقنفذ. (ردّ المحتار ۵: ۲۱۳، كتاب الذبائح)

«۳» قال العلامة كمال الدين الدميری رحمه الله تعالی: سیهی (قنفذ) د قاف په ضمه او فتحه دواړو ویل کیږي، دا دوچې حیوان دي، مار ښه په شوق خوري، هیڅ زیان ورته نه رسوي، که مار ورته ټك ور کوي، نو دی یو ډول وابنه خوري چې د مار زهر یې اثر نه کوي قنفذ په دوه ډوله دي، یو هغه چې په ښار کې اوسیږي دې ته (قنفذ) وايي، په صورت کې د مږك په اندازه دی، دویم هغه ډول دی چې یوازې په شام او عراق کې موندل کیږي او دې ته (دلدل) هم وايي، دا په صورت کې د سپي په برابر وي، د دواړو ترمنځ داسې تړون وي لکه څرنګه چې د مږ او مږك ترمنځ وي، د سیهی په خوله کې پنځه غابنونه وي (حیوة الحیوان ۲: ۵۷۷، القنفذ)

جواب: د احنافو په نزد قنفذ مکروه دی،﴿۱﴾ اصلي خبره دا ده چې قنفذ شیشکه ده او که شکونړ؟ نو کومو عالمانو چې قنفذ شکونړ ګڼلی، هغوی وايي چې شکونړ حرام دی﴿۲﴾ او کومو عالمانو چې قنفذ شیشکه ګڼلې وايي چې شیشکه حرامه ده او شکونړ حلال دی. والظاهرُ منْ عبارةِ حیاتِ الحیوانِ الثانی دونَ الأوّلِ فلیراجعْ﴿۳﴾وهوالموفق .

په شکونړ کې د حرمت سبب نشته

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې شکونړ حلال دی او که حرام؟ ځینې خلك بې فرق وايي: په کومو کې چې غشي وي حکم یې ځان ته دی او په کومو کې چې غشي نه وي د هغو حکم ځان ته دی،

﴿۱﴾فی الاختیار : وهی الحشرات کالفارة والوزغة والیربوع والقنفذ والحیة ونحوها لأن جمیع ذلک من الخبائث فیحرم لقوله تعالیٰ:ویحرم علیهم الخبائث .

(الاختیار لتعلیل المختار۵:۱۷، کتاب الذبائح)

﴿۲﴾قال العلامة رشید أحمد: سوال : دقنفذ پر جسم لوی لوی اغزي وي،دا چې داحیوان حلال دی او که حرام؟په حقیقت کې دیکښې دحراموالي هغه شرطونه شتون نه لري چې دفقهې په کتابونو کې لیکل شوي دي بینواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب داچې سیه دمردارو څخه دی،نوځکه حرام دي،ستاسوله نظره د حرمت کومې نښې دي چې په نیولا کې موندل کیږي او په (سیه) کې نه؟احسن الفتاوی۷: ۴۰۵،

﴿۳﴾قال العلامة کمال الدین الدمیری رحمه الله تعالیٰ: سیهی(قنفذ)دفاء په ضمې اوفتحه دواړولوستل کیږي دادوچې حیوان دي،ماربنه په شوق خوري،هیڅ زیان ورته نه رسوي،که مارورته ټك ورکوي،نودی یوه ول وابنه خوري چې دمارزهرپرې اثرنه کوي قنفذ په دوه ډوله دي،یوهغه کوم ته چې قنفذویل کیږي دپه مصرکې وي،پاتې په بل مخ

مورِ ته تفصیلي ځواب ولیکئ چې جنګ مو ختم شي. بینوا توجروا

المستفتي: شفیق الرحمن د دارالعلوم حقانیه زده کوونکی (لاهور)

جواب: قنفذ (شیشکه) حرامه ده، ځکه چې دی مردار خور حیوان دی، دغه راز د حشرات الأرض او هوام الأرض څخه حسابیږي، کما فی الهندیة ۵: ۳۲۱، وجمیع الحشرات وهوام الأرضِ من الفأرِ والجرادِ والقنافذِ والضبِّ والیربوعِ وابنِ عرسٍ ونحوها ﴿۱﴾ شکونړ حلال دی، ځکه چې دی وابنه خوري، نه مردار خور دی او نه هم په حشرات الأرض کې حسابیږي، په حدیثونو او فقهي روایتونو کې ددې په اړه هیڅ تصریحي حکم نشته، نو دا حلال دی، والأصلُ فی الأشیاءِ الإباحةُ ﴿۲﴾ وقالَ ابنُ عباسٍ رضی اللّٰه عنهُ: ما أحلَّ فهوَ حلالٌ و ما حرَّمَ فهوَ حرامٌ و ما سکتَ عنهُ فهوَ عفوٌ (ابو داؤد) ﴿۳﴾ وهوالموفق.

شکونړ نه لوی قنفذ او شیشکې ته وړوکی قنفذ ویل غلط دي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې قنفذ په فارسي ژبه کې خار پشت، اردو کې سیهی او په پښتو کې شکونړ بلل کیږي،

(پاتې حاشیه) دمږك په اندازه دی، دویم هغه ډول دی چې پوازې په شام او عراق کې موندل کیږي او دېته (دلدل) هم وایي، دا په صورت کې د سیهي په برابر وي، ددواړو ترمنځ داسې توپیر وي لکه څرنګه چې د مږ او مږك ترمنځ وي، د سیهی په خوله کې پنځه غاښونه وي (حیٰوة الحیوان ۲: ۵۲۷، القنفذ)

﴿۱﴾ (فتاوی هندیة ۲: ۲۸۹، کتاب الذبائح، الباب الثاني في بیان ما یؤکل من الحیوان الخ)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه تعالیٰ: أقول وصرّح فی التحریر بأن المختار أن الأصل الإباحة عند الجمهور من الحنفیة والشافعیة وتبعه تلمیذه العلامة قاسم، وجری علیه فی الهدایة من فصل الحداد، وفی الخانیة من أوائل الحظر والإباحة.

(رد المحتار ۱: ۷۷، أرکان الوضوء أربعة: مطلب المختار أن الأصل فی الأشیاء الإباحة)

﴿۳﴾ (سنن أبی داؤد ۲: ۵۳۹ کتاب الأطعمة: باب مالم یذکر تحریمه)

آیا دا حلال دی او که حرام؟ بینوا توجروا

المستفتي: شفیع الرحمن جدون صوابی ..... ۱۹۸۷ م / ۹ / ۲۸/

جواب: قنفذ وړوکی او که غټ وي د فقهاؤ په نزد مکروه دي. کما فی الهندیة ﴿۱﴾ والفقهُ علی المذاهبِ الأربعة﴿۲﴾ وغیرهما﴿۳﴾ په دیکښې د هیڅ چا اختلاف نشته، بلکې اصلي اختلاف ددې په مصداق کې دی چې ایا قنفذ شکونړ ته ویل کې او که شیشکي ته؟ معلومه خبره ده چې دا دواړه بیل - بیل شیان دي. شکونړ ته لوی قنفذ او شیشکي ته وړوکی قنفذ ویل غلط دي: خو د عجائب المخلوقات﴿۴﴾

﴿۱﴾ فی الهندیة: وجمیع الحشرات وهوام الأرض من الفأرة والجراد والقنافذ والضب والیربوع وابن عرس ونحوها ولا خلاف فی حرمة هذه الأشیاء إلا الضب.

(فتاوی هندیة ۲: ۲۸۹ کتاب الذبائح: الباب الثانی فی بیان ما یؤکل من الحیوان)

﴿۲﴾ قال العلامة عبد الرحمٰن الجزیری رحمه الله تعالیٰ: الحنفیة والحنابلة قالوا یحرم أکل القنفذ صغیره و کبیره.

(کتاب الفقه علی المذاهب الأربعة ۲: ۸ کتاب الحظر والإباحة مبحث مایمنع أکله وما یباح)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: ولا یحل ذو ناب ...... ولا الحشرات واحدها حشرة بالتحریک فیهما: کالفارة...... والقنفذ. (رد المحتار ۲: ۲۱۳ کتاب الذبائح)

﴿۴﴾ فی عجائب المخلوقات: (قنفذ) الحیوان الذی یقال له بالفارسیة خارپشت سلاحه علی ظهره وهو الشوک الذی علیه ویتقنع بحیث لا یبین من أطرافه شئ...... قالوا أی موضع أراد أن یرمی إلیه الشوکة من شوکه یرمیه کرمی النشاب ولا یخطی شیئاً فتمرّ الشوکة کمرّ السهم المسدد وتثبت فیه.

(عجائب المخلوقات علی هامش حیوٰة الحیوان ۲: ۳۵۷، ۳۵۹، ناشر، عبد الحمید أحمد حنفی بشارع الحسینی رقم ۱۸)

او منجد﴿۱﴾د عکسونو نه معلومیږي چې قنفذ شیشکې ته ویل کیږي او د شیشکي ټول قسمونه مکروه دي. و أما الأوّلُ فحلالٌ﴿۲﴾لحديث أبي داؤدَ و ما سكتَ عنهُ فهوَ عفوٌ﴿۳﴾هذا ما عندي ولعل عند غيري أحسن منهُ. وهوالموفق

د شکونړ په حلالوالي دویم خلي پوښتنه

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د قنفذ په اړه ستاسو نه پوښتنه شوې وه، تاسو ورته د لوی قنفذ د حلالوالي په اړه فتوی ورکړې وه، زمونږ د کلي عالمانو ددې فتوی مخالفت څرګند کړ؛ خو کله چې ما په حيات الحيوان کې خپل تحقيق وکړ؛القنفذ صنفانِ كبيرٌ و صغيرٌ ، بيا يې د دواړو د تعريف وروسته ليکلي دي و أما الحكمُ فحلالٌ عند الشوافعِ و حرامٌ عندَ أبي حنيفةَ په الفقهُ على المذاهبِ الأربعةِ کې يې ليکلي دي القُنفذ حرامٌ صغيرٌ و كبيرٌ عندَ أبي حنيفةَ و أحمدَ رحمهما اللّه تعالى بينوا توجروا

المستفتي: عبد المتين بنوی سابق معلم دار العلوم حقانیه ..... ۱۴۰۲ هـ/ جمادی الثانی /۵/

﴿۱﴾ د قنفذ عکس د منجد په ۶۲۱ مخ باندې او تعریف یې داسې کړی القنفذ، ج قنافذ. دويبّة من فصيلة القنفليّات أعلاها مغطّى بريش حادّ تقي به نفسها إذ تجتمع مستديرة تحته وتسدّد عند ما تكون مهدّدة تحتبئ في النهار وتكثر الذهاب والإياب في الليل، توجد منها أنواع عديدة. (المنجد ص ۶۵۸ طبع انتشارات بلاغت دارالعلم)

﴿۲﴾قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : أقول وصرح في التحرير بأن المختار أن الأصل الإباحة عند الجمهور من الحنفية و الشافعية وتبعه تلميذه العلامة قاسم. وجرى عليه في الهداية من فصل الحداد وفي الخانية من أوائل الحظر والاباحة.

(رد المحتار ۱ :۷۷، أركان الوضوء أربعة ،مطلب المختار أن الأصل في الاشياء الإباحة)

﴿۳﴾(سنن أبي داؤد ۲ :۵۳۹، كتاب الأطعمة. باب ما لم يذكر تحريمه)

جواب: واضحه دي وي چې د قنفذ ټول اقسام حرام دي، په فتاوی عالمگیري ۵: ۳۲۱ ﴿۱﴾ وغیره ﴿۲﴾ کې یې په حرمت باندې تصریح موجوده ده، اختلاف په دیکښې چې پښتانه څه ته شکونړ وایي ایا دا قنفذ دی او که نه؟ نو کوم خلك چې دې ته لوی قنفذ وایي، هغوی وایي چې حرام دی او کوم خلك چې یې قنفذ نه مني، بلکې یوازې ددې له امله چې عربي نوم یې معلوم نه دی، په قنفذ سره ترې تعبیر کوي او هغوی وایي چې خوړل یې حلال دي، ماته دویم قول راجح معلومیږي، ﴿۳﴾ ځکه چې په منجد کې یې لیکلي دي: دویبةً

﴿۱﴾ في الهندية: وجميع الحشرات وهوام الأرض من الفأر والجراد والقنافذ والضب واليربوع وابن عرس ونحوها ولا خلاف في حرمة هذه الأشياء إلا الضب.

(فتاوى هندية ۵: ۲۸۹ كتاب الذبائح، الباب الثاني في بيان ما يؤكل من الحيوان)

﴿۲﴾ قال العلامة عبد الرحمٰن الجزيري رحمه الله تعالى: الحنفية والحنابلة قالوا يحرم أكل القنفذ صغيره وكبيره.

(كتاب الفقه على المذاهب الأربعة ۲: ۸ كتاب الحظر والإباحة، مبحث ما يمنع أكله وما يباح)

﴿۳﴾ وفي حاشية السراجية: ورد النهي عن أكل القنفذ في سنن أبي داؤد (۲: ۱۷۶، باب في أكل الحشرات) من حديث أبي هريرة رضي الله تعالى عنه ولا شك أنه حرام فإنه ذوناب من هوام الأرض على قدر الفأرة ويقتل الحمامة ويتشرب دمه فظهر بهذا أن فيه صفات السباع. وهناك حيوان آخر يقال له الدُلدُل، لم يتعرض لذكره فقهائنا، وفي كتب اللّغة والمعاجم جعلوه من أقسام القنافذ، فقال في الصحاح ۴: ۱۶۹۹، والدُلدُل عظيم القنافذ، لكن قال بعض علماء پاكستان و افغانستان: الدُلدُل حيوان آخر وليس من أقسام القنافذ ولا بأس بأكله، ثم ذكروا بينه وبين القنفذ عدة فروق بينة، وبعضها كما يلي: (۱) القنفذ يأكل الأقذار والحشرات والدُلدُل الكلأ والعُشب. (۲) القنفذ ذوناب قاتل الهوام يشرب دم الطيور الصغيرة ولا يوجد في الدُلدُل شيء منها...... پاتې په بل مخ باندې

أعلاها مغطى بريشٍ حادّ ..... تقى به نفسها اذ تجمع مستديراً تحته وتوجدُ منها أنواعٌ عديدةٌ ص ۶۹۹ ﴿۱﴾ وفى حياتُ الحيوان ۲: ۲۶۵، هو مولعٌ بأكل الأفاعى ﴿۲﴾او تاسو چې کوم عبارت ليکلى هغه په حيات الحيوان کې نشته، په هغې کې داسې عبارت دى: وهو صنفانِ قنفذٌ يكونُ بأرض مصرٍ قدر الفأرِ و دلدل يكونُ بأرضِ الشامِ والعراقِ بقدر الكلبِ القلطى والفرقُ بينهما بينَ الجرذِ والفأرِ ﴿۳﴾په عجائب المخلوقات کې بې ليکلي دي: (قنفذ) الحيوانُ الذى يقالُ له بالفارسية خاربشت سلاحه على ظهره وهو الشوكُ الذى عليه ويتقنّعُ بحيثُ لا يبينُ منْ أطرافه شئٌ (الى أنْ قالَ) قالوا ...أى موضعٍ أرادَ أنْ يرمى اليه شوكةٌ منْ شوكه يرميه كرمى النشابِ ولا يخطى شيئاً فتمر الشوكة كمرِّ السهم

(بقيه حاشيه)(۳)القنفذ من حشرات الأرض ولا كذلك الدلدل.(۴)وزن القنفذ لا يزيد على كيلو غرام واحد، والدلدل قديكون إلى ۲۲ كيلو غرام،و كونه بين العشرة إلى خمسة عشر كثير.(۵)القنفذ ذوناب وله خمسة أنياب ،والدلدل ليس ذوناب وله أربع أسنان.(۶)القنفذ يشرب الماء مثل الكلب والدلدل مثل الشاة.فقد تبين من هذه الفروق أن صفات القنفذ مما يذكره الفقهاء فى حد ما لا يحل أكله و صفات الدلدل فيما يحل أكله،فهو اشبه بما يحل أكله فلا نقول بحرمته لما مرّ،كيف وليس هو من حشرات الأرض ولا من الهوام ولا ذى ناب. و لعلّ الدلدل على قسمين:قسم يطلق على عظيم القنفذ،و قسم غيره يوجد فيه العلامات الماضية من كونه أكل العشب و غيرها،فمن قال بحله أراد القسم الثانى. (هامشِ فتاوى سراجية۳۷۶،۳۷۵ كتاب الصيد والذبائح،باب ما يحل أكله و ما لا يحل)

﴿۱﴾(المنجد ص ۶۵۸ناشر انتشارات بلاغت ، دارالعلم)

﴿۲،۳﴾(حيوة الحيوان (عربى) ص ۲۶۵:۲ ناشر عبد الحميد أحمد حنفى بشارع الحسينى رقم ۱۸)

المسدودِ وتثبتُ فيهِ . هامش حيوة الحيوان ۲: ۳۵۷﴿۱﴾وهوالموفق .

شکونړ د اختیاري یا اضطراري حلالۍ وروسته پاک دی

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې یو حیوان دی، موږ یې د شکونړ په نوم یادوو، په شا یې ازغي دي، په تېره زمانه کې نه کوم عالم ددې د جواز فتوی ورکړې ده او نه هم چا خوړلی دی، همدا اوس یاد حیوان ځینو خلکو ورته وویل چې دا د ناروغۍ لپاره ښه دوا ده؛ نو هغوی وویشت او ځان یې وربانديې موږ کړ، د عالمانو ترمنځ ددې په حلالوالي کې اختلاف دی، د حلالولو نه بغیر یې حرام ګڼي، شرعي مسئله راته په ګوته کړئ تر څو موږ پرې عمل وکړو. بینوا توجروا

المستفتي: حاجي محمد اصغر ترچهبازار مظفر آباد کشمیر..... ۱۹۸۴م/ اپریل/۱۲/

جواب: قنفذ د احنافو په نزد مکروه دی.﴿۲﴾قنفذ شیشکي ته ویل کیږي شکونړ ته نه، ظاهره دا ده چې ددې خوړل روا دي که ذبح یې اختیاري وشي او که اضطراري ﴿۳﴾ واللّٰهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ .

د روح ویستلو لپاره د ماهي سینه څیرل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې ځینې ماهیان د اوبو بهر هم ژر نه

﴿۱﴾(عجائب المخلوقات علی هامش حیٰوة الحیوان ۲:۳۵۷-۳۵۹ ناشر عبد الحمید الخ)

﴿۲﴾قال العلامة عبدالرحمٰن الجزیری رحمه اللّٰه تعالی : الحنفیة والحنابلة قالوا یحرم أکل القنفذ صغیره وکبیره .

(الفقه علی المذاهب الأربعة ۲:۸کتاب الحظر والإباحة ، مبحث مایمتنع أکله وما یباح)

﴿۳﴾وفی الاختیار : والذکاة اختیاریة ، وهی الذبح فی الحلق واللبة واضطراریة وهی الجرح فی أی موضع اتفق. (الاختیار لتعلیل المختار ۵:۱۰، کتاب الذبائح)

مره کیږي، بلکې تر څو ساعتونو پورې هم داسې ژوندي وي، ایا د روح ویستلو لپاره د هغوی سینه څیري شي او که تر څه وخته پورې یې پرېږدي؟

بینوا توجروا

المستفتي: عبد السلام بوری والا ضلع وهاړی ..... ۱۹۷۸م / ۱۱ / ۲۲/

جواب: دا مباح کار دی. ﴿۱﴾ وهو الموفق.

په ژوندي مره او چیندخه باندې ښکار کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان د دې مسئلې په اړه څه وایي چې د ماهیانو د ښکار لپاره ژوندی مره او چیندخه په سیخ پیاول ښه دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد السلام بوری والا ضلع وهاړی ..... ۱۳ رجب

جواب: دا غیر مباح کار دی. ﴿۲﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ ماهی نه حلالیږي بلکې په کوم ډول چې زر وهل شي بس پاک دی، نو په یا د صورت کې د حیوان تعذیبول بې فائدې نه دي، بلکې فائده لري

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالیٰ: وكره كل تعذيب بلا فائدة مثل قطع الرأس والسلخ قبل أن تبرد. (الدر المختار ۵:۲۰۷ كتاب الذبائح)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن قدامة رحمه الله تعالیٰ: وكره بالخراطيم وكل شيء فيه الروح لما فيه من تعذيب الحيوان لإن اصطاد فالصيد مباح.

(المغنى ۲۰:۲۳۸، كتاب الصيد والذبائح، دار الكتب العلميه بيروت).

وفى الهداية: ومن بلغ بالسكين النخاع أو قطع الرأس كره له ذلك وتوكل وكل ذلك مكروه وهذا لأن فى جميع ذلك وفى قطع الرأس زيادة تعذيب الحيوان بلا فائدة وهو منهى عنه. (هداية ۳:۲۳۸ كتاب الذبائح)

د مرغانو او بچيانو اخيستل او خرڅول يې

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د مرغانو او بچيانو اخيستل او خرڅول يې څنګه دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: محراب الدين ..... ۱۹۷۰م / ۲۹

جواب: مباح شيان په نيولو سره مملوك ګرځي. ددې له امله د مرغانو او بچيانو اخيستل او خرڅول جائز دي، للأصلِ المشهورِ: المباحُ لمنْ أخذ كما في شرحِ المجلة ۶۸﴿۱﴾وغيره﴿۲﴾ وهو الموفق.

مرغان په (قفس) پنجره کې ساتل

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې ځينې خلك باز، شاهين او نور مرغان په قفس کې ساتي، ددې د جواز او نه جواز په اړه د کتابونو حوالې ذکرې؛ بينوا توجروا

المستفتي: محراب الدين ..... ۱۹۷۰م / ۵ / ۲۹/

جواب: په قفس کې مرغان ساتل ناجائز دي، لما في الهندية: حبسَ بلبلاً في قفص وعلفها لا يجوزُ كذا في القنيةِ﴿۳﴾قلتُ:وما روى :ما فعل النغير محمولٌ على غير

﴿۱﴾في شرح المجلة: الصيد مباح..... كل من أحرز شيئًا مباحًا كان مالكًا له مستقلًا. (شرح المجلة ۶۷۹، ۶۸۰، المادة: ۱۲۴۷، ۱۲۴۹)

﴿۲﴾في الأشباه والنظائر: وأسباب الملك ثلاثة مثبت للملك من أصله وهو الاستيلاء على المباح. (الأشباه والنظائر ۲۸۶ كتاب الصيد والذبائح)

﴿۳﴾(فتاوى هندية ۵: ۳۸۱، كتاب الكراهية، الباب الثلاثون في المتفرقات)

المقفصِ«۱» وهو الموفق .

ښکار د اواز، لوبو او جنګولو لپاره ساتل او په قفس کې بندول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې کوم مرغه د ښکار لپاره وساتل شي، د هغې څه حکم دی؟ که د جنګېدو نه بغیر یوازې د تجارت او ښکار لپاره جواز لري؛ نو د کتابونو څخه حوالې راته ولیکئ!

بینوا توجروا

المستفتي: محراب الدین ...... ۱۹۷۰م / ۵ / ۲۹/

ځواب: د ښکار لپاره د باز او نورو مرغانو ساتل جائز دي. کما یقتضیه الأحادیث المبیحة لصیدِ الطیورِ«۲» په قفس کې یې بندول جائز نه دي «۳» او د الوزولو لپاره یې ساتل ناجائز دي، لحدیث أبي

«۱» قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: وفي القنية رامزًا حبس بلبلًا فی القفص وعلفها لایجوز...... قلت: ولعل الکراهة فی الحبس فی القفص، لأنه سجن وتعذیب دون غیره کما یؤخذ من مجموع ما ذکرنا وبه یحصل التوفیق.

(ردالمحتار ۵: ۲۸۳، کتاب الحظر والإباحة، فصل فی البیع)

«۲» عن عدی بن حاتم رضی الله تعالیٰ عنه أن النبیﷺ قال: ماعلمت من کلب أو باز ثم ارسلته وذکرت اسم الله تعالیٰ فکل ممّا امسک علیک قلت وإن قتل قال إذا قتله ولم یاکل منه شیئًا فإنما امسکه علیک.

(سنن أبی داؤد ۲: ۳۹۴، باب فی الصید، کتاب الضحایا)

وعن انس رضی الله تعالیٰ عنه قال إن کان النبیﷺ لیخالطنا حتی یقول لأخ لی صغیر: یا اباعمیر مافعل النغیر، کان له نغیر یلعب به.

(مشکوة المصابیح۲: ۴۱۶، کتاب الأداب، باب المزاح)

«۳» فی الهندیة: حبس بلبلًا فی قفص وعلفها لا یجوز کذا فی القنیة.

(فتاوی هندیة۵: ۳۸۱ کتاب الکراهیة، الباب الثلاثون فی المتفرقات)

داؤدَ: نهى عن التحريش«۱» يوازې د اواز لپاره يې هم ساتل منع دي، دغه راز د لوبو لپاره يې هم ساتل منع دي، لحديث: شيطانةٌ يتبعها الشيطانُ «۲» وهو الموفق.

د ابابیل حلت او حجر الخطاطيف (ډبري) لپاره د ابابیل بچی حلالول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې ايا ابابيل حلال دی؟ دغه راز ځيني خلك د ابابيل بچی نيسي بيا يې حلالوي، له سينې څخه يې يوه ډبره (حجر الخطاطيف) راوباسي او وايي چې: دا د مرګي او ام الصبيان ناروغی لپاره كار كوي. دغه راز د هغوی نوی بچی حلالول څه حكم لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ..... ۱۳۸۸ هـ /رمضان المبارك / ۸/

جواب: ابابيل حلال دی «۳» دغه راز نوی بچی يې د ډبرې لپاره حلالول «۴»

«۱» (سنن أبي داؤد ۲: ۳۴۶ كتاب الجهاد، باب في التحريش بين البهائم)

«۲» مشكوة المصابيح ۳۸۶ باب التصاوير)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: يكره إمساك الحمامات ولو في برجها إن كان يضرّ بالناس..... فإن كان يطيرها فوق السطح مطّلعًا على عورات المسلمين ويكسر زجاجات الناس برميه تلك الحمامات عزر ومنع أشد المنع..... وأما للاستئناس فمباح.

(الدرالمختار ۵: ۲۸۳ كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

«۳» في الهندية: أكل الخطاف والصلصل والهدهد لابأس به.

(فتاوى هندية ۵: ۲۹۰ كتاب الذبائح، الباب الثاني في بيان مايؤكل من الحيوان ومالايؤكل)

«۴» قال العلامة عبد الرحمن الجزيرى رحمه الله تعالى: ويحل من الطير أكل العصافير بأنواعها والسمان والقنبر وغيرذلك من الطيور المعروفة.

(كتاب الفقه على المذاهب الأربعة ۲: ۸ كتاب الحظر والإباحة، مبحث مايمنع أكله ومايباح)

هم جائز دي، وهوالموفق .

د طوطي، کارغه، بلبل، ملا چرګک او ښاپیرک حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اره څه وايي چې لاندې لیکل شوي مرغان حلال دي او که حرام ؟ لکه طوطي، کارغه، بلبل، ملا چرګك او ښاپېرک . بینوا توجروا

المستفتي: قاري فضل حسین مرغز صوابی ..... ۱۴۰۷ هـ / محرم / ۳۰/

جواب: کارغه مکروه دی، ﴿۱﴾ طوطي ﴿۲﴾ بلبل ﴿۳﴾ او شقراق ﴿۴﴾ مکروه

﴿۱﴾ وفی الخلاصة: ویکره الغراب وهوالذی یاکل النجاسات وفی فتاوی الولوالجی اکل الهد الهد لاباس به لأنه لیس بذی مخلب من الطیور .

(خلاصة الفتاوی ۴: ۳۰۴ قبیل کتاب الذبائح)

﴿۳،۲﴾ بلبل کو الفقه علی المذاهب الأربعة اور الفقه الإسلامی وأدلته دونوں نے اور طوطا کو الفقه علی المذاهب الأربعة حلال کہا ہے۔

وفی الفقه علی المذاهب الأربعة: ویحل من الطیر أکل العصافیر بأنواعها ......والبلبل والببغاء .

(الفقه علی المذاهب الأربعة ۲: ۸ کتاب الحظر والإباحة ،مبحث مایمنع أکله وما یباح)

وفی الفقه الإسلامی وأدلته ۴: ۲۵۹۵: یجوز أکل الطیورغیر الجارحة کالحمام ...... والبلبل وغیرذلک من العصافیر .

(الفقه الإسلامی وأدلته ۴: ۲۵۹۵، الباب السابع: الحظر والإباحة،المطلب الأول: أنواع الأطعمة)

﴿۴﴾ وفی الهندیة: وأما الخفاش فقد ذکر فی بعض المواضع أنه یؤکل وفی بعض المواضع أنه لایؤکل لأن له نابا وقیل الشقراق لایؤکل والبوم یؤکل ......والشقراق طائر أخضر یخالطه قلیل حمرة یصول علی کل شیئ وإذا أخذ فرخه تقیا کذا فی الظهیریة .

(فتاوی هندیة ۵: ۲۹۰ کتاب الذبائح ،الباب الثانی فی بیان مایؤکل من الحیوان الخ)

دي، ﴿۱﴾ ملاچرگك جائز دی ﴿۲﴾ او په ښاپیرك كې د عالمانو اختلاف دی ﴿۳﴾ والله أعلم.


﴿۱﴾ طوطي، بلبل او شقراق مکروه تنزیهي دي، خو دشقراق نه هغه حیوان مراد دی چې په څه شي حمله نه کوي او د سباع الطیو (درنده مرغانو) صفت پکې نه وي (مفتي سیف الله حقاني)


﴿۲﴾ وفی الهندیة: أکل الهد الهد لابأس به لأنها لیست من الطیور التی هی ذوات مخلب.

(فتاوی هندیة ۵: ۲۹۰ کتاب الذبائح، الباب الثانی)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: وفی الخفاش اختلاف.

(رد المحتار ۵: ۲۱۵ کتاب الذبائح)


اللہ
اللہ
فتاوی فریدیہ جلد ۱۱تم
کتاب الذبائح



قال اللہ تبارک وتعالیٰ:

وَلَا تَأْكُلُوْا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ وَاِنَّهٗ لَفِسْقٌ.

(سورة الأنعام)

كتاب الذبائح

قالَ اللّٰهُ تبارك وتعالى: ﴿ وَلَا تَأْكُلُوا۟ مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُۥ لَفِسْقٌ ﴾ (سورة الأنعام)

د اوسني زماني د يهودو او نصارى د ذبيحې حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيانددې مسئلې په اړه څه وايي چې موږ په طياره کې سفر کولو، د طيارې زياتره کارکوونکي عرب وو او خوراك به يې غوښه وه، ما ورته وويل: دا به چا حلاله کړې وي؟ هغوى راته په ځواب کې وويل: چې د جامعه ازهر لوى مفتي فتوى ورکړې چې د طيارې څو مره کاريګر دي ټول د اهل کتابو د لاس ذبيحه خوړلاى شي، قرآن کې چې کوم آيت راغي ﴿وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا۟ الْكِتَابَ حِلٌّ لَّكُمْ﴾ددې پوره تفسير وليکئ؛ دغه راز کاريګرو عربو به ويل که د طيارې کارکوونکي غوښه ونه خوري؛ نو ناروغه کيږي بيا به وظيفه سمه ته شي کولاى، دحقانيې دمفتي صاحب څخه مو هيله ده چې عربي او پښتو ټولې فتوې وليکي او موږ ته يې راوليږي

دويمه دا چې: ايا د اهل کتابو د لاس ذبيحه په جټکې سره وشي او که په چړې سره وي؛ نو حلاله ده او که نه؟ دغه راز د اهل کتابو د لاس حلاله شوې مرغۍ پاکه ده او که ناپاکه؟ بينوا توجروا

۱۹۷۵ م / جولاى/ ۳۰/

المستفتي: عبد الله جان صاحب ......

جواب: په اوسني دور کې د اهل کتابو د لاس ذبيحه هيڅکله نه ده حلاله، هر ډول چې وي په چاړې يې حلاله کړې وي او که په جټکې سره يې حلاله کړې وي، ﴿۱﴾ وذلك لوجهين: الأَوَّلُ أَنَّ أكثرهمْ أنكروا الحشرَ والجنةَ

﴿۱﴾ قال العلامة عبد الحى اللكنوى رحمه الله تعالى: فإن النصارى الموجودين فى عصرنا تركوا كل شرائعهم واختاروا ما أمرهم هواهم ونحن نعلم بيقين مثلا لا يذبحوا فى أعيننا ويذكروا اسم الله تعالى ونسمع فلا باس بالأكل خذ هذا ولا تكن من الغافلين.

(تكملة عمدة الرعاية حاشية شرح الوقاية ۴: ۳۴ كتاب الذبائح)

والنارَ والرسالةَ فلمْ يبقوا على ما كانوا عليهِ فى زمنِ النبى صلى اللّه عليه وسلمَ، و لأنهمْ يتركونَ اسم اللّه تعالى عمداً﴿۱﴾نعمْ لو ثبتَ عدم التغيرِ و عدمُ التعمد فكانَ ذبحهمْ جائزاً كما قالَ اللّهُ فى سورة المائدةِ: ﴿ وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حِلٌّ لَّكُمْ ﴾ الآية﴿۲﴾وانْ كانَ ضرباً منْ جانب العنقِ اذا قطعَ أكثر العروقِ﴿۳﴾وهوالموفق .

د مرزايانو د ذبيحې حکم

سوال: د دين عالمانو او مفتيانو ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د ‹قادياني ذبيحې› په نوم يوه رساله کې د يوې استفتاء په جواب کې مولانا يوسف لدهيانوي صاحب ليکنه کړې وه. غواړو چې ستاسو په خدمت کې يې هم وړاندې کړو. که موږ په غلطه يو؛ نو زموږ به اصلاح وشي او که زموږ مسئله صحيح وي؛ نو چې د ټولو ديني عالمانو په يوه خبره باندې اتفاق راشي، ځکه چې په مغربي هېوادونو کې دې مسئلې ته ډېره اړتيا ده. ستاسو له درانه حضور نه هيله کيږي چې ډېر زر په دې مسئله بحث وکړئ بينوا توجروا

المستفتي: عبد الرحمن باوا ناظم أعلى مجلس تحفظ ختم نبوت کراچی

..... ۱۹۸۸م/ ۱۳/ ۳/

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه اللّه تعالى: ولا تحل ذبيحة من تعمد ترک التسمية مسلمًا كان أو كتابيًا لنص القرآن ولانعقاد الإجماع ممن قبل الشافعي على ذلک.

(ردالمحتار ۵: ۲۱۰ كتاب الذبائح)

﴿۲﴾ (سورة المائدة آيت: ۵)

﴿۳﴾ فى الفتاوى الخانية: وإن ضرب بالسيف من قبل القفا فإن قطع العروق المشروطة قبل الموت حل ويكون مسيئًا.

(فتاوى خانية على هامش الهندية ۵: ۳۶۷ كتاب الصيد والذبائح، باب فى الزكاة)

جواب: مرزایان نه مسلمانان دي او نه هم اهل کتاب، څکه خو د دوی د لاس ذبیحه حرامه ده. ﴿۱﴾ که څوك دا اعتراض کوي چې څنګه یهود او نصاری د سماوي دین دعوه لري او اسماني کتاب لري، دغه راز قادیانان هم د اسماني دین دعوه کوي او په قرآن باندې د ایمان دعوه لري؛ نو مرزایان د اهل کتابو څخه څنګه په ښکته درجه کې شوه؟ په ظاهره کې خو داسې ښکاري چې د دوی د لاس ذبیحه په لومړي سر کې حلاله وای؟ ددې سوال نه جواب دا دی: چې هر مرزائي (پلار، زوی او لمسی) د اسلام او قرآن د دعوې وروسته د دین د ضروریاتو منکر دي، د همدې له امله هر مرزائي قصداً او بالذات مرتد ﴿۲﴾ او زندیق دی. ﴿۳﴾ بخلافِ أهلِ الکتابِ فانهمْ لمْ یدعوا دینَ الاسلامِ ولا القرآنَ فافهمْ ! وهو الموفق .

د مشرک د ذبیحې حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې تېره میاشت مولانا سعید احمد صاحب په خپله تبلیغي دوره کې چې تله ګنګ کې شوې وه او د تقریر په وینا کې یې وویل: چې د مشرك د لاس ذبیحه مرداره ده، مولانا صاحب خو لاړ مګر عوامو وروبو ته یې یوه نه حل کېدونکې مسئله

﴿۱﴾ فی الهندیة: ومنها أن یکون مسلمًا أو کتابیًا فلا تؤکل ذبیحة أهل الشرک والمرتد لأنه لا یقرّ علی الدین الذی انتقل إلیه ولو کان المرتد غلامًا مراهقًا لا تؤکل ذبیحته عند (أبی حنیفة) ومحمد رحمهما الله تعالیٰ. (فتاوی هندیة ۵:۲۸۵ کتاب الذبائح، الباب الأول)

﴿۲﴾ فی مجموعة قواعد الفقه: المرتد هو الراجع عن دین الإسلام أو هو الذی کفر بعد الإیمان. (مجموعة قواعد الفقه۲۷۷، التعریفات الفقهیة)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: فإن الزندیق یموّه کفره ویروّج عقیدته الفاسدة ویخرجها فی الصورة الصحیحة وهذا معنی إبطان الکفر. (ردالمحتار ۳:۳۲۴ قبیل مطلب فی الکاهن والعراف، باب المرتد)

پرېښو ده چې مشرك او غير مشرك خلك كوم دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: الحاج عبد الرشيد تله گنگ چکوال ۱۹۸۵م/ ۲/۱۵/

جواب: د مشرك د لاس ذبيحه حرامه ده.﴿۱﴾ خو د مشرك پېژندل گران دي، په پاکستان کې ډېر داسي خلك دي چې د ديوبند په لباس کې نجديت خپروي، د خوارجو په څېر د خپنو ناجائزه عملونو له امله هم خلك مشركان گڼي. أعاذنا الله تعالى من شرهمْ ، وهوالموفق .

د اهل كتابو د ذبيحې حكم

سوال: د دين عالمان او مفتيان د دې مسئلې په اړه څه وايي چې د اهل كتابو د ذبيحې څه حكم دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: خواص خان رياض سعوديه ..... ۱۴۰۱هـ / ۷ / ۱۲/

جواب: د اهل كتابو د لاس ذبيحه پاكه ده.﴿۲﴾ په شرط د دې چې اهل كتابو په خپل كتاب يقين ولري، دهريان نه وي، ځكه چې دهريان د جنت، دوزخ او نبوت نه منكر وي، د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په زمانه کې چې د هغوی کومې عقيدې وې لکه: (تثليث، بنوت د عيسى عليه السلام) د دې نه پغير نوري گډې وډې و نه وايي، دغه راز د ذبح پرمهال د الله نه بغير د بل چا نوم

﴿۱﴾ فی الهندية: ومنها أن يكون مسلمًا أو كتابيًا فلا تؤكل ذبيحة أهل الشرك.
(فتاوى هندية۵: ۲۸۵ كتاب الذبائح، الباب الأول فی ركنه وشرائطه الخ)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفی رحمه الله تعالى: وشرط كون الذابح مسلمًا...... أو كتابيًا ذميًا أو حربيًا...... يعقل التسمية والذبح ويقدر. (الدر المختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: والأولى أن لا يأكل ذبيحتهم ولا يتزوّج منهم إلا للضرورة كما حققه الكمال ابن الهمام رحمه الله تعالى.
(ردالمحتار ۵: ۲۰۸ كتاب الذبائح)

نه اخلي. ﴿۱﴾ وهوالموفق

د شيعه ګانو د ذبيحې حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې(۱) د شيعه ډلې ذبيحه پاکه ده او که نه؟

المستفتي: مولوي محمد شريف کوهاټ .....

۱۹۷۹ م / جولائی /۲۱/

جواب: د شيعه ګانو د لاس ذبيحه مرداره ده. ﴿۲﴾

﴿۱﴾ قال العلامة عبد الحی اللکنوی رحمه الله تعالىٰ: فإن النصارىٰ الموجودين فی عصرنا تركوا كل شرائعهم واختاروا ما أمرهم هواهم ونحن نعلم بيقين مثلًا لا يذبحون ولا يذكرون بل يأكلون حيث يجدون فكيف نأكل لحومهم إلا أن يذبحوا فی أعيننا ويذكروا اسم الله تعالىٰ ونسمع فلا بأس بالأكل.

(تكملة عمدة الرعاية حاشية شرح الوقاية ۴: ۳۴ كتاب الذبائح)

وقال العلامة أشرف على التهانوی رحمه الله تعالىٰ: نن سبا که د اروپا حالت ته په کتو سره وويل شي چې او سني عيسويان تش په نامه عيسويان دي، نوهم صحيح ده. ځکه چې هغوی خپله د مذهب هيڅ پيروي نه کوي بلکې دهريت (بې ديني) ته يې زور ورکړی، د همدې له امله ددوی دلاس ذبيحه پاکه نه ده. ترهغه پورې چې بنه صحيح معلومه شي چې ذبح کونکی بې يقيني په عقيده کې عيسائي دی، نو د هر کتابي دلاس ذبيحه خوړلو نه بايد ځان وساتل شي، (امداد الفتاوی ۳ ۷۴۴ کتاب الذبائح والاضحية)

﴿۲﴾ فی الهندية: ومنها أن يكون مسلمًا او كتابيًا فلا تؤكل ذبيحة أهل الشرك والمرتد.

(فتاوی هندية ۵: ۲۸۵ كتاب الذبائح، الباب الأول)

نه د اهل کتابو ﴿۱﴾ وهوالموفق

د شیعه ګانو ذبیحه او د هغوی په جشن کښې د شریکېدو حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې یو اثنا عشري شیعه چې د خپلو ټولو رسمونو پوره پابندي کوي او صحابه کرامو ته بدې ردې وایي. د هغوی په کور کې د لسم محرم تیاره شوې دوډۍ خوړل څه حکم لري؟ د لاهور یا د هر ځای اهل سنت والجماعت ډلې پیروی چې وي د هغوی لپاره ددې ورځې تیاره شوې دوډۍ خوړل څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي عبد الغفار راولپنډی ۱۹۷۵م / مارچ /۱۹/

جواب: کوم شیعه ګان چې د کفر درجې ته رسېدلي وي. د بېلګې په توګه حضرت عائشه رضی الله عنها ته د بدو خبرو نسبت کوي، یا حضرت علي رضی الله عنه پیغمبر مني. ﴿۲﴾ نو د هغوی د لاس ذبیحه مرداره ده، ﴿۳﴾ د دوی د لاس نور خوراکونه بې حلال

﴿۱﴾ فی الهندیة: الرافضی إذا کان یسبّ الشیخین و یلعنهما والعیاذ بالله فهو کافر و لو قذف عائشة رضی الله تعالی عنها بالزنا کفر بالله، من انکر إمامة أبی بکر الصدیق رضی الله تعالی عنه فهو کافر ...... و بقولهم إنّ جبرائیل غلط فی الوحی إلی محمّد ﷺ دون علیّ بن أبی طالب رضی الله تعالی عنه و هؤلاء القوم خارجون عن ملة الإسلام و أحکامهم أحکام المرتدین.
(فتاوی هندیه ۲: ۲۶۳ کتاب السیر، الباب التاسع فی أحکام المرتدین)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: وبهذا ظهر أن الرافضی إن کان ممن یعتقد الألوهیة فی علیّ أو أن جبرائیل غلط فی الوحی، أو کان ینکر صحبة الصدیق أو یقذف السیدة الصدیقة فهو کافر لمخالفته القواطع المعلومة من الدین بالضرورة.
(ردالمحتار ۲: ۳۱۴ کتاب النکاح، فصل فی المحرمات)

﴿۳﴾ فی الهندیة: ومنها أن یکون مسلمًا أو کتابیًا فلا تؤکل ذبیحة أهل الشرک والمرتد.
(فتاوی هندیة ۵: ۲۸۵ کتاب الذبائح، الباب الأول)

دي او د دوی په جشن کې برخه اخیستل حرام دي ﴿۱﴾ وهو الموفق

د شرکي عقيدې لرونکو شيعه ګانو سره نکاح او د هغوی د ذبيحو حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې ددې ځای خلك سل په سلو کې کلك شيعه ګان دي، د دوی عقيده ده چې حضرت علي رضی الله عنه ته په کائناتو کې په جزئي طريقې سره د تصرف اختيار حاصل دی، د داسې شيعه ګانو د لاس ذبيحه د سني مسلمانانو لپاره حلاله ده او که نه؟ او د داسې خلکو سره ستړې مشي، لاس ورکول او سلام کول د شريعت له مخې روا دي او که ناروا؟ بينوا توجروا

المستفتي: جناب عبد العزيز کوهاټ

جواب: شيعه ګان زياتره د کفر عقيده لري، د همدې له امله د هغوی د نکاح ﴿۲﴾ او ذبيحې نه ځان ساتل ضروري دي، ﴿۳﴾ که ستاسو د ځای شيعه ګان د کفر عقيده نه لري بلکې ستاسو د جزئي - جزئي تصرف خبرې مطلب دا وي چې د الله د اذن نه بغير تصرف کوي، يعني اولياء اذن ورته حاصل دی، په جزئي کارونو

﴿۱﴾ فی الهندية: والجلوس للمصيبة ثلاثة أيام رخصة وتركه أحسن كذا في معراج الدراية وأما النوح العالي فلا يجوز...... ويكره للرجال تسويد الثياب وتمزيقها للتعزية...... وأما تسويد الخدود والأيدي وشق الجيوب وخدش الوجوه ونشر الشعور ونثر التراب على الرؤس والضرب على الفخذ والصدر وإيقاد النار على القبور فمن رسوم الجاهلية والباطل والغرور. (فتاوىٰ هندية ۱: ۱۶۷، الباب الحادي والعشرون في الجنائز، ومما يتصل بذلك مسائل التعزية)

﴿۲﴾ فی الهندية: ولا يجوز نكاح المجوسيات ولا الوثنيات...... وكل مذهب يكفر به معتقده. (فتاوىٰ هندية ۱: ۲۸۱، القسم السابع المحرمات بالشرك)

﴿۳﴾ فی السراجية: ولا تحل ذبيحة المجوسيّ والوثني والمرتد.

(فتاوىٰ سراجية ۳۸۰، باب من تحل ذبيحته)

کې اذن ته حاجت نه لري؛ نو دا شرکي عقیده ده. کما فی الفوز الکبیر«۱»و کتاب الوسیلة، که په جزئي امورو کې یې الله تعالی ته محتاج ګڼي بیا شرك نه دی؛ خو افتراء او نور ښه سوچه درواغ دي. وهوالموفق

د چا حیوان بې اجازې حلالول او وروسته ورته پیسې ورکول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د خپل یا پردي سړي مرغی بې اجازې او بې قیمته د ضرورت په وخت کې حلاله کړي، وروسته ورته د مرغی پوره قیمت ورکړي، ایا په دې صورت کې بیع صحیح ده او که نه؟ که صحیح نه وي؛ نو ددې غوښې خوړل څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الحمید ډی آئی خان ..... ۱۹۷۲م / ۴/۲۵/

جواب که عرفي اجازه وي بیا خیر دی او که بیخي اجازه نه وي؛ نو دا غصب دی او ناجائز کار دی.«۲»

«۱» قال العلامة الشاه ولی الله رحمه الله تعالی: والشرك أن یثبت لغیر الله سبحانه وتعالی شیئا من الصفات المختصة به کالتصرف فی العالم بالإرادة الذی یعبر عنه بکن فیکون...... وانما کان إشراکهم فی الأمور الخاصة ببعض العباد، وکانوا یظنون أن الملك علی الإطلاق جلّ مجده شرّف بعض العباد بخلعة الألوهیة ویؤثر رضاهم وسخطهم علی سائر العباد کما أن ملکا من الملوك عظیم القدر یرسل عبیده المخصوصین إلی نواحی المملکة ویجعلهم متصرفین فی الأمور الجزئیة إلی ان یصدر عن الملك حکم صریح فلا یتوجه إلی تدبیر الأمور الجزئیة ویفوّض إلیهم امور سائر العباد.

(الفوز الکبیر ۲۰، ۲۱، الباب الأول، فصل المخاصمة مع الفرق الأربعة الضالة، المشرکون وعقائدهم)

«۲» فی درر الحکام: لا یجوز لأحد أن یتصرف فی ملك الغیر بلا إذنه...... والإذن إما أن یکون صراحة وإما أن یکون دلالة.

(درر الحکام ۱: ۸۵، المادة: ۹۶)

بهر حال مذبوحه مرداره نه ده. «۱» وهوالموفق

د ژوند د معلومېدو وروسته حرکت یا د وینې وتل ضروري نه دي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې یوه مرغۍ مي حلاله کړه، تول یو څاڅکی وینه ترې تویه شوه او حرکت يې وخوړ، ددې خوړل حلال دي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ..... ۱۳۹۳هـ/ ربیع الأول/۱۶/

جواب: کله چې د ذبحې په وخت کې د حیوان د ژوند معلومات وشي بیا يې حرکت کول او وینه تویېدل ضروري نه دي، که ژوند يې معلوم نه وي؛ نو که داسې وینه ترې تویه شي لکه څه ډول چې د ژوندي حیوان نه وینه روانه وي بیا حلال دی او که نه وي؛ نو مردار دی، دغه راز که یوازې پښه يې وغزول؛ نو مردار دی او که ددې نه يې زیات حرکت وکړ بیا حلال دی. (ردالمحتار: ۵: ۲۶۹) «۲» وهوالموفق.

«۱» عن سعد بن معاذ أخبره أنّ جاریة لكعب بن مالک كانت ترعى غنمًا بسلع فأصیبت شاة منها فأدركتها فذبحتها بحجر فسئل النبيﷺ فقال كلوها.

وقال الحافظ ابن حجر رحمه الله تعالیٰ: وفیه جواز أكل ما ذبح بغیر إذن مالكه ولو ضمن الذابح وخالف في ذلک طاؤس وعكرمة.

(فتح الباري ۹: ۶۳۲، كتاب الذبائح، باب ذبیحة المرأة والأمة)

«۲» في ردالمحتار: تحل ذبیحة علمت حیاتها وإن لم تتحرک ولم یخرج منها دم وإن لم تعلم فلا بد من أحدهما تأمل.

(ردالمحتار ۵: ۳۳۶، كتاب الصید)

وقال الدكتور وهبة الزحیلي رحمه الله تعالیٰ: وتؤثر فیها الزكوة عند الحنفیة إن علمت حیاتها أو لم تدر حیاتها فتحركت أو خرج الدم.

(الفقه الإسلامي وأدلته ۴: ۲۷۸۲، الباب التاسع الذبائح والصید، المطلب الثاني عشر)

په ذبح کې څټ پرې کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې که د حلالولو پرمهال د مرغۍ ټول څټ پرې شي؛ نو څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: شاه میډیکل ستور کیملپور ..... ۱۳۹۶ هـ / رمضان المبارك / ۲۲/

جواب: دا مرغۍ پاکه ده؛ خو دا کار حیوان ته د عذاب ورکولو له امله مکروه دی، (الهدایة) ﴿۱﴾ وهوالموفق .

د پیشو د مرغۍ څخه د سر پرې کولو پرمهال د ذبح حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې که د مرغۍ نه پیشو، سپي یا کوترې یوازې سر پرې کړ، نور څټ او بدن یې پوره پاتې شو، ایا دا مرغۍ په حلالولو سره پاکیږي او که نه؟ یا مثلاً د موټر او غوا تر پښو لاندې شو، سر یې لرې شو او څټ یې د نور بدن سره پاتې شو، ددې ذبح کول صحیح دي او که نه؟ موږ ته د دلیل ضرورت دی. بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم..... ۱۴۰۳ هـ / ربیع الأول /

جواب: فی الهندیة : ۵ ۳۲۳: لو انتزعَ الذئب رأسَ الشاة وهی حیةٌ تحلُّ بالذبحِ بینَ اللبةِ واللحیینِ کذا فی الوجیزِ للکردی ﴿۲﴾ ستا دواړه سوالونه پکښې حل شوه، وهوالموفق .

﴿۱﴾ قال العلامة المرغینانی رحمه الله تعالی: ومن بلغ بالسکین النخاع أو قطع الرأس کره له ذلک وتؤکل ذبیحته..... وفی قطع الرأس زیادة تعذیب الحیوان بلا فائدة وهو منهی عنه. (الهدایة۴: ۴۳۹، کتاب الذبائح)

﴿۲﴾ (فتاوی هندیة۴: ۲۹۱، کتاب الذبائح، الباب الثانی فی المتفرقات)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: شاة قطع ... پاتې په بل مخ باندې

د حیوان دوه ځایه کېدو په صورت کې د سر والا برخه په ذبح پاکه ده

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې یو حیوان رېل ګاډي دوه ځایه کړ؛ خو بیا هم ژوندی ؤ، هغه مو ذبح کړ، ایا پاتې نور به حلال وي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد اسحاق..... ۱۹۷۴م/۸/۱۵/

جواب: واضحه دي وي چې پاتې برخه هم حرامه ده، لأنه المبان من الحی ﴿۱﴾ د سر والا برخه د ذبحې وروسته حلاله ده، کما فی الـــدرالمختارِ: والمعتـــبرُ فی المتردية وأواتها كنطيحةٍ وموقوذةٍ و ما أكلَ السبع والمريضة مطلق الحياةِ و اِنْ قلّتْ (هامش رد المحتارِ ۵: ۴۱۶) ﴿۲﴾ وهوالموفق.

د سر پرې حیوان چې د ذبح ځای یې پاتې وي، د حلالېدو حکم یې

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې سپي د یوې مرغۍ سر پرې کړ، بل سري یې په پاتې ستوني (مرۍ) باندې تېره چاړه تېره کړه او مرغۍ ژوندۍ وه، ایا دا مرغۍ حلاله ده او که حرامه؟ دغه راز که د وزې او یا هم له ګډې سره داسې وشي؛ نو بیا څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي فضل حق اضاخېل بالا پشاور

(بقیه حاشیه) الذئب أوداجها وهی حیة لا تذکی لفوات محل الذبح ولو انتزع رأسها وهی حیة تحل بالذبح بین اللبة واللحیین. (ردالمحتار ۵: ۲۱۷ کتاب الذبائح)

﴿۱﴾ فی الهندية: قطع الذئب من إلية الشاة قطعة لا يؤكل المبان وأهل الجاهلية كانوا يأكلونه فقال ﷺ: ما أبين من الحی فهو میتة.

(فتاوی هندية ۵: ۲۹۱ كتاب الذبائح، الباب الثالث فی المتفرقات)

﴿۲﴾ (الدر المختار ۵: ۳۳۴ كتاب الصيد)

جواب: که مذبح یې پاتې وي بیا حلال دی، که مذبح او رګونه یې سپي وړي وي بیا یې خوړل حرام دي، فی الهندیة ۵: ۳۲۳ ولو انتزعَ الذئبُ رأسَ الشاةِ وهی حیّةٌ تحلُّ بالذبحِ بینَ اللبةِ واللحیینِ ، فیها أیضاً : شاةٌ قطعَ الذئبَ أوداجها وهی حیّةٌ لا تذکی لفوات محلِّ الذبحِ کذا فی الوجیزِ للکردی﴿۱﴾ فقط ، هوالموفق .

د بحیره او سائبه حرام او حلال صورتونه

سوال: ما حکمَ الشریعةُ المصطفویةُ (علی صاحبها ألفَ ألفَ سلامٍ وتحیةٍ) فی البحیرةِ وأخواتها ذبحها باذنِ مالکها و ذکرَ علیها اسم اللّٰه تعالی وحــده فی وقتِ ذبحها أ یحلُّ أکلها امْ لا؟ بینوا توجروا

المستفتي: حکیم عبد الله شاه سیف الله ډاکخانه سیف الله او سېد ونکی تنګی چارسده

جواب: الراجح کونُ البحیرةِ وَ السائبةِ منْ أفرادِ ما أهلّ به لغیر اللّٰه﴿۲﴾

﴿۱﴾ (فتاوی هندیة ۵: ۲۹۱ کتاب الذبائح، الباب الثالث فی المتفرقات)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه تعالیٰ: قطع الذئب أوداجها وهی حیة لا تذکی لفوات محل الذبح ولو انتزع رأسها وهی حیة تحل بالذبح بین اللبة واللحیین.
(ردالمحتار ۵: ۲۱۷ کتاب الذبائح)

﴿۲﴾فی مجموعة قواعد الفقه: ومنه سمیت البحیرة وذلک ماکانوا یجعلونه بالناقة إذا ولدت عشرة بطن شقوا اذنها فسیبونها فلا تحمل وترکب. (مجموعة قواعد الفقه ۲۰۳)

وفیها ایضًا: السائبة هی الناقة التی تسیب فلا تمنع من مرعی بسبب نذر علّق بشفاء مریض أو قدوم غائب. (مجموعة قواعد الفقه ۳۱۷)

قال العلامة الحصکفی رحمه اللّٰه تعالیٰ: واعلم أن النذر الذی یقع للأموات من أکثر العوام وما یؤخذ من الدراهم والشمع والزیت ونحوها...... پاتې په بل مخ باندي

فما ذبح باسم الله بعد التوبة فهو حلالٌ لارتفاع العلة المحرمة و ما ذبح قبلَ التوبةِ فهوَ حرامٌ سواءٌ ذبحه بنفسه أوْ ذبحه غيره ﴿۱﴾ نعم! اذا خرجَ عنْ ملكه (قبلَ الذبحِ) فاذا ذبحه المالك الثانى باسم الله تعالى فهوَ حلالٌ لانتفاء الوصفِ المحرمِ و لا يجرى نية الأجنبى فى ملك الغيرِ فافهمْ وتدبرْ و لا تكنْ من المفرطينَ ولا المتفرطينَ ، وهوالموفق.

د غوټې پورته (فوق العقده) ذبح کول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې يو قصاب د شپې له خوا ګډه حلاله کړه، کله چې سهار شو؛ نو معلومه شوه چې ذبح د غوټې پورته شوې وه، ايا اوس به دا حيوان حلال وي که حرام او که مکروه؟ د ګډې او مرغۍ په غوټه (عقده) کې څه فرق شته او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبيد الله فاضل جامعه دار العلوم حقانيه مهمند ايجنسى .....

۱۹۷۰م/ ۱۱/ ۱۱/

باقي حاشيه إلى ضرائح الأولياء الكرام تقربًا إليهم فهو بالإجماع باطل وحرام مالم يقصدوا صرفها لفقراء الأنام.

(الدرالمختار ۲: ۱۳۹، كتاب الصوم، مطلب فى النذر الذى يقع للأموات من أكثر العوام الخ)

﴿۱﴾ قال المفتى كفايت الله رحمه الله تعالى: سوال : ما قولكم رحمكم الله فى البقرة التى تركت وربيت تقربا لغير الله ثم بدل المتقرب نيته وذبح البقرة بسم الله الله اكبر أحلها حلال أم حرام؟...... الجواب: إن بدل المتقرب نيته قبل ذبح البقرة وقصد التقرب بإراقة دمها إلى الله تعالى وتاب عن ما صدر منه من قصد التقرب إلى غيره تعالى ثم ذبحها تقربا إلى الله تعالى حلت البقرة وحل أكلها وإن لم يبدل نيته قبل ذبحها ولم يتب عمّا صدر منه وذبحها على نيته السابقة لا يحلها التسمية اللسانية وحرمت البقرة وحرم أكلها مع كونها مذبوحة باسم الله تعالى. (كفايت المفتى ۸: ۲۳۳ كتاب الأضحية والذبيحة)

جواب: كه د مرغۍ، غوا يا بل حيوان غوټه لاندې راشي؛ نو په حلالوالي كې يې هيڅ فرق نه راځي، وقدْ صرَّحَ فى الذخيرةِ بأنَّ الذبحَ اذا وقعَ أعلى منَ الحلقومِ لا يحلُّ لأنَّ المذبحَ هو الحلقوم لكنْ روايةَ الامامِ الرستغفنى تخالفُ هذه حيثُ قالَ: هذا قولُ العوامِ وليسَ بمعتبرٍ فتحلُّ سواءٌ بقيتِ العقدة مما يلى الرأس أوِ الصدر لأنَّ المعتبرَ عندنا قطعُ أكثرِ الأوداجِ وقدْ وجدَ ، وكانَ شيخى يفتى بهذه الروايةِ و قدْ شنع الاتقانى فى غايةِ البيانِ على من خالفَ تلك الرواية غايةَ التشنيعِ مختصراً . (رد المحتارِ ٥: ٢٥٦) وقالَ العلامة الشامى رحمه الله تعالى : والتحريرُ للمقامِ أنْ يقالَ انْ كانَ بالذبحِ فوقَ العقدةِ حصلَ قطعُ ثلثة من العروقِ فالحقُّ ما قاله شراح الهداية تبعاً للرستغفنى و الَّا فالحقُّ خلافه اذا لَمْ يوجدْ شرطُ الحلّ باتفاقِ المذهبِ و يظهرُ ذلك بالمشاهدة أوْ سؤال أهلِ الخبرةِ فاغتنمْ هذا المقالَ و دعْ عنك الجدالَ ﴿١﴾ مولانا خليل احمد صاحب د ډېر تحقيق او مشاهدې په بناء د جواز فتوى وركړې ده، فليراجعْ الى امداد الفتاوى ٣: ٣٦٤ ﴿٢﴾ وهوالموفق .

د محققينو په نزد د غوټې پورته ذبيحه پاكه ده

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې كه حيوان د ستوني د غوټې ـ نه پورته ذبحه شي؛ نو ايا دا به حلال وي كه حرام او كه مكروه؟ كه حلال وي بيا د ټولو لپاره حلال دى او كه يوازې د غريبانانو لپاره؟ په ذبحه كولو كې سنت طريقه د غوټې نه پورته ده او كه ښكته؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا غلام رباني حسين آباد ..... ١٩٧٥ م / جنوري / ٢٨/

﴿١﴾ (ردالمحتار ٥: ٢٠٧، كتاب الذبائح)

﴿٢﴾ (امداد الفتاوى ٣: ٥٣٨، كتاب الصيد و الذبائح والأضحية، حكم ذبح فوق العقدة)

جواب: د محققینو په نزد د غوټۍ پورته (فوق العقده) ذبحه کول د هر شتمن او غریب لپاره حلال دي، كما في رد المحتار ٥: ٢٥٦ : وقد صرَّحَ في الذخيرة بأنَّ الذبحَ اذا وقعَ أعلى منَ الحلقومِ لا يحلُّ لأنَّ المذبحَ هو الحلقومُ لكن روايةَ الامام الرستغفنى تخالفُ هذه حيثُ قال: هذا قولُ العوامِ وليس بمعتبرٍ فتحلُّ سواءٌ بقيت العقدة مما يلى الرأس أوِ الصدر لأنَّ المعتبرَ عندنا قطعُ أكثرِ الأوداجِ وقدْ وجدَ ، وفيه أيضاً أقولُ والتحريرُ للمقامِ انْ يقالَ ان كانَ بالذبحِ فوقَ العقدةِ حصل قطعُ ثلاثة منَ العروقِ فالحقُّ ما قاله شراح الهدايةِ تبعاً للرستغفنى و الا فالحقُّ خلافه اذا لم يوجد شرط الحلّ باتفاق أهلِ المذهبِ ويظهرُ ذلك بالمشاهدةِ أوْ سؤال أهلِ الخبرةِ فاغتنم هذا المقالَ و دعْ عنك الجدالَ،انتهى﴿۱﴾ مولانا خلیل احمد صاحب د خپل تحقیق او مشاهدې په بناء د جواز فتوی ورکړې ده، فليراجعْ الى امداد الفتاوى ٣: ٣٦٤﴿۲﴾ كه ودجان او وریدان یې دماغوته رسېدلي وي بیا یې په حلت کې

﴿۱﴾ (ردالمحتار ٥: ٢٠٧، كتاب الذبائح)

﴿۲﴾ فی إمداد الفتاوی: | دمولانا خلیل احمد صاحب لیکل شوی خط دخوکلونو راهیسې راسره دی او دې تحقیق نه رسېدلی یم، زما په اندکوم حرام ویونکي چې وایي: كه دغوټي نه پورته ذبح وشي، غاړه او مری بې پاتې شي دا ذبح صحیح نه شوه، وجه یې داده چې دخلکو تجربه نشته، څکه چې غاړه په غوټي نه خلاصیږي بلکې، دسرله لورې پورته ختلې وي، ددې له امله دعوه چې که ذبح د غوټي پورته وشي، نو غاړه او مری به پرې نه شي، دا ډېره د حیرانتیا خبره ده...

الجواب من اشرف على: دحلت او حرمت په دواړو قولونو کې داختلاف بنسټ دا دی چې غوټي نه پورته دذبح په صورت کې غاړه او مری پرې کیږي او کنه؟ داکتوسره تعلق لري، دکتورو رسته په دیکې اختلاف نه پیدا کیږي او دا څرګنده ده چې دثقه راویانو د کتلو نه معلومیږي چې دا څاروی حلال دی. (امدادالفتاوی ۳: ۵۳۸، ۵۳۹ کتاب الذبائح)

هیڅ شک نشته، کما فی أبي السعود : والوریدانِ عرقانِ مکتنفانِ بصفحتي العنقِ فی مقدمهما متصله بالوتین یردان منَ الرأسِ الیهِ (هامش التفسیر الکبیر ۷: ۶۲۶)﴿۱﴾والکشاف ۴: ۲۰:﴿۲﴾ومظهری ۹: ۶۷:﴿۳﴾فتدبرْ وهوالموفق.

د غوټې پورته ذبحه کښې د مرغانو او لویو حیواناتو تر منځ فرق نشته

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د مرغۍ د ذبحي پرمهال که غوټه پورته لاړه شي؛ نو حلاله ده او که حرامه؟ په مرغۍ او لویو حیواناتو کې څه فرق شته او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: احمد سعید تحصیل ټانك ډی آئی خان

جواب: د مفتی به قول په رڼا کې د مرغۍ او لویو حیواناتو ترمنځ هیڅ فرق نشته، وهذه المسئلةُ مسطورةٌ فی رد المحتارِ ۵: ۲۵۶﴿۴﴾فلیراجعْ وهوالموفق.

د خرې په شیدو لوی شوې چیلۍ (وزې) حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د یوې چیلۍ (وزې) بچی د خرې په شیدو لوی شي؛ نو د دې چیلۍ خرڅول او

﴿۱﴾ (تفسیر ابی السعود ۶: ۱۹۲، سورة ق آیت: ۱۶)

﴿۲﴾ (تفسیر کشاف ۴: ۳۷۴، سورة ق: آیت ۱۶، طبع بیروت)

﴿۳﴾ (التفسیر المظهری ۹: ۶۷، سورة ق: آیت: ۱۶، مکتبه رشیدیه)

﴿۴﴾ فی ردالمحتار: وقد صرّح فی الذخیرة بأن الذبح إذا وقع أعلی من الحلقوم لا یحل لأن المذبح هو الحلقوم لکن روایة الإمام الرستغفنی تخالف هذه حیث قال: هذا قول العوام ولیس بمعتبر فتحل سواء بقیت العقدة مما یلی الرأس أو الصدر لأنّ المعتبر عندنا قطع أکثر الأوداج وقد وجد وکان شیخی یفتی بهذه الروایة.

(ردالمحتار ۵: ۲۰۷، کتاب الذبائح)

د غوبني خوړل یې څه حکم لري؟ حلال دي او که حرام؟ بینوا توجروا

المستفتي: فضل منان

جواب: څو ورځې چې نور خوراك وكړي بيا يې په خوړلو كې هيڅ خبره نشته، دغه راز خرڅول يې هم روا دي، في الهندية ۵: ۳۲۲: الجدی اذا كانَ يربى بلـبنِ الأتانِ والخنزيرِ اعتلفَ أياماً فلا بأسَ به لأنه بمنزلةِ الجلالةِ﴿۱﴾ وهوالموفق.

د وینو څښونکي حیوان حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې كه د غوا د چاغښت لپاره هغه ته وينه وركول شي؛ نو د دغې غوا شيدې او غوښه څه حكم لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: احمد سعيد تحصيل تانك ډی آئی خان

جواب: كه په شيدو او غوښه كې يې د وينو او مرداری بوی محسوسېده يا يې تاثير ﭘكښې ؤ بيا مرداره ده او كه د مرداری تاثير ﭘكښې نه وي بيا پاكه ده، ونظيره الجلالة فليراجعْ الى رد المحتارِ ۵: ۹۹:﴿۲﴾ وهوالموفق.

د مَآ أُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ نه څه مطلب دی؟

سوال: ماقولكم أيها العلمـاء الحقـانيونَ في التـرجيح لأحـدِ القولينِ في معـنى قولـه تعالى: مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّه، قالَ المفسرونَ المرادُ به رفعُ الصوتِ باسمِ اللّه تعالى في وقتِ

﴿۱﴾ (فتاوی هندیة۵: ۲۹۰، كتاب الذبائح، الباب الثاني في بيان مايؤكل من الحيوان وما لا يؤكل)

﴿۲﴾ في ردالمحتار: (قوله التي تأكل العذرة) اي فقط حتّى أنتن لحمها قال في شرح الوهبانية وفي المنتقى: الجلالة المكروهة التي اذا قربت وجدت منها رائحة فلا تؤكل ولا يشرب لبنها ولا يعمل عليها وذلك حالها.

(ردالمحتار ۵: ۲۳۹، كتاب الحظر والإباحة)

ذبح الحيوانِ وقالَ أهلُ الرأى فى زماننا بـلِ المـرادُ بـه رفـعُ الصـوت مطلقاً باسمِ غير اللّٰه تعالىٰ قبلَ وقت ذبحه أوْ فى وقـتِ ذبحـه فـأى قـولٍ راجحٌ و صحيحٌ عندكمْ؟ بينوا توجروا

المستفتي: حكيم عبد الله شاه صاحب تنگى چارسده ۱۹۷۲م/ ۶/ ۵/

جواب: فى الدرالمختارِ وغيره : ذبح لقدوم الأميرِ ونحوه كواحدٍ من العظماءِ يحرم لأنه أهلَّ به لغيرِ اللّٰه تعالى ولو ذكرَ اسم اللّٰه تعالى ، (هامش رد المحتارِ ۵: ۲۶۹ كتاب الذبائح)﴿۱﴾فدلتْ دلالةً واضحةً على أنْ كونَ الحيوانِ ما أُهلَّ بهِ لغَيْرِ اللّٰهِ على قصدِ تعظيم غير اللّٰه تعالى بالذبحِ لا على ذكر اسـم غير اللّٰه ، فما قيلَ انّه ما ذبح لغير اللّٰه بيانٌ للواقع لا أنّه تفسيرٌ للقرآنِ بـلْ تفسير ما رفع به الصوت لتعظيم غير اللّٰهِ سواءٌ ذكرَ عليهِ اسم اللّٰه أولا فهو حرامٌ بعد الذبحِ ، فالقولُ هو القولُ الثانى﴿۲﴾وهوالموفق .

د چا په دروازه کې حیوان حلالول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې كه ګډه د چا په دروازه كې حلاله شي؛ نو څه حكم لري؟ ايا هغه به حلاله وي او كه حرامه؟ بينوا توجروا

المستفتي: امير زمان لورالائى بلوچستان ۱۹۸۶م/ ۴/ ۲۲/

﴿۱﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۵:۲۱۷، كتاب الذبائح)

وفى الهندية: وفى المشكل ذبح عند مرأى الضيف تعظيمًا له لا يحل أكلها وكذا عند قدوم الأمير أو غيره تعظيمًا. (فتاوىٰ هندية۵:۲۸۶، كتاب الذبائح، الباب الأول)

﴿۲﴾ قالِ العلامة عبد الحى اللكنوى رحمه اللّٰه تعالى: ما أهل به لغير اللّٰه. نه هغه څاروى مراد دى چې د الله تعالى پرته د بل چا خوشحالي پكښې مقصد وي، دوينې تويولو نه هم د الله تعالى پرته د بل چالويي مقصد وي، كه په داسې څاروي بسم الله وويل شي بيا هم حرام دى. (مجموعة الفتاوىٰ ۲:۲۱۱ كتاب الحظروالاباحة)

جواب: دا يو رواج دی، په ديکښې د حلالوونکي مطلب دا نه وي چې د غير الله لپاره وينه تويه شي. ﴿۱﴾ وهوالموفق

د پير د روغتيا، باران او هديره کې د حيوان حلالول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې (۱) زموږ په علاقه کې خلك د غير الله لپاره نذر مني، مثلاً دا ګډه د پير عبد القادر جيلاني ده؛ خو د ذبح په وخت د الله تعالی نوم اخلي، ايا ددې غوښه خوړل حلال دي او که حرام؟

(۲) زموږ په ځای کې دا هم يو رواج دی چې د ناروغ د روغتيا په خاطر خلك هديرې ته ګډه بوځي او هلته يې حلالوي، دغه راز د باران د وربدو لپاره هم هديره کې ګډه حلالوي او بيا دعاګاني غواړي، دغه راز که په مال کې يې کومه ناروغي پيښه شي؛ نو يو يا دوه ګډې هديرې ته بوځي، هلته يې حلالوي او خوري يې، بيا دعاګاني غواړي چې خدايه لـه دې مرضـه مي مال ته نجات ورکړه!

(۳) که يو سړی يوازې د خدای د رضا لپاره ګډه هديرې ته بوځي او هلته يې ذبح کړي، ايا په ديکښې ګناه شته او که نه؟ دغه راز خوړل يې څه حکم لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: جامعه عربيه اسلاميه بحر العلوم کوئټه پاکستان ۱۹۸۸م/۶/۱۵/

جواب: د ذبيحې د حلت لپاره دوه شرطونه دي: (۱) لومړی دا چې لـه قصده بـه تسميه نـه پرېږدي، (۲) د وينې پـه تويولـو سره د غير الله خوشحالول مقصد نه وي، کماأشاراليه الفقهاء في کتاب الذبائح﴿۲﴾ په دې ټولو صورتونو

﴿۱﴾ قال العلامة الشامي رحمه الله تعالیٰ: فالذبح عند وضع الجدار او عروض مرض أوشفاء منه لاشک في حله لأن القصد منه التصدق حموی. (ردالمحتار ۵:۲۱۷ کتاب الذبائح)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالیٰ: وتارک التسمية عمداً فإن ترکها ناسياً حلّ وإن ذکر مع إسمه تعالیٰ غيره، فإن وصل بلا عطف ...... پاتې حاشيه په بل مخ باندې

کې دویم شرط غالباً نشته، ددې له امله يې حراموالي زيات راجح دي، بخلافِ الذبحِ للضيفِ فانَّ القصدَ فيه تعظيمُ الضيفِ باللحمِ دونَ الاراقةِ﴿١﴾ وهو الموفق .

د حاجيانو د راتلو او په ودونو کې د حيوان حلالول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي (١) چې زموږ په ځای کې ځينې خلك د حاجي صلحب د راتلو سره هغه ته په ډالۍ کې ګډه يا غوا ورکوي، څوك يې حلالوي او څوك يې همداسې ژوندی ورته سپاري، ايا دا ذبحه د مَآ اُهِلَّ بِهٖ لِغَيۡرِ اللّٰهِ لپاره ده او که نه؟

(٢) دغه راز د کوم سړي چې واده وي، هغه ته هم ځينې خلك په ډالۍ کې ګډه يا بل حيوان ورکوي او د دوه قومونو د سولې پرمهال هم دغسې معامله تکرارېږي، ددې ټولو شرعي حکم څه دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي عبد الرحمن ترخويه کلی ډاکخانه ډوميل ضلع بنو .....

١٤٠٢ هـ / جمادی الأولی /١٩/

باقي حاشيه　کره وان عطف حرمت نحو باسم الله وباسم فلان او فلان لأنه أهل به لغير الله. (درمختار مختصراً)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالیٰ: (قوله وتارک التسمية عمدًا) ای ولا تحل ذبيحة من تعمد ترک التسمية مسلمًا كان أو كتابيًا لنص القرآن ولانعقاد الإجماع ممن قبل الشافعی علی ذلک.

(ردالمحتار ٥: ٢١٠، ٢١١، كتاب الذبائح)

﴿١﴾ فی الهندية: وفی المشكل ذبح عند مرای الضيف تعظيمًا له لا يحل أكلها وكذا عند قدوم الأمير أو غيره تعظيمًا فأمّا إذا ذبح عند غيبة الضيف لأجل الضيافة فإنه لا بأس به كذا فی الجوهرة النيرة.

(فتاوی هندية ٥: ٢٨٦، كتاب الذبائح، الباب الأول فی ركنه وشرائطه الخ)

جواب: مفسرينو او فقهاء كرامو د مَآ اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ دري صورتونه ليكلي دي، (۱) هغه چې د غير الله په نوم ونامول شي، ﴿۱﴾ (ب) هغه چې د غير الله په نوم ذبح شي، ﴿۲﴾ هغه وخت چې د وينو په تويولو كې د غير الله خوشحالي مقصد وي، ﴿۳﴾ بخلافِ ما اذا أراد تعظيم غير اللّٰه كالضيفِ باللحمِ ﴿۴﴾ مستفتي چې كوم صورتونه ليكلي دا دري صورتونه پكښې نشته، حرام گڼل يې تكلف او تعمق دی، خو دومره ده چې په ديكښې تقرب الى الله هم مقصد نه وي، يوازې يو قومي رواج ته وده وركول دي، حرام نه دي، كما في ذبيحةِ القصابِ و كما اذا أخذ الشيخ النذيرةَ على سبيلِ الصدقةِ فليراجعْ الى رد المحتارِ ۲: ۱۷۵: قبيل الاعتكافِ ﴿۵﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ في مجموعة قواعد الفقه: السائبة هي الناقة التي تسيب فلا تمنع من مرعى بسبب نذر علّق بشفاء مريض أو قدوم غائب. (مجموعة قواعد الفقه ۳۱۷)

﴿۲﴾ قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لعن الله من ذبح لغير الله وامّا الذبح لغير الله فالمراد به أن يذبح باسم غير الله كمن ذبح للصنم أو الصليب أو لموسٰى أو لعيسٰى عليهما السلام أو للكعبة ونحو ذلك فكل هذا حرام ولا تحل هذه الذبيحة. (حاشية النووي على الصحيح للإمام المسلم ۲: ۱۶۰، باب تحريم الذبح لغير الله تعالٰى)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالٰى: ذبح لقدوم الأمير ونحوه كواحد من العظماء يحرم لأنه اهل به لغير الله ولو ذكر اسم الله تعالٰى ولو ذبح للضيف لا يحرم. (درمختار ۵: ۲۱۶، كتاب الذبائح)

﴿۴﴾ في الهندية: وفي المشكل ذبح عند مرأى الضيف تعظيمًا له لا يحل أكلها وكذا عند قدوم الأمير أو غيره تعظيمًا فأما إذا ذبح عند غيبة الضيف لأجل الضيافة فإنه لا بأس به. (فتاوٰى هندية ۵: ۲۸۶، كتاب الذبائح، الباب الأول)

﴿۵﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالٰى: واعلم أن النذر باتي حاشيه په بل مخ باندې

د ظلم او قرض د خلاصون لپاره ذبح کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زید د عمر لپاره يو ګډ ذبح کړ چې خالد په ما باندې ظلم کوي يا دا چې په ما باندې قرض دی، غواړم چې ته مي مرسته وکړې؛ ځکه چې ته زما ګاونډی يې؛ ايا ددې ذبيحې غوښه حلاله ده او که مرداره؟ بينوا توجروا

المستفتي: حاکم ګل وزیرستاني د دارالعلوم حقانيه زده کوونکی ......
۱۴۰۱ هـ / ۷ / ۴/

جواب: دا حیوان د رواج له امله ذبحه شوی، د تقرب الی غیر الله په نوم نه ده ذبح شوی، «۱» ددې خوراك روا دی، دا په مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ کې نه دی شامل «۲» وهو الموفق

باقي حاشيه الذی يقع للأموات من أكثر العوام وما يؤخذ من الدراهم والشمع والزيت ونحوها إلى ضرائح الأولياء الكرام تقربًا إليهم فهو بالإجماع باطل وحرام مالم يقصدوا صرفها لفقراء الأنام. (درمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ولايجوز لخادم الشيخ أخذه إلّا أن يكون فقيرًا أوله عيال فقراء عاجزون فيأخذونه على سبيل الصدقة المبتدأة.

(ردالمحتار ۲: ۱۳۹، قبيل باب الاعتكاف)

«۱» قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: فالذبح عند وضع الجدار او عروض مرض أو شفاء منه لاشك في حله لأن القصد منه التصدق حموی.

(ردالمحتار ۵: ۲۱۷، كتاب الذبائح)

«۲» قال العلامة عبد الحي اللكنوی رحمه الله تعالى: ما أهل به لغير الله نه هغه څاروی مراد دی چې د الله تعالی پرته دبل چا خوشحالي پکښې مقصد وي، دوينې تويولو نه هم د الله تعالی پرته د بل چالويي مقصد وي. که په داسې څاروي بسم الله وويل شي بيا هم حرام دی (مجموعة الفتاوی ۲: ۲۱۱ كتاب الحظر والاباحة)

د باطلو معبودانو، بادشاهانو او مېلمنو لپاره د حيوان حلالول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د باطلو معبودانو د لويي، د بادشاهانو د لويي او مېلمنو د عزت لپاره چې کوم حيوان حلال شي، د هغې د خوړلو څه حکم دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ۱۹۸۸م/ ۱/ ۱۷/

جواب: بسم الله الرحمن الرحيم الحمد لله وكفى وسلامٌ على عباده الذينَ اصطفى أما بعدُ! هغه حيوان چې د باطلو معبودانو د لويي او تعظيم لپاره ذبحه شي حرامه ده او په مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّٰهِ کې شامله ده، ځکه چې ذبح کوونکي ددې باطل معبود تعظيم وکړ، ﴿۱﴾ د وينې په تويولو سره نه په غوښې، ځکه چې د هغوی تعظيم او لوی ګڼل په غوښې سره څنګه متصور کېدای شي؟

دغه راز هغه حيوان چې د بادشاهانو او حاجيانو د تعظيم په نيت ذبحه شي هغه هم په مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّٰهِ کې شامله ده. كما فى الدر المختار﴿۲﴾ وغيره، ځکه چې د ذبح کوونکي مقصد دا نه وي چې مېلمه دې غوښه وخوري، كما لايخفى.

﴿۱﴾ قال العلامة النووى رحمه الله تعالى: قال رسول الله ﷺ: لعن الله من ذبح لغير الله وأما الذبح لغير الله فالمراد به أن يذبح باسم غير الله كمن ذبح للصنم أو للصليب أو لموسى أو لعيسى عليهما السلام أو للكعبة ونحو ذلك فكل هذا حرام ولا تحل هذه الذبيحة.
(حاشية النووى على الصحيح للإمام المسلم ۲: ۱۶۰، باب تحريم الذبح لغير الله تعالى)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: ذبح لقدوم الأمير ونحوه كواحد من العظماء يحرم لأنه أهل به لغير الله ولو ذكر اسم الله تعالى ولو ذبح للضيف لا يحرم.
(درمختار ۵: ۲۱۷، كتاب الذبائح)

او هغه ګډه چې د مېلمه د خوراك لپاره ذبح شي هغه حلاله ده، دا ابراهيمي سنت دی او په دیکښې د ذبح کوونکي مقصد د مېلمه تعظیم دی د غوښې په خوړلو نه دا چې د وینو په تویولو د هغه تعظیم وشي. ﴿۱﴾وهو واضحٌ.

او هغه ګډ یا چېلی چې د بل په کور کې حلال شي، یا یې ترحم او مرسته مقصد وي د هغې خوړل حلال دي، دا بیا په مَا اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰـهِ کې نه دي شامل، ﴿۲﴾ ځکه چې زیاتره وخت خلك د بل په کور کې خپل ګډان یوسي او هماغلته یې حلال کړي او په غوښه یې هیڅ کار نه لري، دا غوښه هماغه کور ته وسپاري ، فكيفَ ما يكون مَا أُهِلَّ به لِغَيْرِ اللّٰه وبالجملة أنّ الذبحَ ههنا يوفي الرسمَ ولا يقصد تعظيم أحد بالاراقة ، فافهمْ وهوالموفق

د اوبو د زیاتېدو لپاره د ولي په قبر باندې ګډ حلالول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زموږ په کلي کې له پخوانیو سپین ږیرو له وخته یو داسې رواج دی چې کله په نهرونو کې قدرتي اوبه کمې شي؛ نو د کلي ملکان خلك د بزګرو او شتمنو خلکو نه پیسې غونډې کړي او په هغې باندې ګډ یا غوا واخلي، بیا یې د کلي په مشهور قبر (ارام بي بي) باندې لوموړی شاوخوا تاو راتاو کړي، بیا یې حلال کړي او د خیرات نیت پکښې کوي، د دوی دا عقیده وي چې اوس به په نهر کې اوبه زیاتې شي، ایا شرعاً دا کار صحیح دی او که نه، ددې ذبیحې غوښه خوړل حلال دي او که نه؟ دغه راز په دیکښې برخه

﴿۱﴾ في الهندية: وفي المشكل ذبح عند مرأى الضيف تعظيماً له لا يحل أكلها و كذا عند قدوم الأمير أو غيره تعظيماً فأما إذا ذبح عند غيبة الضيف لأجل الضيافة فإنه لا بأس به. (فتاوى هندية ٥: ٢٨٦، كتاب الذبائح، الباب الأول)

﴿۲﴾قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: فالذبح عند وضع الجدار أو عروض مرض أو شفاء منه لا شك في حله لأن القصد منه التصدق حموی. (ردالمحتار ٥: ٢١٧، كتاب الذبائح)

اخیستل څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: عمر علي ضلع بنو ..... ۱۴۰۱ هـ / ربیع الأول /۸/

جواب: (۱) دا غلط کار او توهم پرستي ده. ﴿۱﴾

(۲) که په قبر باندې د ذبح نه مراد دا وي چې د قبر والا بزرګ خوشحاله شي او د هغه تعظیم مقصد وي، بیا نو دا ذبیحه مرداره ده، اګر که په بسم الله، الله اکبر ویلو سره حلاله شوې وي. وهوالموفق

(۳) او په دې کار کې سره له پوهې برخه اخیستل ځان په لویه ګناه کې شریکول دي، ،(د ردالمحتار﴿۲﴾ اومسند امام احمد څخه اخیستل شوي﴿۳﴾).

وهو الموفق

﴿۱﴾ فی المرقدة: عن عبد الله بن مسعود رضی الله تعالی عنه عن رسول اللهﷺ قال الطیرة شرک) ای لاعتقادهم أن الطیرة تجلب لهم نفعًا أو تدفع عنهم ضرًا فإذا عملوا بموجبها فکانهم أشرکوا بالله فی ذلک ویسمّی شرکًا خفیًا وقال الشارح یعنی من اعتقد أن شیئًا سوی الله ینفع أو یضر بالاستقلال فقد أشرک ای شرکًا جلیًا.

(مرقاة المفاتیح شرح مشکوة المصابیح ۹:۶، باب الفال والطیرة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: ذبح لقدوم الأمیر ونحوه کواحد من العظماء یحرم لأنه أهل به لغیر الله ولو ذکر اسم الله تعالی. (درمختار)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: لوضافه أمیر فذبح عند قدومه فإن قصد التعظیم لا تحل وإن أضافه بها وإن قصد الإکرام تحل وإن أطعمه غیرها.

(ردالمحتار ۵:۲۱۷، کتاب الذبائح)

﴿۳﴾ عن علیّ رضی الله تعالی عنه سمعته (ﷺ) یقول: لعن الله من ذبح لغیر الله.

(مسند الإمام أحمد رحمه الله تعالی ۱:۱۰۸، مسند علیّ ابن ابی طالب رضی الله تعالی عنه)

د سردار په وړاندې او د ښځې د غوښتلو پروخت د ګډې حلالول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي (۱) چې د دوه کسانو د ځمکې لانجه وه، هر یو د خپل کلي ملك ته یوه - یوه ګډه بوتله او هلته یې ورته حلاله کړه، ګډه به بیا ملك په خپل کور کې پخوي بیا به مولوي صاحبانو ته دعوت ورکوي او په هغوی به یې خوري.
(۲) یو سړی د خپل زوی لپاره د چالور غواړي؛ نو د ورتلو سره سم د هغوی په دروازه کې ګډه حلاله کړي، ددې ګډې خوړل څه حکم لري؟
(۳) دغه راز دوه سړي مشر سړي ته ګډه بوځي او هغه یې په کور کې پخوي؛ نو ددې غوښې خوړل څنګه دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي سيد الدين ضلع ژوب ..... ۱۹۸۸ م / ۶ / ۶/

جواب: دا ټولې ذبیحې حلالې دي، په مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّٰهِ کې نه دي شاملې، ځکه چې ددې د وینې تویلو غرض د غیر الله خوشحالول مقصد نه دي. ﴿۱﴾

وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامةابن عابدين رحمه الله تعالى: فالذبح عند وضع الجدار أو عروض مرض أو شفاء منه لاشك في حله لأن القصد منه التصدق حموی.
(ردالمحتار ۵: ۲۱۷، كتاب الذبائح)

وقال العلامة اللكنوی رحمه الله تعالى: مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّٰهِ نه هغه څاروی مراد دی چې د الله تعالى پرته دبل چا خوشحالي پکښې مقصد وي، دوینې تویولو نه هم د الله تعالى پرته د بل چالویي مقصد وي، که په دا سې څاروي بسم الله وویل شي بیا هم حرام دی (مجموعة الفتاوی ۲: ۲۱۱ كتاب الحظروالاباحة)

د پیر د خوشحالولو لپاره د هغه په نوم نامول شوې ذبیحه

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې کوم سړی د ژوندي یا مړ پیر په نوم یو حیوان هبه کړي، بیا دغه حیوان ددې پیر ځای ته بوځي او د هغه د خوشحالولو لپاره يې هلته حلال کړي، ددې سړي دا کار څنګه دی او ایا دا ګډه په مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّٰهِ کې شامله ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الله عفی عنه دار العلوم ربانیه کراچی ...... ۱۹۸۴م / ستمبر / ۳۰ /

جواب: هغه حیوان چې د غیر الله د خوشحالولو په نیت حلال شي، هغه د عالمانو په اتفاق حرام او مردار دی، د هغې پوره تفصیل په معارف القرآن لومړي توك د مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّٰهِ آیت تر تفسیر لاندې لیکل شوی دی، په یاد صورت کې ګډه مرداره ده، ﴿۱﴾ پاتې شوه دا خبره چې دا کار څه حکم لري؟ نو په دیکښې د عالمانو دوه قوله دي: یو د کفر او بل د عدم کفر، علامه شامي عدم کفر ته ترجیح ورکړې، والتفصیلُ فی الدرالمختارِ والشامیة ج ۶: ص: ۳۰۱، ۳۱۰ ﴿۲﴾ خو که ددې سړي دا عقیده هم وي چې پیرصاحب زما د ټولو حالاتو څخه خبر دی،

﴿۱﴾ قال المفتی محمّد شفیع رحمه الله تعالی: دویم صورت هغه دی چه د الله ﷻ درضا پرته څاروی ذبح شي یعنې د وینې توېولو نه مقصد دغیرالله خوشحالول وي، خو دحلالولو پرمهال بیاد الله ﷻ نوم اخلي لکه څرنګه چې ډېر ناخبره خلك دبزرګانو او پیرانو دخوشحالولولپاره وزه یاګومه مرغی حلالوي او بیا د ذبح پرمهال د الله ﷻ نوم اخلي، داصورت هم د فقهاؤ په اتفاق سره حرام او حلال شوی څاروی مردار دی (معارف القرآن: ۱: ۴۲۱ سورة البقرة، آیت: ۱۷۳)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: قلت وفی صید المنیة انه یکره ولا یکفر لانا لانسیء الظن بالمسلم انه یتقرب إلی الآدمی بهذا النحر. (الدرالمختار)

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: ...... پاتي حاشیه په بل مخ باندې

زما د کارونو جوړوونکی او خرابوونکی دی؛ نو ددې عقیدې درلودلو له امله بیا کافر دی، کما فی رد المحتارِ۳: ۲۷ ﴿۱﴾ وأیضاً فی الخانیةِ علی هامش الهندیة ۱: ۳۳۴ ﴿۲﴾ وهکذا فی البزازیةِ ﴿۳﴾ والبحرِ ۲ ﴿۴﴾ (هکذا نقلت من أحسنِ الفتاوی) ﴿۵﴾ فقط والله تعالیٰ أعلمُ.

هذا الجوابُ صحیحٌ المجیبُ:

محمد فرید عفی عنه احمد ممتاز دار العلوم ربانیه کراچی

(بقیه حاشیه)(وقوله هل یکفر) أی فیما بینه وبین الله تعالیٰ إذ لا یفتیٰ بکفر مسلم أمکن حمل کلامه أو فعله علی محمل حسن أو فی کفره خلاف (قوله أنه یتقرب إلی الآدمی) أی علی وجه العبادة لأنه المکفر وهذا بعید من حال المسلم فالظاهر أنه قصد الدنیا أو القبول عنده بإظهار المحبة بذبح فداء عنه لکن لما کان فی ذلک تعظیم له لم تکن التسمیة مجردة لله تعالیٰ حکما. (الدر المختار مع ردالمحتار ۵:۲۱۸ کتاب الذبائح)

﴿۱﴾ وفی ردالمحتار: (قوله قیل یکفر) لأنه اعتقد أن رسول الله ﷺ عالم الغیب. (ردالمحتار ۲:۳۰۰، کتاب النکاح قبیل فصل فی المحرمات)

﴿۲﴾ وفی الخانیة: رجل تزوج امرأة بشهادة الله ورسوله کان باطلاً لقوله ﷺ لا نکاح إلا بشهود وکل نکاح یکون بشهادة الله وبعضهم جعلوا ذلک کفرًا لأنه یعتقد أن الرسول ﷺ یعلم الغیب وهو کفر. (فتاوی خانیة علی هامش الهندیة ۱:۳۳۴، کتاب النکاح فصل فی شرائط النکاح)

﴿۳﴾ فی البزازیة: تزوجها بشهادة الله تعالیٰ جل جلاله ورسوله علیه الصلوٰة والسلام لا ینعقد ویخاف علیه الکفر لأنه یوهم أنه علیه الصلوٰة والسّلام یعلم الغیب.
(فتاوی بزازیة علی هامش الهندیة ۴:۱۱۹، کتاب النکاح، الفصل السادس فی الشهود)

﴿۴﴾ وفی البحر الرائق: لو تزوّج بشهادة الله ورسوله لا ینعقد ویکفر لاعتقاد أن النبی یعلم الغیب. (البحر الرائق ۳:۸۸، کتاب النکاح)

﴿۵﴾ (أحسن الفتاوی ۱:۳۶، کتاب الإیمان والعقائد)

د سولې لپاره د ګډې حلالول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زموږ په کلي کې چې کله د دوه ډلو تر منځ خفګان وي او خلك یې بیا روغه کوي؛ د کلي ملکانو په یوه ډله باندې ګډه لازمه کړي او د بلې ډلې کور ته یې ور وړي، څکه چې که د هغه کور ته په زرګونو او لکونو روپۍ ورکول شي، په هغې نه وي خوشحاله، بلکې په دې ګډه باندې خوشحالیږي، اوس ددې ګډي خوړل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: سیف الرحمن شریك دوره حدیث

جواب: دا ذبیحه په مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّٰهِ کې نه ده شامله، په دیکښې د غیر الله تقرب مقصد نه وي، یوازې د رواج پابندي وي، بیا په خاصه توګه هغه وخت چې خصم خفه وي او د هغه خوشحالي مقصد وي.﴿۱﴾ وهوالموفق

د مقتول د اولیاؤ د خوشحالولو لپاره ذبح کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې **الف** او **ب** دوه ډلې دي، **الف** ډلې د **ب** ډلې څخه سړی مړ کړ، **الف** ډلې **ب** ډلې ته درې ګډې ولیږلې، د سولې لپاره داسې رواج دی چې لومړی ګډه به د مقتول سړي په قبر ذبحه کوي، دویمه به د مقتول د وارثانو د کور په دروازې ذبحه کوي او دریېمه به په چوك کې

﴿۱﴾ فی الکاملیة: فالذبح عند وضع الجدار او عروض مرض أو شفاء منه لا شك فی حلّه لأن القصد منه التصدق، حموی.

(فتاوی کاملیة ۲۳۹، کتاب الذبائح، مطلب فیما یذبح عند وضع الجدار أو شفاء مریض)

قال العلامة اللکنوی رحمه الله تعالی: مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّٰهِ نه هغه څاروی مراد دی چې د الله تعالی پرته د بل چا خوشحالي پکښې مقصد وي، دوینې تویولو نه هم د الله تعالی پرته د بل چالوبي مقصد وي، که په داسې څاروي بسم الله وویل شي بیا هم حرام دی. (مجموعة الفتاوی ۲: ۲۱۱ کتاب الحظروالاباحة)

ذبحه کوي، دا په داسې حال کې چې صبا صادق راختلی وي او کله چې لمر بنه ګرم شي؛ نو خلك ګوري چې ګډې تياري ذبحه شوي پرتې وي، ايا دا ګډې حلالې دي او که حرامي؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد عمر خان ضلع وتحصيل بنو ...... ۱۴۰۱ هـ / ربيع الأول / ۲۹/

جواب: دا ګډې په مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّٰهِ کې نه دي شاملي، په ديکښې د غير الله تقرب مقصد نه وي، يوازې د رواج پابندي وي، ددې له امله دا ګډې حلالي دي. لعدمِ العلةِ المحرمةِ﴿۱﴾ وهو الموفق .

د دربيم ګړو مظلوم ته د ورکړي غوښي حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زموږ په ځای کې داسې رواج وي چې کله دوه کسان په خپل منځ کې جنګ وکړي؛ نو دربيم ګړي وتاکل شي، بيا هغه د ضارب (وهونکي) څخه يو ګډ او څه روپۍ واخلي مضروب (وهل شوي سړي) ته يې ورکړي؛ نو زموږ لپاره ددې ګډې خوراك څه حکم لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: ملك خوشحال حسن، کوهاټ ...... ۱۳۹۵ هـ / شعبان / ۲۵/

جواب: دا په مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّٰهِ کې نه ده شامله، خوراك يې حلال دی، ﴿۲﴾ لأنه لم

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: فالذبح عند وضع الجدار أو عروض مرض أو شفاء منه لا شک فی حلّه لأن القصد منه التصدق حموی. (ردالمحتار ۵: ۲۱۷، كتاب الذبائح)

وقال العلامة اللكنوی رحمه الله تعالى: مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّٰهِ نه هغه څاروی مراد دی چې د الله تعالی پرته د بل چا خوشحالي پکښې مقصد وي، دوينې تويولو نه هم د الله تعالی پرته د بل چالويي مقصد وي، که په داسې څاروي بسم الله وويل شي بيا هم حرام دی. (مجموعة الفتاوی ۲: ۲۱۱ کتاب الحظروالاباحة)

﴿۲﴾ قال العلامة عبد الحی اللكنوی رحمه الله تعالى: مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّٰهِ نه هغه څاروی مراد دی چې د الله تعالی پرته د بل چا خوشحالي پکې مقصد وي، باقي حاشيه په بل مخ

يتقربُ به الى غير الله تعالى كما لَمْ يتقرب به الى الله فيكونُ مثلُ ذبيحة القصابِ،نعم! قصدوا به اتباعَ الرسمِ وهوليسَ بمحرمٍ فافهمْ﴿۱﴾وهوالموفق.

د مظلوم د خوشحالولو لپاره د ګډي حلالول په مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّٰهِ کې نه دي شامل

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زموږ په کلي کې داسې رواج دی کله چې د دوه سړيو په يو شي باندې جنګ شي، يو پکښې ظالم او بل مظلوم وي؛ نو د کلي سپين ږيري خلك په ظالم باندې ګډه لازمه کړي او د مظلوم کور ته يې ننواتي وروړي، په روغه کې دا ګډه بوتلل يو مهم عنصر دی. په ديکښې نه د چا مېلمستيا مقصد وي او نه هم څوك په غوښو مړول، بلکې يوازې په وينې تويولو سره د مظلوم خوشحالي مطلب وي، د قرآن، حديث او حنفي فقهي له مخې ددې ګډ حلالول او غوښې خوړل څه حکم لري؟ او ايا دا په مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّٰهِ کې نه ده شامله؟ بينوا توجروا

المستفتي: صاحبزاده مفتاح الدين، کربوغه شريف ، تحصيل هنګو کوهاټ

(باقي حاشيه)دويني تويولو نه هم د الله تعالى پرته د بل چالوبي مقصد وي، که په داسې څاروي بسم الله وويل شي بيا هم حرام دی. (مجموعة الفتاوى:۲: ۲۱۱كتاب الحظروالاباحة)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: فإنه لاريب أن القصاب يذبح للربح ولو علم انه نجس لايذبح فيلزم هذاالجاهل ان لاياكل ما ذبحه القصاب ......فالذبح عند وضع الجدار أوعروض مرض أو شفاء منه لا شك فى حله لأن القصد منه التصدق، حموى.

(ردالمحتار ۵: ۲۱۷،كتاب الذبائح)

جواب: فقهاء کرامو لیکلي دي: چې د ذبیحې د حلالوالي لپاره یوازې د الله تعالی نوم اخیستل ناکافي دي، څکه چې ددې سره - سره به د ذبح مقصد د وینې په تویولو کې د بل چا تعظیم نه وي، کما یدلُّ علیه حرمة الذبحِ لقدومِ السلطانِ وغیره بخلافِ قصدالتعظیمِ باللحمِ فانه غیرمضر کما فی الضیفِ﴿۱﴾ د غور کولو وروسته معلومیږي چې په دیکښې د غیر الله تعظیم مقصد نه وي، بلکې پـه دیکښـې د رواج پابندي وي او د پښـېمانی اظهـار وي، د حرمت کوم ښکاره څرګندویې نه کوي. ﴿۲﴾

لِیعلمَ أنه لا یحصلُ حلُّ الذبیحة بذکر اسم الله علیها فقط بل لا بدَّ من عدمِ قصد تعظیمِ غیرِ الله تعالی بالذبحِ واراقة الدمِ ولهذا حرموا ما ذبح عندَ قدومِ السلطانِ وغیره ولوْ ذکر اسم الله علیه لأنَّ فیه تعظیم الســلطانِ بالاراقــة بخلافِ الذبحِ لقدومِ الضیفِ لأنه تعظیمٌ باللحمِ وکذا ما یذبحُ القصاب لأنه لمْ یقصد تعظیم غیر الله تعالی بالاراقة وبالجملة أنَّ المحرمَ هو قصد التعظــیمِ بالاراقةِ ولم یوجد فی الصورةِ المسؤلة لأنَّ مطمعَ نظرهمْ رعایــةُ الرســم و اقدامة الندامة وغیره فافهمْ! وهوالموفق

﴿۱﴾ قـال العـلامة ابن نجیم رحمه الله تعالی: رجل ذبح للضیف شاة فذکر اسم الله علیها فقـال یحل أکله ولو ذبح لأجل قدوم الأمیر أو قدوم واحد من العظماء وذکر اسم الله یحرم أکله لأنه ذبحها لأجله تعظیمًا له. (البحر الرائق ۸: ۱۶۸، ۱۶۹، کتاب الذبائح)

﴿۲﴾ قال العلامة الحموی رحمه الله تعالی: وأما الذبح عند وضع الجدار أو عروض مرض أو شفاء من مرض فلا شک فی أن القصد هو التصدق.

(غمزعیون البصائر شرح الأشباه والنظائر ۳: ۲۳۰، کتاب الصید والذبائح)

وقـال العلامة اللکنوی رحمه الله تعالی: مَآ أُهِلَّ بِهٖ لِغَیْرِ اللّٰهِ نه هغه څاروی مـراد دی چې د الله تعـالی پرتـه دبـل چـا خوشحالي پکښـې مقصـد وي، دوینې تویولو نه هم د الله تعالی پرته د بل چالوبي مقصد وي، کـه پـه دا سـې څـاروي بسم الله وویل شي بیا هم حرام دی (مجموعة الفتاوی ۲: ۲۱۱ کتاب الحظروالاباحة)

د سولې، قرض او مرګ په وخت د کورنی د خوشحالولو لپاره ذبح کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي (١) چې د زيد او عمر تر منځ شخړه ده، زيد د عمر سره سوله نه کوي. که عمر یو ګډ واخلي او د زيد کور ته يې ننواتي راوړي بيا يې هلته حلال کړي؛ نو ايا دا مذبوحه به حلاله وي او که مرداره؟

(٢) که د زيد او عمر تر منځ سوله ممکن وي او د ربيم ګړي فيصله کوونکي خلك په زيد او عمر دواړو باندې يو ګډ وټاکي؛ نو بيا د داسې ګډ حلالول څه حکم لري؟

(٣) دغه راز زيد د عمر نه د زرو (١٠٠٠) روپو غوښتنه کوي او عمر انکار کوي، اوس زيد ددې لپاره چې عمر ورته په قرض روپۍ ورکړي؛ نو د هغه د کور مخې ته يې ګډ حلال کړ. ايا د داسې ګډ خوړل روا دي او که ناروا؟

(۴) دغه راز زيد وفات شو او د هغه ملګري عمر د هغه د وارثانو خوشحالولو لپاره يو ګډ د هغوی په کور کې حلال کړ؛ نو ددې ذبيحې څه حکم دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: حميد خان آفريدی، متعلم دار العلوم حقانيه ..... ١٣٩٢ هـ/محرم الحرام/١٥/

جواب: په دې حلالولو کې عزت او مېلمستيا مقصد وي او يا هم صدقه مطلب وي، د همدې امله داسې ذبيحې حلالې دي، فی الكاملية ٢٣٩ : عنِ الردِّ و على هذا فالذبحُ عندَ وضعِ الجدارِ أَوْ عروض مرضٍ أَوْ شفاء منهُ لا شكَّ في حلّه لأنَّ القصدَ منهُ التصدق، حموی﴿١﴾قلتُ : وجهُ الدلالةِ أنَّ الاكرامَ جائزٌ و مشروعٌ و مندوبٌ كالتصدقِ ،وليسَ هذا مماأهلَّ به لغيرِ اللّهِ لأنَّ الذابحَ لايقصد التقرب بالاراقة بلْ يقصد الاكرام باهداء اللحم﴿٢﴾فافهمْ وهوالموفق .

﴿١﴾ (فتاوی كاملية ٢٣٩، كتاب الذبائح، مطلب فيما يذبح عند وضع الجدار)

﴿٢﴾ قال العلامة الحصكفي: ولو ذبح للضيف لايحرم..... پاتې حاشيه په بل مخ باندې

د استسقاء وروسته په هدیره کې حیوان حلالول اوغوښه یې په خلکو تقسیمول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې په ځینو ځایونو کې داسې رواج دی چې کله باران ودرېږي او وچ کالي پیل شي؛ نو خلك د استسقاء د لمانځه لپاره لرې پرتو دشتو ته لاړ شي او هدیرې ته غویان او ګډې بوځي او هلته یې حلالوي بیا یې په خلکو تقسیموي، دا کار په شریعت کې څه حکم لري او ددې غوښې خوړل څنګه دي؟ **بینوا توجروا**

المستفتي: محمد ابراهیم تیراوي، متعلم دار العلوم حقانیه ..... ۱۹۸۹م / ۹/ ۱/

جواب: هر کله چې دا ذبیحه ما أهلَّ به لغیر الله نه ده؛ نو نه ممنوع ده او نه هم مطلوب، خو دا چې خلك وربانډې ګمراه کیږي او دا یې ذهن ته راځي چې دا د اسلام رکن دی؛ نو مکروه ده. ﴿۱﴾ وهو الموفق.

د ولي په نوم نذر شوی حیوان د ذبح وروسته هم حرام دی

سوال: وماحکمَ الشریعةُ المحمدیةُ فی البقرة المنذورةِ قبلَ الذبحِ بسنة أوْشهرٍ أوْ

(بقیه حاشیه) لأنه سنة الخلیل وإکرام الضیف إکرام الله تعالی. (درمختار)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: ومن ظنّ أنه لایحل لأنه ذبح لإکرام ابن آدم فیکون أهل به لغیر الله فقد خالف القرآن والحدیث والعقل فإنه لاریب أن القصاب یذبح للربح ولو علم أنه نجس لا یذبح فیلزم هذا الجاهل أن لا یاکل ما ذبحه القصاب.

(ردالمحتار ۵: ۲۱۷، کتاب الذبائح)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: سجدة الشکر مستحبة، به یفتٰی لکنها تکره بعد الصلوٰة لأن الجهلة یعتقدونها سنة أو واجبة وکل مباح یؤدی إلیه فمکروه.

(الدرالمختار ۱: ۵۷۷، قبیل باب صلاة المسافر)

(هکذا فی الفتاوی الهندیة ۱: ۱۳۶، قبیل الباب الرابع عشر فی صلاة المریض)

يومٍ أوْ ساعةٍ للولى كما هو الرسمُ فى زماننا و ذكر عليها اسم اللّـه تعالى وحده فى وقتِ ذبحها أيحل أكلها لفقراء الأنامِ أمْ جعلتْ كالخنزيرِ بنذر الناذرِ بلْ هى أشدُّ منهُ جرماً ؟ بينوا توجروا

المستفتي: حکیم عبد اللہ شاہ صاحب، سکنہ سیف اللہ ډاکخانہ تنگی، چارسده

جواب: هذه البقرةُ حرامٌ كلحمِ الخنزيرِ لأنها مما أهلَّ به لغيرِ اللّه وهوَ حرامٌ بنصِّ القرآنِ ﴿۱﴾ وهوالموفق .

د غیر الله د تعظیم لپاره د مذبوحه حیوان د غوښې حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي ما چې ستاسو نه کومه استفتاء غوښتې وه هغه مورِ ته راورسېده، تر کوم ځایه چې موږ علم لرو هغه دا چې ذبح په څلور قسمه ده:

(۱) یو دا چې د ذبح څخه مراد او مقصد غوښه وي، برابره خبره ده چې د مېلمستیا لپاره وي او که د غیر مېلمستیا، د بېلګې په توګه: لکه قصاب چې یوازې د خرڅولو لپاره حیوان حلال کړي.

(۲) دویم قسم هغه ذبحه ده چې د شکر په ډول وشي، لکه د عقیقې حیوان، دداسې حیواناتو د غوښې په پاکوالي کې هیڅ شك نشته.

(۳) دریېم قسم هغه غوښه ده چې د هغه د وینو په تویولو کې د غیر الله تعظیم او عزت مقصد نه وي، په دې درېیم قسم کې نذر لله، صدقه لله، ذبح الأضحی او داسې نوري شاملي دي، دا ټول قسمه حیوانات حلال او پاك دي.

﴿۱﴾ قال الله تعالى: حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ. (سورة المائدة، آيت ۳)

وفى الهندية: وفى المشكل ذبح عند مراى الضيف تعظيمًا له لا يحل أكلها وكذا عند قدوم الأمير أو غيره تعظيمًا.

(فتاوى هندية ۵: ۲۸۷، كتاب الذبائح، الباب الأول فى ركنه وشرائطه الخ)

(۴) لیکل شوي دي چې د ما أهلَّ به لغیر الله نه مراد هغه حیوان دی چې د غیر الله د تقرب لپاره ذبح شي او د وینو تویولو مقصد هم د غیر الله خوشحالي وي، داسې حیوان به حرام وي، اګر که د ذبحي پرمهال یې د الله تعالی نوم ورباندې اخیستی وي او په حدیث کې هم د ما أهله به لغیر الله الفاظ په دې اړه راغلي دي، لکه د حضرت علي (رضی الله عنه) څخه په یو روایت کې راغلي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: لعنَ منْ ذبحَ لغیر الله تعالی، (مسلم ۲ ټوک ۱۶۰ مخ، نسائی ۲ ټوک ۱۸۶ مخ او مستدرك للحاکم ۴ ټوک ۱۵۰ مخ)

شرعا هم داسې سوله کول نشه نه دي چې حرام حلالو ته مائل شي او حرام حلالو ته مائل شي. لکه د تفسیر الاتقان د عبارت څخه چې معلومیږي: (والصلحُ خیرٌ) لاندې لیکي: (بلْ لا یجوزُ القولُ لعمومِ الآیة، و انَّ کلَّ صلحٍ خیرٌ لأنَّ ما أهلَّ حراماً أوْ حرَّمَ حلالاً فهو ممنوعٌ، اتقان ج: ۱: ص: ۱۹۳) زموږ د علم سره سم دا ذبح ناروا ده. که ستاسو په نزد مشتبه شی وي؛ نو بیا هم د اصولو قاعده ده کله چې یو شی د حل او حرمت ترمنځ دایر شي؛ نو ترجیح به یې حرمت ته ورکول کیږي. څکه خو په حدیث کې هم داسې راغلي دي. دعْ ما یریبك الی ما لا یریبك، محترمه تاسو دا او سني رسمونه هم د جواز لپاره علت وګرځولو. د جاهلي رسمونو سره د دین څه تعلق دی؟ په دې اړه به زه یو اشتهار هم چاپوم، که ستاسو سره قطعي او یقیني دلایل وي هغه راته ولیکه؛

زه خو وایم چې دا څلورم نمبر ذبحه چې د غیر الله تقرب او تعظیم پکښې وي حرام ناجائز بلکې شرك دی چې له امله یې د غوښې خوړل هم حرام دي. دا څلور واړه هغه اقسام دي چې په قرآن کې یې د حلت او حرمت په اړه دلایل شته، تاسو دا څلورم قسم د پښېماني اظهار علت وګرځولو او د جواز فتوی مو ورکړه، موږ د همدې هېواد اوسېدونکي یو، موږ ته هم د هر څه په اړه ښه علم شته، په دیکښې هم یو کس په خپله کړې ګناه پښېمانه او د مقابل لوري تعظیم او د ځان تذلیل (سپکاوي) لپاره هغه ته حیوان وړل کیږي او د هغې غوښه خوړل کیږي، د بېلګې په توګه که هغه ته دسلو روپو غوښه د قصاب نه

واخیستل شي او ورکول شي؛ نو دا هغه خپله بې عزتي ګڼي او هغه وریاندې خوښ نه وي؛ خو که هغه ته د دېرشو روپو (۳۰) ګټه د هغه په کور کې ذبحه شي؛ نو بیا وریاندې خوښ وي، ځکه چې هغه په خپل کور کې د ګډې په حلالولو ویاړي او خپل تعظیم یې ګڼي، د (فصلّ لربك) څخه هم دغه مطلب دی چې د وینې تویول عبادت دی، دغه تعظیم په یاده مسئله کې هم دی، ځکه چې فقهاؤ صراحتاً دا عبارت لیکلی او ویلي یې دي: چې د ذبح کوونکي د نیت اول وخت ته اعتبار دی، په اول وخت کې د ذبح کوونکي د خپل ځان تذلیل او د ورکوونکي تعظیم مقصد وي، مفسرینو هم دما أهلّ به لغیر الله څخه تعظیم مراد اخیستی دی، دا خبره مولانا عبد الحی رحمه الله په خپله فتاوی ۲ ټوک ۴۰ مخ کې لیکلې ده. بینوا توجروا

المستفتي: صاحبزاده مفتاح الدین، کربوغه شریف ... ۱۹۷۳ م / جولائی / ۲۱/

جواب: ستاسو درانه حضور ته السلام علیکم: وروسته له سلامه واضحه دي وي چې که ته خالی الذهن یې؛ نو تا ته به معلومه شي چې د حکم دارو مدار په اهلال لغیر الله باندې دی، که په اراقة الدم (د وینې تویولو) کې د غیر الله تقرب مقصد وي؛ نو حرامه به وي که نه نو حلال به وي، فالمحرمُ المصرحُ فی القرآن﴿۱﴾ والحدیث﴿۲﴾والفقه﴿۳﴾ هو الاهلالُ لغیر الله لا عدم الاهلالِ بالله کماأنّ المحرمَ هوالتعمدُ بترك اسم الله تعالی لاعدم التعمد باسم الله و المتحققُ فی الذبیحة

﴿۱﴾ قال الله تعالی: إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ.

(سورة البقرة آیت: ۱۷۳)

﴿۲﴾ فی الصحیح للإمام المسلم: قال رسول الله ﷺ: لعن الله من ذبح لغیر الله.

(الصحیح للإمام المسلم ۲: ۱۲۰، باب تحریم الذبح لغیر الله تعالی)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: ذبح لقدوم الأمیر ونحوه کواحد من العظماء یحرم لأنه أهل به لغیر الله ولو ذکر اسم الله تعالی ولو ذبح للضیف لا یحرم.

(درمختار ۵: ۲۱۷، کتاب الذبائح)

المرسومة هو الثانی دونَ الأولِ والأصلُ هو الاباحةُ والحلُّ فافهمْ و لا تکن من المتشددینَ فقط وهوالموفق .

ماشیني ذبیحه او د بیروني هېوادونو د غوښې خوړلو حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د ماشیني ذبیحې خوړل روا دي او که ناروا؟په دغسې آلاتو باندې ذبحه کول جائز دي او که ناجائز؟ په اسلامي هېوادونو کې هم داسې ذبحې ډېرې کیږي، لکه دبئ، ابو ظبی او د نورو غیر اسلامي هېوادونو څخه هم دلته داسې غوښې راځي، د شرعي دلایلو په رڼا کې موږ ته د مسئلې حل راولېږئ! دا به ستاسو ډېره مهرباني وي. بینوا توجروا

المستفتي: محمد منصور بنو منډی بنو

جواب: حقیقت دا دی چې کومه ذبحه د لبه او حلق ترمنځ وي، هغې ته ذبح اختیاري ویل کیږي، کما فی الدر المختار: و ذکوة الاختیارِ ذبح بین الحلقِ واللبة ﴿۱﴾هکذا فی سائرِ الفتاوی ﴿۲﴾ برابره خبره ده چې اله مخصوصه وي، د ذبح کوونکي په اختیار کې وي او که نه وي. کما فی صورة رفعِ المانع یدلُّ علیه ما فی الهندیة ۵: ۳۲۲ : وانْ کانت (الحمامة) تهتدی الی المنزل فانْ أصاب السهم المذبحَ حلَ وانْ أصابَ موضعاً آخرَ اختلفوا فیه والصحیحُ أنّه لا یحل أکلها روی ذلک عنْ محمدٍ رحمه الله تعالی لأنه اذا کانت تهتدی الی منزله یقدرعلی الذکوة الاختیارية، انتهی ﴿۳﴾ وجهُ الدلالة أنه جعلَ هذا الذبحَ اختیاریاً و انْ

﴿۱﴾ (الدرالمختار ۵:۲۰۶ کتاب الذبائح)

﴿۲﴾فی السراجیة: موضع الذکاة الاختیارية مابین اللبة واللحیین.

(فتاوی سراجية۲۷۹ کتاب الصید والذبائح ، باب الذکاة الاختیارية)

﴿۳﴾ (فتاوی هندیة۵: ۲۹۱ کتاب الذبائح، الباب الثالث فی المتفرقات)

كان أى السهمِ من قبيلِ رفعِ المانعِ معَ كونِ السهمِ بعدَ الرمى قاطعاً بلا اختيار الذابحِ فافهمْ ، ددې وجې ماشيني ذبحه مرداره نه ده خو د بې ځايه تكليف وركولو له امله مكروه ده، ﴿۱﴾ داچې عالمان په دې اره خپل منځ كې سره اختلاف لري او بې دينه حكومتونه ترې خپلې غلطي ګټې اخلي؛ نو موږ هم په دې وجه د حلت فتوى نه وركوو، ﴿۲﴾ پاتې شو غير اسلامي هېوادونه نو د هغو غوښو خوړل حرام دي، ځكه چې د ذبح او د بسم الله ويلو حال نه دى معلوم ﴿۳﴾ وهو الموفق .

د ذبح وروسته د غلا حيوان حلال دى

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې غل حيوان ذبح كړي او د ذبح وروسته بېرته مالك ته په لاس ورشي؛ نو ايا د داسې حيوان غوښه خوړل روا دي او كه ناروا؟ بينوا توجروا

المستفتي: ګل زمان قيوم آباد، كورنګى نمبر ۴ كراچى

جواب: كه سارق مسروقه حيوان په شرعي طريقې سره ذبحه كړي بيابې خوړل روا دي، كمافى شرح

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: وكره كل تعذيب بلا فائدة مثل قطع الرأس والسلخ قبل أن تبرد أى تسكن عن الاضطراب.

(الدرالمختار ۵: ۲۰۸ كتاب الذبائح)

﴿۲﴾ قال العلامة المفتى رشيد أحمد رحمه الله تعالى: دحضرت مولانامفتي محمد شفيع رحمه الله جواب صحيح دى چې په ماشين باندې ذبح كول ناروا ده خو بيحه پاك ده.

(أحسن الفتاوى ۷: ۴۷۳ كتاب الصيد والذبائح، أحسن القضاء فى الذبح بإعانة الكهرباء)

﴿۳﴾ قال العلامة الدكتور وهبة الزحيلى رحمه الله تعالى: تحرم اللحوم المستوردة من البلاد الوثنية كاليابان أوالشيوعية كروسيا والصين أوالتى لاتدين بدين سماوى كالهند.

(الفقه الإسلامى وأدلته ۴: ۲۷۶۰، الباب التاسع الذبائح والصيد، المبحث الأول)

التنویر: سرقَ شاةً فذبحها بتسمية فوجدَ صاحبها هلْ توكلُ ؟ قالَ لا ، قالَ العلامة الشامي : وفيه نظرٌ لأنّ المعتمد خلافه﴿١﴾وهوالموفق.

مسروق حيوان د الله په نامه ذبحه کولو سره سارق نه کافر کيږي

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د مسروق حيوان د ذبح کولو پرمهال که سارق بسم الله الله اکبر ووايي، ايا د شريعت له مخې دا سارق کافر کيږي او که نه؟ په ده باندې ښځه طلاقه ده او که نه يوازې ګناهګار شو؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبد الرزاق ملا کنډ ايجنسی ..... ١٣٨٩ هـ / جمادی الأولى / ٢/

جواب: دا ذبح او تکبير د ذبح لپاره ده، ددې لپاره نه وي چې (نعوذ بالله) حرام ورته حلال شي، ددې له امله ذابح او نکاح ته يې هيڅ خطر نشته، يدلُّ عليهِ جزئيات ذبح المسروقة والمغصوبة﴿٢﴾وفيهِ جزئيةٌ صريحةٌ﴿٣﴾لمْ يحضرنْ محلها الآنَ . فقط وهوالموفق .

﴿١﴾(الدرالمختار مع ردالمحتار ٥: ٣٣٩ کتاب الصيد، قبيل کتاب الرهن)

وقال العلامة الدکتور وهبة الزحيلی رحمه الله تعالى: اجاز جمهور الفقهاء غير الظاهرية ذبيحتهما (الغاصب والسارق) وذبيحة المستكره لأن لهما قصدًا صحيحًا ولأنه ليس وجود الملك شرطًا من شروط الذكية.

(الفقه الإسلامی وادلته ٣: ٢٧٦٣، الباب التاسع الذبائح والصيد، المبحث الأول)

﴿٢﴾فی الهندية: فی المنتقى لو غصب اضحية غيره وذبحها عن نفسه وضمن القيمة لصاحبها اجزاه ماصنع لأنه ملكها بسابق الغصب كذا فی الخلاصة.

(فتاوی هندية ٥: ٣٠٢ کتاب الأضحية، الباب السابع)

﴿٣﴾قال العلامة الحصكفی رحمه الله تعالى: سرق شاة فذبحها بتسمية فوجد صاحبها هل تؤكل؟ الأصح لا، لكفره بتسميته على الحرام...... پاتې حاشيه په بل مخ باندې

د ماشيني ذبيحې حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې ماشيني ذبيحه څه حکم لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: حافظ ابراهيم کيمل پور ۱۹۷۶م/۳/۲۴/

جواب: احتياط دا دی چې ماشيني ذبيحه ونه خوړل شي، ځکه چې ددې د حل او حرمت په اړه د عالمانو اختلاف دی، ﴿۱﴾ دويمه دا چې ددې حلالونکي غالبه دا ده چې متروك التسميه عامداً دي ﴿۲﴾ او پاتي شوه دا چې د بهرنيو هېوادونو نه چې کومې غوښې راوړل کيږي د هغې نه خو دې خامخا خلك ځانونه ساتي، ﴿۳﴾ ځکه چې

(بقيه حاشيه) القطعي بلا تملك ولا إذن شرعي. (الدر المختار)

قال العلامة الطحطاوی رحمه الله تعالیٰ: (قوله لكفره الخ) المعتمد أنه لايكفر بذلك إلا إذا استحل ولايلزم من تسميته على الحرام اعتقاد الحل ويؤيده قولهم تصح التضحية بشاة الغصب. (الطحطاوی على الدرالمختار ۴: ۲۳۳ كتاب الصيد، قبيل كتاب الرهن)

(ومثله في ردالمحتار ۵: ۲۳۹ كتاب الصيد)

﴿۱﴾ قال العلامة المفتي رشيد أحمد رحمه الله تعالیٰ: الجواب باسم ملهم الصواب: مفتي محمد شفيع رحمه الله جواب صحيح دی چې په ماشين باندې ذبح کول ناروا ده خو ببحه پاك ده.

(أحسن الفتاوی ۷: ۴۲۹، كتاب الصيد والذبائح، أحسن القضاء في الذبح بإعانة الكهرباء)

﴿۲﴾ في الفتاوی السراجية: متروك التسمية عامدًا حرام خلافًا للشافعي رحمه الله تعالیٰ. (الفتاوی السراجية ۳۸۲ كتاب الصيد والذبائح، باب التسمية على الذبيحة)

﴿۳﴾ قال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالیٰ: فالذابح الذي لاتؤكل ذبيحته وتحرم بالاتفاق هو الكافر من غير أهل الكتاب كالمشرك...... وبناء عليه تحرم اللحوم المستوردة من البلاد الوثنية كاليابان أو الشيوعية كروسيا والصين أوالتي لاتدين بدين سماوي كالهند. (الفقه الإسلامي وأدلته ۳: ۲۷۰۰، الباب التاسع الذبائح والصيد، المبحث الأول)

ظاهره دا ده چې ددې ذابح غیر مسلم او تارك التسمیه عامداً دی ﴿۱﴾ وهو الموفق.

د ماشیني ذبیحې جواز او د هغې طریقه کار

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې په امریکا کې د مرغانو فارمونه وي، هلته د ذبحې داسې کار روان وي چې په سوونو او زرګونو مارغان په یوه لین راروان وي او تېرې چړې او چاقوګان ورته زوړند وي، یو مسلمان یې خواته ولاړ وي او تکبیرونه وایي؛ خو دا مسلمان نه شي کولای چې د هرې مرغۍ د سر قلمولو پر وخت تکبیر ووایي؛ نو ددې ذبحي د حلت او حرمت په اړه شرعي حکم څه دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الرحمن فاضل دار العلوم حقانیه حضرو کیمل پور .....

۱۹۸۷م / ۱۱ / ۱۵/

جواب: که دغه ماشین ته مسلمان سړی زور ورکوي اودخپل وس سره سم تکبیر (بسم الله اکبر) وایي؛ نو سره له دې چې مکروه دي؛ خوخوړل یې حلال دي، لأنّ الذبح الاختیاری ما کانَ فی المذبح لا ما یکونُ آلته فی اختیار الذابحِ کما یدلُّ علیه جزئیات الهندیة ۵:۳۱۶،۳۲۲﴿۲﴾،﴿۳﴾ولجواز ذبح الحیوانات المتعددة بالتسمیة الواحدة عند اتحاد

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله وتارک التسمیة عمدًا) ای ولا تحل ذبیحة من تعمد ترک التسمیة مسلمًا کان او کتابیًا لنص القرآن ولانعقاد الإجماع ممن قبل الشافعی علی ذلک. (ردالمحتار ۵: ۲۱۱ کتاب الذبائح)

﴿۲﴾ فی الهندیة: والذبح هو فری الأوداج ومحله مابین اللبة واللحیین.

(فتاوی هندیة ۵: ۲۸۵ کتاب الذبائح، الباب الأول فی رکنه وشرائطه الخ)

﴿۳﴾ فی الهندیة: والحمامة إذا طارت من صاحبها فرماها صاحبها أوغیره قالوا إن کانت لاتهتدی إلی المنزل حل أکلها سواء أصاب السهم المذبح. پاتې حاشیه په بل مخ باندې

الفعلِ كما فى الهندية ۵: ۳۲۰﴿۱﴾ وهوالموفق.

ماشيني ذبحه د بې ضرورته عذاب ورکولو له امله مکروه ده

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې په ځينو ځايونو کې ماشيني ذبح کېږي، ايا داسې ذبح جائز ده او که ناجائز؟ که ناجائزه وي او د غوښې خوراک يې حرام وي؛ نو تاسو مهرباني وکړئ په حوالو سره مسئله نوره هم شايسته کړئ او د دواړو جهانونو ثواب حاصل کړئ. بينوا توجروا

المستفتي: مولوي ضياء الرحمن مدرس دار العلوم منهاج العلوم نرياب ضلع کوهاټ ..... ۱۴۰۲ هـ / ربيع الأول /۲۹/

جواب: واضحه دې چې که د ماشين په ذبح بسم الله وويل شي؛ نو پاک او حلال دی، لوجود الذبحِ الاختيارى فيه وهو قطع الأوداجِ كما فى ذبائحِ شرحِ التنويرِ: ذكوة الاختيارِ ذبح بينَ الحلقِ واللبة ، انتهى﴿۲﴾ قلتُ ولا يلزمُ فيهِ كونُ الآلةِ فى اختيار الذابحِ كما يشيرُ اليهِ ما فى الهندية ۵: ۳۲۲ : الحمامةُ اذا طارتْ من صاحبهافرماها صاحبها أوْغيره قالوا انْ كانتْ لاتهتدى الى المنزل حلّ أكلها سواءٌ

(بقيه حاشيه) أو موضعًا آخر لأنه عجز عن الزكاة الاختيارية وإن كانت تهتدى إلى المنزل فإن أصاب السهم المذبح حلّ، وإن أصاب موضعًا آخر اختلفوا فيه والصحيح أنه لا يحل.

(فتاوى هندية ۵: ۲۹۱ كتاب الذبائح، الباب الثالث فى المتفرقات)

﴿۱﴾ فى الهندية: ولو أضجع إحدى الشاتين على الاخرى تكفى تسمية واحدة إذا ذبحهما بإمرار واحد ولو جمع العصافير فى يده فذ بح وسمّى وذبح آخر على أثره ولم يسمّ لم يحل الثانى ولو أمر السكين على الكل جاز بتسمية واحدة كذا فى خزانة المفتين.

(فتاوى هندية ۵: ۲۸۹ كتاب الذبائح، الباب الأول)

﴿۲﴾ (الدر المختار ۵: ۲۰۶ كتاب الذبائح)

أصابَ السهمُ المذبحَ أوْ موضعاً آخرَ لأنّه عجزَ عنِ الزكاة الاختياريـــة وانْ كانتْ تهتدى الى المنزلِ فانْ أصابَ السهمُ المذبحَ حلّ وانْ أصـــابَ موضـــعاً آخرَ اختلفوا فيهِ والصحيحُ أنه لا يحلُّ ﴿١﴾ فافهمْ.

دغه راز واضحه دي وي چې ساه پکښې وي؛ نو د ويني تويېدل ضروري نه دي، لکه څرنګه چې په فتاوى کې ليکل شوي دي؛ خو دا چې بې ضرورته يو حيوان ته عذاب ورکول کيږي؛ نو خوړل يې مکروه دي، په ديکښې د ډيرې بې احتياطۍ لـه کبلـه عالمانو د عـدم جـواز فتـوى ورکـړې ده چې دا يـو زبردست پرمختنګ ګنم. والله أعلمُ .

د ماشيني ذبحې تفصيلي مسئله

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې پـه اړه څه وايي چې ماشيني ذبحه حلاله ده او که مرداره؟ تفصيلي وضاحت وکړئ! بينوا توجروا

المستفتي: حافظ القارى سعيد الرحمن ۱۹۸۹م/ ۶/ ۲۷/

جواب: بسم الله الرحمن الرحيم ، نحمده ونصلى على رسوله الكريم

﴿۱﴾ (فتاوى هندية ۵: ۲۹۱ كتاب الذبائح، الباب الثالث فى المتفرقات)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: تحل ذبيحة علمت حياتها وان لم تتحرك ولم تخرج منها دم.

(ردالمحتار ۵: ۳۳۶ كتاب الصيد)

﴿۳﴾ فى السراجية: شاة ذبحت وعُلم حياتها وقت الذبح ولم يخرج منها دم حلت...... ويكره أن ينخع الشاة وهو ان يكسر عنقها قبل ان تموت وقيل هو ان يبالغ فى الذبح حتى يبلغ النخاع وهو عرق فى الصلب إلى أصل العنق.

(فتاوى سراجية ۳۸۰ كتاب الصيد والذبائح، باب الزكاة الاختيارية)

أما بعدًا! د فقهي جزئياتو څخه څرگنديږي چې ماشيني ذبح حلاله ده، ځکه چې ذبح کوونکی يې مسلمان او د ذبحي پروخت تکبير ويل کيږي او دا کومه ضروري نه ده چې خامخا د ذبحي د شروع کېدو پرمهال دي وويل شي، بوازي بسم الله الله اکبر ويل هم کافي کيږي، کمافي الهندية۵: ۳۲۰«۱»
د عادت څخه هم معلوميږي چې عوام د ذبح پروخت بسم الله، اللــه اکــبر وايي، نه خاص د ذبحي د شروع کېدو پرمهال، والمانعُ هوَ الثانى دونَ الأولِ كما فى الصفحة المذكورةِ ســابقاً«۲» دغه راز دا ماشيني چاړه پې درپې چليږي دريږي هم نه، والمانعُ هوَ الثانى دونَ الأولِ كما فى الهندية ۵: ۳۲۰
ولو اضجعَ احدى الشاتينِ على الأخرى تكفى تسمية واحــدة اذا ذبحهمـا بامرارٍ واحدٍ (أى بلا وقفة) ولوْ جمعَ العصافيرَ فى يده فذبحَ وسمــى و ذبــحَ آخرَ على أثره ولمْ يسم لمْ يحل الثانى ولوْ أمرَ السكين على الكلِّ جازَ بتسميةٍ واحدة كذا فى خزانة المفتيينَ «۳» وهوالموفق .
يادونه: د ذبح په وخت د حد نه زيات تجاوز کول د تکليف له امله مکروه عمل دی «۴» والله أعلمُ .

«۲،۱» فى الهـنـدية: أما شـرائط الـذكـاة فأنواع منها أن يكون مسلمًا أوكتابيًا...... ومنها التسمية حالة الذكاة عندنا...... ومنها أن يريد بها التسمية على الذبيحة فإن أراد بها التسمية لافتتاح العمل لا يحل...... وأما وقت التسمية فوقتها على الذكاة الاختيارية وقت الذبح لايجوز تقديمها عليه إلّا بزمان قليل لايمكن التحرز عنه.
(فتاوى هندية ۵: ۲۸۶ كتاب الذبائح، الباب الأول)
«۳»(فتاوى هندية۵: ۲۸۹، كتاب الذبائح، الباب الأوّل)
«۴» قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالىٰ: وكره كل تعذيب بلافائدة مثل قطع الرأس والسلخ قبل أن تبرد.
(الدرالمختار ۵: ۲۰۸ كتاب الذبائح)

د ذبح پروخت نه بلکې په ماشين باندې د بسم الله ليکل ناکافي دي

سوال: د دين عالمان او مفتيان د دې مسئلې په اړه څه وايي چې د بهر هېوادونو څخه په بندو ډبو کې ماشيني غوښې راځي، په دېکښې غير مسلم هېوادونه هم شامل دي، يوازې په ماشينونو يې بسم الله اکبر ليکلي وي، ايا دا ليکل د حلالوالي لپاره کافي دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبد الله ابو ظبى ..... ۱۹۷۶ م / ۳ / ۱۹ /

جواب: واضحه دي وي د مسلمانو هېوادونه چې کومه غوښه راځي د هغې خوړل روا دي﴿۱﴾ او کومه چې د کافرو هېوادونو نه دلته راځي د هغې د خوړلو نه دي ځان وساتل شي، ځکه چې په ظاهره کې دوى متروك التسميه دي، يوازې ليکل يې ناکافي دي،﴿۲﴾ دغه راز په ماشين سره ذبح شوى حيوان هم

﴿۱﴾ في إعلاء السنن: عن عائشة أنهم قالوا يا رسول الله ﷺ! إن قومًا حديثو عهد لجاهلية يأتون بلحمان لاندرى أذكروا اسم الله عليه أم لم يذكروا أنأكل منها؟ فقال رسول الله ﷺ: سمّوا الله وكلوا.

أقول: في الحديث دليل على أنه إن كان الآتي بمثل هذا اللحم هو المسلم يجوز أكله لحسن الظن بالمسلم وحمل فعله على الوجه الصحيح.

(إعلاء السنن ۱۷: ۷۷ كتاب الذبائح، باب اللحم لايدرى أذكراسم الله عليه أم لا)

﴿۲﴾ في ردالمحتار: فالأولى أن يقال إن كان الموضع ممّا يسكنه أو يسلك فيه مجوسى لا يؤكل وإلّا أكل. (ردالمحتار ۵: ۳۳۹ كتاب الصيد)

• وقال الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالى: تحرم اللحوم المستوردة من البلاد الوثنية كاليابان أو الشيوعية كروسيا والصين أو التى لا تدين بدين سماوى كالهند...... جمهور الفقهاء غير الشافعية تشترط التسمية عند التذكية وعند الإرسال في العقر فلا تحل الذبيحة سواء كانت أضحية أم غيرها في حال ترك التسمية عمدًا وكانت ميتة.

(الفقه الإسلامي وأدلته ۴: ۲۷۶۰، الباب التاسع الذبائح والصيد، المبحث الأول)

مختلف فيه ده.﴿١﴾ وهو الموفق .

د مور په ذبح سره د بچي د حلت او حرمت مسئله

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د يو ذبح شوي حيوان په خېټه (نس) کې بچی، ؤ؛ نو ددې د ذبحې طريقه څه ده؟ دغه راز د داسې ذبح شوي حيوان غوښه خوړل روا دي او که ناروا؟

﴿١﴾قال العلامة المفتي رشيد أحمد رحمه الله تعالى: دمفتي شفيع صاحب جواب:

لاندې شرطونو سره به غوښه پاکه وي، که په دغو کې يو شرط هم ونه موندل شو بيا ناپاکه ده

(١) په ماشين ذبح کونکی به مسلمان، يهودي يا نصراني وي.

(٢) د چارې د چلولو پر مهال به يې يوازې د الله نوم (بسم الله الله اکبر) اخيستلی وي.

(٣) په څو مره څارويو چې په يو ځل چاړه تېره شوې وي، هر څاروی به ځان ته وي، هغه څاروی، چې مردار شوی وي هغه سره به يې غوښه شريکه شوې نه وي، خو دا چې ټول مسلمانان ددې شرطونو نه په اسانه نشي خبرېدلای. نو ځکه ددې څارويو دغوښونه ځان ساتل غوره دي. والله سبحانه وتعالى اعلم

بنده محمد شفيع عفي الله عنه دار العلوم کراچي

دمفتي محمد قاسم العلوم ملتان والا جواب:

زه پوهيږم چې توکمه (بټن) وهونکی به مسلمان وي او د توکمې پر مهال به (بسم الله الله اکبر) هم وايي، خو بيا هم دغه رواجي ذبيحه پاکه نه ده بلکې مرداره ده.

الجواب باسم ملهم الصواب: دحضرت مولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله جواب صحيح دی چې په ماشين باندې ذبح صحيح نه ده خو ذبيحه يې حلاله ده. فقد والله تعالى اعلم

رشيد احمد

(احسن الفتاوى ٧: ٤٦٩، ٤٧٣ كتاب الصيد والذبائح، احسن القضاء في الذبح بإعانة الكهرباء)

مهرباني وکړئ په تفصیلي فتوی مو ونازوئ! بینوا توجروا

المستفتي: ضیاء الحق FPU ۱۵ ..... ۱۴۰۳ هـ / شعبان / ۱۸/

جواب: دې حدیث ته ذكوة الجنينِ ذكوة امه (رواهُ الترمذی)﴿۱﴾ په کتو سره که د مؤر د حلالولو وروسته یې بچی ژوندی راووت؛ نو هغه به هم ذبح کیږي، که بچی یې ژوندی نه ؤ بیا به مردار وي. وليس المرادُ منَ الحديثِ التداخلُ والا يقال ذكوة الأمِّ ذكوة الجنينِ﴿۲﴾ كما فى قراءة الامامِ قرأة المقتدى و كما فى سترة الامام سترة القومِ . وهوالموفق .

د مسلمانانو اړباره په غیر اسلامي هیوادونو کې د غوښي خوړلو مسئله

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زید داسې هیواد ته تللی چې هلته مسلمانان نشته، د اسلام هیڅ نښه نه موندل کیږي، ایا زید ددې هیواد مذبوح حیوان خوړلای شي؟ په داسې حال کې چې هلته د غوښي نه پرته بل هیڅ خوراك هم نه وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ..... ۱۹۷۵ م / اپریل / ۲۶/

﴿۱﴾ (سنن الترمذی ۱: ۱۷۸، ابواب الصيد عن رسول الله ﷺ)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالىٰ: وقالا إن تم خلقه أكل لقوله عليه الصلوٰة والسلام ذكاة الجنين ذكاة امه، وحمله الإمام على التشبيه اى كذكاة امه، بدليل انه روى بالنصب. (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: أن الجنين وهو الولد فى البطن إن ذكى على حدة حل وإلا لا، ولا يتبع امه فى تذكيتها لو خرج ميتاً...... (قوله بدليل انه روى بالنصب) وعليه فلا إشكال انه تشبيه، وان كان مرفوعا فكذلك لانه اقوى فى التشبيه من الأول كما عرف فى علم البيان، قيل ومما يدل على ذلك تقديم ذكاة الجنين.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۵: ۲۱۳، كتاب الذبائح)

جواب: دا سړی مضطر (مجبور محض) نه دی، دده لپاره ددې غوښې خوړل حرام دي، ﴿۱﴾ مرغی، دوډی، دال، سبزی موندونکی به څنګه مضطروي؟ ﴿۲﴾ وهو الموفق.

د چین نه راوړل شوي غوښې حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اره څه وايي چې د چين نه د مهاجرو لپاره غوښه راوړل کيږي، ايا ددې خوړل حرام دي او که حلال؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي عطاء الله مهاجر افغانستان ..... ۱۴۰۲ هـ / صفر المظفر / ۲۸/

جواب: که د سفير په ذريعه دا خبر معلوم چې دا پاکه غوښه ده او مسلمانانو حلاله کړې ده، بيا يې خوړل روا دي او په نورو صورتونو کې يې خوړل ناروا دي ﴿۳﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالى: ولا تحل اللحوم المستوردة من البلاد الوثنية أواللادينية كاليابان والهند والدول الشيوعية...... وأما الطالب الذى يدرس فى البلاد الشيوعية فيجب عليه الامتناع من تناول الطعام المشتمل على اللحوم ويكتفى بأكل أغذية النباتات والخضار...... ولا يحل بحال أكل تلك اللحوم الممنوعة وبخاصة الخنزير فى أى بلد حتى مع ادعاء وجود الضرورة، لأن معنى الضرورة لايتوفر حينئذ، إذ يمكن الحفاظ على النفس من الهلاك بتناول أطعمة غيرممنوعة شرعًا.

(الفقه الإسلامى وأدلته۳: ۲۸۰۱ قبيل الفصل الثانى الصيد)

﴿۲﴾ وفى تفسير القرطبى: فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ: قال قتادة والحسن والربيع وابن زيد وعكرمة غيرباغ فى أكله فوق حاجته ولاعاد بأن يجد عن هذه المحرمات مندوحة ويأكلها...... فأباح الله فى حالة الاضطرار أكل جميع المحرمات لعجزه عن جميع المباحات كمابينّا، فصار عدم المباح شرطًا فى استباحة المحرم.

(الجامع لأحكام القرآن۲: ۲۲۸ سورة البقرة، آيت ۱۷۳)

﴿۳﴾ قال العلامة الحموى: اعلم أن الشک على ثلاثة اضرب پاتي حاشيه په بل مخ

د بهرنيو هېوادونو ښځه په بندو ډبيانو کې د چرګانو او ګډو د غوښو حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې دلته ذبحه شوي مارغان خرڅيږي، په خوند او رنګ کې يې هيڅ فرق نه وي، دغه راز د ګډو او وزو غوښې د ململو او بخملو په ټوټو کې بندي رواړل کيږي، په پلاستکو او واورو باندې پوښل شوي وي، ايا ددې خوړل حلال دي او که حرام؟ بينوا توجروا

المستفتي: فضل اكبر متعلم دار العلوم حقانيه پبو نوښار ..... ۱۴۰۱ هـ/ ۷/ ۹/

جواب: د سفارت خانو ښځه د معلومات کولو وروسته چې دا پاکه غوښه ده او مسلمانانو حلاله کړې ده؛ نو بيا يې خوړل روا دي او که نه وي؛ نو په نورو صورتونو کې يې خوړل ناروا دي ﴿۱﴾ وهو الموفق .

(بقيه حاشيه) شك طرأ على أصل حرام...... مثل أن يجد شاة مذبوحة في بلد فيها مسلمون ومجوس فلاتحل حتى يعلم أنها ذكاة مسلم لأنها أصلها حرام وشككناه في الذكاة الذبيحة. (شرح الأشباه والنظائر للحموي ۱: ۱۹۳، القاعدة الثالثة، اليقين لايزول بالشك)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويقبل قول كافر ولو مجوسياً اشتريت اللحم من كتابي فيحل أو قال اشتريته من مجوسي فيحرم ولايرده بقول الواحد، وأصله أن خبرالكافر مقبول بالإجماع في المعاملات .(درمختار)

وقال العلامة ابن عابدين: (قوله اشتريته من مجوسي فيحرم) ظاهره أن الحرمة تثبت بمجرد ذلك وإن لم يقل ذبيحة مجوسي، وعبارة الجامع الصغير وإن كان غير ذلك لم يسعه أن يأكل منه، قال في الهداية: معناه إذا قال كان ذبيحة غير الكتابي والمسلم اه، تأمل، وفي التاترخانية قبيل الأضحية عن جامع الجوامع لأبي يوسف من اشترى لحما فعلم أنه مجوسي وأراد الرد فقال ذبحه مسلم يكره أكله آه، ومفاده أن مجرد كون البائع مجوسيا يثبت الحرمة، فإن بعد إخباره بالحل بقوله ذبحه مسلم كره أكله فكيف بدونه تأمل. (ردالمحتار ۵: ۲۴۲، ۲۴۳ كتاب الحظر والإباحة)

﴿۱﴾ قال العلامة الحموي: اعلم أن الشك على ثلاثة أضرب پاتې حاشيه په بل مخ

په شرعي طريقه ذبحه شوي حيوان غوښه په ډبو کې

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د بهرنيو هېوادونو څخه په بندو ډبيانو کې ځينې شيان راځي، په هغوی کې د چرګانو غوښې هم وي او په ډبي باندې يې ليکلي وي چې په شرعي طريقه باندې ذبح شوي دي، ددې څه حکم دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: عاصي اختر گل..... ۱۹۷۵م/ ۱۱/ ۲۱/

جواب: تاسو په کومه واسطه دا معلومه کړئ چې ذبح کوونکي يې مسلمانان دي او که کافران؟ که کافران وي؛ نو اهل کتاب دي او که غير اهل کتاب؟ که ذبحه کوونکي مسلمانان يا اهل كتاب وي ، هغه اهل کتاب چې

(بقيه حاشيه) شک طرأ على أصل حرام...... مثل أن يجد شاة مذبوحة في بلد فيها مسلمون ومجوس فلا تحل حتى يعلم أنها ذكاة مسلم لأنها أصلها حرام وشككناه في الذكاة المبيحة. (شرح الأشباه والنظائر للحموى ۱: ۱۹۳، القاعدة الثالثة: اليقين لايزول بالشک)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ: ويقبل قول كافر ولو مجوسيًا اشتريت اللحم من كتابى فيحل أوقال اشتريته من مجوسى فيحرم ولا يرده بقول الواحد وأصله أن خبر الكافر مقبول بالإجماع في المعاملات. (درمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: (قوله اشتريته من مجوسى فيحرم) ظاهره أن الحرمة تثبت بمجرد ذلک وإن لم يقل ذبيحة مجوسى، وعبارة الجامع الصغير وإن كان غير ذلک لم يسعه أن يأكل منه، قال في الهداية: معناه إذا قال كان ذبيحة غير الكتابى والمسلم اه تأمل، وفي التاتارخانية قبيل الأضحية عن جامع الجوامع لأبي يوسف من اشترى لحمًا فعلم أنه مجوسى وأراد الرد فقال ذبحه مسلم يكره أكله، اه، ومفاده أن مجرد كون البائع مجوسيًا يثبت الحرمة، فإن بعد إخباره بالحل بقوله ذبحه مسلم كره أكله فكيف بدونه تأمل. (ردالمحتار ۵: ۲۲۲، ۲۲۳، كتاب الحظر والإباحة)

دهریان نه وي، خدای، نبوت، قیامت، د جنت او دوزخ نه انکار نه کوي؛ نو د دوی دلاسو نو ذبیحه خوړل روا ده، ﴿۱﴾ که نه نو پرهیز دي وکړي ﴿۲﴾ وهوالموفق.

د کافرو هېوادونو نه راوړل شوې غوښه بې تحقیقه خوړل منع دي

سوال: د دین عالمان او مفتیان د دې مسئلې په اړه څه وایي چې (۱) سعودي ته د خارج هېوادو لکه: فرانس، برازیل، استریلیا او بلجیم نه غوښه او چرګان راځي، د هغو خوړل زموږ لپاره څه حکم لري؟

(۲) دلته د چرګانو دکانونه هم شته په هغې کې ژوندي چرګان دي، ذبحه کوونکي يې مسلمان وي؛ خو د ذبحې طریقه يې داسې ده چې د چرګي دواړه پښې او وزري وتړي او پورته يې کړي سر يې ښکته کړي، بیا پرې تېره چاړه راکاږي، په دې اړه شرعي مسئله څه ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد نعمان جده سعودیه عربیه ..... ۱۹۸۵ م / ۸ / ۶

جواب: ترکومه چې خبره بنه یقیني شوې نه وي، د کفریه هېوادونو نه راوړل شوې غوښه بې تحقیقه خوړل منع دي، ځکه دا نه وي معلومه چې د دې حلالوونکی مسلمان دی او که کافر او نه هم

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: وحل ذبيحة مسلم وكتابي لا مجوسي ووثني ومرتد ومحرم وتارك التسمية عمدًا يعني لا تحل ذبيحة هؤلاء.

(البحر الرائق ۸:۱٦۸ كتاب الذبائح)

﴿۲﴾ قال العلامة ظفر احمد العثماني رحمه الله تعالى: داخبره دهغه چا په حق کې دي چې ربنتیا هم عیسائي یا یهودي وي، که څوک په نوم عیسائي یا یهودي وي او په عقائدو کې ملحد وي لکه څرنګه چې دنن سبا ډېر انګریزان دغسې دي، دوی زموږ له خبرو وتلي دي، نه ددوی د لاس ذبیحه حلاله ده او نه هم ددوی له ښځو سره نکاح کول روا دي

دا معلومات شته چې دا ذبحه په اسلامي طریقه شوې او که په غیر اسلامي طریقه؟﴿۱﴾ د مسلمانانو ذبحه که په هره طریقه شوې وي حرمت پکښې نشته، ﴿۲﴾ خو کله - کله مکروه کیږي، والله أعلمُ بالصواب.

د کفري او غیر کفري عقیدې لرونکو شیعه ګانو د ذبیحې حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زه په ژوند کې زیات وخت د خپل کور نه بهر تجارت کوم، زه چې په کوم ځای کې یم هلته شیعه ګان ډېر زیات دي، ذبحه همدا خلك کوي، ځینې وخت داسې هم راشي چې هغوی راته د ډوډۍ دعوت وکړي؛ نو ایا د هغوی د لاس ذبیحه پاکه ده؟ جواب راته په تفصیلي ولیکئ! د همېش لپاره به درته دعاګانې کوم. بینوا توجروا

المستفتي: محمد حسین تمبر مرچنټ معرفت مجید بنګش یونین ګډز لاری اډه کوهاټ ..... ۱۳۸۹ هـ / صفر / ۲۳/

جواب: که دا ذبیحه د هغو شیعه ګانو وي چې کافران دي، لکه حضرت علي رضی الله تعالی عنه معبود وایي، هغه پېغمبر ګڼي، یا د حضرت عایشې رضی الله عنها افك واقعه رښتیا

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وذكاة الاختيار ذبح بين الحلق واللبة وعروقه الحلقوم والمرئ والودجان وشرط كون الذابح مسلمًا حلالًا خارج الحرم أو كتابيًا ولا تحل ذبيحة غير كتابي من وثنى ومجوسي ومرتد وتارك التسمية عمدًا.

(الدرالمختار مختصراً ٦:٥١ ٢٠ كتاب الذبائح)

﴿۲﴾ قال العلامة ظفر أحمد العثماني رحمه الله تعالى: عن عائشة أنهم قالوا: يا رسول الله، إن قومًا حديثو عهد بجاهلية يأتون بلحمان لاندرى أذكروا اسم الله عليه أم لم يذكروا، أنأكل منها؟ فقال رسول الله ﷺ: سموا الله وكلوا، أقول: في الحديث دليل على أنه إن كان الآتي بمثل هذا اللحم هو المسلم يجوز أكله لحسن الظن بالمسلم وحمل فعله على الوجه الصحيح.

(إعلاء السنن ١٧: ٧٧ كتاب الذبائح، باب اللحم لايدرى أذكر اسم الله عليه أم لا)

كښي؛ ﴿۱﴾ نو د كفر له امله د دوى د لاس ذبيحه مرداره ده، ﴿۲﴾ كه دا خلك صحابه كرامو او ازواج مطهراتو ته كنځلې كوي؛ نو د زياترو محققينو په نزد كافران نه دي، صرحَ به فى تمهيد السلمى وسائرةابنِ الهمام وفتحِ القديرِ﴿۳﴾ وشرحِ الفقه الأكبرِ لعلى القارى﴿۴﴾و بحر العلوم شرح المسلم وغـيره ، د دوى د لاس ذبيحه به پاكه وي، په شرط ددې چې كومه ښكاره مرداري د دوى په ذبيحه كې نه وي. فقط وهوالموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: وبهذا ظهر أن الرافضى إن كان ممن يعتقد الألوهية فى علىّ أو أن جبرائيل غلط فى الوحى أوكان ينكر صحبة الصديق أويقذف السيدة الصديقة فهو كافر لمخالفته القواطع المعلومة من الدين بالضرورة.

(ردالمحتار ۲: ۳۱۴ كتاب النكاح، فصل فى المحرمات)

﴿۲﴾فى البحر الرائق: لا مجوسى ووثنى ومرتد ومحرم وتارك التسمية عمدًا يعنى لا تحل ذبيحة هؤلاء. (البحر الرائق ۸: ۱۲۸ كتاب الذبائح)

﴿۳﴾قال العلامة ابن الهمام رحمه الله تعالىٰ: والثالث قوم لهم منعة وحمية خرجوا علينا بتاويل يرون انه على باطل كفر أومعصية يوجب قتاله بتاويلهم وهؤلاء يسمّون بالخوارج يستحلون دماء المسلمين وأموالهم ويسبون نسائهم ويكفرون أصحاب رسول اللهﷺ وحكمهم عند جمهور الفقهاء وجمهور أهل الحديث حكم البغاة...... وذهب بعض أهل الحديث إلى أنهم مرتدون لهم حكم المرتدين...... قال ابن المنذر ولا أعلم أحدًا وافق أهل الحديث على تكفيرهم...... وابن المنذر أعرف بنقل مذاهب المجتهدين.

(فتح القدير ۵: ۳۳۴ باب البغاة)

﴿۴﴾قال العلامة على القارى رحمه الله تعالىٰ: والجمع بين قولهم لا يكفر أحد من أهل القبلة وقولهم من قال بخلق القرآن أواستحالة الرؤية أوسبّ الشيخين اولعنهما وأمثال ذلك مشكل كما قال شارح العقائد وكذا شارح المواقف إن جمهور المتكلمين والفقهاء على انه لا يكفر أحد من أهل القبلة...... ويدفع الإشكال...... پاتې حاشيه په بل مخ باندې

د مېلمه لپاره د چرګ حلالول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زموږ په ځای کې داسې رواج وي چې کله چاته مېلمه ورشي؛ نو د هغه د مېلمستيا په خاطر ورته چرګ يا بل شی د خپل وس سره سم حلال کړي، يو سړی وايي چې دا ذبيحه قطعاً حرامه ده، ايا دده دا خبره څه حقيقت لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: فضل هادي مردان ..... ۱۹۶۹ م/ ۷/ ۲۲/

جواب: دا سړی په ښکاره غلطۍ باندې دی، ځکه چې ابراهيم عليه السلام د مېلمنو لپاره خوسی حلال کړی ؤ او الله تعالی بې له کوم نکير او رده په قرآنکريم کې د هغه عمل ستاينه وکړه، دا په ما أهلّ به لغير الله کې نه دی شامل، ځکه چې د مېلمه عزت په غوښې سره کول مقصد دی نه د وينې په توبولو سره، ﴿۱﴾ وهوالموفق.

(بقيه حاشيه) بأن نقل كتب الفتاوى مع جهالة قائله وعدم إظهار دلائله ليس بحجة من ناقله إذ مدار الاعتقاد فى المسائل الدينية على الأدلة القطعية...... وقد تصدى الإمام ابن الهمام فى شرح الهداية للجواب عن هذه الحكاية حيث قال: اعلم أن الحكم بكفر من ذكرنا من أهل الأهواء مع ماثبت عن أبى حنيفة رحمه الله تعالى والشافعى رحمه الله تعالى من عدم تكفير أهل القبلة من المبتدعة كلهم محمله أن ذلک المعتقد فى نفسه كفر، فالقائل به قال بما هو كفر وإن لم يكفر.

(شرح الفقه الأكبر ١٥٤ عدم جواز تكفير أهل القبلة)

﴿١﴾قال الله تبارک وتعالى: وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَىٰ قَالُوا سَلَامًا، قَالَ سَلَامٌ فَمَا لَبِثَ أَنْ جَآءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ. (سورة هود آيت: ٦٩)

﴿٢﴾قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: ولوذبح للضيف لايحرم لأنه سنة الخليل، وإكرام الضيف إكرام الله تعالى. (درمختار)

وقال العلامة ابن عابدين: (قوله لايحرم الخ)...... پاتې حاشيه په بل مخ باندې

د حیوان په ژوند او مرګ کې د شاهدانو ترمنځ د اختلاف په صورت کې د غوښې حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې یو سړي غوبې واخیست، په لاره کې ترې راپرېوت، دې سړي غوبې پرېښود او دوه درې میله لرې د اوبو لپاره چېرته لاړ، په لاره باندې تېرېدونکو خلکو دا شاهدي ورکړه چې غوبې مخکې مړ شوی ؤ، مالك ورغی او په ستوني یې ورته چاړه پرېښوده، حال دا چې تکبیر یې هم پرې ونه ویل، یو سړي ورسره د غوښو په پرې کولو کې مرسته وکړه، کله چې هغوی د غوښې خرڅول پیل کړه؛ نو خلکو ورباندې اعتراضونه شروع کړه چې دا خو مرداره ده، نو ورسره شریك سړي به قسمونه خوړل چې د ذبحې پروخت دې حیوان پښه وښوځول، وروسته یو ایمانداره سړي او دوه نورو ښځو شاهدي ورکړه چې دا غوبې په لاره کې مړ پروت ؤ، ددې دواړو لپاره ځان ځانته شاهدی څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد مسکین دکاندار بلند کوټ ۱۹۹۲م/ ۹/ ۱۸/

ځواب: ممکنه ده چې دې درې کسانو غوبې د بې هوشي په حالت کې لیدلی وي، ددې وجې مورډ د حرمت فتوی نه شو ورکولای. فقط وهو الموفق.

د حیوان په حلالوالي او مردار والي کې د شاهدانو تر منځ د اختلاف مسئله

سوال: ددین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې دذبح پرمهال څلور کسان

(بقیه حاشیه) قال البزازي: ومن ظن أنه لایحل لأنه ذبح لاکرام ابن آدم فیکون أهل به لغیر الله تعالی فقد خالف القرآن والحدیث والعقل. (ردالمحتار ۵: ۲۱۷ کتاب الذبائح)

وفي الهندية: وفي المشکل ذبح عند مرأی الضیف تعظیمًا له لایحل أکلها...... فأما إذا ذبح عند غیبة الضیف لأجل الضیافة فإنه لابأس به کذا في الجوهرة النیرة.

(فتاوی هندیة ۵: ۲۸۶ کتاب الذبائح، الباب الأول)


موجود وو، ذبح کوونکي د ذبح وروستنه وویل چې په دیکښې ژوند شکي دی. بس دا وینا یې وکړه او خپل کور ته لاړ، پاتې درې کسانو کې چې دوه یې مالکان او یو پردی ؤ. سهار وختي یې غوښه په خلکو تقسیم کړه، یو سړي او کورنی یې د غوښې د خوړلو نه انکار وکړ، بس دا خبره په خلکو کې مشهوره شوه چې مشکوکه غوا یې دربانډې وخوړل، کله چې ددې ځلورو کسانو نه پوره تحقیق وشو؛ نو د ذبح کوونکي د وینا له مخې چې کله مې چاړه پرې راکاږل؛ نو وینه یې ګرمه وه؛ خو د رګونو نه معلومېده چې ساه پکښې نشته، پاتې درې کسان (دوه مالکان او یو پردی سړی) وایي: چې ذبح کوونکی دروا غ وایي او غویی ژوندی وه، تاسو مهرباني وکړئ او د مسئلې په حل باندې مو پوه کړئ؛ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي محمد سعید ..... ۱۹۷۳م / ۲ / ۲۵/

جواب: تاسو په دې ټولو کې د حلال والا شهادت قبول کړئ؛ لأنّ الشـــهادةَ على النفي غير معتبرةٍ ﴿۱﴾وهو الموفق .

﴿۱﴾ في شرح المجلة: إنما شرعت البينة لإظهار الحق بناءً عليه لاتقبل الشهادة بالنفي الصرف كقولك فلان مافعل هذا الأمر والشيئ الفلاني ليس لفلان وفلان ليس بمديون لفلان. (شرح المجلة للأتاسي ۵: ۲۴۹، المادة: ۱۶۹۹ الفصل الثالث في شروط الشهادة)





كتاب الأضحية

......: قال الله تبارک وتعالیٰ :......

قُلْ اِنَّ صَلَاتِیْ وَنُسُكِیْ وَمَحْيَایَ وَمَمَاتِیْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ. (سورة الأنعام)

فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ. (سورة الكوثر)

كتاب الأضحية

قالَ اللّهُ تبارك وتعالى : ﴿ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴾ (سورة الأنعام) ﴿ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴾ (سورة الكوثر)

قرباني ولې کېږي او حکم يې ولې شوی؟

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې قرباني ولې کېږي او ابراهيم عليه السلام ته يې ولې حکم وشو؟ بينوا توجروا

المستفتي: غلام محمد کيملپور ..... ۱۹۷۲م / ۲ / ۸ /

جواب: قرباني د ابراهيم عليه السلام سنت دی،﴿۱﴾ او موږ ته يې پېغمبر صلی الله عليه وسلم د ادا کولو په اړه حکم کړی دی؛ نو په موږ هم قرباني واجب شوه﴿۲﴾ وهوالموفق .

قرباني ته د مال ضايع کول ويل کفر او زنديقيت دی

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د پاکستان ځينې نوم وړي خلك قرباني ته د مال ضايع کول وايي، ځينې بيا وايي چې قرباني په منی کې د حاجيانو سره خاص ده، مهرباني وکړئ د قرباني مشروعيت راته په ډاګه کړئ؛ بينوا توجروا

المستفتي: نور محمد فيصل آباد ..... ۱۴۰۵ هـ/ صفر / ۲۰/

﴿۱﴾عن زيد ابن أرقم قال قال أصحاب رسول الله ﷺ يا رسول الله! ما هذه الأضاحي؟ قال سنة أبيكم إبراهيم عليه السلام الخ.

(مشكوة المصابيح ۱۲۹، باب الأضحيه، الفصل الثالث)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله فتجب التضحية) والوجوب هو قول أبي حنيفة ومحمد وزفر والحسن وإحدى الروايتين عن أبي يوسف رحمهم الله تعالى.

(ردالمحتار ۵: ۲۲۰ كتاب الأضحية) .

جواب: قرباني په هر مسلمان باندې واجب ده، ﴿۱﴾ دغه راز دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم، راشده خلفاوو او نورو صحابه کرامو سنت دی، د قرباني په مشروعيت د دين ټول امامان اتفاق لري، ﴿۲﴾ په دې باندې د ټولو مسلمانانو اتفاق دی، دې ته د مال ضايع کول يا په حج کې يوازې د منی په خلکو خاص کول الحاد ﴿۳﴾ او زنديقيت دی، ﴿۴﴾ مسلمانان چې په کومو مسائلو اتفاق لري، په هغو باندې بحث کول د پاکستانيو شيعه ګانو خاصيت دی، مسلمان ولس له دوی سره په داسې مسائلو کې بحث کول د وخت ضايع کول ګڼي وهو الموفق .

﴿۱﴾ قال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالى: الأضحية واجبة على كل حرّ مسلم...... وأمّا الوجوب فقول أبي حنيفة ومحمّد وزفر والحسن وإحدى الروايتين عن أبي يوسف رحمهم الله تعالى. (الهداية ۴: ۴۴۳ كتاب الأضحية)

﴿۲﴾ قال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالى: وثبتت مشروعيتها بالكتاب والسنة والإجماع، أما الكتاب: فقوله تعالى: فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ...... وأما السنّة: فأحاديث ومنها حديث أنس رضي الله تعالى عنه قال: ضحّى رسول الله ﷺ بكبشين أملحين أقرنين فرأيته واضعًا قدميه على صفاحها ويسمّي ويكبر فذبحها بيده، وأجمع المسلمون على مشروعية الأضحية.

(الفقه الإسلامي وأدلته ۳: ۲۷۰۲، الباب الثامن الأضحية والعقيقة)

﴿۳﴾ وفي مجموعة قواعد الفقه: الملحد: هو من مال عن الشرع القويم إلى جهة من جهات الكفر كالباطنية أو الطاعن في الدين مع ادعاء الإسلام أو الذي يؤوّل في ضروريات الدين لإجراء أهوائه.

(مجموعة قواعد الفقه ۵۰۵، التعريفات الفقهية)

﴿۴﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: فإن الزنديق يموّه كفره ويروّج عقيدته الفاسدة ويخرجها في الصورة الصحيحة، وهذا معنى إبطان الكفر.

(ردالمحتار ۳: ۳۲۲ باب المرتد، مطلب في الفرق بين الزنديق والمنافق الخ)

د قرباني د نصاب اندازه

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د قرباني لپاره نصاب څه دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: حاجي عبد الله چارسده ..... ۱۴۰۲ هـ / ذی الحجه / ۲۴/

جواب: د چا سره چې اوه نيمې تولې سره زر، اوه پنځوس نيمې تولې سپين زر وي، يا د کور دورمره سامان وي چې د ۱۵۷۵ روپو څخه زياتې وي؛ نو په هغه باندې قرباني واجب ده. ﴿۱﴾ وهو الموفق

يوازې په لسمه د ذی الحجې د قربانۍ د جواز قول صحيح نه دی

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې ايا رښتيا هم قرباني يوازې په لسمه ذی الحجه باندې کيږي؟ په يوولسمه او دولسمه ذی الحجه قرباني نه کيږي، مهرباني وکړئ او مسئله راته روښانه کړئ؛ بينوا توجروا

المستفتي: محمد صديق چوهان ډيره غازي خان

﴿۱﴾ قال العلامة الكاسانى رحمه الله تعالى: وأما شرائط الوجوب...... ومنها الغنى...... وهو ان يكون فى ملكه مائتا درهم أو عشرون دينارًا أو شيء تبلغ قيمته ذلك سوى مسكنه وما يتأثث به وكسوته وخادمه وفرسه وسلاحه وما لا يستغني عنه وهو نصاب صدقة الفطر.

(بدائع الصنائع ۴:۱۹۲، كتاب التضحية، شرائط الوجوب)

وفى الهندية: والموسر فى ظاهر الرواية من له مائتا درهم أو عشرون دينارًا أو شيء يبلغ ذلك سوى مسكنه ومتاع مسكنه ومركوبه وخادمه فى حاجته التى لا يستغنى عنها.

(فتاوى هندية ۵:۲۹۲ كتاب الأضحية، الباب الأول)

جواب: واضحه دي وي دا قول چې قرباني يوازې يوه ورځ جائز ده، دا د ابن سيرين رحمه الله قول دی. (روح المعانی ۱۷: ۱۴۵، ﴿۱﴾) دا قول د قرآن، حدیث او آثارو نه مخالف دی، ځکه خو هيڅ قابل قبول نه دی، أمّا مخالفته عن القرآن،فلأنّ الله تبارك وتعالى قال:﴿ لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ .... الآية﴾ ﴿۲﴾ولفظ الأيام جمعٌ ، وأما مخالفته عن الحديثِ فلأنّ رسولَ الله صلى الله عليه وسلم قال: أيامُ التشريقِ كلها أيام ذبحٍ رواهُ أحمدُ وابنُ حبانَ والدارُ قطني كما في الدراية﴿۳﴾ و أمّا مخالفته عن الآثارِ فلما روى عنْ عمرَ و على وابنِ عمرَ وابنِ عباسٍ وانسٍ وأبي هريرةَ رضى الله تعالى عنه و عنهمْ أنّ أيامَ النحرِ ثلاثةٌ أفضلها أولها (كما في روح المعانی ۱۷ : ۱۴۵)﴿۴﴾و أثرُ علىٍّ رواهُ مالكٌ في مؤطائه فليراجعْ﴿۵﴾ فقط.

﴿۱﴾ قال العلامة سيد محمود احمد الآلوسی رحمه الله تعالى: (فی أيّامٍ مّعْلُومٰتٍ) أی مخصوصات وهي أيام النحر...... وعدتها ثلاثة أيام يوم العيد ويومان بعده عندنا...... وعند ابن سيرين يوم واحد...... ولم نجد فی ذلک مستندا يعول عليه.

(روح المعانی ۲۲: ۱۴۵، مبحث فی تفسير قوله تعالى: لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ......الآية)

﴿۲﴾ (سورة الحج آيت:۲۸ پاره:۱۷)

﴿۳﴾ (الدراية فی تخريج أحاديث الهداية على هامشه ۴: ۴۴۶ کتاب الأضحية)

﴿۴﴾ (روح المعانی ۲۲: ۱۴۵ مبحث فی تفسير قوله تعالى: لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ......الآية)

﴿۵﴾ مالک عن نافع ان عبد الله بن عمر رضى الله تعالى عنهما قال: الأضحى يومان بعد يوم الأضحى، مالک أنه بلغه عن على بن أبى طالب رضى الله تعالى عنه مثل ذلک.

(مؤطا الإمام مالک ۴۹۷، کتاب الأضحية)

د لسمي ذی الحجې نه وړاندې لمونځ او قرباني نه صحیح کیږي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې یو سړي دوه ورځې وړاندې اختر وکړ او قرباني یې ذبح کړه، اوس په دې سړي باندې اصلي د اختر لمونځ او قرباني واجب ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ۱۹۷۶م/۱/۱/

جواب: په شرط ددې چې ربښتیا او ثابت وي، دا سړی به دویم ځل د اختر لمونځ او قرباني کوي ﴿۱﴾ وهوالموفق.

د غنی (شتمن او مالدار) درې قسمونه

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د غنی او مالداری تعریف (پېژندګلوو) څه دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم

جواب: الغنى على ثلاثة أقسام: غنى يوجبُ الزكوة وهو ملك نصاب نـامٍ حالَ عليه الحولُ، وغَنى يحرمُ أخذ الزكوة ويوجبُ صدقةَ الفطرِ والأضحيةَ ولا يوجبُ ايتاء الزكوة وهو ملك نصاب غير نامٍ فاضلٍ عن الحاجة الأصليةِ، وغنى يحرمُ السؤال دونَ أخذ الزكوة وهو أنْ يكونَ لهُ قوتُ يومه أوْ يقدرُ على تحصيله بكسبه (د شامي نه راخیستل شوي) ﴿۲﴾

﴿۱﴾ في شرح الوقاية: وأوّل وقتها بعدالصلوة إن ذبح في مصر اى بعد صلوة العيد يوم النحر وبعد طلوع فجر يوم النحر إن ذبح في غيره. (شرح الوقاية ۴: ۳۹، كتاب الأضحية)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: والحاصل أن النصاب قسمان موجب للزكاة وهو النامي الخالي عن الدين وغير موجب لها وهو غيره فإن كان مستغرقًا بالحاجة لمالكه أباح أخذها وإلاحرمه وأوجب غيره من صدقة الفطر والأضحية ونفقه القريب المحرم كما في البحر وغيره (قوله من لا شيئ له) فيحتاج إلى المسئلة لقوته وما يوارى بدنه ويحل له ذلك بخلاف الأوّل ويحل صرف الزكاة لمن لا تحلّ له المسئلة.

(ردالمحتار ۲: ۶۴ كتاب الزكاة، باب المصرف)

و بحر ﴿۱﴾ وفتح القدير ﴿۲﴾ وغيره.

و أما الغنى الذى يوجب الحجَّ فهو ما يكفى الزاد والراحلةَ فضلاً عما لابــدَّ منهُ و عنْ نفقةِ عياله الى عوده (د شامي نه راخيستل شوي) ﴿۳﴾.

و أما أرض الاستغلالِ فحكمها ما فى رد المحتارِ ۲: ۸۸: سئلَ محمدٌ عمنْ له أرضٌ يزرعها أوْ حانوتٌ يستغلها أوْ دار غلتها ثلاثة آلاف ولا تكفى لنفقته و نفقة عياله سنة يحل له أخذ الزكوة وانْ كانتْ قيمتها تبلغ ألوفاً وعليهِ الفتوى ﴿۴﴾ و فى الهندية

﴿۱﴾قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالىٰ: (قوله وغنى يملك نصابا) اى لا يجوز الدفع له ...... أطلقه فشمل النصاب النامى السالم من الدين الفاضل عن الحوائج الأصلية الموجب لكل واجب مالى والنصاب الذى ليس بنام الفارغ عما ذكر الموجب لثلاثة: صدقة الفطر والأضحية ونفقة القريب فإن كلا منهما محرم لأخذ الزكاة...... إذ قوت اليوم أصل تحريم السوال. (البحر الرائق ۲: ۲۴۳ كتاب الزكاة، باب المصرف)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن الهمام رحمه الله تعالىٰ: والحاصل أن النصب ثلاثة، نصاب يوجب الزكاة على مالكه وهو النامى خلقةً أو اعدادًا و هو سالم من الدين ونصاب لا يوجبها وهو ماليس أحدهما فإن كان مستغرقًا بحاجة مالكه حلّ له أخذها وإلا حرمت عليه...... فإن كان محتاجًا إلى ماذكرنا حاجة أصلية فهو فقير يحلّ دفع الزكاة إليه وتحرم المسئلة عليه، ونصاب يحرم المسئلة وهو ملك قوت يومه أو لا يملكه لكنّه يقدر على الكسب. (فتح القدير ۲: ۲۰۲،۲۰۳، كتاب الزكاة، باب المصرف).

﴿۳﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالىٰ: فرض على مسلم حرّ مكلف صحيح بصير ذى زاد وراحلة فضلًا عمّا لا بد منه وفضلا عن نفقة عياله ممن تلزمه النفقة. (الدرالمختار مختصرًا ۲: ۱۵۳ تا ۱۵۶، كتاب الحج)

﴿۴﴾ (ردالمحتار ۲: ۷۱، كتاب الزكاة، باب المصرف، مطلب فى الحوائج الأصلية)

۴: ۲۳۱: وانْ كانَ صاحبُ ضيعة انْ كانَ له من الضياعِ ما لوْ باعَ مقدارَ ما يكفى الزاد والراحلة ذاهباً وجائيا ونفقة عياله و أولاده و يبقى له من الضيعة قدر ما يعيشُ بغلة الباقى يفترضُ عليهِ الحجُ والا فلا فافهمْ ﴿۱﴾وهو الموفق.

د نصاب اندازه او د قرباني د قضاء کېدو حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د زکات او قرباني لپاره د سرو زرو قيمت ته اعتبار دی؛ نو د سرو زرو د قيمت اندازه هم وليکئ! دغه راز که د يو سړي نه په اخترکې قرباني پاتې شي؛ نو د دغه لپاره څه حکم دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: مجيب الله بلوچستاني ...... ۱۴۰۲ هـ/ذی الحجه/ ۲۸/

جواب: د قرباني د وجوب لپاره اوه نيمې تولې سره زر او دوه پنځوس نيمې تولې سپين زر دي، لکه: په دې ورش روپۍ يوه توله ده؛ ۵۰. ۵۲ ۳۰= ۱۵۷۵ پاکستاني روپۍ ترې جوړيږي، يا په کور کې د ضرورت نه زيات د ۱۵۷۵ روپو شيان وي، بس همدا نصاب دی. ﴿۲﴾ او کوم مالدار چې قرباني ونه کړي؛ نو د يو ګډ يا چېلي قيمت دې يو غريب يا په ډېرو غريبانو صدقه کړي (شامي) ﴿۳﴾ وهوالموفق.

﴿۱﴾ (فتاوٰی هندية: ۱ :۲۱۸ کتاب المناسک، الباب الأول)

﴿۲﴾ فى الهندية: ولا يجوز دفع الزكاة إلى من يملك نصابًا أى مال كان دنانير أو دراهم أو سوائم أو عروضًا للتجارة أو لغير التجارة فاضلاعن حاجته فى جميع السنة.

(فتاوٰی هندية ۱ :۱۸۹، باب فى المصارف)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: (قوله وتصدق بقيمتها غنى شراها أولا)...... ذكر فى البدائع ان الصحيح أن الشاة المشتراة للأضحية إذا لم يضح بها حتى مضى الوقت يتصدق الموسر بعينها حية كالفقير ...... پاتې حاشيه په بل مخ باندې

په لرې پرتو سيمو کې د اختر د لمانځه وړاندې قرباني کول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د ستر اختر په ورځ د لمانځه نه وړاندې قرباني کول جائز دي او که نه؟ کومه قرباني چې د اختر د لمانځه وړاندې وشي بيا څه حکم لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: حافظ عبد العزيز بلوچستاني ...... ۱۳۹۵ هـ / ربيع الأول / ۲۱/

جواب: په لرې پرتو سيمو (قرى) کې د لمر ختلو وروسته د لمانځه نه وړاندې قرباني جائز ده، په ښارونو او نژدې کليو کې به د اختر د لمانځه وروسته قرباني کوي، که ددې نه مخکې يې وکړه بيا به ناکافي وي، (د) شامي نه راخيستل شوي ﴿۱﴾ وهندية، ﴿۲﴾ (وغيرهما) ﴿۳﴾ وهو الموفق.

(بقيه حاشيه) بلا خلاف بين أصحابنا...... أما إذا لم يشترها فما معنى أنه يتصدق بقيمتها فإنها غير معيّنة، فبين أن المراد إذا لم يشترها قيمة شاة تجزئ في الأضحية.
(ردالمحتار ۵:۲۲۶ كتاب الأضحية)

﴿۱﴾ في الدر المختار: وأول وقتها بعد الصلوة إن ذبح في مصر...... وبعد طلوع فجر يوم النحر إن ذبح في غيره. (الدر المختار ۵:۲۲۳، كتاب الأضحية)

﴿۲﴾ في الهندية: والوقت المستحب للتضحية في حق أهل السواد بعد طلوع الشمس وفي حق أهل المصر بعد الخطبة كذا في الظهيرية ولو ذبح والإمام في خلال الصلاة لا يجوز. (فتاوى هندية ۵:۲۹۵ كتاب الأضحية، الباب الثالث في وقت الأضحية)

﴿۳﴾ في البحر الرائق: (ولا يذبح مصري قبل الصلوة ويذبح غيره) يعني لا يجوز لأهل المصر أن يذبحوا الأضحية قبل أن يصلوا صلوة العيد، ويجوز لأهل القرى والبادية أن يذبحوا بعد صلوة الفجر قبل أن يصلي الإمام صلوة العيد، والأصل في ذلك قوله ﷺ: من ذبح قبل صلوة الإمام فليعد ذبيحته ومن ذبح بعد صلوة الإمام فقد تم نسكه.
(البحر الرائق ۸:۱۷۵، كتاب الأضحية)

د اختر د لمانځه کولو په صورت کښې د زوال وروسته قرباني جائز ده

سوال: د دين عالمان او مفتيان د دې مسئلې په اړه څه وايي چې که په ښار کې د څه عذر له امله د لوی اختر لمونځ پاتې شي؛ نو په اوله ورځ قرباني جائز ده او که نه؟ که جائز وي؛ نو د جواز دا صورت د ورځې له کوم وخته پيل کيږي؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبد الکريم د تورډهير اوسېدونکی ..... ۱۹۷۵ م / جنوری / ۲۹/

جواب: په اوله ورځ د زوال وروسته قرباني جائز ده، كما في الدر المختار: وبعدَ مضى وقتها قالَ العلامة الشامى: و وقتُ الصلوة من الارتفاعِ الى الزوالِ لوْ لَمْ يصلوا لعذرٍ «۱» وهوالموفق.

د حاجي لپاره د قرباني حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان د دې مسئلې په اړه څه وايي چې د زيد څلور زامن دي، زيد مخکې قرباني کول، دا کال بيت الله شريف ته د فرضي حج د ادايني لپاره تللی، د هغه څلور واړه زامن په کور کې موجود دي؛ نو د زيد لپاره هماغه يوه قرباني چې په مکه مکرمه کې کيږي کافي ده او که موږ هم دلته ورته قرباني وکړو؟ بينوا توجروا

المستفتي: اسرار الحق ګړهی کپوره

جواب: که زيد د قران يا تمتع اراده کړې وي؛ نو په هغه باندې يو دم (قرباني) په حرم مکي کې واجب دی او هغه چې مخکې به يې په کور کې کول؛ نو په مکه کې يې هم کولای شي او په کور کې يې هم ورته کولای شي او که زيد

«۱» (الدر المختار مع ردالمحتار ۵: ۲۲۴ کتاب الأضحية)

وفى الهندية: إذا ترک الصلاة يوم النحر بعذر أو بغير عذر لا تجوز الأضحية حتّى تزول الشمس. (فتاوی هندية ۵: ۲۹۵ کتاب الأضحية، الباب الثالث)

مفرد بالحج وي؛ نو بيا يوه قرباني په حرم كې ده. د شامي نه راخيستل شوي، ﴿۱﴾، بحر﴿۲﴾ الهندية﴿۳﴾ وهو الموفق.

په نابالغ باندې د قربانۍ حكم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زما ورور د اتو كالو دى، پلار مو وفات شوى دى، ايا دا ورور مو يوازې قرباني كولاى شي او كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: سيد محمد بلوچستان ..... ۱۳۹۷ هـ / ذى الحجه / ۱۷/

جواب: نابالغ نه خپله قرباني كولاى شي او نه هم ولي اجازه لري چې د نابالغ له خوا قرباني وكړي، يدلُّ عليه ما فى شرحِ التنويرِ : و قيلَ لا ، صححه فى الكافى قالَ : وليسَ للأبِ أنْ يفعله من

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: قوله وذبح (المتمتع) كالقارن ولم تنب الأضحية عنه لأنّه أتى بغير الواجب عليه إذلا أضحية على المسافر ولم ينو دم التمتع......
وأجاب الرحمتي بأن الدم ليس من افعال الحج والعمرة ولذا لم يجب على المفرد بأحدهما بل وجب شكرًا على المتمتع بها.
(ردالمحتار ۲:۲۱۳، كتاب الحج، باب التمتع)

﴿۲﴾ فى البحر الرائق: (قوله ثمّ اذبح) أى على وجه الأفضلية لأنّ الكلام فى المفرد وهو ليس بواجب عليه وإنما يجب على القارن والمتمتع، وأما الأضحية فإن كان مسافرًا فلا أضحية عليه وإلّا فعليه كالمكى.
(البحر الرائق ۲:۳۴۶ كتاب الحج)

﴿۳﴾ فى الهندية: ثم يرجع إلى المنى فإن كان معه نسك ذبحه وإن لم يكن فلا يضره لأنه مفرد بالحج ولو كان قارنًا أو متمتعًا فلا بد له من الذبح.
(فتاوى هندية ۱:۲۳۱ كتاب الحج، الباب الخامس)

مَالِ طفله و رجحه ابنُ الشحنة ، قلتُ وهوالمتعمد الخ، هامش رد المحتارِ ۵: ۲۷۶ ﴿۱﴾وهوالموفق.

په نابالغ د زكات او قرباني حكم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې كه د نابالغ هلك يا جينۍ سره د زكات نصاب پوره وي؛ نو ايا په هغوى باندې قرباني كيږي؟ بينوا توجروا

المستفتي: رحيم الله اضاخيل بالا ..... ۱۹۹۶م / ۷ / ۲۳/

جواب: په داسې نابالغه باندې زكات نشته، عشر، فطرانه او قرباني ورباندې واجب ده، كما في شرح التنويرِ على هامش رد المحتارِ ۲: ۹۹:﴿۲﴾ ۵: ۲۷۱﴿۳﴾ فليراجعْ ﴿۴﴾وهوالموفق.

﴿۱﴾ (الدر المختار ۵:۲۲۳ كتاب الأضحية)

في الاختيار لتعليل المختار: وأما أولاده الصغار فروى الحسن عن أبي حنيفة أنه يجب عليه أن يضحّي عن أولاده الصغار كصدقة الفطر وعنه لا تجب..... وقيل الأصح أنها لا تجب في مال الصبي بالإجماع لأنّها قربة فلا يخاطب بها، بخلاف صدقة الفطر.

(الاختيار لتعليل المختار ۵: ۲۱،۲۲، كتاب الأضحية)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه اللّٰه تعالى: (قوله عقل وبلوغ) فلا تجب على مجنون وصبي لأنها عبادة محضة وليسا مخاطبين بها.

(ردالمحتار ۲:۴ كتاب الزكوة، مطلب في أحكام المعتوه)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه اللّٰه تعالى: (قوله ويضحّي عن ولده الصغير من ماله) أى مال الصغير و مثله المجنون، قال في البدائع: وأما البلوغ والعقل فليسا من شرائط الوجوب في قولهما، وعند محمّد من الشرائط حتّى لا تجب التضحية في مالهما لو موسرين.

(ردالمحتار ۵:۲۲۲، كتاب الأضحية)

﴿۴﴾قلت: الراجح هو الأول(المسئلة الأولى). (سيف اللّٰه حقاني)

په پلار باندې د نابالغه اولاد له طرفه د قربانۍ حکم

سوال: ما يقولُ العلماء الكرامُ فى هذه المسئلةِ أنَّ وجوبَ الأضحيةِ فى صغيرٍ أوْ صغيرةٍ على الأبِ أوْ على الوصي ثابتٌ أمْ لا ؟ وهل يجبُ على الأبِ من مال الصغيرِ أوْ منْ مالِ نفسه أوْ على صغيرٍ لا على الأبِ والولى ؟ (والصغيرُ مكلفٌ به أمْ لا؟ والخلافُ فى الوجوبِ أمْ فى الاستحبابِ)؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبد الله متعلم دار العلوم حقانيه اکوړه خټک ..... ۱۹۸۳ م / دسمبر / ۴ /

جواب: لا يجبُ على الأبِ أنْ يضحى عنْ ولدهِ الصغيرِ نعمْ اذا كانَ للصغيرِ مالٌ فيضحى عنهُ كما فى الهندية ۵:۳۲۵ : وفى الولد الصغيرِ عنْ أبى حنيفةَ رحمه الله تعالى روايتانِ ، فى ظاهرِ الرواية : تستحب ولا تجبُ .... والفتوى على ظاهرِ الروايةِ ، وانْ كانَ للصغيرِ مالٌ قالَ بعضُ مشائخنا تجبُ على الأبِ، كذا فى فتاوى قاضى خان وهو الأصحُ هكذا فى الهداية ﴿۱﴾ وهو الموفق.

ولي د خپل نابالغ يتيم له طرفه د قربانۍ کولو حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان د دې مسئلې په اړه څه وايي چې د نابالغ يتيم له طرفه قرباني څه حکم لري؟ که ورباندې وي؛ نو خپله به يې کوي او که سرپرست به يې ورته کوي؟ او د صدقة الفطر څه حکم دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: رحيم الله باچا صاحب اضاخيل بالا نوښهره ..... ۱۴۰۲ هـ / ذی القعده / ۲۳ /

﴿۱﴾ (فتاوى هندية ۵:۲۹۳ كتاب الأضحية، الباب الأول)

وقال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالى: وإن كان للصغير مال يضحى عنه أبوه أو وصيه من ماله عند أبى حنيفة وأبى يوسف رحمهما الله تعالى...... وقيل لا يجوز التضحية من مال الصغير فى قولهم...... والأصح أن يضحى من ماله. (الهداية ۴:۴۴۴ كتاب الأضحية)

جواب: د نابالغ یتیم د مال نه به سرپرست هم قرباني کوي او صدقه فطر به هم ترې ادا کوي «۱» وهوالموفق .

په قربانی کښې وکالت صحیح دی

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې حاجي صاحب کله حج ته تلو؛ نو په کور کې یې څوك وکیل جوړ کړ، ددې څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: امین الحق بلوچستانی ......۱۹۷۸م / ۱۰ / ۲۴/

جواب: د قربانی وکالت (سپارل) بل چاته صحیح دي، «۲» خو غوره دا ده چې خپله کوم ځای کې دی هلته دي وکړي وهوالموفق .

په مسافر باندې د قربانی حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې یو مسافر چې کور او بچي یې ورسره وي، ایا په هغه باندې قرباني واجب ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: شرف الدین بلوچستانی ..... ۱۹۷۶م / ۲ /۵/

«۱» فی الهندیة: وللوصی فی قول أبی حنیفة رحمه الله تعالی أن یضحّی من مال الصغیر قیاسًا علی صدقة الفطر ولا یتصدق بلحمه ولکن یاکله الصغیر فإن فضل شیء لا یمکن ادخاره یشتری بذلک ما یمکن ادخاره مما ینتفع بعینه کذا فی فتاوی قاضی خان.

(فتاوی هندیة۵: ۲۹۳ کتاب الأضحیة، الباب الأول)

«۲» فی الهندیة: ومنها أنه تجری فیها النیابة فیجوز للإنسان أن یضحی بنفسه أو بغیره بإذنه لأنها قربة تتعلق بالمال فتجری فیها النیابة.

(فتاوی هندیة ۵: ۲۹۳ کتاب الأضحیة، الباب الأول)

جواب: په مسافر باندې قرباني واجب نه ده، ﴿۱﴾ خو په غريب او مسافر کې هم فرق کول ضروري دي وهوالموفق .

د سود ورکوونکي او اخيستونکي سره د قربانۍ حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د سود ورکوونکي او اخيستونکي سره قرباني جائز ده او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا عبد الرزاق لوند خوړ مردان ...... ۱۹۶۹م / ۲ / ۱۳ /

جواب: سود خوړ او سود ورکوونکي په فاسقانو کې شمار دي کافران نه دي، ځکه نو د دوی سره قرباني جائز ده، ﴿۲﴾ سره له دې چې صحيح کيږي؛ خو دده د بد عملۍ له امله د عدم اجابت (نه قبليدو) خطره ده؛ نو ځان دې ترې ساتي! ﴿۳﴾ وهوالموفق.

﴿۱﴾ في الاختيار: وهي واجبة على كل مسلم حرّ مقيم...... وإنما لم تجب على المسافر لأنها اختصت بأسباب شق على المسافر تحصيلها وتفوت بمضي الوقت فلم تجب.

(الاختيار لتعليل المختار ۵: ۲۰ كتاب الأضحية)

وفي الهندية: ولا تجب على المسافرين.

(فتاوى هندية ۵: ۲۹۳ كتاب الأضحية، الباب الأول)

﴿۲﴾ قال العلامة الكاساني رحمه الله تعالى: وأما شرائط الوجوب...... فمنها: الإسلام فلا تجب على الكافر لأنها قربة والكافر ليس من أهل القرب.

(بدائع الصنائع ۴: ۱۹۵، كتاب التضحية، شرائط الوجوب)

﴿۳﴾ عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ إن الله طيب لا يقبل إلا طيبا وإن الله أمر المؤمنين بما أمر به المرسلين فقال يٰأَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبٰتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا، وقال الله تعالى: يٰأَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ.

(مشكوة المصابيح ۱: ۲۴۱ باب الكسب وطلب الحلال)

د زیاتره حرام مال والا سره د قرباني حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د سود خور سره قرباني جائز ده او که ناجائز؟ بینوا توجروا

المستفتي: د ګاشګور خوازه خیله سوات اوسېدونکي..... ۱۹۷۳م/ ۲/ ۱۴/

جواب: که ددې سود خور ټول مال د حرامو نه وي بیا قرباني ورسره جائزده.﴿۱﴾ که ټول یا زیاتره مال یې حرام وي؛ نو قرباني دي ورسره نه کوي، لأنه مالـه غیر طیبٍ﴿۲﴾واللّٰهُ تعالیٰ لا یقبلُ الا الطیبُ﴿۳﴾وقالَ الامامُ الکرخـی اذا اشتری الرجلُ شیئاً و دفعَ منْ مالِ الحرامِ فلا یطیبُ ذلك الشـيءُ وقـولُ الکرخی هو المفتی به ، والتفصیلُ فی رد المحتارِ ۴: ۲۱۹﴿۴﴾وهوالموفق.

﴿۱﴾ فی الهندیة: وأما شرائط الوجوب...... ومنها الإسلام فلا تجب على الکافر.
(فتاوی هندیة ۵: ۲۹۲ کتاب الأضحیة، الباب الأول)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: (قوله کما لو کان الکل خبیثًا) فی القنیة لو کان الخبیث نصابًا لا یلزمه الزکوٰة لأنّ الکل واجب التصدّق علیه فلا یفید إیجاب التصدّق ببعضه. (ردالمحتار ۲: ۲۸ باب زکوٰة الغنم)

﴿۳﴾ عن ابی هریرة رضی الله تعالیٰ عنه قال قال رسول اللهﷺ إن الله طیب لا یقبل إلا طیبًا، وإن الله أمر المؤمنین بما أمر به المرسلین فقال: یٰاَیُّهَا الرُّسُلُ کُلُوْا مِنَ الطَّیِّبٰتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا، وقال الله تعالیٰ: یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوْا کُلُوْا مِنْ طَیِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰکُمْ.
(مشکوٰة المصابیح ۱: ۲۴۱ باب الکسب وطلب الحلال)

﴿۴﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: (قوله اکتسب حرامًا الخ) توضیح المسئلة مافی التاتارخانیة حیث قال رجل اکتسب مالًا من حرام...... پاتې حاشیه په بل مخ باندې

د فاسق، بدعتي او سود خور سره د قرباني کولو حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د لوی اختر په قرباني کې اوه کسان شریکان دي، په هغوی کې فاسق، فاجر او سود خوران هم دي، ایا د نېکو بندګانو نه بغیر ددې نورو قرباني قبلیږي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: نور بادشاه متعلم دار العلوم حقانیه ۱۹۸۵م/ ۱۲/ ۱۲/

جواب: د داسې شریکانو سره شراکت د ذمې فارغولو ته کوم زیان نه رسوي، زیات ثواب لره زیان رسوي. لوجود أصلِ الشرطِ وهو الاسلامُ﴿۱﴾وهو الموفق.

(بقیه حاشیه) ثم اشترى فهذا على خمسة أوجه: إما إن دفع تلك الدراهم إلى البائع أولاً، ثمّ اشترى منه بها أو اشترى قبل الدفع بها ودفعها أو اشترى قبل الدفع بها ودفع غيرها أو اشترى مطلقًا ودفع تلك الدراهم أو اشترى بدراهم آخر ودفع تلك الدراهم...... وقال الكرخي في الوجه الأول والثاني لا يطيب وفي الثلاث الأخيرة يطيب وقال أبوبكر لا يطيب في الكلّ ولكن الفتوى الآن على قول الكرخي.

(ردالمحتار ۴: ۲۴۴ مطلب إذا اكتسب حرامًا ثم اشترى الخ)

﴿۱﴾ قال العلامة الكاساني رحمه الله تعالى: وأما شرائط الوجوب...... فمنها الإسلام فلا تجب على الكافر لأنها قربة والكافر ليس من أهل القرب.

(بدائع الصنائع ۴: ۱۹۵، كتاب التضحية)

وقال الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالى: اتفق الفقهاء على أن المطالب بالأضحية هو المسلم الحر البالغ العاقل المقيم المستطيع.

(الفقه الإسلامي وأدلته ۴: ۲۷۱۱، الباب الثامن: الأضحية، المطلب الثالث)

د بت خرخوونکي سره د قرباني يو ځای کولو حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان د دې مسئلې په اړه څه وايي چې زموږ د کلي سره نژدې په يو غره کې يو بت پيدا شو، ځينو خلکو هغه خرڅ کړ. د کلي عالمانو دا فتوی ورکړه چې د بت خرخوونکو لمونځ نه صحيح کيږي او که په دغو روپو باندې د قربانۍ لپاره څناور واخلي؛ نو قرباني يې هم نه صحيح کيږي، ايا د دوی دا خبره حقيقت لري او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ..... ۱۹۷۴م / ۵ / ۴/

جواب: واضحه دې وي چې د بتانو اخيستل او خرڅول حرام دي، لحديثٍ متفقٌ عليهِ ، عنْ جابرٍ رضى الله عنه يقولُ عامَ الفتحِ وهو بمكةَ انَّ اللّه تعالى حرَّمَ بيعَ الخمرِ والميتةِ والخنزيرِ والأصنامِ ﴿۱﴾ ولأنها غير متقومة فى حقِّ المسلمِ لعدمِ جوازِ الانتفاعِ أشارَ اليهِ فى بيوعِ الدر المختارِ ﴿۲﴾ په دې سره کفر نه لازميږي، ﴿۳﴾ نو ځکه د دوی سره نکاح او قرباني هم جائز ده، دوی د مسلمانانو له صفه ويستل ظلم او حرام عمل دی، قال اللّه تعالى: وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَن يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ .... الآية ﴿۴﴾ وهو الموفق .

﴿۱﴾ (مشكوة المصابيح ۲۴۱، باب الكسب وطلب الحلال)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه اللّه تعالى: وبطل بيع مال غير متقوم أي غير مباح الانتفاع به ابن كمال. (الدر المختار ۴: ۱۱۵، باب البيع الفاسد)

﴿۳﴾ قال العلامة الإمام الأعظم رحمه اللّه تعالى: ولا نكفر مسلمًا بذنب من الذنوب وان كانت كبيرة إذا لم يستحلها ولا نزيل عنه الإيمان.

(الفقه الأكبر على هامش شرح الفقه الأكبر ۱۷، الكبيرة لا تخرج المؤمن من الإيمان)

﴿۴﴾ (سورة البقرة آيت: ۱۱۴)

د قرباني په بچي رارون کال قرباني نه کيږي

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې که د قربانۍ د مال نه دوه درې ورځې وړاندې بچی پيدا شي، په همدې بچي راروان کال قرباني کيږي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي صالح دين ټانك ..... ۱۹۷۴ م / دسمبر / ۵/

جواب: د داسې بچي قرباني نه صحيح کيږي، كما فى الهندية ۵: ۳۳۴ : وانْ بقى الولد عنده حتى كبِرَ وذبحه للعام القابلِ أضحيةً لا يجوزُ وعليهِ أخرى لعامه الذى ضحى و يتصدقُ به مذبوحاً معَ قيمةِ ما نقص بالذبحِ والفتوى على هذا كذا فى فتاوى قاضى خان﴿۱﴾وهوالموفق.

د قربانۍ د ورځو تېرېدو وروسته قيمت صدقه کول پکار دي

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې که د مجبورۍ له امله په قربانۍ کې برخه پيدا نه شي او د اختر ورځې تيرې شي؛ نو بيا څه کول پکار دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: نور علي ..... ۱۹۷۶ م/ ۱ / ۱۹/

جواب: د قربانۍ په ورځو کې قرباني واجب ده، د قربانۍ د ورځو په تېرېدو بې بيا قيمت صدقه کول پکار دي (شامی) ﴿۲﴾ وهوالموفق .

﴿۱﴾ (فتاوى هندية ۵: ۳۰۲ كتاب الأضحية، الباب السادس)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وتصدق بقيمتها غنى شراها أولا) كذا فى الهداية وغيرها كالدرر وتعقبه الشيخ شاهين بأن وجوب التصدق بالقيمة مقيد بما إذا لم يشتر. (ردالمحتار ۵: ۲۲۶، كتاب الأضحية)

د ایصال ثواب لپاره د غوا قرباني کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې که په یوه قرباني کې تولي برخې د ایصال ثواب لپاره وي، د ژوندي خلکو یوه برخه هم پکښې نه وي، ایا دا جواز لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: فخرالدین ولد مولوی نصیرالدین غورغوشتوي ..... /رجب المرجب/ ۱۰/

جواب: دا عوامي قید دی کتابي قید نه دی، د مړي له طرفه ټوله قرباني هم جائز ده، کما کانَ عليٌّ رضی الله عنهُ يضحّٰی عنه علیهِ الصلوة والسلام بالشاةِ، رواهُ أبو داؤدَ﴿۱﴾ وهوالموفق.

د رهن شوي ځمکې نه د نصاب په مالک قرباني واجب نه ده

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زید ځمکه لري او د ځمکې قیمت یې تقریباً لس زره روپو ته رسیږي، د زید دا ټوله ځمکه د بل سره ګرو (رهن) ده، زید په لاس کې نغدي روپۍ نه لري؛ خو که د ځمکې څه برخه خرڅه کړي؛ نو خپله ټوله قرضه ورباندې پوره کولای شي او ځمکه هم د رهن څخه خلاصولای شي، زید داسې نه کوي، ایا په زید باندې قرباني واجب ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: غلام حبیب ۱۹۷۴م/ ۲/ ۱۱/

جواب: په زید باندې قرباني واجب نه ده. ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ عن حنش قال رأیت علیاً رضی الله تعالیٰ عنه یضحّی بکبشین فقلت له ما هذا؟ فقال: ان رسول الله ﷺ اوصانی ان اضحّی عنه فانا اضحی عنه.

(سنن ابی داؤد ۲: ۳۸۵ کتاب الضحایا، باب الأضحیة عن المیت)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالیٰ: فلا زکٰوة علی مکاتب لعدم الملک التام...... ولا فی مرهون بعد قبضه (درمختار)...... پاتې حاشیه په بل مخ باندې

د قرباني قضا څنګه راګرځي؟

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د قرباني قضا شته او که نه؟ تقریبا اوه (۷) کاله کیږي چې قرباني نه ده شوې، ایا اوس ددې قضا شته او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: وزیر محمد متعلم دار العلوم حقانیه ..... ۱۳۹۷ هـ / ذی القعده / ۲۹/

جواب: د قرباني لپاره قضا نشته، یعنې د قرباني څخه ذمه نه فارغیږي؛ خو دومره ده چې ګډ دې صدقه کړي او یا دې هم نغدې روپۍ خلکو ته ورکړي (د فتاوی هندیه نه اخیستل شوی)﴿۱﴾ وهوالموفق.

هغه چې صاحب نصاب نه وي، قرباني پرې نه کیږي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې ما خپل تجارت د ډیرې کمزورۍ له امله بچیانو ته وسپارلو، هغوی زما هر ډول خدمت کړی دی او د خپلې مور لپاره بې هر کال قرباني کړې ده، دا کال هغوی وايي چې تا ته هم قرباني کوو؛ نو زما قرباني به واجب وي او که نفل؟ بینوا توجروا

المستفتي: حاجي محمد اسمعیل مردان..... ۱۴۰۴ هـ / ذی الحجه / ۲۸/

(بقیه حاشیه) وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله ولا في مرهون) أى لا على المرتهن لعدم ملك الرقبة ولا على الراهن لعدم اليد وإذا استرده الراهن لا يزكّي عن السنين الماضية..... ويدلّ عليه مافي البحر: ومن موانع الوجوب الرهن وظاهره ولو كان الرهن أزيد من الدين. (ردالمحتار مع الدرالمختار ۲: ۷ كتاب الزكاة)

وفي الهندية: ولا على الراهن إذا كان الرهن في يد المرتهن هكذا في البحر الرائق.

(فتاوىٰ هندية ۱: ۱۷۲ كتاب الزكاة، الباب الأول)

﴿۱﴾ في الهندية: ومنها أنها تقضى إذا فاتت عن وقتها لم قضاؤها قد يكون بالتصدق بعين الشاة حية وقد يكون بالتصدق بقيمة الشاة.

(فتاوىٰ هندية ۵: ۲۹۴ كتاب الأضحية، الباب الأول في تفسيرها الخ)

جواب: دا اوسنی گټه ستا د بچیانو ده، ددې نه بغیر که ستا سره د نصاب په اندازه پوره مال نه وي؛ نو بیا ستا له طرفه قرباني نفل ده، واجبه نه ده. ﴿۱﴾ والله أعلمُ.

د قربانۍ په نصاب کې د ذبح تر وخته پورې د نفقې اعتبار شته

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د قربانۍ په نصاب کې د نفقې اعتبار شته او که نه؟ که وي نو د څومره وخت لپاره؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الرحمن ژوب ..... ۱۹۷۷ م / نومبر / ۲۷/

جواب: د ذبح تر وخته پورې اعتبار لري، (د رد المحتار نه اخیستل شوی: ۵: ۲۷۲)﴿۲﴾ وهو الموفق.

تاکلی مهر معجل قرباني منع کوي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زمونږ په خاېونو کې دېرش یا څلویښت

﴿۱﴾ فی الهندیة: وأما شرائط الوجوب: منها الیسار وهو ما یتعلق به وجوب صدقة الفطر دون ما یتعلق به وجوب الزکاة.
(فتاوی هندیة ۵: ۲۹۲ کتاب الأضحیة، الباب الأول)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله والیسار الخ) بأن ملک مائتي درهم أو عرضا یساویها غیر مسکنه وثیاب اللبس أو متاع یحتاجه إلی أن یذبح الأضحیة.
(ردالمحتار ۵: ۲۱۹ کتاب الأضحیة)

وفی الخلاصة: قال أبو حنیفة الموسر الذی له مائتا درهم أو عرض یساوی مائتی درهم سوی المسکن والخادم والثیاب التی یلبس ومتاع البیت الذی یحتاج إلیه وهذا إذا بقی له إلی أن یذبح الأضحیة.
(خلاصة الفتاوی ۴: ۳۰۹ کتاب الأضحیة، الفصل الثانی)

زره روپۍ مهر اېښودل کېږي، د مثال په توګه ما لس زره روپۍ ادا کړي دي، هغه چې مي نه دي ورکړي ایا هغه زما په غاړه قرض دي او که نه؟ او ددې قرض له امله دا سړی د قرباني نه کولو عذر پېش کولای شي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: مجیب الله بلوچستانی متعلم دار العلوم حقانیه ..... ۱٤۰۲ هـ/ذی الحجه/۲۸/

جواب: که د نکاح په عقد کې ددې مقدار تعین شوی وي؛ نو دا پاتې روپۍ درباندې قرض دي، په تا باندې قرباني نه کېږي «۱» وهو الموفق.

د (وي سي آر) د اخیستونکي او خرڅوونکي سره یو ځای د قرباني کولو حکم:

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې دي (وي سي آر) د اخیستونکي او خرڅوونکي سره د قربانۍ کولو څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ۱۹۸۶ م/۸/۱۱/

جواب: دا چې د (وي سي آر) کار کوونکي دا شیان په استعمالوونکو خرڅوي؛ نو د ګناه او حرام کېدو له امله دا قیمت واجب الرد دی «۲» او ددې تاجر سره شراکت د غل او دووس سړي سره یو شان دی. وهو الموفق

«۱» في الهندية: وكذلك المهر يمنع مؤجلًا كان أو معجلًا لأنه مطالب به كذا في محيط السرخسي وهو الصحيح على ظاهر المذهب. (فتاوی هندیة ۱:۱۷۳ كتاب الزكاة، الباب الأول)

وقال العلامة الكاساني رحمه الله تعالى: ومنها أن لايكون عليه دين مطالب به من جهة العباد عندنا، فإن كان فإنه يمنع وجوب الزكاة بقدره حالًا كان أو معجلًا...... وعلى هذا يخرج مهر المرأة فإنه يمنع وجوب الزكاة عندنا معجلًا كان أو مؤجلًا لأنه إذا طالبته يؤاخذ به. (بدائع الصنائع ۲:۸۳ كتاب الزكاة، دين زكاة)

«۲» قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويكره تحريمًا بيع السلاح من أهل الفتنة إن علم لأنه إعانة على المعصية...... قلت وأفاد كلامهم أن ماقامت المعصية بعينه يكره بيعه تحريمًا وإلا فتنزيهًا، نهر. ...... پاتې حاشیه په بل مخ باندې

د سپینو زرو د نصاب اوسنی قیمت معتبر دی

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د شریعت په کتابونو کې د زکات نصاب دوه سوه درهمه دی چې د هندوستان د څلوېښتو روپو سره برابر دی؛ نو ایا د قربانۍ لپاره همدا نصاب دی؟ په داسې حال کې چې د سپینو زرو د اوسنیو څلوېښتو سکو تر منځ خو پوره فرق راغلی دی، په څلوېښت روپۍ خو یوازې د قربانۍ تصور هم ناممکن دی؛ نو ایا د اوسنی زمانې د سکو سره یې موازنه کول ضروري دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: سید گل بلی ټنگ کوهاټ ..... ۱۹۷۵م / جون / ۱۲/

جواب: واضحه دې وي چې دوه سوه درهمه د دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو قیمت دی، پاکستاني یا هندستاني روپۍ خو نه سپین زر (فضه) دي او نه هم غالب الفضه دي، نو په دیکښې به د قیمت اعتبار وي، د پنځلس روپۍ یوه تولې په حساب سره نصاب ۷۸۷،۵۰=۱۵×۵۲،۵۰ اوه سوه اوه اتیا روپۍ اته آنې جوړیږي ﴿۱﴾ وهو الموفق.

(بقیه حاشیه) وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالى: (قوله لأنه إعانة على المعصية) ...... ونظيره بيع المعازف لأن المعصية تقام بها عينها.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۳: ۳۴۲ قبیل کتاب اللقیط، مطلب کراهة بیع مالقوم المعصیة بعینه)

﴿۱﴾ قال العلامة الكاساني رحمه الله تعالى: فإن كانت أثمانا رائجة أو كان يمسكها للتجارة يعتبر قيمتها، فإن بلغت قيمتها مائتي درهم من أدنى الدراهم التي تجب فيها الزكاة وهي التي الغالب عليها الفضة تجب فيها الزكاة وإلا فلا.

(بدائع الصنائع ۲: ۱۰۳ كتاب الزكاة، الأثمان المطلقة)

د بنادي لپاره په اينبودل شوو روپيو د قرباني حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې موږ اوه ورونه يو، درې ورونو مو ودونه کړي دي، په يو واده تقريباً درې زره روپۍ خرچه راځي، ټول مال مو شپږ زره روپۍ ده، ايا د ستر اختر قرباني په موږ واجب ده؟ بينوا توجروا

المستفتي: عيسى خان جنرل ستور کوئټه ..... ۱۹۸۷م / ۸ / ۲۲/

جواب: تاسو ټول ورونه به قرباني کوئ، ځکه چې په ظاهره تاسو شتمن يئ؛﴿۱﴾ وهو الموفق.

اوه تولې سره زر او څه روپۍ وي؛ نو قرباني واجب ده

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د هندې سره اوه تولې سره زر او څه روپۍ دي، ايا په هغې باندې قرباني واجب ده او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: نذير احمد متعلم دار العلوم حقانيه ..... ۱۴۰۴ هـ / ذى القعده / ۳۰/

جواب: ددې مال قيمت د سپينو زرو د قيمت نصاب ته رسيږي، بلکې تر هغې هم زياتيږي، په هنده باندې قرباني واجب ده، وهو قولُ الوهبانية واليه مـالَ العلامة الشامي رحمه الله تعالى فليراجعْ الى رد المحتارِ ۲:۸۹﴿۲﴾والله أعلمُ بالصواب.

﴿۱﴾ فى الهداية: الأضحية واجبة على كل حرٍّ مسلم موسر فى يوم الأضحى عن نفسه. (هداية ۴:۴۴۳ كتاب الأضحية)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: قال فى العناية: ولا يجوز دفع الزكاة إلى من ملك نصابًا سواء كان من النقود أو السوائم أو العروض ...... لأن قول العناية سواء كان الخ مفيد تقدير النصاب بالقيمة سواء كان من العروض أو السوائم...... فقد نصّ على اعتبار قيمة السوائم فى عدة كتب من غير خلاف فى الأشباه والسراج پاتې حاشيه په بل مخ باندې

که د یوې تولې سرو زرو قیمت د سپینو زرو د نصاب سره پوره وي؛ نو قرباني واجب ده:

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې که د چا سره دومره اندازه سره زر وي چې قیمت یې د دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو سره برابرېږي، ایا په هغه باندې قرباني واجب ده او که نه؟ که واجب نه وي؛ نو مفتي محمد شفیع رحمه الله چې په احکام قرباني کې دا لاندې عبارت لیکلی، ددې څه مطلب دی؟

عبارت دا دی: د چا سره چې دوه پنځوس نیمې تولې سپین زر وي، دا مال برابره خبره ده چې سره زر، سپین زر یا ددې جوړ شوي ګاڼه وي.... ؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم متعلم دار العلوم حقانیه ۱۹۸۶م/۹/۱۱/

جواب: د رد المحتار د عبارت څخه معلومیږي، وهی روایة المحیط ، د چا سره چې دومره سره زر وي چې قیمت یې دوه سوه درهمو ته رسیږي؛ نو په هغه باندې قرباني واجب ده، لأنه حرمَ علیه أخذ الزکوة، فافهمْ! ﴿۱﴾ وهوالموفق .

(بقیه حاشیه) والوهبانیة وشرحها والذخائر الأشرفیة، وفی الجوهرة قال العلامة المرغینانی: إذا کان له خمس من الإبل قیمتها أقل من مائتی درهم تحل له الزکوة وتجب علیه، بهذا ظهر أن المعتبر نصاب النقد من أیّ مال کان بلغ نصابا من جنسه أو لم یبلغ.
(ردالمحتار ۲: ۷۱ کتاب الزکوة ، باب المصرف، مطلب فی الحوائج الأصلیة)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: إذاکان له خمس من الإبل قیمتها أقل من مائتی درهم تحل له الزکاة وتجب علیه، وبهذا ظهر أن المعتبر نصاب النقد من أیّ مال کان بلغ نصابًا من جنسه أولم یبلغ آه ما نقله عن المرغینانی آه مافی الشرنبلالیة ملخصًا ووفق ط بأنه روی عن محمّد روایتان فی النصاب المحرم للزکاة هل المعتبر فیه القیمة أو الوزن؟ ففی المحیط عنه الأول وفی الظهیریة عنه الثانی وتظهر الثمرة فیمن له تسعة عشر دینارًا قیمتها ثلاث مائة درهم مثلًا فیحرم أخذ الزکاة ...... پاتي حاشیه په بل مخ باندې

په اوه تولې سره زرو باندې د زکات، صدقه فطر او قربانۍ کولو حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اره څه وایي چې د زید سره اوه تولې سره زر د اصلي حاجت نه زیاتي پرتې دي، چې د اوس وخت سره سم د سپینو زرو د نصاب نه څو چنده زیات قیمت لري، اوس په زید باندې زکات، صدقه فطر او قرباني واجب ده او که نه؟ که په ده باندې واجب نه وي؛ نو زید خپله زکات، صدقه فطر او نور واجب صدقې له خلکو اخیستلای شي او که نه؟ د شرعي دلائلو په رڼا کې مسئله راته نوره هم روښانه کړئ: الله جل جلاله به یې درته ښه بدل کړي. بینوا توجروا

المستفتي: مولوي مبارك شاه مدرس مدرسه ایوبیه تجوړی بنو ۱۹۸۹م/فروری/۱۹/

جواب: په زید باندې قرباني او صدقة الفطر واجب دي، أما الأولُ فلما في الهندية ۵: ۳۲۵ : و بيقرة واحدةٍ غنى و بثلاثة ثيران اذا ساوىٰ أحدها مائتى درهم صاحب نصابٍ﴿۱﴾انتهى وأمّا الحاقُ صدقة الفطرِ بالأضحية فلما صرحوا به عن اتحادِ شرائطهما كمافى الهندية۵:۳۲۴﴿۲﴾فافهمْ وهو الموفق.

(بقيه حاشيه) على الأول لا على الثاني...... وعلى رواية المحيط من اعتبار القيمة يحمل ما فى الشرنبلالية وغيرها.

(ردالمحتار ۲: ۷۱ كتاب الزكاة، باب المصرف، مطلب فى الحوائج الأصلية)

﴿۱﴾ (فتاوى هندية ۵:۲۹۳ كتاب الأضحية، الباب الأول فى تفسيرها وركنها وصفتها وشرائطها)

﴿۲﴾ فى الهندية: وأما شرائط الوجوب منها اليسار وهو ما يتعلق به وجوب صدقة الفطر دون ما يتعلق به وجوب الزكاة.

(فتاوى هندية ۵:۲۹۲ كتاب الأضحية، الباب الأول فى تفسيرها وركنها الخ)

په دوه توله سرو زرو او څه نغدو روپو باندې د زکات او قربانۍ حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيانددې مسئلې په اړه څه وايي چې د يوې ښځې سره دوه تولې سره زر دي او ورسره دوه نيم زره نغدې روپۍ هم دي، په دې ښځې باندې زکات او قرباني څه حکم لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: حافظ تعويز گل نرياب هنگو ..... ۱۴۰۴ هـ / ربيع الأول / ۲۸ /

جواب: دا ښځه به قرباني کوي، ﴿۱﴾ د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد به زکات هم ورکوي، (شامی) ﴿۲﴾ وهوالموفق.

د مختلفو انواعو د حيواناتو په مجموعي قيمت د قربانۍ حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د يو سړي سره مختلف نوعه حيوانات دي؛ خو يو قسم يې هم د نصاب اندازې ته نه رسيږي او د تجارت لپاره هم نه دي، ايا دا سړی به قرباني او صدقه فطر ورکوي؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد بلوچستانی ..... ۱۴۰۱ هـ / ۵ / ۳۰ /

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: فی العناية: لا يجوز دفع الزكاة إلى من ملك نصابًا سواء كان من النقود أو السوائم أوالعروض...... لأن قول العناية سواء كان الخ مفيد تقدير النصاب بالقيمة سواء كان من العروض أوالسوائم...... أن المعتبر نصاب النقد من أی مال كان بلغ نصابا من جنسه أولم يبلغ.

(ردالمحتار ۲: ۷۱ كتاب الزكاة، باب المصرف، مطلب فی الحوائج الأصلية)

﴿۲﴾قال العلامة الحصكفی رحمه الله تعالىٰ: (قوله وقيمة العروض الخ) تقدم قريبًا تقويم العرض إذا بلغ نصابًا، وماهنا فی بيان ما إذا لم يبلغ نصابا، وعنده من الثمنين مايتم به النصاب، وفی النهر قال الزاهدی: وله أن يقوّم أحد النقدين ويضمه إلى قيمة العروض عند الإمام. (ردالمحتار ۲: ۳۷ كتاب الزكاة، باب زكاة المال)

جواب: په دې سرې باندې قرباني واجب ده، ځکه چې د صدقة الفطر وجوب په مالدارۍ دی، نه د مال په نماء باندې؛ خو دومره ده چې په دې سرې باندې زکات نشته، یدلُّ علی أصلِ المسئلة ما فی أضحیة الهندیة ۵: ۳۲۵ : و ببقرة واحدةٍ غنی و بثلاثة ثیران اذا ساوی أحدهما مائتی درهم صاحب نصابٍ،انتهی ﴿۱﴾ والأصلُ أنه منْ یجبُ علیهِ الأضحیةُ یجبُ علیهِ صدقة الفطر و یحرم علیهِ أخذ الزکوة﴿۲﴾ وهوالموفق .

د مختلفو حیواناتو په مجموعي قیمت د قرباني حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زموږ د ځای خلک ګدې آو چېلۍ اخلي، اوس د یو سړي سره څلور اوښان، لس غویان او شل وزې دي، د زکات د نصاب له مخې زکات وربانديې نه کیږي، ځکه چې د یو جنس څخه نه دي، ایا په دې سړي باندې قرباني واجب ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: حافظ محمد یعقوب کوئټه ..... ۱۹۷۵ م / مارچ / ۱۵/

جواب: په دې سړي باندې قرباني او صدقة الفطر واجب نه دي. ﴿۳﴾ کمافی البحر ۲: ۲۴۵ قال

﴿۱﴾ (فتاوی هندیة ۵: ۲۹۳ کتاب الأضحیة، الباب الأول)

وفی خلاصة الفتاوی: وفی الفتاوی الدهقان لیس بغنی بفرس واحد وبحمار واحد فإن کان له فرسان أوحماران وأحدهما یساوی مائتی درهم فهو نصاب...... وببقرة واحدة غنی وبثلاثة ثیران إذا تساوی أحدها مائتی درهم صاحب نصاب.

(خلاصة الفتاوی ۴: ۳۱۰ کتاب الأضحیة، الفصل الثانی فی نصاب الأضحیة)

﴿۲﴾ قال العلامة الکاسانی رحمه الله تعالی: وأما الغناء الذی یحرم به أخذ الصدقة وقبولها فهو الذی تجب به صدقة الفطر والأضحیة. (بدائع الصنائع ۲: ۱۵۸ فصل مصارف الزکاة)

﴿۳﴾ ماقبل اوراس مسئلہ میں فرق ذریعۂ معاش ہے. (سیف اللہ حقانی)

هشامٌ سألتُ محمداً عنْ رجلٍ له تسعة عشر ديناراً تساوى ثلثة مائة درهمٍ هلْ يسعه أنْ يأخذَ ؟ قالَ نعم! ولا يجبُ عليه صدقة فطره«١» انتهى ، قلتُ: و حكمُ الأضحيةِ و صدقة الفطرِ واحدٌ كما صرحوا به«٢»وهوالموفق.

غوا او چېلۍ په اصلي حاجت کې نه دي حساب

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې غوا او چېلۍ په اصلي حاجت کې شمار دي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مبارک شاه لکي دارالعلوم ..... ۱۹۷۶م / ۲ / ۲۱/

جواب: نه په دې غواګانو باندې زکات شته (لعدم النماء) «٣»او نه هم په اصلي حاجت کې حساب دي، فلا يأخذ الزكوة و يجبُ عليهِ صدقة الفطرِ والأضحية«٤»وهوالموفق.

«١» (البحر الرائق ٢:٢٤٥ كتاب الزكاة، باب المصرف)

«٢» فى الهندية: وأما شرائط الوجوب منها اليسار وهو ما يتعلق به وجوب صدقة الفطر دون مايتعلق به وجوب الزكاة. (فتاوى هندية ٢:٢٩٢ كتاب الأضحية، الباب الأول)

«٣» قال العلامة الكاساني رحمه الله تعالى: ومنها كون المال ناميا لأن معنى الزكاة وهو النماء لا يحصل إلا من المال النامي...... وإنما نعنى به كون المال معدًا للاستمناء بالتجارة أو بالإسامة لأن الإسامة سبب لحصول الدر والنسل والسمن.

(بدائع الصنائع ٢:٩١ كتاب الزكاة)

«٤» فى الهندية: وأما شرائط الوجوب، منها اليسار وهو مايتعلق به وجوب صدقة الفطر..... وأمّا ما عدا ذلك من سائمة أورقيق أو متاع لتجارة أو غيرها فإنه يعتد به من يساره..... وببقرة واحدة غنى وبثلاثة ثيران إذا ساوى أحدهما مائتى درهم صاحب نصاب.

(فتاوى هندية ٥:٢٩٢، ٢٩٣ كتاب الأضحية)

په حیوان، زېوراتو او سامان باندې د قربانۍ د وجوب حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د یو سړي سره نغدې روپۍ نه وي، بلکې مال لکه: غویان، ګډې، چېلۍ او څمکه ورسره وي، ایا په دې سړي باندې قرباني واجب ده او که نه؟ دغه راز که د یو سړي سره پیسې وي؛ خو دومره قرض وربانديې وي چې د سامان د قیمت نه کم وي، نو ددې به څه حکم وي؟ د قربانۍ د وجوب نصاب څومره دی؟ د نن سبا څومره روپۍ ترې جوړیږي؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ..... ۱۳۹۴ هـ / ذی الحجه / ۱/

جواب: زېورات، د ضرورت نه زیات مال او سامان چې کله د دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو قیمت ته ورسیږي؛ نو دا د قربانۍ د واجب کېدو پوره نصاب دی. ﴿۱﴾ که مالك یې قرض داره وي؛ نو د قرض په اندازه روپۍ چې ترې کمې کړي او بیا هم دومره پاتې شي چې قیمت یې د دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو ته رسیږي، نو بیا هم قرباني واجب ده. ﴿۲﴾ او د موجوده روپو د حساب له مخې چې یوه توله په پنځلس روپۍ حساب شي نو ۱۵×۵۲،۵۰ =۷۸۷ روپۍ ترې جوړیږي ﴿۳﴾ وهو الموفق.

کور په اصلي حاجت کې داخل دی او که نه؟

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي (۱) چې د اصلي حاجت والا شیانو په تعریف کې د او سېدو کور شامل دی او که نه؟

﴿۱﴾ فی الهندیة: وهی واجبة علی الحر المسلم المالک لمقدار النصاب فاضلاً عن حوائجه الأصلیة کذا فی الاختیار شرح المختار، ولا یعتبر فیه وصف النماء ویتعلق بهذا النصاب وجوب الأضحیة ووجوب نفقة الأقارب هکذا فی فتاوی قاضی خان.

(فتاوی هندیة ۵: ۱۹۱ کتاب الزکاة، الباب الثامن فی صدقة الفطر)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: ولو کان علیه دین بحیث لو صرف فیه نقص نصابه لاتجب.

(فتاوی هندیة ۵: ۲۹۲ کتاب الأضحیة، الباب الأول)

که داخل وي؛ نو د هر وروړ تنها - تنها کور حساب دی او که یو کور؟

(۲) یو سړی د کرایه په کور کې اوسیږي، په داسې حال کې چې د خپل کور اخیستو وس لري، که دغه سړی په دې روپو باندې ځای واخلي؛ نو د نصاب نه هم خلاصیږي، اوس روپۍ په اصلي حاجت کې مشغولي دی او که نه؟

بینوا توجروا

المستفتي: عبد الرحمن ژوب ..... ۱۹۷۴م / نومبر / ۲۷/

جواب کور په اصلي حاجت کې شامل دی؛ خو د یې کوره سړي د کور قیمت د حاجت اصلي څخه خارج دی، وهو المختارُ عندَ صاحبِ البدائعِ «۱» والهداية «۲» وهو الموفق.

د کور شیان او نیمه توله سرو زرو باندې د قربانۍ حکم

سوال د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې یو سړی د خپل کور مالك وي، د کور ضروري شیان هم ورسره وي، نیمه توله سره زر

«۱» فی البدائع: ثم قدر الحاجة ماذكره الكرخی فی مختصره فقال لا بأس بأن يعطی من الزكاة من له مسكن وما يتأثث به فی منزله وخادم وفرس وسلاح وثياب البدن وكتب العلم إن كان من أهله فإن كان له فضل عن ذلك مايبلغ قيمته مائتی درهم حرم عليه أخذ الصدقة لما روى عن الحسن البصرى أنه قال كانوا يعطون الزكوة لمن يملك عشرة آلاف درهم من الفرس والسلاح والخادم والدار وقوله كانوا كناية عن أصحاب رسول اللهﷺ وهذا لأن هذه الأشياء من الحوائج اللازمة التی لا بد للإنسان منها فكان وجودها وعدمها سواء.

(بدائع الصنائع ۲: ۱۵۸، كتاب الزكوة، مصارف الزكوة)

«۲» فی الهداية: صدقة الفطر واجبة على الحر المسلم إذا كان مالكا لمقدار النصاب فاضلًا عن مسكنه وثيابه...... وقدر اليسار بنصاب لتقدر الغناء فی الشرع به فاضلًا عما ذكر من الأشياء لأنها مستحقة بالحاجة الأصلية والمستحق بالحاجة الأصلية كالمعدوم.

(هداية ۱: ۲۰۸ كتاب الزكوة، باب صدقة الفطر)

هم ورسره وي، ایا په داسې سړي باندې قرباني واجب ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: قاري محمد خان مدرسه حفظ القرآن مانسهره ...... ۱۳۹۶ هـ/ ذی القعدة/ ۱۵/

جواب: واضحه دې وي چې دا وسېدو کور او د کور ضروري شيان په اصلي حاجت کې داخل دي؛ نو ځکه دا سړی شرعا مالداره نه دی، نیمه توله سرو زرو باندې څوك مالداره کيږي نه؛ نو په یاد سړي باندې صدقه فطر او قرباني نه ده واجبه (د شامي «۱» او عالمګیري نه راخیستل شوي «۲») وهو الموفق.

د ضرورت نه زیاتي شیان چې د نصاب اندازې ته رسیږي قرباني پرې واجبه ده

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د زید سره څلور پنځه زره روپۍ دي، په دې روپو باندې تجارت کوي او خپل بچیان پرې ساتي. ځمکه او نوره دنیا نه لري، د بکر سره بیا روپۍ نشته یوازې ځمکه ورسره ده. هغه خپله ځمکه کري او خپل بچیان ورباندې ساتي. اوس بکر زید ته وایي چې په تا باندې صدقه فطر واجب دی. ځکه چې ته نغده سرمایه لرې! زید ورته په جواب کې وایي: چې وروره ستا سره هم په لاس کې د پنځه زره روپو ځمکه ده، که ته هم خپله ځمکه خرڅه کړې؛ نو یو دم د پنځه زره یا شپږ زره روپو مالك جوړیږې! د اوسېدو د کور نه بغیر ستا سره یو باغ هم دی چې د چارمغزو، بادامو، انارو او توتانو ونې پکښې دي او د حاجت اصلي جامو نه

«۱» قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله واليسار الخ) بأن ملك مائتي درهم أو عرضا يساويها غير مسكنه وثياب اللبس أو متاع يحتاجه إلى أن يذبح الأضحية.
(ردالمحتار ۵: ۲۱۹ كتاب الأضحية)

«۲» في الهندية: والموسر في ظاهر الرواية من له مائتا درهم أو عشرون دينارًا أو شيء يبلغ ذلك سوى مسكنه ومتاع مسكنه ومركوبه.
(فتاوى هندية ۵: ۲۹۲ كتاب الأضحية، الباب الأول)

بغیر پتلون او د کور کمبلې هم د صدقه فطر په نصاب کې حسابیږي، د کال پوره کېدل په زکات کې لازم دي، د صدقة الفطر او قرباني لپاره د موجوده مال حسابولو سره په تا باندې صدقه فطر او قرباني دواړه لازم دي؛ نو اوس تاسو مهرباني وکړئ چې په دوی دواړو کې کوم یو په حق باندې دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد مکرم صاحب چترالی ..... ۱۹۶۹م / ۱ / ۳۰/

جواب: د بکر سره د ضروري شیانو نه بغیر زیاتي سامان دی. لهذا په هغه باندې صدقه فطر او قرباني دواړه واجب دي. في الخانية على هامش الهندية ۱: ۳۰۸ و لا يعتبر فيه وصف النماء و ما زادَ على الدارِ الواحدة والدستجات الثلثة منَ الثيابِ يعتبر في الغنى ، وفيها بعد أسطر : وللمزارعِ ما زادَ على الثورينِ و آلة الحراثينِ و يعتبر قيمة الكرم والضيعة عندَ أبي يوسفَ و هلال رحمهما اللّه تعالى ، وفيها أيضاً : واذا كانَ له دارٌ لا يسكنها و يؤاجرها أوْ لا يؤاجرها يعتبرُ قيمتها في الغنى و كذا اذا سكنها و فضلَ عنْ سكناهُ شيئٌ يعتبرُ فيهِ قيمةُ الفاضلِ في النصابِ ويتعلقُ هذا النصابِ أحكامُ وجوب صدقة الفطرِ والأضحيةِ ﴿۱﴾ وهو الموفق .

د قرباني په وجوب کې د ځمکي پیداوار شمار دی او که قیمت؟

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د قرباني واجبېدل د ځمکې په پیداوار دي او که د ځمکې په قیمت؟ بینوا توجروا

المستفتي: شرف الدین بلوچستانی ..... ۱۹۷۶م / ۲ / ۵/

﴿۱﴾ (فتاوی خانیة علی هامش الهندیة ۱: ۲۲۷ کتاب الصوم، فصل في صدقة الفطر)

جواب: کومه ځمکه چې د استغلال لپاره وي؛ نو د هغې پيداوار معتبر دی او کومه ځمکه چې د پيداوار نه وي، لکه: يو خالي ځمکه چې د اوسېدو وړ نه وي او د ضرورت نه زياتي وي؛ نو بيا به په ديکښې د قيمت اعتبار وي، (د شامي د جزئياتو نه راخيستل شوې) ﴿۱﴾ و هندية ﴿۲﴾ وهو الموفق.

کور نه لرونکي صاحب نصاب باندې د قرباني د وجوب حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د يو سړي سره د ژوند ټولې اسانتياوې برابرې دي؛ خو يوازې د کور کمی دی، ايا په داسې سړي باندې قرباني واجب ده او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ..... ۱۳۹۶ هـ/ ذی القعده / ۲۸/

جواب: که د اختر په ورځو کې يو سړی د نصاب خاوند شي؛ نو په هغه باندې قرباني واجب ده، لأنّ الشرطَ هوَ كونُه فاضلاً عنِ الحوائجِ الأصليةِ لا عنْ قيمة الحاجة الأصليةِ وهو المختارُ

﴿۱﴾ فی ردالمحتار: (قوله واليسار) بان ملک مائتی درهم أو عرض يساويها غير مسكنه وثياب اللبس أو متاع يحتاجه الى أن يذبح الأضحية، ولوله عقار يستغله فقيل تلزم لو قيمته نصابًا، وقيل لو يدخل منه قوت سنة تلزم، وقيل قوت شهر فمتى فضل نصاب تلزمه.

(ردالمحتار ۵: ۲۱۹ كتاب الأضحية)

﴿۲﴾ فی الهندية: وإن كان له عقار ومستغلات ملک اختلف المشائخ المتاخرون رحمهم الله تعالى فالزعفرانی و الفقيه علی الرازی إعتبرا قيمتها وأبوعلی الدقاق وغيره إعتبروا الدخل واختلفوا فيما بينهم، قال أبوعلى الدقاق إن كان يدخل له من ذلک قوت سنة فعليه الأضحية، ومنهم من قال قوت شهر ومتى فضل من ذلک قدر مائتی درهم فصاعدًا فعليه الأضحية.

(فتاوی هندية ۵: ۲۹۳ كتاب الأضحية، الباب الأول)

عندَ صاحبِ البدائع﴿١﴾ وغيره منَ المحققينَ خلافاً لابنِ الملك﴿٢﴾ فليراجعْ الى زكوة البدائعِ ، دغه راز ددې سړي لپاره سوال کول او زکات اخيستل هم حرام دي. وهوالموفق

په کرايه کور کې اوسېدونکي صاحب نصاب باندې قرباني واجب ده

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې يو عالم په کرايه کور

﴿١﴾ قال العلامة الكاساني رحمه الله تعالىٰ: وأما الغنا الذى يحرم به أخذ الصدقة وقبولها فهو الذى تجب به صدقة الفطر والأضحية، وهو أن يملك من الأموال التى لاتجب فيها الزكاة ما يفضل عن حاجته وتبلغ قيمة الفاضل مائتى درهم من الثياب والفرش والدور والحوانيت...... فإذا فضل من ذلك ما يبلغ قيمته مائتى درهم وجب عليه صدقة الفطر والأضحية وحرم عليه أخذ الصدقة...... روى عن الحسن البصرى أنه قال: كانوا يعطون الزكاة لمن يملك عشرة آلاف درهم من الفرس والسلاح والخادم والدار، وقوله "كانوا" كناية عن أصحاب رسول الله ﷺ وهذا لأن هذه الأشياء من الحوائج اللازمة التى لابد للإنسان منها فكان وجودها وعدمها سواء.

(بدائع الصنائع ٢:١٥٨، ١٥٩ كتاب الزكاة، دفع الزكاة لمالك النصاب الخ)

﴿٢﴾ قال العلامة ابن نجيم: وشرط فراغه عن حاجته الأصلية لأن المال المشغول بها كالمعدوم وفسّرها فى شرح المجمع لابن الملك بما يدفع الهلاك عن الإنسان تحقيقاً أو تقديرًا فالثانى كالدين والأول كالنفقة ودور السكنى...... فإن كان له دراهم مستحقة ليصرفها إلى تلك الحوائج صارت كالمعدومة ...... فقد صرح بأن من معه دراهم وامسكها بنية صرفها إلى حاجته الأصلية لاتجب الزكاة إذا حال الحول وهى عنده ويخالفه ما فى معراج الدراية فى فصل زكوة العروض أن الزكاة تجب فى النقد كيفما أمسكه للنماء والنفقة.

(البحر الرائق ٢:٢٠٦ كتاب الزكاة)

کې اوسیږي، د کتابونو په لوست هم پیسې نه اخلي، د کور شیان يې هم پوره نه وي، د واده وروسته خپله خرچه د خپلې تنخا نه پوره کوي؛ نو که دی د ۷۲ توله سپینو زرو خاوند وي او کال هم ورباندې تېر شوی وي، اوسمهال د ۷۱۰ روپو مالك هم وي؛ نو ایا دا سړی په شریعت کې د مالداره خلکو څخه شمارل کیږي او که نه؟ ددې لپاره چې قرباني وکړي، ددې تولو مجموعې نه زکات ورکولای شي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولانا مغفور اللہ مدرس مدرسه رستم مردان ..... ۱۳۸۹ هـ/ ذی القعده / ۲۷/

جواب: دا سړی مالدار دی، زکات او نور واجب صدقات ورباندې واجب دي، ځکه چې دا سړی د چا قرض داره نه دی، قالَ العلامة الشامی ناقلاً عنِ البحرِ ویخالفه ما فی المعراجِ فی فصلِ زکوة العروضِ أنّ الزکوة تجبُ فی النقدِ کیفما أمسکه للنماءِ أوْ للنفقةِ و کذا فی البدائعِ فی بحثِ النماءِ التقدیری (رد المحتار ۲ : ۸) ﴿۱﴾، وفی العینی شرح الهدایة : والحاجة الأصلیةُ فی حقِّ الدراهمِ والدنانیرِ أنْ یکونَ الدینُ مشغولاً بها وفی غیرهما احتیاجه الیه فی الاستعمالِ و أمرِ المعاشِ (۱: ۱۲۷۴)﴿۲﴾ وهوالموفق .

په مقیم صاحب نصاب طالب باندې قرباني واجب ده

سوال: رجلٌ طالبُ العلمِ و معه ثمنٌ فاضلٌ منَ الحوائجِ الیومیةِ منْ ثمنِ المروجة فی هذا الزمانِ مائتی روبیة ، هلْ یجبُ علیه الأضحیةُ أمْ لا؟ وأی شیءٍ اعتبر له الحاجة الأصلیة؟ وهلْ وطنُ الاقامة له وطنٌ أمْ لا؟ وانْ سافر فی أیامِ العیدِ ما تقولونَ فی حقه ؟ وهلْ تجبُ علیه الزکوة أمْ لا؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد خان ترکستانی ..... ۴ /ذی الحجه

﴿۱﴾ (ردالمحتار ۳:۷ کتاب الزکوة، مطلب زکوة ثمن المبیع وفاء)

﴿۲﴾ (البنایة فی شرح الهدایة ۳: ۲۱۰ کتاب الزکوة، باب من یجوز دفع الصدقات الخ)

جواب: منْ كانَ ذا نصاب شرعی فاضلٍ عنِ الحاجة الأصلية بحيثُ لا يكونُ مديوناً يجبُ عليه الأضحيةُ و كذا الزكوة ، يدلُّ عليه ما فی البدائعِ والمعراجِ أنَّ الزكوة تجبُ فی النقدِ كيفما أمسكه للنماءِ أوْ للنفقةِ (فليراجعْ الی رد المحتارِ ۲ : ۸)«۱» وفی العينی شرح الهداية : والحاجة الأصليةُ فی حقِّ الدراهمِ والدنانيرِ أنْ يكونَ الدينُ مشغولاً بها وفی غيرهما احتياجه اليه فی الاستعمالِ و أمرِ المعاشِ ۱ : ۱۲۷۴،«۲»، نعم! اذا كانَ مسافراً لا تجبُ عليه الأضحيةُ بخلافِ الزكوة لما فی الدرالمختار فتجبُ الأضحيةُ على حرٍّ مسلمٍ مقيمٍ بمصر أوْ قريةٍ«۳»وفيه أيضاً : شرط افتراضها (الزكوة) عقلٌ وبلوغٌ واسلامٌ وحريةٌ «۴»، فالطالبُ ما دامَ مقيماً تجبُ عليه الأضحيةُ بشرط النصابِ الشرعی فاذا سافرَ سقطَ عنهُ الأضحيةُ ، قالَ فی الهندية ۵: ۳۲۴: ومنها الاقامة فلا تجبُ على المسافرِ ولا تشترطُ الاقامةُ فی جميعِ الوقتِ حتی لوْ كانَ مسافراً فی أوّلِ الوقتِ ثمّ أقامَ فی آخره تجبُ عليهِ ولوْ كانَ مقيماً فی أوّلِ الوقتِ ثمّ سافرَ ثمّ أقامَ تجبُ عليه ، هذا اذا سافرَ قبلَ أنْ يشتری الأضحيةَ فانِ اشتری شاةً للأضحيةِ ثمّ سافرَ ذكرَ فی المنتقی لهُ أنْ يبيعها و لا يضحی بها و كذا روی عنْ محمدٍ رحمه الله أنّه يبيعها ، انتهی ما فی الهندية«۵» وهو الموفق.

«۱» (ردالمحتار ۲: ۷ كتاب الزكوة، مطلب فی زكوة ثم المبيع وفاء)

«۲» (البناية فی شرح الهداية ۳: ۲۱۰ كتاب الزكوة، باب من يجوز دفع الصدقات الخ)

«۳» (الدرالمختار ۵: ۲۲۰ ، كتاب الأضحية)

«۴» (الدرالمختار ۲: ۳ كتاب الزكوة، قبيل مطلب الفرق بين السبب والشرط والعلة)

«۵» (فتاوی هندية ۵: ۲۹۳ كتاب الأضحية، الباب الأول فی تفسيرها الخ)

د اصلي حاجت لپاره ایښودل شوي روپو باندې د قرباني حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زما یو ضروري کار دی او هغه په لس زره روپۍ باندې پوره کیږي، اوس زما سره پنځه زره روپۍ شته او پنځه زره روپۍ نوري پیدا کوم. په داسې وخت کې راباندې لوی اختر راغی، ایا په ما باندې اوس ددې پنځه زره روپو په وجه قرباني واجب ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: مجیب الله متعلم دار العلوم حقانیه ..... ۱۴۰۲ هـ/ ذی الحجه/ ۲۸/

جواب: که دا حاجت قرضه پوره کوي؛ نو په تا باندې قرباني نه ده واجبه، ﴿۱﴾ او که دین متوقع وي؛ نو بیا قرباني درباندې درباندې واجب ده ﴿۲﴾ وهو الموفق.

په (جي پي) خزانې باندې د زکات او قرباني حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د یوې کورنۍ پنځه ورونه یو ځای اوسیږي، پلار یې وفات شوی، پلار یې زامنو ته

﴿۱﴾ قال العلامة الکاسانی رحمه الله تعالی: ولو کان علیه دین بحیث لو صرف إلیه بعض نصابه ینقص نصابه لا تجب لأن الدین یمنع وجوب الزکوة فلأن یمنع وجوب الأضحیة أولی لأن الزکاة فرض والأضحیة واجبة والفرض فوق الواجب.
(بدائع الصنائع ۴: ۱۹۴ کتاب التضحیة، شرائط الوجوب)

﴿۲﴾ قال العلامة الکاسانی رحمه الله تعالی: وقال الشافعی رحمه الله: یجوز دفع الزکوة إلی رجل له مال کثیر ولا کسب له وهو یخاف الحاجة ویجوز له الأخذ، وهذا فاسد لأن هذا دفع الزکوة إلی الغنی ولا سبیل إلیه لما بینا، وخوف حدوث الحاجة فی الثانی لا یجعله فقیرًا فی الحال ألا تری أنه لا یعتبر ذلک فی سقوط الوجوب حتی تجب علیه الزکوة فکذا فی جواز الأخذ. (بدائع الصنائع ۲: ۱۵۹ کتاب الزکوة، دفع الزکوة لمالک نصاب یخاف الحاجة)

د کور نه بغیر نور هیڅ شی په میراث کې نه دي پرې ایښي، درې یې په حکومت کې وظیفې لري، د یوه پکښې اته زره روپۍ، د بل ورور یې څلور زره او د بل ورور یې درې زره روپۍ په جي پي خزانه کې هم دي؛ نو ایا په دې ورونو باندې قرباني واجب ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الرؤف نديم صوابى ..... ١٤٠٥ هـ / صفر / ١٥/

جواب: په جي پي خزانه باندې زکات نشته، «۱» خو قرباني به کوي او یوازې حکومتي کارکوونکي به یې کوي «۲» وهوالموفق .

بې غابنو یو کلنی ګډه او وزه په اتفاق د عالمانو صحیح ده

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زید د لوی اختر نه ۱۵ ورځې وړاندې یو ګډ واخیست، خپله یې د هغې پالنه کول؛ خو تر یو کاله پورې یې دوه غابښونه پوره نه کړه، په داسې حال کې چې اوس یې د یو کال نه زیات وخت واړولو؛ نو ایا په دې باندې قرباني کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد نور الحسن سیالکوټ ښار ..... ١٩٧٢ م / ١٢ / ١٦/

«۱» فی امداد الفتاوی: فقهي روايتونو ته په کتو سره دا معلومیږي چې په دې خزانچي ذخیره باندې دتېرو ورځو زکات واجب نه دی.
(امداد الفتاوی ۲: ۴۸ کتاب الزکاۃ، فصل در صحیح وجوب یا عدم وجوب زکوٰۃ بر پراویډنټ فنډ)

وقال المفتي رشيد أحمد رحمه الله تعالى: د داد تفصل نه معلومیږي چې په (پراویډنټ) خزانه کې روپۍ د کاریګر ملکیت دی، مخکې له دې چې وصول شوي نه وي زکات پرې نشته او هغه څه چې پرې اخلې یې ټول حلال دي، د سود تعریف وربانديې نه صادقیږي. (احسن الفتاوی ۷: ۵۰ پراویډنټ فنډ پر زکوٰۃ اور سود کا حکم، باب الربا)

«۲» وفي مجمع الأنهر: هي واجبة.....وانما تجب على حر مسلم مقيم موسر عن نفسه. (مجمع الانهر ۴: ۱۶۶ كتاب الاضحية)

جواب: ګډ او وزه چې د یو کال شي په اتفاق د عالمانو او د امت په اجماع سره قرباني وربانديې کیږي. (صرحَ به في جمیعِ معتبرات الفقهِ)﴿۱﴾وهو الموفق.

د لنډو چېلیو او د یو کال نه کم عمر والا چېلیو د قربانی حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د یو کال نه شل ورځې کم یوه چېلی ده، ایا په دې بانديې قرباني کیږي او که نه؟ او په لنډو چېلیو د قربانی څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: صوبیدار محمد لطیف راولپنډی ...... ۱۳۹۷ هـ / ذی القعده / ۲۹/

جواب: د یو کال نه کم ګډ یا چېلي بانديې قرباني نه کیږي. اګر که په جسم کې د کال والا چېلی نه ډنګه دریږي، د پوره کال والا بانديې قرباني کیږي اګر که په جسم کې لنډه دریږي ﴿۲﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ في الهندية: وأماسنه فلا يجوز شيء مما ذكرنا من الإبل والبقر والغنم عن الأضحية إلا الثني من كل جنس...... والثني (من الغنم) ابن سنة.

(فتاویٰ هندية ٥:٢٩٧، كتاب الأضحية، الباب الخامس)

وفي الدرالمختار: وصحّ الثنيّ فصاعدًا من الثلاثة والثنيّ هو ابن خمس من الإبل وحولين من البقر وحول من الشاة والمعز. (الدرالمختار ٥:٢٢٦ كتاب الأضحية)

﴿۲،۳﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وصحّ الجذع ذوستة أشهر كذا في الهداية وفسّره في شرح الملتقى شرعًا بما أتى عليه أكثر الحول عند الأكثر...... (من الضأن) هو ماله إلية منح، قيد به لأنه لا يجوز الجذع من المعز وغيره بلا خلاف كما في المبسوط قهستاني. (ردالمحتار)

وقال العلامة الحصكفي: وصحّ الثني فصاعدًا من الثلاثة والثني هو ابن ......حول من الشاة والمعز. (الدرالمختار مع ردالمحتار ٥:٢٢٦ كتاب الأضحية) باتې حاشیه په بل مخ باندې

د شپږو مياشتو ګډ (ګډه) باندې د قربانۍ لپاره چاغښت ضروري دی

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د شپږو مياشتو د ګډ قرباني څنګه ده؟ ځيني خلك وايي چې د داسې ګډ قرباني جائز ده؛ خو چې سم لمور وي، ايا د دوی دا خبره صحيح ده؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا عبد القدوس ساهيوال

جواب: د شپږو مياشتو ګډ باندې قرباني كيږي، لمور كېدل پكښې احترازي قيد نه دی؛ خو دومره ده چې چاق به خامخا وي، يدلُّ عليهِ كتبُ الفقهية ﴿١﴾ وفى رد المحتارِ ٢ : ٢٥ : والضأنُ ما كانَ منْ ذواتِ الصوفِ والمعزُ منْ ذواتِ الشعرِ قهستانى ﴿٢﴾ قلتُ: فما فى شرحِ الوقاية وغيره هو

(بقيه حاشيه) وفى الاختيار: ويجزئ فيها ما يجزئ فى الهدى وهو الثنى من الكل وهو من الغنم ماله سنة...... ولا يجوز الجذع من الإبل والبقر والمعز.

(الإختيار لتعليل المختار ٥: ٢٣ كتاب الأضحية)

﴿١﴾ قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: (وجاز الثنى من الكل والجذع من الضان)...... وقال عليه الصلوٰة والسلام نعمت الأضحية من الضأن...... وقالوا هذا إذا كان الجذع عظيمًا بحيث لو خلط بالثنيات لا يشتبه على الناظرين والجذع من الضان ما تمت له ستة أشهر عند الفقهاء. (البحر الرائق ٨: ١٧٧ كتاب الأضحية)

وفى الخانية: ولا يجوز أجذعان إلا الجذع العظيم من الضأن وهو عند الفقهاء الذى أتى عليه أكثر لسنة ستة أشهر وشيئ من الشهر السابع فيجوز إذا كان عظيمًا سمينا بحيث لو رآه إنسان يحسبه ثنيا.

(فتاوى خانية على هامش الهندية ٣: ٣٤٨ كتاب الأضحية، فصل فى مايجوز من الضحايا وما لايجوز)

﴿٢﴾ (ردالمحتار ٢: ٢٠ باب زكاة البقر)

ماله الية ﴿١﴾ فتعريفٌ بالخاص كما اذا قيلَ المرأة من لها ثديانِ وهوالموفق.

د اصلي غاښ او شيدو غاښ فرق اعتبار نه لري

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې که د قرباني د حيوان اصلي غاښ نه وي ښکاره شوی، بلکې د شيدو په غاښ باندې خپله خوراکه کوي، عمر يې تر دوه کالو لږ ورزيات شوی هم دی. خلك وايي: چې دې شيدو والا غاښ نه غاښ نه ويل کيږي او نه هم ددې په کېدو سره حيوان (غوا، مېښه او غويی) بلوغ ته رسيږي، لکه: پرون يو سړي پوښتنه وکړه چې يوه غوا يو نيم کال عمر لري، خو تر اوسه پورې يې پوخ غاښ نه دی ښکاره شوی؛ نو قرباني وربانديې کيږي او که نه؟ نو ما ورته په نفي سره ځواب ورکړ؛ نو د شريعت له مخې عمر ته اعتبار دی او که پوخ غاښ ته؟ په قاضي خان او نورو کتابونو کې يې خو دوان اغتلفت بهافيجوزُ، الفاظ ليکلي، نو په همدې قانون که يو حيوان د دوه کالو وي او د شيدو غاښ يې وي او په هغه باندې خوراك هم کولای شي، قرباني وربانديې جائز ده. ځکه چې دغه حيوان خو د دوه کالو نه غټ عمر لري او دغه غاښ يې د خوراك برداشت هم کولای شي.

خلاصه: دا چې که يو حيوان د دوه کالو وي؛ خو خوراك په شيدو والا غاښ باندې کوي او پوخ غاښ يې نه وي ښکاره شوی، ايا ددې قرباني جائز ده او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: قيس نعماني رسالپور نوښار ...... ١٣٨٨ هـ / ذی القعده / ٣٠/

جواب: د اصلي او شيدو والا غاښ تر منځ فرق کول دا د پښتنو مسئله ده، په کتاب کې ددې هيڅ ياد نشته، ځکه چې ټولو فقهاؤ د ثني تشريح داسې کړې ده: ثنی هو ابنُ خمسٍ ... من الابلِ وحولينِ منَ البقرِ والجاموسِ وحولٍ منَ الشاةِ والمعزِ ﴿٢﴾ هيڅ چا هم د پوخ غاښ اعتبار نه دی کړی، دغه راز

﴿١﴾ (شرح الوقاية ٤: ٣٠ كتاب الأضحية)

﴿٢﴾ (الدر المختار ٥: ٢٢٦ كتاب الأضحية)..... پاتې حاشيه په بل مخ باندې

که د پوخ غاښ اعتبار وکړل شي؛ نو یوه غوا چې د دوه کالو وي او دوه پاخه غاښونه یې ښکاره شوي وي، پکار ده چې قرباني یې صحیح نه شي، ځکه چې ددې دوه غاښونو په موجودګۍ کې ددې غوا زیاتره غاښونه خو نشته او د اغتلاف لپاره دا پوره نه دي. فافهمْ وتدبرْ.

د کم عمر والا حیوان قرباني نه صحیح کیږي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د قربانۍ لپاره په شریعت کې کوم عمرونه ټاکل شوي دي؛ نو ایا که د هغو نه یوه لحظه هم کمه وي؛ نو قرباني پرې کیږي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الرحمن صاحب

جواب په عمر کې هیڅ کموالی نه منل کیږي، (هندیة ﴿۱﴾ وغیره) ﴿۲﴾ وهوالموفق.

(بقیه حاشیه) وفی الهندیة: وأما سنه فلا یجوز شيء مما ذکرنا من الإبل والبقر والغنم عن الأضحیة إلا الثنی من کل جنس...... والثنی من الغنم ابن سنة ومن البقر ابن سنتین ومن الإبل ابن خمس.

(فتاوی هندیة۵: ۲۹۷، کتاب الأضحیة، الباب الخامس فی بیان محل إقامة الواجب)

﴿۱﴾ فی الهندیة: وأما سنه فلایجوز شيء مما ذکرنا من الإبل والبقر والغنم عن الأضحیة الا الثنی من کل جنس...... والثنی من الغنم ابن سنة والثنی من البقر ابن سنتین ومن الإبل ابن خمس وتقدیر هذه الأسنان بما قلنا یمنع النقصان و لا یمنع الزیادة.

(هندیة۵: ۲۹۷ کتاب الأضحیة، الباب الخامس فی بیان محل إقامة الواجب)

﴿۲﴾ فی الهدایة: ویجزئ من ذلک کله الثنی فصاعدًا الا الضأن فإن الجذع منه یجزئ لقوله علیه السلام ضحوا بالثنایا إلا أن یعسر علی أحدکم فلیذبح الجذع من الضأن...... والثنی منها ومن المعز ابن سنة ومن البقر ابن سنتین ومن الإبل ابن خمس سنین.

(هدایة ۴: ۴۴۹، کتاب الأضحیة)

بې وجې د قربانۍ بدلول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې که د قربانۍ څناور بنه چاغ، ښایسته او تازه وي، د قربانۍ نه منع کوونکی یو عیب هم پکښې نه وي؛ نو ایا ددې خرڅول او په بدل کې یې بل حیوان اخیستل جائز دي او که ناجائز؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد عبد الرحیم عزیز موضع مولی پور ضلع ملتان ۱۹۶۹م/ ۳/۱۹/

جواب: جائز دي خو سره له کراهته. (خانیه)﴿۱﴾ وهوالموفق .

د نورو په کښت کې څریدونکي حیواناتو قرباني صحیح ده

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د یو بزګر غوا ده، تړي یې نه بلکې هر وخت د نورو په کښت باندې څرېږي، د لوی اختر په ورځ بزګر دغه قرباني کولای شي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد عبد الرحیم عزیز موضع مولی پور ضلع ملتان ۱۹۶۹م/ ۳/۱۹/

﴿۱﴾في الخانية: إذا اشترى شاة ينوي بها الأضحية ...... ففي ظاهر الرواية لا تصير أضحيةً ما لم يوجبها بلسانه ،وعن أبي يوسف عن أبي حنيفة رحمهما الله تعالى أنها تصير أضحية بمجرد النية كما لو اوجبها بلسانه و به أخذ أبو يوسف رحمه الله تعالى و بعض المتاخرين ،و عن محمد رحمه الله تعالى في المنتقى إذا اشترى شاة ليضحي بها و اضمر نية التضحية عند الشراء تصير أضحية كما نوى ......و لو باعها يجوز بيعها في قول أبي حنيفة و محمد رحمه الله تعالى إلا أنه يكره .

(فتاوى خانية على هامش الهندية ۳: ۳۴۶، ۳۴۷، كتاب الأضحية)

جواب: تر اوسه پورې یې مالك معلوم دی؛ نو په قربانۍ کولو یې هیڅ اعتراض نشته ﴿۱﴾ وهو الموفق.

د زیات یا نیم اندام د نه موجودېدو په وخت د حیوان د قربانۍ حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې که د یو حیوان زیات یا نیم غوږ نه وي چې د اورېدو کار ترې نه شي اخیستی؛ نو د داسې حیوان قرباني څه حکم لري؟ **بینوا توجروا**

المستفتي: مولانا مغفور الله مدرس مدرسه رستم مردان ..... ۱۳۷۹ هـ/ ذی القعده/ ۲۷/

جواب: صحیح او مفتی به قول دا دی چې که د یو حیوان زیات یا نیم اندام نه وي؛ نو د داسې حیوان قرباني نه صحیح کیږي، که اندام یې وي؛ نو بیا صحیح کیږي ﴿۲﴾ وهو الموفق .

﴿۱﴾ وفی الولوالجیة: لأنه لم یکن تصحیح الأضحیة عنه إلّا بإثبات الملک فی الشاة.

(فتاویٰ الولوالجیة ۳: ۷۳ الفصل الثالث فیما تجوز الأضحیة عنه)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالیٰ: کما حلّ أکل جدی غذی بلبن خنزیر، لأن لحمه لا یتغیر، وما غذی به یصیر مستهلکا لا یبقیٰ له أثر.

(الدرالمختار ۵: ۲۴۰ کتاب الحظر والإباحة)

وقال العلامة المفتی محمود حسن رحمه الله تعالیٰ: ددې سړي دا کار حرام دی چې خپله غوا دبل په کبنت کې بې اجازې څروي، خوددې وجې دده غوا نه حرامیږي بلکې قرباني یې صحیح ده. (فتاویٰ محمودیه ۱۷: ۳۹۲ باب مایکون عیافي الاضحیة ومالا)

﴿۳﴾ قال العلامة شیخی زاده رحمه الله تعالیٰ: وفی القهستانی: أن کل عیب مانع لها إن کان أکثر من النصف لا یجوز بالإجماع وإن کان أقل منه یجوز بالإجماع.

(مجمع الأنهر ۴: ۱۷۲ کتاب الأضحیة)...... پاتې حاشیه په بل مخ باندې

حامله (بلارب) حیوان خرڅول او په بدل کښې یې کم قیمته حیوان اخیستل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زید یو حامله (بلارب) حیوان واخیست، هغه یې بېرته په اوه سوه (۷۰۰) روپۍ خرڅ کړ، په بدل کې یې وربانديې بل حیوان په (۵۰۰) روپۍ واخیست، دوه سوه روپۍ ورته زیاتي پاتي شوې؛ نو ددې قرباني کول څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: حفظ الرحمن کوهاټ..... ۱۳۹۶ هـ / ذی الحجه /۲/

جواب: دوه سوه روپۍ دې صدقه کړيﹸ ﴿۱﴾ وهو الموفق .

د اختر نه مخکې د ناروغ حیوان د قربانۍ حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زید غریب او عمر مالدار دی، دواړو ځان - ځان ته قرباني واخیستلې، وروسته دواړه

(بقیه حاشیه) وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: واختلف أصحابنا في الفاصل بين القليل والكثير، فعن أبي حنيفة أربع روايات..... والرابعة هي قولهما قال في الهداية: وقالا: إذا بقي الأكثر من النصف أجزاه وهو اختيار الفقيه أبي الليث ..... وفي غاية البيان ووجه الرواية الرابعة وهي قولهما وإليه رجع الإمام أن الكثير من كل شيئ أكثره، وفي النصف تعارض الجانبان آه أي فقال بعدم الجواز احتياطًا بدائع، وبه ظهر أن ما في المتن كالهداية والكنز والملتقى هو الرابعة وعليها الفتوى.

(ردالمحتار ۵: ۲۲۷، ۲۲۸ كتاب الأضحية)

﴿۱﴾ في الهندية: رجل اشترى شاةً للأضحية وأوجبها بلسانه ثم اشترى أخرى جاز له بيع الأولى في قول أبي حنيفة ومحمد رحمهما الله تعالى وإن كانت الثانية شرًا من الأولى وذبح الثانية فإنه يتصدق بفضل ما بين القيمتين.

(فتاویٰ هندية ۵: ۲۹۴ كتاب الأضحية، الباب الثاني)

ناروغه شو، ایا اوس نوی حیوان ځان ته واخلي او که همدا صحیح دی؟ که مسئله دا وي چې موږ نوی واخلو؛ نو د اوسنیو حیواناتو سره بیا څه وکړو؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الحمید لدها ډی آی خان / ذی الحجه/

جواب: دا حیوانات خو د اختر نه وړاندې اخیستل شوي دي، خرڅول یې اسانه دي، کما هومفهوم التتارخانیة ﴿۱﴾.

دغه راز دا حیوانات په ظاهره کې د عیب نه خالي دي؛ نو خرڅول یې هم ضروري نه دي، که دواړه نوي حیوانات اخیستلي وي؛ نو که نذر منل شوی وي او یا هم سړی غریب وي بیا به دواړه حیوانات ذبح کوي او که نذر نه وي منل شوی یا غربت نه وي بیا د یو حیوان ذبح کول هم کافي دي ﴿۲﴾ وهوالموفق.

د حامله (بلارب) حیوان قرباني او د خرڅولو حکم یې

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې که یو سړی دلوی اختر دقرباني لپاره سره له دې چې په حمل یې بوه شي، غوا، ګډه یا چیلۍ

﴿۱﴾ قال العلامة الشامي رحمه الله تعالى: ووقع في التتار خانية التعبير بقوله شراها لها أيام النحر وظاهره أنه لو شرها لها قبلها لا تجب ولم أره صريحًا.

(ردالمحتار ۵: ۲۲۶ كتاب الأضحية)

﴿۲﴾قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ولو اشتراها سليمة ثم تعيبت بعيب مانع فعليه إقامة غيرها مقامها إن كان غنيًا، وإن كان فقيرًا أجزأه ذلك...... وكذ لو ماتت فعلى الغني غيرها لا الفقير، ولو ضلّت أوسرقت فشرى أخرى فظهرت فعلى الغني إحداهما وعلى الفقير كلاهما.

(الدرالمختار ۵: ۲۲۹ كتاب الأضحية).

واخلي، يا يې د ذبح په وخت حمل معلوم شي، ايا دا قرباني جائز ده او كه ناجائز؟ ځينې مولوي صاحبان وايي: ددې په نس (خېټه) كې چې كوم حيوان وي هغه هم په قربانۍ كې شمار دی، ايا د دوی دا خبره څه حقيقت لري او كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم..... ۱۹۷۶ هـ / ۹ / ۷/

جواب: د حامله (بلارب) حيوان قرباني او اخيستل خرخول يې دواړه روا دي، لعدم ورود المنع في الروايات الحديثية ولا الفقهية و لا جنس محل اقامة الواجب الغنم والابل والبقر وهو مطلق﴿۱﴾ولأنّ الحمل ليس بعيب.﴿۲﴾وهوالموفق

د څناور خصي كول او د قربانۍ حكم يې

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې (۱) ، (۲) يو سړي د قربانۍ لپاره ځان ته يو حيوان وساتلو بيا يې هغه خصي كړ او خصيتين (خوټې) يې ترې وويستل، كه ددې قرباني جائز نه وي؛ نو دا سړی به بل حيوان اخلي او كه له بل چا سره شريك شي؛ نو بيا څه حكم لري؟

(۳) دا دول خصي كول ظلم او ګناه ده او كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد زاهد توپی مردان ..... ۱۹۷۹ م / جولائی / ۱۷/

﴿۱﴾ وفي خلاصة الفتاوى: رجل له شاة حامل أراد ذبحها إن تقاربت الولادة يكره الذبح عند أبي حنيفة رحمه الله تعالى.

(خلاصة الفتاوى ۳:۷،۳۰ كتاب الذبائح، الفصل الأول)

﴿۲﴾ وفي الهندية: اما جنسه فهو أن يكون من الأجناس الثلاثة الغنم أو الإبل أو البقر ويدخل في كل جنس نوعه والذكر والأنثى منه والخصي والفحل لانطلاق إسم الجنس على ذلك.

(فتاوى هندية۵:۷،۲۹۷ كتاب الأضحية، الباب الخامس في بيان محل إقامة الواجب)

جواب: (۱)، (۲) د خصي حيوان قرباني صحيح ده. (ابوداؤد «۱» وشامی) «۲».

(۳) جائز ده، لمصلحة طيب اللحم «۳» وهوالموفق.

د خصي حيوان قرباني صحيح کيږي

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې ايا د خصي حيوان قرباني صحيح کيږي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: شيرين بادشاه ضلع پشاور ډاکخانه پوره ..... ۱۳۹۶ هـ / ذی الحجه / ۲۸/

جواب: خصي هغه حيوان ته ويل کيږي چې خصيتين (خوټي) يې ويستل شوي وي، کما صرّح به محشی ابی

«۱» عن جابر بن عبد الله رضی الله تعالی عنه: قال ذبح النبیﷺ يوم الذبح كبشين أقرنين أملحين موجوئين.

(سنن أبی داؤد ۲: ۳۸۶ كتاب الضحايا، باب ما يستحب من الضحايا)

«۲» قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: مشى ابن وهبان على أنّ الذكر فی الضأن والمعز أفضل لكنّه مقيد بما إذا كان موجوءاً أی مرضوض الأنثيين أی مدقوقهما.

(ردالمحتار ۶: ۳۲۷ كتاب الأضحية)

«۳» وفی تكملة البحر: (وخصی البهائم) يعنی يجوز لأنّه عليه الصّلٰوة والسّلام ضحّٰی بكبشين أملحين موجوأين والموجوء هو الخصی ولأن لحمه يطيب به.

(تكملة البحر الرائق ۸: ۲۰۳ كتاب الأضحية)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وجاز خصاء البهائم وقيدوه) أی جواز خصاء البهائم بالمنفعة وهی إرادة سمنها أو منعها عن العض.

(ردالمحتار ۶: ۲۷۵ كتاب الحظر والإباحة، فصل فی البيع)

داؤد﴿١﴾ويشيرُ اليهِ كلامُ البدائع ٥: ٥٠: والموجوئتينِ مدقوق الخصيتينِ وقيلَ هو الخصى كذا روى عنْ أبي حنيفةَ رحمه الله تعالى أنه سئلَ عنهُ عنِ التضحية بالخصى ؟فقالَ ما زادَ في لحمه أنفعُ مما ذهبَ منْ خصيتيهِ فافهمْ﴿٢﴾ وهوالموفق.

د بنکر ماتي حيوان د قرباني حکم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې ما د قربانۍ لپاره ځان ته يو چېلۍ واخيست، د ښخ نه لږ پورته يې يو ښکر مات شوی ؤ، اندازتاً درې اينچه ښکر نور هم پاتې دی، نور کوم تاوان يې په چيلي کې نه دی راوستی، يوازې دا چې په ښايست کې يې لږ فرق راغلی دی، ايا ددې حيوان قرباني صحيح ده؟ بينوا توجروا

المستفتي: فعل خان پنډی ..... ١٩٨٤ م / اکست / ٢١/

جواب: ددې چيلي قرباني صحيح ده، ځکه چې ددې ښکر ماتېدل هيڅ نقصاني نه دي؛ خو که ښکر په ښخ کې داسې مات شوی وي چې د مغز هډوکي ته يې تاوان رسولی وي بيا نقصان رسوي.(كما في أضاحي البدائع)﴿٣﴾وهوالموفق.

﴿١﴾على حاشية أبي داؤد: قوله موجوئين آه قال الخطابي الموجوء منزوع الأنثيين والموجاء الخصاء وفيه جواز الخصى في الأضحية وقد كرهه بعض أهل العلم لنقص العضو لكن ليس هذا عيبا لأن الخصاء يفيد اللحم طيبا وينفي عنه الزهومة وسوء الرائحة.
(هامش سنن أبي داؤد ٢: ٣٨٦، حاشية:٧ ،باب مايستحب من الضحايا)

﴿٢﴾(بدائع الصنائع ٣: ٢٢٣ باب مايستحب من الأضحية)

﴿٣﴾في البدائع :وروى أن رجلا من همدان جاء إلى سيدنا عليّ رضى الله تعالى عنه فقال يا أمير المؤمنين البقرة عن كم؟ قال عن سبعة، ثم قال مكسورة القرن؟ قال لا ضير..... فإن بلغ الكسر المشاش لا تجزيه، والمشاش رؤس العظام مثل الركبتين والمرفقين.
(بدائع الصنائع ٣: ٢١٦ ، كتاب التضحية)

د هډوکي د روغوالي پروخت د ښکر ماتي حیوان د قرباني حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د یوې چیلۍ ښکر مات دی، نه کوم زخم شته او نه هم د زخم اوبه، بلکې روغ رمټ دی، په داسې حال کې چې د چیلي عمر د یو کال نه زیات دی. ایا د داسې چیلي قرباني جائز ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: حافظ محمد یعقوب کوئټه ..... ۱۹۷۵ م / مارچ / ۱۵/

جواب: داسې چیلۍ چې ښکر یې مات وي او د مغز هډوکي ته تاوان نه ورکوي، قرباني یې جائز ده (بدائع کتاب الأضحیة) ﴿۱﴾ وهو الموفق.

د قرباني د حیوان ښکرونه نه کېدل او یا یې هم زیاتره برخه ماتېدل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې ما د قرباني لپاره ځان ته یو ګډ واخیست، کله چې مي کور ته راورسولو؛ نو راته معلومه شوه چې د یو ښکر درې برخې یې نشته، یوازې یوه برخه ښکر یې پاتې دی، ایا اوس په دې باندې قرباني کیږي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: شیر اسلم دره بازار کوهاټ ..... ۱۳۹۷ هـ / شوال/ ۲۲/

جواب: د ښکر نه کېدل قرباني ته هیڅ تاوان نه رسوي، په دې شرط چې مغزو ته یې کوم زیان نه وي اړولی، کما فی رد المحتار ۵: ۴۱۲ : ویضحی بالجماء هي التي لا قرنَ لها خلقةً وکذا لعظماء التي ذهبَ بعض قرنها بالکسر أوْغیره فانْ بلغَ الکسرَ الی

﴿۱﴾ فی البدائع: وروی أن رجلًا من همدان جاء إلی سیّدنا علیّ رضی الله تعالی عنه فقال یا امیر المؤمنین البقرة عن کم؟ قال عن سبعة، ثم قال مکسورة القرن؟ قال لا ضیر..... فإن بلغ الکسر المشاش لا تجزیه، والمشاش رؤس العظام مثل الرکبتین والمرفقین.

(بدائع الصنائع ۴: ۲۱۶ کتاب التضحیة)

الخ لم يجزْ قهستانى ، وفى البدائع : اِنْ بلـغَ الكسـرَ المشـاشَ لا يجـزى والمشاشُ رؤسُ العظامِ مثل الركبتينِ والمرفقينِ«١». انتهى قلتُ : وهو محمـل ما ورد منَ النهى«٢»وهوالموفق .

د ګوډ حیوان د قربانۍ مسئله

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې يو حيوان داسې ګوډ دی چې دشتې ته د وينو لپاره خپله ځي، ددې قرباني جائز ده او كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: رحيم الله اضاخيل بالا ١٩٧٥م/ ١١/ ١٠/

جواب: ستاسو درانه حضور ته السلام عليكم! مسئله دا ده كه په دې حيوان كې بل عيب نه وي، بلكې يوازې د ګوډ والي دا لږ عيب وي؛ نو دا قرباني نه منع كوي، يعنې قرباني يې جائز ده، يدل عليه ما فى الدر المختارِ وغـيره ، والعرجاء التى لا تمشى الى المنسك انتهى قلتُ : وهذا الحيوانُ المسؤل عنها ليسَ كذلك«٣»وهوالموفق .

«١» (ردالمحتار ٥:٢٢٧ كتاب الأضحية)

«٢» فى سنن أبى داؤد: نهى رسول الله ﷺ عن المصفرة والمستأصلة..... والمستأصلة التى يستأصل قرنها من أصله.

(سنن أبى داؤد ٢ :٣٨٧ باب مايكره من الضحايا)

«٣» (الدرالمختار ٥:٢٢٧ كتاب الأضحية)

وفى المرقاة: عن البراء بن عازب رضى الله تعالى عنه أن رسول الله ﷺ سئل ما ذا يتقى من الضحايا ؟ فأشار بيده فقال أربعًا العرجاء البين ظلعها بسكون اللام ويفتح اى عرجها وهو ان يمنعها المشى. (مرقاة المفاتيح ٣: ٣١٠، ٣١١ باب فى الأضحية)

د ګډي د کوناټي وروسته وروکې لکۍ د کوناټي جزء دی

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د ګډي د کوناټي وروسته وړه غونډې لکۍ ده، که هغه کاټ شي؛ نو قرباني وربانديې کيږي او که نه؟ د لکۍ حکم خو معلوم دی ليکن مشکل دا دی چې د لکۍ ځان ته اعتبار دی او که د کوناټي سره د لکۍ يو حکم دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا مفتي محمد سردار دار العلوم عربيه تل هنګو ۱۹۸۶م/ ۶/ ۸/

جواب: دا لکۍ د کوناټي جزء دی، ځکه چې له ده سره متصل دی ﴿۱﴾ وهو الموفق.

کمزوری حيوان خرڅول او قوي وربانديې اخيستل

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې که د قرباني حيوان يو څه کمزوری وي او هغه خرڅ کړي، په بدل کې يې بل قيمتي حيوان واخيستل شي؛ نو قرباني څه حکم لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد عبد الرحيم کبير والا ضلع ملتان ۱۹۶۹م/ ۳/ ۱۹/

جواب: جائز ده خو سره له کراهته (خانيه) ﴿۲﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله ولا التي لا إلية لها خلقة) الشاة إذا لم يكن لها اذن ولا ذنب قال محمد لايكون هذا ولو كان لايجوز وذكر في الأصل عن ابي حنيفة انه يجوز خانية، ثم قال: وإن كان لها إلية صغيرة مثل الذنب خلقة جاز أما على قول ابي حنيفة فظاهر لأن عنده لو لم يكن لها اذن أصلا ولا إلية جاز، وأما على قول محمد صغيرة الأذنين جائزة وإن لم يكن لها إلية ولا اذن خلقة لا يجوز.

(ردالمحتار ٥:٢٢٨ كتاب الأضحية)

﴿۲﴾ في الخانية: إذا اشترى شاة ينوى بها الأضحية ..... عن ابي يوسف عن ابي حنيفة رحمهما الله تعالى أنها تصير اضحية بمجرد النية ..... پاتې حاشيه په بل مخ باندې

د اوښ په قرباني کې د اوه (۷) کسانو نه زيات کسان شريکېدل

سوال: د دين عالمان او مفتيان د دې مسئلې په اړه څه وايي چې د اوښ په قرباني کې د اوه (۷) نه زيات کسان شريکېدای شي او که نه؟ که زيات کسان شريکېدای شي نو د کوم کتاب حواله هم راته وليکئ؛ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي غوث الرحمن حيد آباد سندهـ ...... ۱۹۶۹م / ۲/۱۶/

جواب: په اوښ کې د اوه کسانو څخه زيات کسان نه شي شريکېدلای، في الهندية ٥: ٣٣٠: لا يجوزُ بعيرٌ واحدٌ ولا بقرةٌ واحدةٌ عنْ أكثرَ منْ سبعةٍ ويجوزُ ذلك عنْ سبعةٍ وَّ أقلَّ منْ ذلك﴿۱﴾وهو الموفق.

(بقيه حاشيه) كما لو أوجبها بلسانه وبه أخذ أبو يوسف رحمه الله تعالى وبعض المتأخرين، وعن محمد رحمه الله تعالى في المنتقى إذا اشترى شاةً ليضحي بها وأضمر نية التضحية عند الشراء تصير أضحية كما نوى...... ولو باعها يجوز بيعها في قول أبي حنيفة ومحمد رحمهما الله تعالى إلا أنه يكره.

(فتاوى خانية على هامش الهندية ٣: ٣٤٦، ٣٤٧، كتاب الأضحية)

﴿۱﴾ (فتاوى هندية ٥: ٢٩٧ كتاب الأضحية، الباب الخامس)

وقال العلامة طاهر بن عبد الرشيد رحمه الله تعالى: والبعير والبقر تجزئ عن سبعة...... والتقدير بالسبع يمنع الزيادة ولا يمنع النقصان حتى لو كانت الشركاء في البدنة والبقرة ثمانية لم يجزهم.

(خلاصة الفتاوى ٤: ٣١٥، كتاب الأضحية، الفصل الرابع في ما يجوز من الأضحية الخ)

د پلار او زوی په شريکي کار کې قرباني په چا واجب ده؟

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زيد د بچيانو پلار دی، کورته ګټه زامن او پلار يو ځای په شريکه راوړي، په دې صورت کې په پلار او زامنو يوه قرباني واجب ده او که هر يو به ځان - ځان ته قرباني کوي؟ بينوا توجروا

المستفتي: ګل هاشم

جواب: که بچيانو د پلار سره دا فيصله کړې وي چې تجارت او ګټه به شريکي وي؛ نو په دې صورت کې په بالغو هلکانو هم قرباني واجب ده،﴿۱﴾ که نه نو يوازې په پلار به قرباني واجب وي ، يدلُّ عليه ما في رد المحتار : الأبُ وابنه يكتسبانِ في صنعةٍ واحدةٍ ولَم يكنْ لهما شيءٌ فالكسبُ كله للأبِ انْ كانَ الابنُ في عياله لكونه معيناً له (۳: ۳۸۳)﴿۲﴾وهوالموفق.

د ورونو په شريکي ګټه کې قرباني په چا واجبه ده؟

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې موږ په کور کې څلور کسان يو ، زموږ ټولو سره چې څومره شريك مال دی هغه اندازاً شپږ زره (۶۰۰۰) روپۍ جوړېږي، پوره کال د کښت ته هم ګټه ترلاسه کوو او د پوره کال خرڅې هم له دغو روپو څخه کوو، کله چې ښې د ورونو غم - ښادي راشي هغه هم ترې پوره کوو، مطلبي خبره دا ده چې ددې ورونو په دې شريك کار او شريکي ژوند له امله په لوی اختر کې قرباني واجب ده او که نه؟ که قرباني واجب وي؛نو ايا هر ورور به موځان ته قرباني کوي او که ټول به په

﴿۱﴾ في البدائع: ولوكانت الفضة مشتركة بين اثنين فإن كان يبلغ نصيب كل واحد منهما مقدار النصاب تجب الزكاة وإلّا فلا، ويعتبر في حال الشركة مايعتبر في حال الانفراد. (بدائع الصنائع ۲: ۱۰۱ كتاب الزكاة، فصل في الأثمان المطلقة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار ۳: ۳۸۳ كتاب الشركة، فصل في الشركة الفاسدة)

شریکه یوه قرباني کوو؟ بینوا توجروا

المستفتي: حبیب الرحمن متعلم دار العلوم تعلیم القرآن راولپنډی ..... ۱۹۷۷م/ ۱۰ / ۱۹/

جواب: دا ټول شریك ورونه دي د خپل كور د ضروري شیانو نه بغیر، حیوانات، کور او نور شیان په پیسو کې شمار کړي او بیا دي په څلورو کسانو تقسیم کړي، که هر ورور ته د ۱۵ روپۍ فی توله سپین زرو په حساب ۵۲،۵۰ × ۱۵ = ۷۸۷،۵۰ روپۍ ترې جوړي شي؛ نو په هر بالغ باندې قرباني واجب ده، ﴿۱﴾ که دومره اندازه روپۍ هر یوه ته نه رسیږي بیا په یو ورور هم قرباني نه کیږي وهو الموفق.

د اوه کسانو شراکت په دوه غواګانو کې

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې اوه کسانو د قربانۍ لپاره په شریکه دوه غواګانې واخیستلې، ددې څه حکم دی؟ ځینې عوام خلك وایي چې په دوه حیواناتو کې شریکي قرباني نه کیږي، که کیږي نو د غوښې د تقسیمولو طریقه څه ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: حاجي رحمت الله ..... ۱۹۷۲م/ ۱ / ۲۰/

جواب: په یاد صورت کې د هر یو سړي برخه د ۱/۷ ځخه کمه نه ده؛ نو قرباني هم جائز ده، ﴿۲﴾

﴿۱﴾ فی الهندية: ولا يجوز دفع الزكاة إلى من يملك نصابًا أیّ مال كان دنانير أو دراهم أو سائم أو عروضًا للتجارة أو لغير التجارة فاضلًا عن حاجته فی جميع السنة.
(فتاوی هندیة ١: ١٨٩ باب المصارف)

وفی البدائع: ويعتبر فی حال الشركة ما يعتبر فی حال الانفراد.
(بدائع الصنائع ٢: ١٠١ كتاب الزكوٰة فصل فی الأثمان المطلقة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفی رحمه الله تعالى: شاة بالرفع بدل من ضمير تجب أوفاعله (أو سبع بدنة)...... ولو لأحدهم أقل من سبع لم يجز عن أحد وتجزئ عما دون سبعة بالأولى. (درمختار)

وقال العلامة الطحطاوی رحمه الله تعالى: (قوله وتجزئ عما دون سبعة) أی بشرط أن يكون لكل سبع أو أكثر حلبی. (طحطاوی علی الدر ٤: ١٦١ كتاب الأضحية)

هره غوا به اوه - اوه برخي تقسیم کړي، په داسې صورت کې چې د هر یو اوه برخې به جوړي کړي. وهوالموفق

د غوا اخیستلو وروسته نور کسان شریکول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې یو سړی د قربانۍ لپاره ځان ته غوا واخلي او د اختر په ورځ له ځانه سره نور کسان هم په همدې غوا باندې د قربانۍ لپاره شریکان کړي، د غوا قیمت معلوم کړي او د شریکانو نه روپۍ واخلي، ایا دا قرباني جائز ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي محمد یوسف مقام عربي بانډه ضلع مردان پیرآباد .....

۱۹۶۹م / ۲ / ۴/

جواب: که دې سړي د غوا د اخیستلو پرمهال دا اراده کړې وي چې زه به مثلا شپږ کسان له ځانه سره شریکوم؛ نو بې شکه قرباني یې جائز ده، که دا اراده یې د اول سره نه وي کړې؛ نو قرباني یې جائز ده؛ خو سره له کراهته. (رد المحتار ٥: ٢٧٦) ﴿١﴾ وهوالموفق

په کورني معلوم څناور کې د قربانۍ لپاره نور کسان شریکول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د یو سړي سره په کور کې د قربانۍ لپاره څناور وي او هغه له ځانه سره نور کسان شریکان کړي او قرباني وکړي، ایا د دوی قرباني کیږي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي محمد یوسف مقام عربي بانډه ضلع مردان پیرآباد .....

۱۹۶۹م / ۲ / ۴/

جواب: لکه څرنګه چې اخیستل شوی څناور دیوچا ملکیت وي؛ نو کورنی څناور هم د چا ملکیت دی، لکه څرنګه چې په لومړي حیوان کې شراکت جائز دی

﴿١﴾ في ردالمحتار: وفي الهداية والأحسن أن يفعل ذلك قبل الشراء ليكون أبعد عن الخلاف وعن صورة الرجوع في القربة وفي الخانية ولولم ينو عند الشراء ثم أشركهم فقد كرهه أبوحنيفة رحمه الله تعالى. (ردالمحتار ٥: ٢٢٣ كتاب الأضحية)

د غه راز په دې بل حيوان کې هم شراکت جائز دی، که د شراکت اراده د تعين نه وړاندې وي بيا خو بې کراهته جائز دی، که اول يې د خپلې قربانۍ لپاره متعين کړی وي؛ خو وروسته نور شريکان پيدا کړي بيا د مالداره او غريب دواړو لپاره جائز دي خو سره له کراهته.《١》 وهو الموفق

په لوی حيوان کې د اوه کسانو نه کم کسان شريکان کېدل

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د قربانۍ په لوی حيوان کې د اوو (٧) نه کم شپږ، پنځه يا څلور کسان شريک شي؛ نو ايا قرباني بې کيږي او که نه؟ په جواب کې يې د کتابونو حوالې وليکئ! بينوا توجروا

المستفتي: مولوي غلام قادر تحصيل مانسهره ...... ١٩٧٠م/ ٤ / ٢٢/

جواب: که د اومې برخې نه د چا يکښې کمه برخه نه وي؛ نو جائز دي، قالَ فى البدائع: ولا شك فى جواز بدنة أوْ بقرة عنْ أقلّ منْ سبعةٍ بأنْ اشترك اثنــان أوْ ثلاثة أوْ أربعة أو خمسة أو ستة فى بدنة أوْ بقرة لأنه لمّا جازَ السّبْعُ فالزيادةُ أولى و سواءٌ اتفقت الأنصباءُ فى القدرِ أوْ اختلفَ بأنْ يكونَ لأحدهمْ النصفُ و للآخــر الثلث وللآخر السدسُ بعدَ أنْ لا ينقصَ عنِ السبعِ (٥: ٧١)《٢》 و بمعنـاهُ فى تكملة البحر ١٧٤ :٨ كتابُ الأضحية《٣》 وهو الموفق.

《١》فى الهـنـدية: والبقر والبعير يجزئ عن سبعة ...... و لو اشترى بقرة يريد أن يضحى بهـا ثم أشرك فيها ستة يكره و يجزيهم ...... إلّا أن يريد حين اشتراها أن يشركهم فيهافلا يكره. (فتاوى هندية٥: ٣٠٢ كتاب الأضحية، الباب الثامن)

و فى شرح الوقاية: وصحّ اشتراك ستة فى بقرة مشترية لأضحية استحسانًا ...... وجه الاستحسان أنه قد يجد بقرة سمينة ولا يجد الشركاء وقت البيع فالحاجة ماسة إلى هذا وذاقبل الشراء أحب، ذا إشارة إلى الاشتراك وعن أبى حنيفة يكره الاشتراك بعد الشراء. (شرح الوقاية ٤: ٣٧ كتاب الأضحية)

《٢》 (بدائع الصنائع ٤: ٢٠٧ كتاب التضحية، محل إقامة الواجب)

《٣》 وفى تكملة البحر: قوله شاة أو سبع بدنة ...... پاتې حاشيه په بل مخ باندې

په معاون زوی باندې د قربانۍ حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زما زوی زما کار او تجارت پرمخ وړي، هغه ته مې د کار ټول اختیارات په لاس کې ورکړي دي، تر دې چې هغه د حج سپېڅلې فریضه هم په خپله خوښه ادا کړې ده، ایا هغه یوازې قرباني کولای شي؟ بینوا توجروا

المستفتي: سید محمد بلوچستان ..... ۱۳۹۷ هـ / ذی الحجه/۷/

جواب: که ستا زوی ستا معاون وي او شریک دي نه وي؛ نو په هغه باندې قرباني واجب نه ده، ﴿۱﴾، ﴿۲﴾ وهو الموفق.

اومه برخه د ټولو ورونو له طرفه او د نورو شریکانو د قربانۍ حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زید او د هغه دوه حقیقي ورونه د پلار په پاتې میراث کې سره شریک دي، په دوی کې زید مشر دی او هر کال د قربانۍ په حیوان کې اومه برخه کې شراکت اخلي او دده دا فکر دی چې د ټولو ورونو له طرفه زه قرباني کوم. نور ورونه او خویندې هم

(بقیه حاشیه) بیان للقدر الواجب ..... وتجوز عن ستة أو خمسة أو أربعة أو ثلاثة ذكره في الأصل لأنه لمّا جاز عن سبعة فما دونها أولى ولا يجوز عن ثمانية.

(تكملة البحر الرائق۸: ۱۷۳، كتاب الأضحية)

﴿۱﴾ في ردالمحتار: الأب وابنه يكتسبان في صنعة واحدة لم يكن لهما شيئ فالكسب كله للأب إن كان الابن في عياله لكونه معيناً له.

(ردالمحتار ۳: ۳۸۳ كتاب الشركة، فصل في الشركة الفاسدة)

﴿۲﴾ في الهداية: الأضحية واجبة على كل حرّ مسلم مقيم موسر في يوم الأضحى عن نفسه. (الهداية ۴: ۴۴۳ كتاب الأضحية)

دا فكر كوي چې زموږ ټولو نه دا يوه قرباني صحيح كيږي، ايا د شريعت له مخې ددې ټولو ورونو له طرفه اومه برخه كې قرباني كيږي او كه نه؟ يا دا چې د چا په نوم كيږي د هغه له طرفه كيږي او كه نه؟ يا دا چې د يوه له طرفه هم نه صحيح كيږي؟ په داسې حال كې چې زموږ دنيا اوس هم شريكې ده؟ بينوا توجروا

المستفتي: قيس نعماني رسالپور نوشهره ..... ۱۳۸۸ هـ / ذى القعده / ۳۰/

جواب: كه دا اومه برخه د يو ورور وي؛ نو دده او د نورو شريكانو قرباني جائز شوه، كه په اومه برخه كې ټول وروڼه شريك وي؛ نو بيا د يو كس قرباني هم نه صحيح كيږي، نه د وروڼو او نه هم د نورو شريكانو، في الدر المختار: لوْ لأحدهمْ أقل منْ سبعٍ لمْ يجزْ عنْ أحدٍ﴿۱﴾ وهو الموفق.

په كورني حيوان كې نور كسان شريكول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د زيد سره په كور كې يو حيوان دى چې په هغې كې دوى د خپل كور نه سېږ كسان په قرباني كې شريكان دي، د مال قيمت يې وټاكلو او له ځانه سره يې اوم كس هم شريك كړ، ايا دا قرباني جائز ده؟ كه د جواز بل صورت وي؛ نو مهرباني وكړئ هغه راته وليكئ؛ ځكه چې زموږ د ځاى ځينې عالمان وايي چې جائز ده او ځينې وايي چې ناجائز ده. بينوا توجروا

المستفتي: مولوي عبد المتين هزاره ..... ۱۳۸۹ هـ / ذى الحجة / ۳/

جواب: كه په كورني حيوان كې د كور شپږ كسان شريك شي؛ نو بې شكه جائز ده،

﴿۱﴾ (الدر المختار ۵: ۲۲۲، كتاب الأضحية)

وفي البزازية: اشترى بقرة لها لم اشرك ستًا جاز استحسانًا إن أصاب كلًا سبع تامّ وإن أصاب أحدهم أقل من سبع لا يصح.

(فتاوى بزازيه ۶: ۲۹۰ كتاب الأضحية، الرابع فيما يجوز من الأضحية)

په کتابونو کې بې نظیر هم شته، فقهاؤ لیکلي دي: وصحّ اشتراك ستة في بدنة شريتْ للأضحية أي انْ نوى وقتَ الشراءِ الاشتراكَ﴿۱﴾لکه څرنګه چې اخیستل شوی حیوان مملوك دی او سره له دې هم نور کسان شریکول جائز دي؛ نو دغه راز کورنی حیوان د چا مملوك وي او په هغه کې هم شراکت په طریقه اولی جائز دی فافهم وتدبر. فقط وهوالموفق

په شریکي مال کې د قربانۍ حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې موږ څلور ورونه یو مال مو هم شریکي دی، اوس که د څلورو وارو مال یو ځای حساب شي؛ نو د نصاب اندازې ته رسیږي او که یوازې - یوازې حساب شي؛ نو بیا د نصاب د اندازې نه کم دی، په دې صورت کې به موږ مالدار شمېرل کیږو او که غریبانان؟ بینوا توجروا

المستفتي: عمر خان بنوي

جواب: په دې څلورو وارو کې یو کس هم مالدار نه دی. لعلمِ صدقِ تعریفِ الغنی علی أحدٍ منهم وهو منْ يملك النصابَ الخ﴿۲﴾ولما في البدائعِ ۲: ۲۹: قالَ أصحابنا أنه يعتبرُ في حالِ الشركة مايعتبرُ في حالِ الانفرادِ هو كمالِ النصابِ في حقِّ كل واحد

﴿۱﴾ (الدر المختار ٥: ۲۲۳ کتاب الأضحية)

وفي الهندية: ولو اشترى بقرة يريد أن يضحي بها لم اشرك فيها ستة يكره ويجزيهم لأنه بمنزلة سبع شياه حكمًا إلّا أن يريد حين اشتراها أن يشركهم فيها فلا يكره. (فتاوى هندية ٥: ٣٠٤ كتاب الأضحية، الباب الثامن فيما يتعلق بالشركة في الضحايا)

﴿۲﴾ وفي الهندية: والموسر في ظاهر الرواية من له مائتا درهم أو عشرون دينارًا أو شئ يبلغ ذلك سوى مسكنه ومتاع مسكنه ومركوبه وخادمه في حاجته التي لا يستغنى عنها. (فتاوى هندية ٥: ۲۹۲ کتاب الأضحية، الباب الأول)

منهمافانْ کانَ نصیبُ کلّ واحدٍ منهمایبلغ نصاباً تجبُ الزکوة والا فلا ﴿١﴾ فافهمْ.

د پلار په قربانۍ د مالداره زامنو غاړه نه خلاصیږي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې موږ شپږ وروڼه يو او ټول بالغ يو، د الله فضل دی مور او پلار مو دواړه ژوندي دي. څلورو وروڼو پکښې واده کړی دی او دوه جره ګان (بې واده) دي. موږ د خپل مور او پلار سره يو ځای په خوشحالۍ وخت تېروو، کومه ګټه چې ترلاسه کيږي په شريکه يې کور کې خرچه کوو. اوس د قربانۍ مسئله مخې ته راغلې ده، تر اوسه پورې مو پلار ته يوه قرباني کول؛ خو زموږ د ځای ځينې عالمانو موږ ته وويل چې تاسو ټول وروڼه ماشاء الله خپل کار لرئ؛ نو ستاسو لپاره يوه قرباني نه ده جائز، بلکې تاسو هر ورور به ځان - ځان ته قرباني کوئ! دا راته بيان کړئ چې اوس موږ يوازې - يوازې قرباني وکړو او که هماغه يوه قرباني پوره ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: جناب مير حسن صاحب طوطالئ د صوابی په لاره

جواب: ستا د ليك له مخې ستاسو په هر ورور ځان - ځان ته قرباني واجب ده، ځکه چې مال مو د ټولو وروڼو تر منځ شريکي دی، د فرضي تقسيم وروسته هر ورور مو د نصاب مالك جوړيږي، ټولو فقهاؤ ليکلي دي: چې د نصاب په څښتن قرباني واجب ده، ﴿٢﴾ د عربي عبارتونو ذکر کولو ته هيڅ ضرورت نشته. بې شکه که دا ټول مال تاسو يا ستاسو پلار ته د تمليك په نيت ورکړل شي؛ نو بيا يوازې په تا ياستا په پلار باندې قرباني واجب ده؛ خو

﴿١﴾ وفى بدائع الصنائع: ولو كانت الفضة مشتركة بين اثنين فإن كان يبلغ نصيب كل واحد منهما مقدار النصاب تجب الزكاة وإلّا فلا ويعتبر فى حال الشركة ما يعتبر فى حال الانفراد. (بدائع الصنائع ٢: ١٠١ كتاب الزكوة، فصل فى الأثمان المطلقة)

﴿٢﴾ فى الهداية: الأضحية واجبة على كل حرّ مسلم مقيم موسر فى يوم الأضحى عن نفسه. (الهداية ٤: ٤٤٣، كتاب الأضحية)

ستاسو معامله داسې نه ده ﴿١﴾ وهوالموفق.

په شریکي ورونو کې د یو ورور په قرباني سره د نورو ورونو غاړه نه خلاصیږي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې په یو کور کې درې ځلور ورونه ژوند تېروي، مور او پلار یې وفات شوي دي، د دوی سره دومره مال شته چې که ورونه سره جدا شي او مال تقسیم کړي؛ نو په هر ورور باندې به یې د غني اطلاق کیږي. اوس که یو ورور قرباني وکړي؛ نو د نورو ورونو غاړه به یې خلاصیږي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي نامعلوم ..... ۱۹۸۷ م / ۹ / ۹/

جواب: په یاد صورت کې ټولو ورونو باندې قرباني واجب ده. ﴿٢﴾ په دوی کې که یو ورور د مور او یا هم پلار له خوا قرباني وکړي؛ نو دا ته هیڅ تاوان نه کوي، ﴿٣﴾ که څیرې په ۷/۱ برخه کې یو ورور حصه واخلي او نور ورونه یې ورسره په دغه یوه برخه کې شریکان وي؛ نو د یوه غاړه هم نه خلاصیږي ﴿٤﴾ وهوالموفق.

﴿١﴾ قال العلامة الكاساني: ولو كانت الفضة مشتركة بين اثنين، فإن كان يبلغ نصيب كلّ واحد منهما مقدار النصاب تجب الزكاة وإلّا فلا، ويعتبر في حال الشركة ما يعتبر في حال الانفراد. (بدائع الصنائع ٢: ١٠١، كتاب الزكوة، فصل في الأثمان المطلقة)

﴿٢﴾ وفي الهداية: الأضحية واجبة على كل حرّ مسلم مقيم موسر في يوم الأضحى عن نفسه. (الهداية ٤: ٤٤٣ كتاب الأضحية)

﴿٣﴾ في ردالمحتار: (قوله وعن ميت) أي لو ضحى عن ميت وارثه...... وإن تبرع بها عنه له الأكل لأنه يقع على ملك الذابح والثواب للميت. (ردالمحتار ٥: ٢٣٦، كتاب الأضحية)

﴿٤﴾ في الهداية: وكذا إذا كان نصيب أحدهم...... پاتې حاشیه په بل مخ باندې

کله پلار ته ورکولو په صورت کې په زامنو د قربانۍ مسئله

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې مونږ څلور ورونه یو. د خدای جل جلاله فضل دی مور او پلار مو هم ژوندي دي او د دوی له برکته ټول ورونه یو ځای د ژوند شپې او ورځې تېروو. مونږ څلورو ورونو ودونه کړي او خپل کار مو شته، دوه مشران ورونه مو تنخا لري، درېیم وړور مو دکانداري کوي او کښت کري. او تر ټولو وړوکی وړور مو د حکومت وظیفه ترسره کوي، مونږ ټول ورونه چې کوم مال ګټو هغه خپل مشر وړور ته ورکوو، مونږ ټول د خپل پلار په خوښه کار کوو، یعنې پوره اختیارمند نه یو؛ خو که کله د خپل مشر وړور یا پلار په بې خبرۍ ځان ته څه واخلو؛ نو هغه راته څه نه وایي. د کال په پوره کېدو سره د خپل مال حساب کتاب شمار کړو، څومره زکات چې په مونږ باندې کېږي هغه ترې وباسو؛ خو دا چې ذخیره مو همېش د پلار سره وي؛ نو قرباني یوه کوو. پرو سږ کال راته د کلي ځینو عالمانو وویل: چې ستاسو هر وړور د ځان ته کاروبار او نصاب مالك دی. ستاسو په هر وړور باندې قرباني واجب ده. مونږ ته اوس فکر پیدا شوی داسې نه چې په شرعي کار کې راته تاوان پېښ شي او مونږ به بې خبره پاتې یو. اوس تاسو مهرباني وکړئ او د شرعي مسئلې نه مو خبر کړئ!

بینوا توجروا

المستفتي میر حسن طوطالئ، د صوابي په لاره ..... ۱۳۸۹ هـ/ محرم الحرام / ۲/

(بقیه حاشیه) أقل من السبع لا یجوز عن الکل لانعدام وصف القربة فی البعض.

(هدایة ۴: ۴۴۵، کتاب الأضحیة)

جواب: كه تاسو تبول ورونه د تمليك په نيت پلار ته زيورات او روپى وركوئ، ستاسو سره د رعايت په توګه پرتې وي. په دې صورت كې په تاسو باندې قرباني واجب نه ده، كه تاسو پلار ته يوازې د ساتلو په نيت روپى وركوئ او يا هم ددې لپاره چې د وخت سره سم په كور باندې مصرف وكړي بيا په تاسو ټولو باندې قرباني واجب ده، ﴿١﴾ او په عرف باندې د نظر كولو وروسته معلوميږي چې دويم قول معتبر دى، لهذا په تاسو ټولو باندې قرباني واجب ده ﴿٢﴾ وهوالموفق.

د يو كور شريكي قرباني د غوښې بې تقسيمه خوړل

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې كه د يو كور خلك په شريكه يوه غوا يا بل حيوان واخلي، د دوى قرباني څه حكم لري؟ او د هغې غوښې خوړل څه حكم لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: عيسى خان وزيرستانى متعلم دار العلوم حقانيه كمره ٣٥ ..... ١٩٨٤ م / اګست /١٨/

﴿١﴾ قال العلامة شيخى زاده رحمه الله تعالىٰ: هى واجبة...... وانما تجب على حرّمسلم مقيم موسر لأن العبادة لاتجب إلا على القادر وهو الغنى دون الفقير.

(مجمع الأنهر ١٦٧:١٤، كتاب الأضحية)

﴿٢﴾ قال العلامة عزيز الرحمٰن: سوال: ديوسرې دوه زامن دي چې په ټول كال كې دوه درې سوه روپې مزدوري كوي، پلار ته يې وركوي اودكور اصلي مالك پلار دي، آيا په دې هلكانو زكات، صدقه فطر او قرباني واجب ده او كه په پلار باندې د دوى له طرف واجب ده؟

جواب: په دغو هلكانو زكات، صدقه فطر او قرباني واجب ده. (فتاوىٰ دار العلوم ديوبند ٢: ٣١٠، ٣١١ مسائل صدقه فطر)

وقال العلامة الكاسانى: ولو كانت الفضة مشتركة بين اثنين فإن كان يبلغ نصيب كل واحد منهما مقدار النصاب تجب الزكاة وإلا فلا، ويعتبر فى حال الشركة ما يعتبر فى حال الانفراد. (بدائع الصنائع ٢: ١٠١ كتاب الزكوٰة، فصل فى الأثمان المطلقة)

جواب: د برخو تاکلو بغیر شریکي غوښه د اجازت او اباحت وروسته خوړل جائز دي ﴿۱﴾ وهوالموفق.

د قربانۍ په حیوان کې مالک شریکول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې سږ کال مې د خپل کور د قربانۍ لپاره یو حیوان واخیست او موږ شپږ کسان پکښې شریکان شو، اوس ما ته څه شك پیدا شوی چې:

(۱) زه د خپل حیوان بائع شوم او که مشتري؟

(۲) د ذبح وروسته دا حیوان زما په ملکیت کې دی او که زما له ملکیته وځي؟

(۳) زما د قربانۍ اخیستل څنګه صحیح کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتي: ماستر نور رحمن تخت بهائی مردان ..... ۱۹۷۲م/ ۳ / ۱۴/

جواب: (۱) ته په دې حیوان کې د ۶/۷ برخې اخیستونکی یې، د شریکي مال اخیستل په اتفاق د عالمانو جائز ده، کما صرحوا به﴿۲﴾ وکذا یقتضیه صحةُ الشفعة عندَ بیعِ المشاع ﴿۳﴾.

﴿۱﴾ قال العلامة الشامی رحمه الله تعالی: (قوله ویقسم اللحم) انظر هل هذه القسمة متعینة أو لا، حتی لو اشتری لنفسه ولزوجته وأولاده الکبار بدنة ولم یقسموها تجزیهم أو لا، والظاهر أنها لا تشترط لأن المقصود منها الإراقة وقد حصلت. (ردالمحتار ۵: ۲۲۳، کتاب الأضحیة)

﴿۲﴾ فی شرح المجلة: یصح بیع الحصة المعلومة الشائعة بدون إذن الشریک.
(شرح المجلة للأتاسی ۲: ۱۰۸، الباب الثانی فی بیان المسائل المتعلقة بالمبیع)

﴿۳﴾ فی الهندیة: سئل علی بن احمد عمن اشتری نصیبًا معلومًا من أرض مشترکة بین جماعة بعضهم حضور وبعضهم غیب اشتری نصیب الحضور هل للشفیع الجار أن یأخذ من المشتری ما اشتری مع غیبة الشریک؟ فقال نعم له أن یأخذ ذلک.
(فتاوی هندیة ۵: ۲۰۳، قبیل کتاب القسمة)

(۲) ستا د ملکیت نه ۷/۶ برخه ووته. او ۷/۱ باقي ده.

(۳) ددې بیع په جواز کې هیڅ شك نشته. خو کوم مالدار سړي چې د قرباني په نیت حیوان واخلي؛ نو د هغه لپاره ۷/۶ خرڅول (شراکت) قیاساً ناجائز او استحسانا جائز دی. ﴿۱﴾ لکونها قرباة بعد الشراء بخلاف ما هناك فافهم. فقط

یادونه: دا چې صریحي جزئیه ونه موندل شوه، د قواعدو په رڼا کې ستاسو مسئله حل شوه. وهوالموفق

پلار ته د بخشش یا امانت په توګه د ګټې ورکولو په صورت کې بچیانو د قربانی مسئله

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د پلار او زامنو ګټه جدا - جدا ده، زامن هم ټولې روپۍ پلار ته ورکوي؛ نو اوس به قرباني پلار ته کیږي او که په هر زوی یې ځان - ځان ته کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتي: ګل هاشم ...... ۱۹۷۴ م / ۷ / ۲۵/

جواب: که بچیان د بخشش په توګه پلار ته خپله ګټه ورکوي؛ نو په زامنو یې قرباني واجب ده، که د امانت په توګه یې ورکوي؛ نو که مالدار وي په ټولو زامنو یې قرباني واجب ده ﴿۲﴾ وهوالموفق.

﴿۱﴾ فی مجمع الأنهر: ولو شرى بدنة للأضحية ثم أشرک فيها ستة جاز استحسانًا وفی القياس لا يجوز وهو قول زفر ورواية عن الإمام لأنه أعدها للقربة فلا يجوز بيعها...... وروى عن الإمام كراهة الاشتراک بعده. (مجمع الأنهر ۴: ۱۶۹ كتاب الأضحية)

﴿۲﴾ قال العلامة شيخي زاده رحمه الله تعالى: (وإنما تجب على حر مسلم مقيم موسر) لأن العبادة لا تجب إلا على القادر وهو الغنى دون الفقير ومقدار ما تجب فيه صدقة الفطر. (مجمع الأنهر ۴: ۱۶۶، ۱۶۷، كتاب الأضحية)

وفی السراجية: وإنما تجب على الغنى المسلم المقيم ذكرًا كان او انثى وحد الغنى ما ذكرنا فی باب صدقة الفطر.

(فتاوى سراجية ۳۸۳ ،كتاب الأضاحي، باب وجوب التضحية)

د شریکو وروڼو کور ته اینودل شوي خرچې باندې د قربانی حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د یو سړي سره اته زره (۸۰۰۰) روپۍ دي، کال ورباندې تېر شو او د کور خرچه هم له دغو روپو څخه پوره کوي، په کور کې نور وروڼه هم شریکان لري، ایا په ده او وروڼو یې قرباني واجب ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: حافظ عمر بلال متعلم دار العلوم حقانیه هذا ۱۹۸۵م/ ۷/ ۱۶/

جواب: هغه دراهم چې د کور په مصرف کې لګیږي، قرباني او زکات ورباندې نه واجبیږي، ونظیره ما فی رد المحتار ۲: ۸۸: سئل محمدٌ رحمه الله عمنْ له أرضٌ یزرعها أوْ حانوتٌ یستغلها أوْ غلتها ثلاث آلاف ولا تکفی لنفقته ونفقة عیاله سنة؟ یحلُّ له أخذ الزکوة وان کانتْ قیمتها تبْلُغُ ألوفاً وعلیه الفتوی﴿۱﴾ انتهی، وقلتُ: وأخذ الزکوة و وجوب الأضحیة منْ بابٍ واحدٍ کما صرحوا به﴿۲﴾ وهو الموفق.

بې اجازې د یو شریک لپاره زیاته برخه پاکل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې موږ شپږ کسانو په شریکه قرباني کړې وه او غوښه مو هر یو ته پوره - پوره ورکړې وه؛ خو یو کس پکښې د غوښې اخیستلو نه انکار وکړ، بلکې دویمه ورځ راغلو او غوښه یې تپوله مرداري ویالې ته وغورځوله. ایا ددې شپږو کسانو قرباني جائز شوه او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد آیاز راولپنډی ۱۹۸۵م/ ۱۰/ ۲۲/

﴿۱﴾ (ردالمحتار ۲: ٦٧، کتاب الزکوٰة، قبیل مطلب فی جهاز المرأة هل تصیربها غنیة)

﴿۲﴾ قال العلامة الکاسانی رحمه الله تعالیٰ: وأما الغنا الذی یحرم به أخذ الصدقة وقبولها فهو الذی تجب به صدقة الفطر والأضحیة.

(بدائع الصنائع ۲: ۱۵۸، کتاب الزکوٰة، فصل مصارف الزکاة)

جواب: دا قرباني صحيح ده، په دوی کې د يوه برخه ۱/۷ څخه کمه نه ده؛ خو که د يو شريك بې خوښې هغه ته زياته برخه ټاکل شوې وي بيا د يوه قرباني هم نه صحيح کيږي، د ټولو غاړه بنده ده. ﴿۱﴾ والله أعلم

په اخيستل شوي يا کورني حيوان کې د مالک شراکت منع نه دی

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې يو سړي د شپږو کسانو لپاره د قربانۍ حيوان واخيست، او مه برخه مالك د ځان لپاره شمار کړه، ايا ددې مالك شراکت منع دی او که نه؟ دا جائز شراکت دی او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: متعلم دار العلوم حقانيه ... ۱۹۷۴م / ۴ / ۸ /

جواب: واضحه دې وي لکه څرنګه چې اخيستل شوی حيوان د چا ملکيت وي، دغه راز په کور کې ساتل شوی حيوان هم د چا ملکيت ي. په اخيستل شوي حيوان کې شراکت جائز دی دغه راز د کور ساتل شوي حيوان کې هم شراکت جائز دی، لعدمِ المانعِ وهو الاِعداد للقربةِ وصورة الرجوعِ عنِ القربة كما أشارَ اليهِ صاحبُ الهدايةِ ۴: ۴۴۵: فلما جاز الاِشتراك في المشتراة المعدة للقربة جازَ في المولودة اللتى لَمْ تعدَّ للقربةِ﴿۲﴾ نعمْ فيهِ بيعُ المشاعِ أى ستة

﴿۱﴾ في الهداية: تجوز عن خمسة او ستة او ثلاثة ذكره محمّد في الأصل لأنه لمّا جاز عن سبعة فعمّن دونهم اولى ولا تجوز عن ثمانية أخذا بالقياس فيما لا نصّ فيه وكذا إذا كان نصيب أحدهم أقل من السبع لايجوز عن الكل لانعدام وصف القربة في البعض.

(هداية ۴: ۴۴۴، كتاب الأضحية)

﴿۲﴾ في الهداية: ولو اشترى بقرة يريد أن يضحّي بها عن نفسه ثم أشرك فيها ستّة معه جاز استحسانًا وفي القياس لا يجوز وهو قول زفر لأنّه أعدّها للقربة فيمنع عن بيعها تموّلًا.

(هداية ۴: ۴۴۵، كتاب الأضحية)

أسهامٍ ولا ضيرَ فيهِ وفاقاً ﴿١﴾ ولم أجدهُ صريحاً . وهوالموفق

په کورني حیوان کې د دوه ډلو تر منځ د اختلاف په اړه پوښتنه

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي (۱) چې یو سړی د غوا مالك دی، دی خپلو نورو شپږو شریکانو ته وایي چې تاسو زما نه دا غوا په ۷/۶ پیسو کې واخلئ؛ په اومه برخه کې به زه خپله شریك شم، په دې اړه اوس عالمان په خپل منځ کې سره مختلف دي: ځینې وايي چې جائز دي قیاساً على الشركة بعد الشراءِ الى الذبحِ استحساناً كما فى الهندية او د ځینو نورو په نزد بیا قرباني ناجائز ده، ځکه چې په دیکښې اجتماع البــدلین (ثمن او مبیع) دواړه په یو ملك کې جمع کیږي، ولا أصلَ لها فى الشرعِ كما فى شرحِ الیاس.

(۲) دویم دا چې په دیکښې جهالت د مبیعې راځي، ځکه چې اومه برخه د بې تقسیمه شي په حالت د ژوند کې مجهوله وي، په یو حالت کې یو سړی هم بائع دی او هم مشتري دی، لهذا په داسې ځواب مو ونازوئ چې د کتابونو نه دلائل پکښې راخیستل شوي وي. بینوا توجروا

المستفتي: خطیب فضل ودود فاضل دار العلوم حقانیه صوابی ۱۹۹۲م/۱/۲۹

جواب: دا شراکت د قیاس او استحسان دواړو له مخې جائز دی، لعدم تضمنه بيع ما تعلق به القربة بخلاف ما اذا اشتراهُ للأضحية ثمَّ يشترك فيهِ ستاً مثلاً فانه جائزٌ استحســاناً دونَ القياس لتعلق القربة به ﴿۲﴾ په هرحال ددې بې علمه دجوماتونو اخوندانو اختلاف دی

﴿۱﴾ فى شرح المجلة: بيع حصة شائعة معلومة كالنصف والثلث والعشر من عقار مملوك قبل الإفراز صحيح..... عقار ليس قيدًا احترازيًا فإن المنقول كدابة ومتاع مثل العقار فى ذلک الحکم. (شرح المجلة ۲:۱۰۷، المادة: ۲۱۴)

﴿۲﴾ فى الهداية: ولو اشترى بقرة يريد أن يضحّى بها عن نفسه ثم اشرک فيها ستة معه جاز استحسانًا وفى القياس لا يجوز وهو قول زفر لأنّه أعدّها للقربة فيمنع عن بيعها تموّلًا.

(هداية ۲:۴۴۵، كتاب الأضحية)

د احنافو فقهاؤ ترمنځ هیڅ اختلاف نشته

یادونه: شریکي بیع صحیح ده او د یوې عضو استثناء نه ده صحیح. شرح المجلة م ۲۱۴، ۱۰۳ :﴿۱﴾، م: ۲۱۹ ۱۰۶ ،﴿۲﴾فلیراجع وهوالموفق.

د یو شریک د وفات په صورت کې د وارثانو هغه ته د قرباني کولو حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې که د قرباني په اوه شریکانو کې یو شریک مړ شي او د هغه زامن پاتې شي، دومره مال ورسره وي چې د ټولو ورونو مجموعه مال د نصاب اندازې ته رسیږي او که د هر یو بېل- بېل حساب وشي بیا د نصاب اندازې ته نه رسیږي، هر زوی یې د خپل مال پوره اختیار مند وي او د پلار د وصیت نه بغیر یې زوی قرباني کولای شي او که نه؟ که ورسره شریکیږي؛ نو د قرباني کوونکو تعداد تر اوه کسانو زیاتیږي، یا که نورو ورونو یو ورور ته د قرباني لپاره شریکي مال ورکړی وي بیا قرباني کولای شي او که نه؟ دغه راز د شریکي مال څخه هبه جائز ده او که نه؟ ځکه چې ټول ورونه په یو سري باندې شمار دي او د ورونو نه هر یو فرد واحد هم ګڼل کیږي، دا پېښه د قرباني اخیستو نه وړاندې شوې. بینوا توجروا

المستفتي: نذیر احمد معلم دینیات بونیر ...... ۱۹۷۴ م / دسمبر / ۲۵/

﴿۱﴾ فی شرح المجلة: بیع حصة شایعة معلومة کالنصف والثلث والعشر من عقار مملوک قبل الإفراز صحیح...... عقار لیس قیدًا احترازیًا فإنّ المنقول کدابّة ومتاع مثل العقار فی ذلک الحکم. (شرح المجلة ۲:۱۰۷، المادة:۲۱۴)

﴿۲﴾ فی شرح المجلة: کلّما جاز بیعه منفردًا جاز استثناؤه من البیع...... ولو استثنی منه مالًا یجوز إفراده بالعقد لا یصح استثناؤه کما لو باع جاریة إلّا حملها أو شاة إلّا عضوًا منها لم یجز. (شرح المجلة ۲:۱۲۳، المادة:۲۲۰)

جواب: په یاد صورت کې که بالغ بچیان د پلار له خوا قرباني کوي او نورو شریکانو ته د ذبح اجازه هم ورکوي؛ نو په دیکښې به هیڅ گناه نه وي، د تولو قرباني صحیح کیږي. كما فى الهداية ٤: ٤٤٩ و اذا اشترى سبعة بقرة ليضحوا بها فمات أحدهمْ قبلَ النحرِ وقالتِ الورثةُ (الكبارُ منهم) اذبحوهـا عنهُ و عنكمْ أجزأهمْ﴿١﴾و هكذا فى رد المحتارِ﴿٢﴾والهندية﴿٣﴾ وغيرهما.

که دا وارثان په خپلو کې یو کس د ٧/١ مالك کړي؛ نو هیڅ خبره نشته. لأنَّ هبةَ المشاعِ يصحُّ فيما لا يقبلُ القسمة صرَّحَ به فى هبة الهداية﴿٤﴾ والفتح﴿٥﴾ و رد المحتار ﴿٦﴾

﴿١﴾ (هداية ٤: ٤٤٩ كتاب الأضحية)

﴿٢﴾قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: وإذا مات أحد السبعة المشتركين فى البدنة وقال الورثة اذبحوا عنه وعنكم صح عن الكل استحسانًا لقصد القربة.

(الدرالمختار ٥: ٢٢٩ كتاب الأضحية)

﴿٣﴾ فى الهندية: وإذا اشترى سبعة بقرة ليضحوا بها فمات أحد السبعة وقالت الورثة وهم كبار اذبحوها عنه وعنكم جاز استحسانًا.

(فتاوى هندية ٥: ٣٠٥ كتاب الأضحية، الباب الثامن فيما يتعلق بالشركة)

﴿٤﴾ فى الهداية: وهبة المشاع فيما لا يقسم جائز.

(هداية ٣: ٢٨٥ كتاب الهبة)

﴿٥﴾ قال ابن الهمام رحمه الله تعالى: الا ترى أن هبةَ المشاع الذى لا يحتمل القسمة جائزة بالاتفاق. (فتح القدير ٧: ٤٩٠ كتاب الهبة)

﴿٦﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: (فى) متعلق بِتَمٌ (محوز) مفرّغ (مقسوم ومشاع لا) يبقى منتفعًا به بعد أن (يقسم) كبيت وحمام صغيرين. (درمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله بعد أن يقسم) ويشترط فى صحة هبة المشاع الذى لا يحتملها أن يكون قدرًا معلومًا. (شامى ٤: ٥٧٠ كتاب الهبة)

والهندية﴿۱﴾وهو الموفق.

په مالدار پلار او زوی دواړو باندې قرباني واجب ده

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې (۱) د يو سړي زوی واده کړی دی، پلار ورته په خپل ژوند کې ځمکه ورکړې ده. ايا دده په قرباني کې دوه برخې راځي او که يوه؟

(۲) بل سړی دی چې زوی يې د مياشتې درې سوه (۳۰۰) روپۍ تنخا لري؛ نو ايا ددې کور نه په قرباني کې دوه برخې واجب دي او که يوه برخه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي عبد الرزاق لوند خوړ مردان ..... ۱۹۶۹م / ۱۲ / ۱۳/

جواب: که زوی او پلار دواړه مالدار وي؛ نو په دواړو يې قرباني واجب ده، يوه برخه د دواړو لپاره نه پوره کيږي ﴿۲﴾ وهوالموفق.

د قربانۍ لپاره قرض اخيستل او قرض په حرام مال ادا کول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د زيد ټول مال حرام دی، هغه د قربانۍ لپاره د چا نه په قرض روپۍ واخيستلې او قرباني يې وکړه، څه ورځې وروسته يې د هغه سړي قرض د خپل مال نه ادا کړ، د شريعت له مخې د زيد قرباني جائز ده او که نه؟ او د هغه اخيستل شوی قرض ادا شو او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مبلغ اسلام ډاکټر سيد فدا حسين، بهانه ماړي پېښور ۱۹۸۶م/ ۱۰/ ۱۴/

﴿۱﴾ فی الهندية: وتصح فی محوز مفرغ..... ومشاع لا يقسم ولا يبقى منتفعا به بعد القسمة. (فتاوی هندية ۴: ۳۷۶، كتاب الهبة، الباب الثانی فيما يجوز من الهبة)

﴿۲﴾ فی الاختيار: وهی واجبة علی كل مسلم حرّ مقيم موسر ويجب علی كل واحد شاة. (الاختيار لتعليل المختار ۵: ۲۰، كتاب الأضحية)

جواب بې شکه په داسې حیله باندې هم قرباني صحیح کیږي او هم به فرض پوره ادا کیږي. كذا في الهندية في باب الضيافة من كتاب الكراهية ﴿١﴾ (رشید احمد عفی عنه) دغه راز په حرام مال چې کوم رزق واخیستل شي، هغه حلال او پاك دى حرام نه دى. كما في رد المحتار لأنَّ التعاملَ على الشراء مطلقاً ثُمَّ الدفع منْ تلك الدراهمِ ﴿٢﴾ وهو الموفق.

په جوارى ګټل شوي غويي باندې د قرباني حکم

سوال د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې يو سړي د جوارى لوبه کوله چې غوا يې پکښې وګټل، د کلي اوه کسان په غوا کې شريکان شوه او قرباني يې وکړه. هغوى ته دا معلومه وه چې دا غوا په جوارى ګټل شوې ده. يو مولوي صاحب د جواز فتوى ورکړه؛ خو موږ په شك کې يو ايا په دې باندې قرباني کيږي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: احمد ايبټ آباد هزاره

﴿١﴾ فى الهندية: أهدى إليه رجل شيئاً أو أضافه إن كان غالب ماله من الحلال فلا بأس إلّا أن يعلم بأنه حرام فإن كان الغالب هو الحرام ينبغى أن لا يقبل الهدية ولا يأكل الطعام إلّا أن يخبره بأنه حلال ورثته أو استقرضته من رجل كذا فى الينابيع.

(فتاوى هندية ٥: ٣٤٢، الباب الثانى عشر فى الهدايا والضيافات)

﴿٢﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: (قوله اكتسب حرامًا) توضيح المسئلة ما فى التتارخانية حيث قال رجل اكتسب مالًا من حرام ثم اشترى فهذا على خمسة أوجه: إما إن دفع تلك الدراهم إلى البائع أولًا ثم اشترى منه بها أو اشترى قبل الدفع بها و دفعها أو اشترى قبل الدفع بها و دفع غيرها أو اشترى مطلقًا و دفع تلك الدراهم أو اشترى بدراهم آخر ودفع تلك الدراهم قال أبو نصر يطيب له ولا يجب عليه أن يتصدق إلّا فى الوجه الأول...... وقال الكرخى فى الوجه الأول والثانى لا يطيب وفى الثلاث الأخيرة يطيب...... لكن الفتوىٰ الآن على قول الكرخى دفعا للحرج عن الناس.

(ردالمحتار ٤: ٢٤٣ مطلب إذا اكتسب حرامًا ثم اشترى فهو على خمسة أوجه)

جواب: په جواری باندې ګټل شوی مال خبیث شی دی، ﴿۱﴾ امانت نه دی، په داسې حیوان باندې قرباني صحیح کیږي، خو په جواری به مجرم ګناهګار وي ﴿۲﴾ وهو الموفق.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له طرفه قرباني شوي حیوان غوښه خوړل جائز دي:

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې که یو سړی د رسول الله صلی الله علیه وسلم له طرفه قرباني وکړي: نو د هغې غوښه خپله خوړلای شي او که نه؟ او که بل خپلوان ته یې ورکړي بیا څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: متعلم عیسی خان وزیرستانی کمره نمبر ۳۵ ..... ۱۹۸۴م/ اګست/ ۱۸/

جواب: د مړو له طرفه د ذبح شوي قرباني غوښه خوړل جائز دي، کله چې دا قرباني یې له وصیته وی ﴿۳﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ فی مجموعة قواعد الفقه: القمار مصدر قامر هو کل لعب یشترط فیه غالبًا أن یأخذ الغالب شیئًا من المغلوب...... ثم عرّفوه بأنه تعلیق الملک علی الخطر والمال فی الجانبین. (مجموعة قواعد الفقه ۴۳۴، التعریفات الفقهیة)

﴿۲﴾ قال العلامة الکاسانی رحمه الله تعالی: والثانی ملک المحل وهو أن یکون المضحّی ملک من علیه الأضحیة فإن لم یکن لا تجوز...... وعلی هذا یخرج ما إذا اغتصب شاة إنسان فضحی بها عن نفسه أنه لا تجزیه لعدم الملک...... وإن ضمنه صاحبها قیمتها حیة فإنها تجزئ عن الذابح لأنه ملکها بالضمان من وقت الغصب بطریق الظهور والاستناد فصار ذابحًا شاة هی ملکه فتجزیه لکنه یأثم لأن ابتداء فعله وقع محظورًا فتلزمه التوبة والاستغفار. (بدائع الصنائع ۴: ۲۱۷، کتاب التضحیة، حکم لو اشتری أضحیة وهی صحیحة)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: من ضحّی عن المیت یصنع کما یصنع فی أضحیة نفسه من التصدق والأکل، والأجر للمیت والملک للذابح قال الصدر: والمختار أنه إن کان بأمر المیت لا یأکل منها وإلّا یأکل. (ردالمحتار ۵: ۲۲۹ کتاب الأضحیة)

د رسول الله صلى الله عليه وسلم له طرفه دقرباني په هلاکېدو د تلافي طريقه

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زه هر کال د رسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره په کور کې يوه قرباني ساتم، خو سږ کال زه حج ته لاړم؛ نو قرباني پاتې شوه. حال دا چې ما له ځانه سره دا ويلي ؤ چې تر کله زه ژوندى يم؛ نو هر کال به رسول الله صلى الله عليه وسلم ته قرباني ورکوم. دا چې سږ کال را نه پاتې شوه ددې قضا څنګه راوګرځوم؟ بينوا توجروا

المستفتي: مير نواب يوسف بکس رياض ١١٥٣٠ سعودى عرب ..... ١٤٠٥ هـ / رمضان / ٢٩/

جواب: السلام عليكم ورحمة الله وبركاته! وروسته له سلامه واضحه دې وي چې په حاجي باندې د دم تمتع او دم قران نه بغير بله واجبه قرباني نشته.﴿١﴾ د نبي کريم صلى الله عليه وسلم لپاره قرباني کول مستحب کار دى. ﴿٢﴾ که ته راروان کال د دوه برخو په اندازه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته قرباني ورکړې: نو ستا د قضا شوي عمل بنه کفاره به ادا شي. وهو الموفق

﴿١﴾ في الهندية: ولا تجب على المسافرين ولا على الحاج إذا كان محرمًا وإن كان من أهل مكة كذا في شرح الطحاوى. (فتاوى هندية٥: ٢٩٣ كتاب الأضحية، الباب الأول)

وفي إرشاد السارى: ثم اعلم أن الأضحية واجبة على كل مسلم حرّ مقيم...... فلا تجب على المسافرين ولا على الحاج إذا كان محرمًا وإن كان من أهل مكة كذا في الخزانة ولعل وجهه أنه يجب على الحاج دم قران أو متعة ويستحب لهم دم إفراد فيسقط عنهم دم الأضحية تخفيفًا عليهم كما سقط عنهم صلاة العيد اجماعًا.

(إرشاد السارى ٢٢٣ مطلب في التحقيق هل يجب على أهل منى صلاة العيد)

﴿٢﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وختم ابن السراج عنه ﷺ اكثر من عشرة آلاف ختمة وضحّى عنه مثل ذلك...... قلت وقول...... پاتې حاشيه په بل مخ باندې

د وفات شوي مور او پلار له طرفه د قرباني حكم

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د يو سړي مور او پلار وفات شوي دي، ايا د هغوی له طرفه قرباني جائز ده او كه نه؟ كه جائز وي نو د دواړو لپاره يوه قرباني پوره ده او كه د هر يو لپاره ځان-ځان ته قرباني وكړي؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ..... ١٩٧١م / ٢ / ١٩/

جواب: ستاسو درانه حضور ته السلام عليكم ورحمة الله! تاسو (وفات شوي) مور او پلار ته قرباني كولای شئ (شامي ﴿١﴾ وغيره) ﴿٢﴾ وهو الموفق.

(بقيه حاشيه) علمائنا له أن يجعل ثواب عمله لغيره ويدخل فيه النبي ﷺ فإنه أحق بذلك حيث أنقذنا من الضلالة ففي ذلك نوع شكر وإسداء جميل له.

(ردالمحتار ٢: ٢٢٦، ٢٢٧ باب صلوة الجنازة، مطلب في إهداء ثواب القراءة للنبي ﷺ)

﴿١﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وإن مات أحد السبعة المشتركين في البدنة وقال الورثة اذبحوا عنه وعنكم صح عن الكل استحسانًا لقصد القربة عن الكل. (درمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: هذا وجه الاستحسان، قال في البدائع لأن الموت لا يمنع التقرب عن الميت بدليل أنه يجوز أن يتصدق عنه ويحج عنه، وقد صح أن رسول الله ﷺ ضحى بكبشين أحدهما عن نفسه والآخر عمن لم يذبح من امته، وإن كان منهم قد مات قبل أن يذبح.

(ردالمحتارمع الدرالمختار ٥: ٢٢٩ كتاب الأضحية)

﴿٢﴾ وفي خلاصة الفتاوى: سئل عن نصير رحمه الله تعالى عن رجل ضحّى عن الميت قال الاجر له والملك لهذا!

(خلاصة الفتاوى ٣: ٣٢٢ كتاب الأضحية، الفصل السابع)

د ذی الحجې په میاشت کې تر قربانۍ پورې نوکان او وېښتان نه کاټول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د ذی الحجې په شروع کې د نوکانو او وېښتو کاټول په قربانۍ کې څه فرق راولي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الله کیکړی فقیر خیل ټانک ..... ۱۹۶۹ م/ ۸ / ۹/

جواب: دا يو مندوب (مستحب) کار دی، ﴿۱﴾ که څوک په دې باندې عمل ونه کړي؛ نو قرباني ته يې هيڅ تاوان نه پېښيږي، فقط.

د قربانۍ د حیوان قبل القبض هلاکت په صورت کې تاوان په چا دی؟

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زيد د خپلو شريکانو سره د عمر نه يو حيوان واخيست، قرباني متعين شوه خو لا تر اوسه يې تر لاسه کړې نه وه چې هغه مړه شوه، اوس به ددې حيوان تاوان په چا باندې لازم وي؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبد الجبار ملاکنډ ..... ۱۳۹۶ هـ / ذی الحجه / ۲۶/

جواب: که زيد او شريکانو يې دا حيوان نه وي قبضه کړی، نو د عمر له طرفه ذمه داري نه ده پوره شوې او د هلاکت په صورت کې به يې تاوان په خرڅوونکي (بائع) وي ﴿۲﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ عن أم سلمة رضی الله تعالی عنها تقول قال رسول الله ﷺ: من كان له ذبح يذبحه فإذا أهل هلال ذی الحجة فلا يأخذنّ من شعره ولا من أظفاره شيئاً حتّی يضحی.

وفی حاشية أبی داؤد: وظاهر كلام شراح الحديث الحنفية أنه يستحب عند أبی حنيفة رحمه الله تعالی. (سنن أبی داؤد ۲: ۳۸۶ حاشيه: ۱، باب الرجل يأخذ من شعره فی العشر الخ)

﴿۲﴾ فی شرح المجلة: المبيع إذا هلک فی يد البائع قبل أن يقبضه المشتری يكون من مال البائع ولا شيئ علی المشتری. (شرح المجلة ۲: ۲۲۳، الفصل الخامس فی بيان المواد المترتبة علی هلاک المبيع)..... پاتې حاشيه په بل مخ باندې

قیمتي حیوان خرڅول او کم قیمته حیوان اخیستل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې په تفسیر ابن کثیر کې د قرباني په اړه یو روایت دی چې حضرت عمر رضی الله عنه یو اوبن واخیست بیا یې خرڅولو، رسول الله صلی الله علیه وسلم د خرڅولو نه منع کړ، ددې حدیث مطلب څه دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي محمد مسکین ...... ۱۹۷۴م/ ۴ / ۲۳/

جواب: دا روایت صحیح دی او معمول به هم دی، ﴿۱﴾ لأنَّ الفاضلَ أولى كما صرحوا به ﴿۲﴾ وهو الموفق.

(بقیه حاشیه) وقال العلامة الكاساني رحمه الله تعالى: فإن هلك كله قبل القبض بآفة سماوية انفسخ البيع...... وإذا انفسخ البيع سقط الثمن عن المشترى.

(بدائع الصنائع ۴: ۴۸۹، ۴۹۰، كتاب البيوع، ضمان المبيع)

﴿۱﴾ قال الحافظ عماد الدين إسماعيل بن كثير القرشي رحمه الله تعالى: عن عبد الله ابن عمر قال: أهدى عمر نجيبًا فأعطى بها ثلث مائة دينار فأتى النبي صلى الله عليه وسلم فقال: يا رسول الله إني أهديت نجيبًا فأعطيت بها ثلث مائة دينار أفأبيعها وأشترى بثمنها بدنًا قال لا انحرها إياها.

(تفسير ابن كثير ۳: ۲۹۴، سورة الحج آيت: ۳۳)

﴿۲﴾ فى الهندية: والشاة أفضل من سبع البقرة إذا استويا فى القيمة واللحم لأن لحم الشاة اطيب وإن كان سبع البقرة أكثر لحمًا فسبع البقر أفضل، والحاصل فى هذا أنهما إذا استويا فى اللحم والقيمة فأطيبها لحمًا أفضل وإذا اختلفا فى اللحم والقيمة فالفاضل أولى.

(فتاوى هندية ۵: ۲۹۹، كتاب الأضحية، الباب الخامس فى بيان محل إقامة الواجب)

د عیب یا کمزوری له وجې د قربانۍ حیوان بدلول

سوال: د دین عالمان او مفتیانددې مسئلې په اړه څه وایي چې (۱) یو سړي یو حیوان واخیست، اوس یې د کمزورۍ له وجې خرڅوي، ایا دا جائز دي؟ (۲) که دا حیوان خرڅ کړي او بل پرې واخلي، د اولني حیوان څه روپۍ زیاتې پاتې شي؛ نو د هغو روپو سره څه وکړي؟ بینوا توجروا

المستفتي: ستاسو خدمتګار نور محمد ۱۹۷۴م/ ۲/ ۲۷/

جواب: (۱، ۲)جاز بیع الأضحية و شراء الأخری و يتصدقُ بما زادَ عنْ ثمنِ الأولِ صرح به فی قاضی خان کمافی هامش الهندیة۳: ۳۸۰﴿۱﴾وهوالموفق.

د حیوان په خرڅولو کې د زیاتې روپو صدقه کول پکار دي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د قربانۍ غوبې په بل غوبي بدلول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي محمد مسکین ۱۹۷۶م/ ۶/ ۲۳/

جواب: په دې تولو صورتونو کې د لساني ایجاب وروسته چې د اول حیوان نه وروسته په دویم کې څومره روپۍ پاتې شي، لکه لومړی یې په پنځه سوه او بل یې په څلور نیم سوه روپۍ واخیست؛ نو ددې پنځوسو روپو صدقه کول واجب دي. فليراجعْ

﴿۱﴾قال العلامة فخر الدین حسن بن منصور الفرغانی رحمه الله تعالی: وإن اشتری شاة أخری بعد ما باع الأولی إن اشتری الثانية بجميع ثمن الأولی جاز ولا شيء عليه وإن اشتری الأخری بأقل ممّا باع الأولی يتصدق بما بقي عنده من ثمن الأولی.

(قاضی خان علی هامش الهندية ۳: ۳۴۷ کتاب الأضحية)

الی الهندیة ٥: ٣٢٦ ﴿١﴾ وهوالموفق

د قرباني غوښه درې برخې کول مستحب دي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زموږ د ځای د رواج سره سم د قرباني غوښه درې ځایه تقسیمیږي، یوه برخه یې د مالك ده، دویمه برخه یې خپلو همسایه ګانو او خپلوانو ته ورکوي، دریمه برخه یې په هغو خلکو تقسیموي چا چې قرباني نه وي کړې، برابره ده چې په هغوی باندې قرباني واجبه وي او که نه وي، د دریمې برخې نه هم مالك ته څه برخه پاتې کیږي، ایا په شریعت کې دده لپاره په دریمه برخه کې حصه اخیستل روا دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: حافظ محمد یعقوب کوئټه ..... ١٩٧٥ م / مارچ / ١٥/

جواب: د قرباني غوښه درې تقسیمه کول چې یو یې صدقه کول، یو یې په مېلمستیا کې مصرفول او بل یې خپل ځان ته پرېښودل مستحب عمل دی، دا هم جائز ده چې د قرباني ټوله غوښه خپله وخوري او چا ته یې هم ورنه کړي، (د رد المحتار٥: ٢٨٦ نه اخیستل شوی) ﴿٢﴾ وهوالموفق.

﴿١﴾ فی الهندیة: ولو باع الأضحیة جاز خلافا لأبی یوسف رحمه الله تعالی ویشتری بقیمتها أخری ویتصدق بفضل مابین القیمتین.

(فتاوی هندیة ٥: ٣٠٢ کتاب الأضحیة، الباب السادس فی بیان ما یستحب فی الأضحیة)

وفی ردالمحتار: وإن ضحی بالثانیة وقیمتها أقل تصدق بالزائد.

(ردالمحتار ٥: ٢٢٩، کتاب الأضحیة)

﴿٢﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: قال فی البدائع: والأفضل أن یتصدق بالثلث ویتخذ الثلث ضیافة لأقربائه وأصدقائه ویدخر الثلث، ویستحب أن یأکل منها، ولو حبس الکل لنفسه جاز...... (وندب ترکه) أی ترک التصدق (لذی عیال) غیر موسع الحال (توسعة علیهم). (ردالمحتار ٥: ٢٣٠، کتاب الأضحیة)

غوښه په اندازه تقسیمول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د قربانۍ په غوښه کې ځینې خلك ډېر په احتیاط اندازې جوړوي او بیا د قرعه اندازۍ په واسطه هره برخه تقسیموي، ددې خلکو دا کار څنګه دی؟ که غلط وي؛ نو تقسیم بې څنګه شو؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الحمید ایس وي معلم ډي آی خان ۱۹۷۳م/ ۲/ ۱۴/

جواب: ددې تقسیم لپاره وزن ضروري دی، یوازې اندازه پوره نه ده ﴿۱﴾ وهوالموفق

د غوښې د تقسیم لپاره نوې طریقه

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې زموږ په ځای کې داسې رواج دی چې د قربانۍ غوښه دوه ځایه کړي، یوه برخه کچه د خپلو بچیانو لپاره وساتي، بله برخه پخه کړي او د کلي ټول خلك بې جومات ته راوړي، د هغې وروسته یو سړی راولاړ شي او د قربانۍ د حیوان نه یو ورون او بغل امام صاحب ته ورکړي، یو ورون او بغل د کلي ملك صاحب ته ورکړي او یو ورون او بغل د کلي بوډا ته ورکړي، یو ورون او بغل د کلي شپونکي ته ورکړي او کومه غوښه چې پاتې شي هغه په سرونو تقسیموي، دغه راز د استسقاء وروسته هم خلك مال ذبح کړي او تیار پوخ بې راوړي او یو طرف ته بې جمع کړي، بیا

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويقسم اللحم وزنًا لا جزافًا إلّا إذا ضمّ معه من الأكارع أو الجلد صرفًا للجنس لخلاف جنسه.

(الدرالمختار ۵: ۲۲۳ كتاب الأضحية)

يې د پورتني تقسيم سره سم په خلکو تقسيموي. اوس ځينو خلکو ددې خاصي طريقې د تقسيم نه انکار کړی او وايي: چې په دې طريقه تقسيم موږ خوښ نه يو. د شريعت له مخې ددې مسئلې تشريح را ته وکړئ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي سخی داد تحصيل روډ ژوب بلوچستان ..... ۱۹۸۴ م / اکتوبر / ۲۳/

جواب: هغه کارونه چې په شريعت کې نه مقصد وي او نه هم منع وي؛ نو د لزوم د عقيدې له وجې منکرات وګرځي او په التزام ما لا يلزم کې داخل شي، ﴿۱﴾ بخلاف الحلوة المرسومة فإنْ دفعها وإنْ كانَ اهداء صورة لكنه أجرة ذاتاً ﴿۲﴾ وهو الموفق.

د غوښو ذخيره کول جائز دي

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې نن سبا خلك غوښه وچه کړي او بيا يې ساتي، يا يې په فريج کې ساتي، بيا يې تر مياشتو - مياشتو پورې استعمالوي، ايا داسې استعمال جائز دی؟ که جائز وي نو تر څومره وخته پورې؟ بينوا توجروا

المستفتي: شمس الرحمن عفی عنه ..... ۱۹۷۸ م/ ۸ / ۹/

جواب: د غوښې وچول او بيا ذخيره کول بې وخت تاکلو جائز دي، كما يدلُّ

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: ولأن ذكر الله تعالى إذا قصد به التخصيص بوقت دون وقت أو بشيء دون شيء لم يكن مشروعًا حيث لم يرد الشرع به لأنه خلاف المشروع.

(البحر الرائق ۲: ۱۵۹، باب العيدين)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويجبر على دفع الحلوة المرسومة هي ما يهدى للمعلم على رؤس بعض سور القرآن سميت بها لأن العادة إهداء الحلاوى.

(الدر المختار ۵: ۳۸ كتاب الإجارة، باب إجارة الفاسدة)

علیه حدیث اباحة الادخار فوق ثلث﴿۱﴾وهوالموفق.

د غائبینو له طرفه بې اجازې قرباني کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې په یو کور کې څلور ورونه شریکان دي، درې ورونه یې مسافر دي، په کور کې مقیم وروریې د خپلو مسافرو ورونو له طرفه د هغوی بې اجازې قرباني کولای شي او که نه؟ او دویمه خبره دا چې ددې ورونو ضمني اجازه د قربانۍ لپاره پوره ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي نصر الله بلوچستان ..... ۱۳۹۲ هـ / محرم الحرام / ۷/

جواب: په دې عبادت کې نیت معتبر وي، لقوله علیه الصلوة والسلام: انما الأعمال بالنیات،﴿۲﴾ بې اجازې قرباني کولو کې نیت نشته، لهذا د مسافرو له طرفه قرباني

﴿۱﴾ عن سلمة بن الأکوع رضی الله تعالٰی عنه قال قال النبی ﷺ من ضحّی منکم فلا یصبحنّ بعد ثالثة وفی بیته منه شیٔ فلما کان العام المقبل قالوا: یا رسول الله نفعل کما فعلنا العام الماضی قال کلوا وأطعموا وادّخروا فإن ذلک العام کان بالناس جَهْدًا، فاردت أن تعینوا فیها.

(الصحیح للإمام البخاری ۱: ۴۵۲ کتاب الأضاحی، باب مایؤکل من لحوم الأضاحی)

وقال العلامة الحصکفی: ویاکل من لحم الأضحیة ویؤکل غنیا ویدخر.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالٰی: (قوله ویؤکل غنیا ویدخر) لقوله علیه الصلٰوة والسلام بعد النهی عن الادخار، کلوا وأطعموا وادخروا.

(ردالمحتار ۵: ۲۳۰ کتاب الأضحیة)

﴿۲﴾ (الصحیح للإمام البخاری ۱: ۲ باب کیف کان بدؤ الوحی الی رسول الله ﷺ

نه صحيح كيږي، فى الدر المختارِ: وشرعاً ذبحُ حيوانٍ مخصوصٍ بنية القربةِ فى وقتٍ مخصوصٍ ﴿١﴾ دغه راز غالبه دا ده چې دا حيوان ددې مسافرو ملكيت نه كرځي او په غير مملوك شي قرباني نه كيږي ، فى الخلاصة عنِ النوازل : لوْ ضحى شدة نفسه عنْ غيره بأمره أوْ بغيرِ أمره لا يجوزُ ٢: ٥٢٩ ﴿٢﴾ قلتُ : ولا دليلَ على الاِذنِ فى صورة الاشتراك كما لا يخفى . وهوالموفق

قصاب ته په مزدوری کې غوښه ورکول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې قصاب ته په مزدوری کې غوښه ورکول جائز دي او که ناجائز؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي عبد الرزاق لوند خوړ مردان ..... ١٩٦٩ م / ١٢ / ١٣/

جواب: ناجائز دی، فى الدرالمختارِ :ولايعطى الجزارُ منها لأنه كبيعٍ انتهى ﴿٣﴾ قلتُ صرحَ الفقهاءُ بأنَّ حكمَ اللّحمِ والجلدِ واحدٌ ﴿٤﴾ وهوالموفق.

﴿١﴾ (الدرالمختار ٥: ٢١٩ كتاب الأضحية)

﴿٢﴾ (خلاصة الفتاوى ٣: ٣٢٢ كتاب الأضحية، الفصل السابع فى التضحية عن الغير)

﴿٣﴾ (الدرالمختار ٥: ٢٣١ كتاب الأضحية)

وفى الهندية: ولا يحل بيع شحمها..... ولا أن يعطي أجر الجزار والذابح منها.

(فتاوى هندية ٥ : ٣٠١ كتاب الأضحية، الباب السادس)

﴿٤﴾ قال العلامة شيخى زاده: واللحم بمنزلة الجلد..... فإن بدل اللحم أو الجلد به أى بما ينتفع بالاستهلاك جاز ويتصدق به..... وعن أبى يوسف رحمه الله تعالى بيع الأضحية وجلدها ولحمها باطل لأنه بمنزلة الوقف.

(مجمع الأنهر ٢: ١٧٤، ١٧٥ كتاب الأضحية)

دخپلوانو ته په هبه شوي قرباني کې شريکي هبه صحيح ده

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د يو سړي خپل حيوان دی، په هغې کې يې يوه برخه د ځان لپاره ټاکلې ده، دويمه برخه يې د خپلې کور والا لپاره ټاکلې ده، دريمه برخه يې خپل ورور ته ورکړې ده، په داسې حال کې چې ټول ژوندي دي، په دې طريقه د دوی قرباني کيږي او که نه؟ ځکه که دا هبه وي؛ نو خپلوانو خو يې قبضه ورباندې نه ده کړې او مالك هم شريکي هبه کړې ده، که دا صورت د عدم جواز وي؛ نو د جواز به څه صورت وي؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي تاج زرين مدرس دار العلوم شيرگړه ١٩٨١م/٨/٣/

جواب: هغه څه چې نه تقسيميږي په هغه کې هبة المشاع جائز ده، حيوان د هغه شيانو څخه دی چې نه تقسيميږي، فليراجعْ الی رد المحتار﴿١﴾وغيره.﴿٢﴾ وَاللّٰهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَاب.

د قرباني د شيدو په استعمالولو کې د فقهاؤ د مختلفو عبارتونو تر منځ تطبيق

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې اوه کسانو شريکانو د قرباني لپاره يوه شيدو والا غوا ديو سړي نه واخيسته، شريکانو يې بېرته غوا خپل مالك ته وسپارل چې ته دا له ځانه سره وساته او شيدې يې په

﴿١﴾قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالی: (في) متعلق بتتم (محوّز) مفرّغ (مقسوم ومشاع لا) يبقى منتفعًا به بعد أن (يقسم) كبيت وحمام صغيرين. (الدر المختار)

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالی: (قوله بعد أن يقسم) ويشترط في صحة هبة المشاع الذي لا يحتملها أن يكون قدرًا معلومًا حتى لو وهب نصيبه من عبد ولم يعلمه به لم يجز. (ردالمحتار ٤: ٥٧٠ كتاب الهبة)

﴿٢﴾ في جامع الفصولين: هبة المشاع في مالايحتمل القسمة تجوز.

(جامع الفصولين ٢٢، الفصل الحادی والثلاثون في مسائل الشيوع)

خپل استعمال کې راوله؛ هغه سړي شیدې استعمال کړې. په شریعت کې دده لپاره ددې شیدو استعمال څه حکم لري؟

که څینې شریکانو اجازه نه وي ورکړې بیا به یې څه حکم وي؟ په دې مسئله کې د عالمګیري چې کوم عبارت دی: (۱)ولو اشترى بقرة حلوبة و أوجبها أضحية فاكتسبَ مالاً منْ لبنها يتصدقُ بمثلِ ما اكتسبَ و يتصدقُ بروثها .

(۲) فانْ كانَ يعلفها فما اكتسبَ منْ لبنها أوِ انتفعَ منْ روثها فهو لـــه ولا يتصدقُ بشيءٍ كذا فى محـيط السرخسـي عالمګیریه۴: ۷۲ په دې دواړو عبارتونو کې څه فرق دی؟ په پورته اول او دویم عبارت کې عامو متونو او شامي داسې لیکلي دي. لکه په هدایه ۴: ۳۸۲ کې دي: و يكـرهُ أنْ يجـزَّ صوف أضحيةٍ و ينتفعُ به قبلَ أنْ يذبحها لأنه التزامُ اقامةِ القربةِ بجميعِ أجزاها بخلافِ ما بعدَ الذبحِ لأنه أقيمت القربة بها كما فى الهدى ، و يكرهُ أنْ يحلبَ لبنها فينتفعُ به كما فى الصوفِ ؟ بينوا توجروا

المستفتي: تازه ګل لکي مروت ..... ۱۹۸۵ م / ۱۰ / ۳/

جواب: د اولنـي عبـارت او د هدایـه عبـارت محمـل د دویـم عبـارت څخـه معلومیږي، ﴿۱﴾اذا لمْ يعلفها فافهمْ وتدبرْ﴿۲﴾والله أعلمُ

د حیوان په حمل د قرباني نذر منل صحیح نه دي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د زید په کور کې زیاتي چېلۍ ده، هغه نذر ومنلو چې که ددې چېلي بچی پیدا شو هغه به زه قرباني کوم، کله چې د چېلۍ بچی وزیږېد؛ نو نر نه بلکې ماده

﴿۱﴾ (فتاوی هندیة ۵: ۳۰۱ کتاب الأضحية، الباب السادس)

﴿۲﴾ (فتاوی هندیة ۴: ۳۵۰ کتاب الأضحية)

(ښځه) يې پيدا شوه، بيا دا ماده حيوان بلارب شو، اوس ددې معين نذر والا حيوان قرباني کولو ته څومره وخت انتظار وکړو؟
که د قربانۍ د ورځو مخکې يا وروسته يا په دغه ورځ بچی پيدا شي بيا ددې د قربانۍ څه حکم دی؟ او ددې د بچيانو به څه حکم وي؟ بينوا توجروا
المستفتي: حافظ بشير احمد ګوجرانواله ..... ۱۳۹۴ هـ / ذی قعده / ۲۴/

جواب: پورته ياد الفاظ د وعدې دي نذر نه دی، لعدمِ لفظِ النذرِ و لعدمِ ما يفيدُ الالتزامَ منْ كلمةِ على و ما يرادفها﴿۱﴾ لهذا په دې سړي (زيد) باندې هيڅ ذبح نه ده واجبه، دغه راز تر دې وخته پورې هغه نه ؤ پيدا شوی، د فقهاؤ قاعده ده: چې د معدوم (نشت شي) نذر نه صحيح کيږي، لأنه ليسَ بمضافٍ الى سببِ الملك﴿۲﴾ ولوْ سلمَ فالوجهُ الأولُ خالٍ عنِ الخدشةِ وكافٍ فى الحكمِ. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: إن برئت من مرضي هذا ذبحت شاة فبرئ لا يلزمه شيئ إلا أن يقول فلله علىّ أن أذبح شاة...... فأفاد أن عدم الصحة لكون الصيغة المذكورة لا تدل على النذر أى لأن قوله ذبحت شاة وعد لا نذر.
(ردالمحتار ۳:۷۲، كتاب الإيمان، مطلب النذر غير المعلق لا يختص الخ)
وقال الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالىٰ: وركنه عند الحنفية هو الصيغة الدالة عليه مثل قول الشخص: لله علىّ كذا او علىّ كذا أو علىّ نذر.
(الفقه الإسلامي وأدلته ۳:۲۵۵۲، الفصل الثاني النذور)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالىٰ: إذا قال إن فعلت كذا فألف درهم مالي صدقة ففعل وهو لا يملك إلا مائة لا يلزمه إلا المائة لأنه فيما لم يملك لم يوجد في الملك ولا مضافًا إلى سببه فلم يصح. (البحر الرائق ۳:۲۹٦ قبيل باب اليمين في الدخول والخروج والسكنى الخ)...... پاتې حاشيه په بل مخ باندې

د ابراهيم عليه السلام ذبحه شوي ګډ غوښه چا وخوړل؟

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې کله حضرت ابراهيم عليه السلام د خپل زوی اسمعيل عليه السلام ذبح کول وغوښتل؛ نو هغه ته د امتحان په کاميابي بوه ګډه راولېږل شوه او هغه حلاله کړه؛ نو د هغې ګډې غوښې چا وخوړلې؟ ايا حلاله شوې ګډ بېرته جنت ته ولېږل شوه؟ بينوا توجروا

المستفتي: ګلاب شاعر نسته چارسده ..... ۱۴۰۳ هـ / شعبان / ۱/

جواب: هغه وخت دغه ګډ هيچ چا نه وه خوړلې بلکې تر يو کاله ژوندی وه، لما فی المدارك ۴: ۳۰ و روی أنه هرب عنْ ابراهيمَ عليه السلام عندَ الجمرة فرماهُ بسلع حصياتٍ حتى أخذه فبقيتْ سنة فى الرمى ﴿۱﴾ د ځينو روايتونو څخه معلومېږي چې دا د خوراك ګډه نه وه بلکې دا تکويني وه، كذا فى البحـرِ المحيط ۷: ۳۱۷ وقالَ أبوبكرٍ الوراقُ لأنه لمْ يكنْ عن نسلٍ بلْ عنِ التكوينِ ﴿۲﴾ وهو الموفق.

د قرباني غوښه د مالدار او غريب دواړو لپاره خوړل جائز دي

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې يو غريب سړي باندې چې قرباني واجب نه وي، هغه د قرباني په نيت چېلې يا ګډ واخيستل. فقهاء كرام خو ليکي چې دا په ده باندې نذر شو او د نذر حکم دا وي چې نذر منونکی به خپله نه شي خوړلای او پاتې شو پورتنی نذر؛ نو په ديکښې خو نذر منونکي د نذر الفاظ نه دي ويلي، ايا د دې چېلي غوښه

(بقيه حاشيه) وقال الدكتور وهبة الزحيلى رحمه الله تعالى: رابعًا أن يكون المال المنذور به مملوكًا للناذر وقت النذر أو يكون النذر مضافًا إلى الملك أو إلى سبب الملك. (الفقه الإسلامى وأدلته ۳: ۲۵۵۸، الفصل الثانى، النذور)

﴿۱﴾ (مدارك التنزيل ۲: ۴۲۰ سورة الصافات، پاره: ۲۳)

﴿۲﴾ (البحر المحيط ۹: ۱۱۸ سورة الصافات، مكتبه دار الفكر)

ددې سرې لپاره خوړل حلال دي او که نه؟ که د نذر الفاظ موجود وای بیا خو د حرمت دلیل ښکاره دی، زه هغه صورت یادوم چې د نذر الفاظ پکښې ښکاره نه وي هغه څه حکم لري؟ که د مالدار نه مال ورک شي، د قربانۍ لپاره ځان ته بل حیوان واخلي؛ نو په هغه باندې دا دویم حیوان ولې نه نذر کیږي؟ مهرباني وکړئ او مسئله راته روښانه کړئ! بینوا توجروا

المستفتي میان محمد الرحمن، فاضل خطیب پاړه چنار ۱۹٦۹م/۵/۴/

جواب غریب چې کله د قربانۍ اراده وکړي؛ نو د قربانۍ د غوښې په خوړلو کې دده لپاره دوه روایتونه دي، یو د جواز او دویم د عدم جواز. قالَ العلامة الشامي ف رد المحتار ۵: ۲۸٦ و فی التتارخانية سئلَ القاضی بدیع الدین عنِ الفقیرِ اذا اشتری شاةً لها هلْ يحلُّ لهُ الأكلُ ؟ قالَ نعمْ ! وقالَ القاضی برهانُ الدین لا يحلُّ ثمَّ قالَ العلامة بعدَ أسطرٍ : والحاصلُ أنَّ اللتی لا يؤكَلُ منها هی المنذورةُ ابتداءً والواجبةُ علی الفقیرِ بالشراء علی أحد القــولینِ المـــارین الی آخر ما قالَ﴿۱﴾ نه خوړل یې غوره دي، خوړل یې هم روا دي، په مالداره باندې بوازې د حیوان په اخیستلو سره قرباني نه واجبیږي. ځکه د هغه قرباني د نذر په خبر نه ده. (فوضح الفرقُ) وهوالموفق

غوا قرباني كول او غوښه يې نه خوړل

سوال: ددین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې یو سړی د غوا، میښې او اوښ

﴿۱﴾(ردالمحتار۵: ۲۳۰ کتاب الأضحیة)

وفی خلاصة الفتاوی: الفقیر إذا اشتری أضحیة فسرقت فاشتری مکانها أخری ثم وجد الأولی فعلیه أن یضحی بهما وفی الغنی لا یجب إلا واحدة، والفرق أن الوجوب علی الفقیر بالشراء والشراء قد تعدد فیتعدد الوجوب والواجب علی الغنی بایجاب الشرع والشرع لم یوجب إلا اضحیة واحدة. (خلاصة الفتاوی ۴: ۳۱۸ کتاب الأضحیة، جنس آخر فی النذر)

غوښه نه خوري خو قرباني کوي يې او د خوراك لپاره يوازې چرګان څان ته راغواړي، يا د کوم قربانۍ والا کورنه د چيلي غوښه راوغواړي او بيا يې خوري، دا کار په شريعت کې څه حکم لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد عبد الرحيم کبير والا ضلع ملتان ۱۹۶۹م/۳/۱۹/

جواب: که د علاج او دوايي په نيت يې نه خوري: نو خير دی او که د ديني نيت له امله يې نه خوري بيا حرام دی«۱» فقط وهوالموفق.

د غوښې د تقسيم لپاره وزن ضروري دی

سوال: د دين عالمان او مفتيان د دې مسئلې په اړه څه وايي چې د قربانۍ په غوښه کې ځينې خلك

«۱» قال الله تبارک وتعالیٰ: یایها الذین آمنوا ادخلوا فی السلم کافة، وفی الآیة وعید شدید علی الابتداع والإحداث فی الدین ولو عملًا من غیر اعتقاد فإن هؤلاء مؤمنی أهل الکتاب زعموا أن یوم السبت کان معظما عند الیهود ولیس بواجب تحقیره فی الإسلام، ولحمان الإبل کانت محرمة فی التوراة ولا یجب أکلها فی الإسلام فما ذا علینا لو عظمنا السبت کما کنا نعظمه، ونجتنب عن لحمان الإبل مع اعتقاد حلها فإن فی ذلک عملًا بالشریعتین وزیادة طاعة لله عزّوجلّ، فرد الله زعمهم ونبّههم علی خطاهم فیه بأن الواجب علیکم الدخول فی الإسلام کملًا ظاهرًا وباطنًا، ولا یتم ذلک إلا بترک مراعاة مالم یراعه الله ورسوله فی هذا الدین.

(أحکام القرآن للتهانوی رحمه الله تعالیٰ ۱/۱: ۳۷۳)

وقال العلامة عبد الحی اللکنوی رحمه الله تعالیٰ: الجواب: دغوا حلالول واجب نه دي، پرېښودونکی يې ګناهګار نه دی، هغه څوك چې حلالول يې مباح ګڼي، خو خوراك ترې نه کوي دهغه په اسلام کې څه توپير نه راځي، څوڅوك چې غوا ويه ګڼي او يا يې حلالول خوند نه ورکوي بلکې بد يې ګڼي دهغه اسلام خامخا ناقص دی. (مجموعة الفتاوی ۱: ۲۹ کتاب العقائد)

ډېر په احتياط وزن کوي او بيا د قرعه اندازی په واسطه يې تقسيموي، ددې خلکو دا کار څنګه دی؟ که غلط وي؛ نو تقسيم يې څنګه شو؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبد الحميد ډی آی خان ..... ١٩٧٣م/ ٢ / ١٤/

جواب: ددې تقسيم لپاره وزن ضروري دی، يوازې اندازه پوره نه ده (الــــدر المختار) ﴿١﴾ که اباحت (اجازه) وي؛ نو ديو بل تصرف حرام نه دی.﴿٢﴾ وهو الموفق

﴿١﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ: ويقسم اللحم وزنًا لا جزافًا إلا إذا ضمّ معه من الأكارع أو الجلد.

(الدرالمختار ٥: ٢٢٣، كتاب الأضحية)

﴿٢﴾ في شرح المجلة: لايجوز لاحد أن يتصرف في مال الغير إلّا بإذنه..... فتصرف الغير في مال الغير ممنوع إلّا أن تكون وصايةً أو ولايةً أو تدعوا ضرورةً فيجوز.


(شرح المجلة ١: ٢٦٢، المادة: ٩٦)






فتاوی فریدیه جلد اتم

باب جلد الأضحية





قال النبی
صلی الله علیه وسلّم
من باع جلد أضحیته
فلا أضحیة له.
(الحاکم)

باب جلد الأضحية

قالَ النبيُّ صلى الله عليه وسلّم: مَنْ باعَ جلدَ أضحيتِه فلا أضحيةَ لَه (الحاكم)

د قرباني د څرمنې مصرف

سوال: د دين عالمان او مفتيان د دې مسئلې په اړه څه وايي چې د قرباني د څرمنې مصرف کوم ځای او څه دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: دلبر باچه. کمبت مردان ..... ١٣٩٧ هـ / محرم الحرام / ١/

جواب: د قرباني څرمن دې مسکينانو ته ورکول شي، (شامي) «١» د خرڅولو په صورت کې يې روپۍ خپله استعمالول ناروا دي، «٢» د اکثرو اکابرو عالمانو په نزد مسجد کې يې هم نه شي مصرفولای، لعدمِ التمليك «٣» خو دبعض په نزد بيا جائز دي، د تصدق نه مراد ثواب او د خير کارونه دي، «٤» والأولُ أحوطُ والثاني أوسعُ. وهو الموفق

«١» قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله ويتصدق بجلدها) وكذا بجلالها وقلائدها. (ردالمحتار ٥: ٢٣١ كتاب الأضحية)

«٢» فى الاختيار لتعليل المختار: ولا يبيعه لقوله عليه الصلوٰة والسلام: من باع جلد أضحيته فلا أضحية له، فإن باعه بشيئ من النقود يتصدق به.

(الاختيار لتعليل المختار ٥: ٢٥، كتاب الأضحية)

«٣» قال العلامة أشرف على التهانوى رحمه الله تعالى: على هذا په څه کې چې تمليك او قبض نه وي لکه جوماتونو وغيره کې مصرفول دا هم جايز نه دی (امدادالفتاوی ٣: ٥٣٤)

«٤» ويدلّ عليه مافى تبيين الحقائق: ولو باعها بالدراهم ليتصدق بها جاز لأنه قربة كالتصدق بالجلد واللحم. (تبيين الحقائق ٦: ٩ كتاب الأضحية)

د قرباني د څرمنې حکم د څرمنې په څېر دی

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د قرباني د څرمني او غوښې یو حکم دی، که داسې وي؛ نو دا چې په بخاري شریف کې د حضرت علي رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وفرمایل: څرمن او غوښه يې صدقه کړه! ددې څه مطلب دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد عتیق الرحمن سیالکوټ

جواب: د رد المحتار ۵: ۲۸۷ نه معلومیږي چې د څرمنې او غوښې یو حکم دی، یعني دواړه په خپل استعمال کې راوستل او صدقه کول جائز دي،﴿۱﴾ چا ته په مزدوری کې ورکول ناجائز دي، لکه څرنګه چې د مسلم شریف ﴿۲﴾ او بخاري شریف ﴿۳﴾ په حدیث کې راغلي دي، وأنْ لا أعطی الجزارَ منها ، د حدیث شریف مطلب او ترجمه داسې ده: غوښه او څرمن صدقه کړئ قصاب ته په مزدوری کې غوښه او څرمن مه ورکوئ! په دې حدیث کې د دواړو په اجرت کې د ورکولو نه منع او د صدقه کولو جواز راغلی دی، پاتې شوه دا چې د دې نه خوراك كول؛ نو دا هم د بخاري شريف ﴿۴﴾ او

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالیٰ: فإن بیع اللحم أو الجلد به ای بمستهلک أو بدراهم تصدق بثمنه. (درمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالیٰ: والصحیح کما فی الهدایة وشروحها أنهما سواء فی جواز بیعهما بما ینتفع بعینه دون مایستهلک. (ردالمحتار ۶: ۲۳۱ کتاب الأضحیة)

﴿۲﴾عن علی رضی الله تعالیٰ عنه قال امرنی رسول الله ﷺ ان أقوم علی بدنه وأن أتصدق بلحمها وجلودها وأجلتها وأن لا أعطی الجزار منها.

(صحیح المسلم ۱: ۴۲۳ کتاب الحج، باب الصدقة بلحوم الهدايا الخ)

﴿۳﴾ (صحیح البخاری ۱: ۲۳۲ کتاب الحج ،باب لایعطی الجزار من الهدی شیئا)

﴿۴﴾عن جابر بن عبد الله قال کنا لا نأكل من لحوم...... پاتې حاشیه په بل مخ باندې

مسلم شریف ﴿۱﴾ له روایت نه معلومیږي. فقالَ : کلوا وتزودوا فأکلنا و تزودنا، په قرآنکریم کې هم راغلي دي ﴿ فَكُلُوا مِنْهَا ﴾ ﴿۲﴾ د څرمن استعمال د قرآن او حدیث د دلالت نه معلومیږي، د حضرت علي او حضرت عایشه رضی الله عنهما څخه صراحتاً روایت هم شوی دی. فليراجعْ الى البدائع ۵: ۸۱ ﴿۳﴾ وهو الموفق.

د قرباني څرمن ځپله استعمالول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د قرباني څرمن څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: میا طفیل احمد (آف: چلی شیخ) ...... ۱۹۷۶م / ۳ / ۲۹/

(بقیه حاشیه) بُلِّغنا فوق ثلث منًى فرخص لنا النبي ﷺ فقال: كلوا وتزوّدوا فأكلنا وتزوّدنا. (صحيح البخاري ۱: ۲۳۲ كتاب الحج، باب إِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ الخ)

﴿۱﴾(صحيح المسلم ۲: ۱۵۸ كتاب الأضاحى، باب بيان ما كان من النهى عن اكل لحوم الأضاحى بعد ثلاث الخ)

﴿۲﴾(سورة الحج آيت: ۳۶)

﴿۳﴾ قال العلامة الكاسانى رحمه الله تعالىٰ: ويستحب له أن يأكل من أضحيته لقوله تعالىٰ وعزّ شانه: فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ ، وروى عن النبى ﷺ أنه قال: إذا ضحّى أحدكم فليأكل من أضحيته ويطعم منه غيره، وروى عن سيّدنا علىّ رضى الله تعالىٰ أنه قال لغلامه قنبر حين ضحّى بالكبشين: يا قنبر خذلى من كل واحد منهما بضعة وتصدق بهما بجلودهما وبرؤوسهما وباكارعهما ...... وقول النبى ﷺ: كنت نهيتكم عن لحوم الأضاحى فكلوا منها وادّخروا، فثبت بمجموع الكتاب العزيز والسنة أن المستحب ماقلنا ...... وله أن ينتفع بجلد أضحيته فى بيته بان يجعله سقاءً أو فروًا أو غير ذلك لما روى عن سيّدتنا عائشة رضى الله تعالىٰ عنها أنها اتخذت من جلد أضحيتها سقاءً، ولأنه يجوز الانتفاع بلحمها فكذا بجلدها. (بدائع الصنائع ۴: ۲۲۴ كتاب التضحية، ما يستحب فى الأضحية)

جواب: د قربانی څرمن خپله استعمالول جائز دي؛ خو غوره داده چې صدقه کړای شي، که خرڅه یې کړي؛ نو د اکثرو عالمانو په نزد روپۍ غریبانانو ته ورکول پکار دي، ﴿۱﴾ د بعض عالمانو په نزد هر خیر کار کې یې مصرفول جائز دي ﴿۲﴾ والأولُ هو الأحوطُ . وهوالموفق

د قربانۍ په څرمن کې صدقه غوره ده اګر که په مالدارو وي

سوال: د دین عالمان او مفتیان د دې مسئلې په اړه څه وایي چې د قربانۍ د څرمنې اصلي مصرف څه دی؟ ایا په جومات کې مصرفول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: مهربان ……… ۱۹۷۵م / ۱۱/۲٦/

جواب: د قربانۍ په څرمنو کې غوره دا ده چې صدقه شي اګر که په مالداره خلکو وي، دا هم روا دي چې خپله تری د اوبو مشکیزه جوړه کړي، ﴿۳﴾ د خرڅولو په صورت کې زیاتره اکابر په دې رایه دي چې تصدق علی المساکین غوره دی، ﴿۴﴾ او ځیني اکابر وایي چې په هر خیر کار کې یې مصرفول

﴿۱﴾ في الخانية: لا بـأس بـأن ينتفع بإهاب الأضحية أو يشترى بها الغربال أو المنخل ولا بأس بأن يتخذ من جلد الأضحية فروًا او بساطًا او متكئًا يجلس عليه.
(فتاوى خانية على هامش الهندية ۳: ۳۵۴ كتاب الأضحية)

﴿۲﴾ يـدل عـلـيـه مـا قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: ولو باعها بالدراهم ليتصدق بها جاز لأنه قربة كالتصدق بالجلد واللحم. (البحر الرائق ۸: ۱۷۸ كتاب الأضحية)

﴿۳﴾ في مجمع الأنهر: ويتصدق بجلدها أو يعمله آلة كجراب اوخف او فرو او يشترى به مـا يـنـتـفـع به مع بقائه كغربال ونحوه لا مايستهلك كخل وشبهه فإن بدل اللحم والجلد به يتصدق به. (مجمع الأنهر ۴: ۱۷۴ كتاب الأضحية)

﴿۴﴾ قـال العلامة محمود حسن رحمه الله تعالى: الجواب: دقربانۍ څرمن، دقربانۍ غوښه اودعقیقې دغوښې تولو یوحکم دی، عالم، امي، شتمن، غریب ټولو ته اخیستل. حاشیه په بل مخ باندي

جائز دي، ﴿۱﴾ فالأولُ هو الأحوطُ والثاني هو الأوسعُ ولمْ أجدهُ صريحاً مــعَ تتبعٍ بليغٍ. وهو الموفق

څرمن د نورو مسکينانو په نسبت د دين طالبانو ته ورکول زيات غوره دي

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زموږ په کلي کې د لوی اختر په ورځ د قرباني څرمنې يو ځای جمع کيږي، ددې څرمنو روپۍ بيا د کلي په مسافرو ديني طالبانو باندې مصرفيږي، زيد وايي چې دا کار ښه نه دی، بلکې غوره دا ده چې د قربانی څرمن مؤذن ته ورکول شي، عمر وايي چې طالبان غوره دي، ځکه چې دوی د ديني علومو زده کړه کوي او مؤذن خو د خپل کار په اندازه تنخا لري، پلار يې هم په دې کلي کې دی هغه هم دوه سوه روپۍ تنخا لري، اوس زيد په حقه دی او که عمر؟ بينوا توجروا

المستفتي: سيد ثناء الله کوئټه بلوچستان ..... ۱۹۷۲ م / ۶ /۵/

جواب: فقهاء کرامو ليکلي دي: چې دا روپۍ دي صدقه کړي او مسکينانو ته دي ورکړي، ﴿۲﴾ په نسبت سره نورو مسکينانو ته بيا په ديني طالبانو او

باقي حاشيه او ورکول صحيح دي، هيڅ څوک پکې خاص نشته، څوکه د قرباني څرمن خرڅه شي بيا يې قيمت کوم غريب او مسکين ته ورکول واجب دي (فتاوی محموديه ۱۷: ۴۷۰)

﴿۱﴾ في تبيين الحقائق: ولو باعها بالدراهم ليتصدق بها جاز لأنه قربة كالتصدق بالجلد واللحم. (تبيين الحقائق ۶: ۹ كتاب الأضحية)

﴿۲﴾ في الهندية: ويتصدق بجلدها أو يعمل منه نحو غربال وجراب.

(فتاوى هندية ۵: ۳۰۱ كتاب الأضحية، الباب السادس في بيان مايستحب في الأضحية)

وفي الولوالجية: فإن باع الجلد يتصدق بثمنه لأنه عجز عن التصدق بعينه فيجب التصدق بثمنه. (الفتاوى الولوالجية ۳: ۷۷ كتاب الصيد والذبائح والأضحية)

مجاهدينو باندې مصرفول زيات ثواب لري، د حديث د تشريح مطابق اوه سوه درجې زيات ثواب لري «۱» وهوالموفق.

د قرباني د څرمنې په قيمت کې تقرب ضروري دی، تصدق نه

سوال: د دين عالمان او مفتيان د دې مسئلې په اړه څه وايي چې که کوم سړی د قرباني څرمن خرڅه کړي؛ نو د هغې قيمت صدقه (غريب) ېې مالک جوړول ضروري دي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: قطب الدين کينال کالوني بهاولنگر ..... ۱۹۸۷م / ۹ / ۱۶/

جواب: د امام زيلعي رحمه الله د کلام نه معلوميږي چې د هغې په قيمت کې تقرب ضروري دی تصدق نه.«۲» وهوالموفق.

ايا د قرباني په څرمنه کې قبض او تمليک ضروري دی؟

سوال: د دين عالمان او مفتيان د دې مسئلې په اړه څه وايي چې که د قرباني والا بنه مالدار وي؛ نو د قرباني څرمن په څه شي کې استعمال کړي؟ د کلي يو جومات جوړيږي او څوک ورسره هيڅ مالي مرسته نه کوي، که د جومات په تعمير او ابادۍ باندې د قرباني د څرمنو قيمت مصرف شي؛ نو څه حکم لري؟

«۱» قال النبي ﷺ: من أرسل بنفقة في سبيل الله وأقام في بيته فله بكل درهم سبع مائة درهم ومن غزا بنفسه في سبيل الله وأنفق في وجه ذلک فله بكل درهم سبع مائة الف درهم. (سنن ابن ماجة ۲۰۳ باب فضل النفقة في سبيل الله تعالى)

«۲» قال العلامة الزيلعي رحمه الله تعالى: ولو باعها بالدراهم ليتصدق بها جاز لأنه قربة كالتصدق بالجلد واللحم.

(تبيين الحقائق ۶ : ۹ كتاب الأضحية)

د قاضي خان په ٤:٣٣٣ کې ذکر دي: لا بأسَ بأنْ ينتفعَ باهاب الأضحية أوْ يشتري بها الغربال أو المنخل و لا بأسَ بأنْ يتخذ منْ جلد الأضحية فرواً أوْ بساطاً أوْ متكناً يجلس عليه أو يبيعَ جلد الأضحية بشيئٍ منْ متاعِ البيت والثوب لنفسه يلبسه أوْ كساء أوْ خفاً أوْ نحو ذلك ، ولو اشترى بجلد الأضحية جراباً جازَ ، دغه راز د خلاصة الفتاوی ٢: ٥٢٨: كتاب الأضحية او فتاوی سراجيه على هامش قاضي خان ٢: ١١٥ عبارتونو نه معلوميږي چې د قرباني څرمن په خپلو ګټو کې استعمالول جائز دي. که د سخت ضرورت په وخت کې د جومات په ضرورياتو کې استعمال شي؛ نو کوم جواز لري او که نه؟ کله چې يې په غربال او ثياب کې استعمال جائز دی او مالدار ته يې هم ورکول جائز دي؛ نو غريب جومات ته يې خو يې بايد په طريقه اولی سره ورکړي؟ بينوا توجروا

المستفتي: حکيم سيد غلام جان مرهتي، رسالپور ... ١٩٦٩م/ ٣/ ١٣/

جواب: د پوره تفتيش وروسته هم راته دا جزئيه چېرته پيدا نه شوه چې د قرباني د څرمنې لپاره قبض او تمليك ضروري دی او که نه؟ خو د زياتره اکابرو عالمانو ميلان په دې دی چې قبض او تمليك شرط دی. ﴿١﴾ ځکه چې فقهاء کرامو د څرمن او د څرمنې د قيمت په اړه د (يتصدقُ) الفاظ استعمال کړي دی. ﴿٢﴾ په صدقه کې تمليك او قبض شرط دی. لأنّ الصدقة کالهبة صرّحَ به الفقهاءُ فليراجعْ الى الهداية ٣: ١٤٥ ﴿٣﴾ وغيرها ﴿٤﴾

﴿١﴾ فی إمداد الفتاوی: على هذ په څه کې چې ملکيت او قبضه نه راځي لکه جوماتونه او داسې نور. په ديکښې بې خرچه کول جائزنه دي (امداد الفتاوی ٣ ٥٣٤)

﴿٢﴾ فی الکنز: ويتصدق بجلدها. (کنز الدقائق على هامش البحر الرائق ٨:١٧٨ کتاب الأضحية)

﴿٣﴾ فی الهداية: والصدقة کالهبة لاتصح إلا بالقبض لأنه تبرع کالهبة.
(الهداية ٣:٢٩٢ کتاب الهبة، قبيل کتاب الإجارات)

﴿٤﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: والصدقة کالهبة بجامع التبرع وحينئذ لا تصح غير مقبوضة. (الدرالمختار ٤: ٥٨١ کتاب الهبة، فصل فی مسائل متفرقة)

ځيني اکابر عالمان بيا وايي چې په ديکښې تمليك او قبض ضروري نه دی، د تصدق نه مراد په خيريه كار كې استعمالول دي. يدلُ عليه تعليل الهندية ٥: ٣٣٤: ولو باعها بالدراهم ليتصدقَ بها جازَ لأنه قربةٌ كالتصدق ، انتهى﴿١﴾قلتُ : وجه الدلالة أنه يدلُّ على أنَّ المدارَ على القربة لا على التصدق بخصوصه ، دغه راز علامه شامي او نور عالمان ليکي: چې د غوښې او څرمني يو حکم دی، (٥: ٢٨٧) ﴿٢﴾ په غوښه کې اباحت صحيح دی او تمليك شرط نه دی. يدلُ عليه روايةُ أبي داؤدَ : قالَ عليه السلامُ : من شاء اقتطعَ﴿٣﴾انتهى وجه الدلالة أنه اباحةٌ لا تمليكٌ لأنَّ تمليكَ المجهول غير صحيحٍ فعلمَ أنَّ التمليك لا يشترطُ في اللحم فكذا في الجلد ، و أيضاً لما جازَ صرفها لنفسه﴿٤﴾فجازصرفها على المسجدِ بأولى ددې اختلاف په بنا احتياط دا دی چې په جومات باندې مصرف نه شي، که مصرف يې کړي؛ نو اميد دی چې كومه ګناه به نه وي. فقط وهوالموفق .

﴿١﴾(فتاوى هندية ٥: ٣٠١ كتاب الأضحية، الباب السادس في بيان ما يستحب في الأضحية)

﴿٢﴾في ردالمحتار: (فإن بيع اللحم أو الجلد به الخ)، أفاد أنه ليس له بيعهما بمستهلك وأن له بيع الجلد بما تبقى عينه وسكت عن بيع اللحم به للخلاف فيه...... والصحيح كما في الهداية وشروحها أنهما سواء في جواز بيعهما بما ينتفع بعينه دون ما يستهلك.

(ردالمحتار ٥: ٢٣١ كتاب الأضحية)

وفي الفتاوى الولواجية: وأما اللحم فالجواب فيه كالجواب في الجلد.

(الفتاوى الولواجية٣: ٧٧ كتاب الصيد والذبائح والأضحية، الفصل الرابع)

﴿٣﴾عن عبد الله بن قرط عن النبي ﷺ قال: فلما وجبت جنوبها قال فتكلم بكلمة خفية لم أفهمها فقلت ماقال قال: من شاء اقتطع.

(سنن أبي داؤد ١: ٢٤٥ كتاب المناسك، باب الهدى إذا عطب قبل أن يبلغ)

﴿٤﴾في الدرالمختار: ويتصدق بجلدها أو يعمل منه نحو غربال أو جراب وقربة وسفرة ودلو أو يبدله بما ينتفع به باقيا. (الدرالمختار ٥: ٢٣١ كتاب الأضحية)

د قربانئ څرمن د مړي په کفن خرچه کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اره څه وايي چې د قربانئ څرمن خرڅول او د مړي لپاره پرې کفن اخیستل یا په جومات کې مصرفول څه حکم لري؟ دغه راز څه تملیك پکښې ضروري دی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ...... ۱۳۹۲م / محرم الحرام / ۱۵/

جواب: لم أجدهُ صريحاً واختلفَ فيه أكابرُ العلماءِ قالَ البعضُ بعدمِ الاجزاء لأنَّ حكمَ هذه الدراهم التصدق صرح به ف الهندية﴿۱﴾و رد المحتار﴿۲﴾وغيره ، والصدقةُ كالهبةِ لا تتم الا بالقبضِ﴿۳﴾والمسجدُ لايتأتى منهُ القبضُ،وقالَ البعضُ المرادُ من التصدقِ التقربُ سواءٌ كانَ تمليكاً أوْ غيرَ تمليك كما يشيرُ اليه تعليل الهندية ۵:۳۳۴:حيثُ قالوا ولو باعها بالدراهمِ ليتصدقَ بها جازَ لأنه قربة﴿۴﴾

﴿۱﴾ في الهندية: ويتصدق بجلدها أويعمل منه نحو غربال وجراب.

(فتاوی هندية ۵: ۳۰۱ كتاب الأضحية، الباب السادس)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويتصدق بجلدها أو يعمل منه نحو غربال وجراب وقربة.

(الدرالمختار ۵: ۲۳۱ كتاب الأضحية)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: والصدقة كالهبة بجامع التبرع وحينئذ لا تصح غير مقبوضة.

(الدرالمختار ۴: ۵۸۱ كتاب الهبة، فصل في مسائل متفرقة)

﴿۴﴾ (فتاوی هندية ۵: ۳۰۱ كتاب الأضحية، الباب السادس)

فافهمْ وتدبرْ ، قلتُ ويؤيده ما روى انَّ النبى صلى الله عليه وسلمَ قالَ بعدَ الذبحِ: منْ شاءَ اقتطعَ﴿١﴾وهى اباحةٌ وليسَ بتمليك لأنَّ تمليكَ المجهولِ لا يصحُّ﴿٢﴾وحكمُ اللحمِ والجلدِ واحدٌ﴿٣﴾وقلتُ أيضاً الهدايا كالضحايا﴿۴﴾ والتعاملُ فيها بالاباحةِ دونَ التمليك ولوكانَ التصدقُ مقتضياً للتمليك فيلزمُ الحرجَ على الحجاجِ فقط ـ وهوالموفق

د قربانۍ په څرمنو قوم ته ديګونه اخيستل

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې که يو غريب يا مالدار سړی راشي او خپل قوم ته ووايي چې تاسو د خپلو قربانيو څرمنې ماته راکړئ زه به تاسو ته وربانديې ديګونه واخلم او په هر غم او ښادۍ کې به ترې تول قوم په شريکه ګټه اخلو ، ټول قوم ورته په اتفاق د قربانيو څرمنې ورکړي،

﴿١﴾عن عبد الله بن قرط عن النبى ﷺ قال:...... فلما وجبت جنوبها قال فتكلم بكلمة خفية لم أفهمها فقلت ماقال قال: من شاء اقتطع.

(سنن أبى داؤد ٢٣٥ كتاب المناسک، باب الهدى إذا عطب قبل أن يبلغ)

﴿٢﴾فى دررالحكام شرح مجلة الأحكام: يلزم أن يكون المال الموهوب الذى هو عين معلومًا ومعينًا...... لأن تمليک المجهول ليس صحيحا.

(دررالحكام شرح مجلة الأحكام ٧ :٣٨٧ كتاب الهبة، المادة:٨٥٨)

﴿٣﴾فى مجمع الأنهر: واللحم بمنزلة الجلد فى الصحيح حتى لا يبيعه بما لا ينتفع به إلابعد الاستهلاک. (مجمع الأنهر ٤: ١٧٤ كتاب الأضحية)

﴿۴﴾فى الهداية: ولايجوز فى الهدايا إلا ماجاز فى الضحايا لأنه قربة تعلقت بإراقة الدم كالأضحية فيختصان بمحل واحد.

(الهداية ١: ٣٠٠، كتاب الحج، باب الهدى)

اوس یو دیني عالم راغی او هغه وايي چې ستاسو دا کار په شریعت کې ناجائز دی، ایا دده دا قول صحیح دی او که نه؟ که صحیح وي نو ددې څرمنو سره به څه کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولانا الحاج فضل الرحمن علاقه مهمند دویزی

جواب: که دې سړي په څرمنو باندې د دیګونو اخیستلو اراده کړې وي یا یې اخیستي وي جائز دي، لما فی الدر المختار : أوْ یبدله بما ینتفعُ به باقیاً﴿۱﴾ که چیرې دې سړي څرمني خرڅې کړي وي؛ نو حکم یې د زیاتره اکابرو عالمانو په نزد دا دی چې په غریبانانو دي تقسیم کړي، لما فی الدر المختار : فإنْ بیع اللحم أو الجلد به أی بمستهلك أوْ بدراهمَ تصدقَ بثمنه﴿۲﴾و فی موضعٍ آخرَ : الصدقةُ کالهبة لا تصحُ غیر مقبوضةٍ انتهی،﴿۳﴾ په دې یاد صورت کې تصدق علی الفقراء نه راځي، ددې وجې دا معامله شرعاً ناجائز ده، او ځینو عالمانو د څرمنې په اړه د فقهاء کرامو دا عبارت لیکلی دی: ویتصدقُ بجلدها أوْ یعمل منه نحو غربال وجراب أوْ یبدله بما ینتفعُ به لا بمستهلك فإن بیعَ اللحم أو الجلد به أوْبدراهمَ تصدق بثمنه﴿۴﴾د تصدق نه مراد صرف قرابت دی نه تصدق علی الفقراء، یدلُّ علیه تعلیل الهندیة : ولو باعها بالدراهمِ لیتصدقَ بها جازَ لأنه قربة کالتصدقِ،انتهی﴿۵﴾و وجه الدلالة ظاهرٌ لأنه أدارَ الحکمَ علی القربة، که د تصدق لفظ د قبض او تملیك تقاضا وکړي؛ نو د حاجیانو دا عمل

﴿۲،۱﴾ (الدرالمختار ۵: ۲۳۱ کتاب الأضحیة)

﴿۳﴾ (الدرالمختار ۴: ۵۸۱ کتاب الهبة، فصل فی مسائل متفرقة)

﴿۴﴾ (الدرالمختار ۵: ۲۳۱ کتاب الأضحیة)

﴿۵﴾ (فتاوی هندیة ۵: ۳۰۱ کتاب الأضحیة، الباب السادس)

چې د قرباني حيوانات په خپل ځای باندې پرېږدي جائز نه دي، لأنهم لم يتصدقوا ولم يعملوا منها نحو غربالٍ ولم يبدلوها بما ينتفعُ به ، که په څرمنو کې قبض او تمليک ضروري وګڼل شي؛ نو فقهاء کرامو تصريح کړې چې د غوښې او څرمني يو حکم دی، ﴿١﴾ حال دا چې په غوښه کې تمليک ضروري نه دی، بلکې اباحت هم پوره دی، لحديث رواهُ أبوداوُد: منْ شاءَ اقتطعَ﴿٢﴾ و تمليك المجهول لا يصحُّ﴿٣﴾ دغه راز د يتصدقُ کوم لفظ چې په روپو کې استعمال شوی دی، د تمليک تقاضا به ونه کړي، نو احتياط د اکابرو عالمانو په قول عمل کول دي. د ځينو عالمانو د تحقيق په وجه د سخت مخالفت نه انکار ښه نه دی. فقط ، واللّهُ أعلمُ بالصواب

په څرمنه د کور شيان اخيستل روا دي

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې که څوک د قرباني په څرمنې د کور ځينې ضروري شيان واخلي؛ نو څه حکم لري؟بينوا توجروا

المستفتي قطب الدين کيناال کالونی بهاولنگر ..... ١٩٧٨ م/ ٦/ ١٩/

﴿١﴾ فی الهندية: واللحم بمنزلة الجلد فی الصحيح حتّٰی لا يبيعه بما لاينتفع به إلّا بعد الاستهلاک.(فتاوی هندية ٥: ٣٠١ کتاب الأضحية، الباب السادس)

﴿٢﴾ عن عبد اللّٰه بن قرط عن النبی ﷺ قال:...... فلمّا وجبت جنوبها قال فتکلّم بکلمة خفية لم أفهمها فقلت ما قال قال: من شاء اقتطع.

(سنن أبی داؤد ١: ٢٤٥ کتاب المناسک، باب الهدی إذا عطب قبل أن يبلغ)

﴿٣﴾ فی درر الحکام: يلزم أن يکون المال الموهوب الذی هو عين معلومًا ومعينًا...... لأن تمليک المجهول ليس صحيحا.

(درر الحکام ٧: ٢٨٧ کتاب الهبة، المادة: ٨٥٨)

جواب: په څرمنه ددې شيانو اخيستل روا دي، نه د څرمنې په قيمت. ﴿۱﴾ وهو الموفق.

امام ته په اجرت کې د قرباني څرمن ورکول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې امام ته په اجرت کې قرباني ورکول جائز دي او که ناجائز؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم

جواب: د امامتې په بدل کې يې ورکول ناجائز دي. ﴿۲﴾ کله چې امام ته په واضحه الفاظو کې صدقه او اجرت نفی شو؛ نو د کراهت او عدم جواز به څه وجه نه وي. مع أنَّ المعتبرَ قول الدافعِ كمافى التكملة ۱: ۳۵۹ ﴿۳﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ فى الهداية: ولا بأس بأن يشترى به ما ينتفع به فى البيت بعينه مع بقائه استحسانًا. (الهداية ۴: ۴۵۰ كتاب الأضحية)

وقال العلامة الشامى رحمه الله تعالىٰ: (قوله أو يبدله بما ينتفع به باقيًا) لقيامه مقام المبدل فكأن الجلد قائم معنى بخلاف المستهلك. (ردالمحتار ۵: ۲۳۱ كتاب الأضحية)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالىٰ: ولا يعطى أجر الجزار منها لأنه كبيع.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: لأنه كلا منهما معاوضة...... لقوله عليه الصلوٰة والسلام لعلىّ رضى الله تعالىٰ عنه: تصدق بجلالها وخطامها ولا تعط أجر الجزار منها شيئًا. (ردالمحتار مع الدر المختار ۵: ۲۳۱ كتاب الأضحية)

وفى حاشية الشلبى: ولا يعط أجرة الجزار الخ أما لو أعطاه لفقره أو على وجه الهدية فلا بأس به. (حاشية الشلبى على تبيين الحقائق ۶: ۹ كتاب الأضحية)

﴿۳﴾ (تكملة ردالمحتار ۱: ۳۹۱ مطلب واقعة الفتوىٰ)

وقال العلامة ابن البزاز الكردرى رحمه الله تعالىٰ: والعبرة لنية الدافع لا لعلم المدفوع إليه. (فتاوىٰ بزازية على هامش الهندية ۴: ۸۶ باب المصرف)

مالدار امام ته د قربانۍ څرمن ورکول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې صاحب نصاب (مالدار) امام ته د قربانۍ څرمن ورکول څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: ماسټر عبد الرحيم پيپی نوښار ...... ۱۹۸۸م / ۷ / ۱۳ /

جواب: د قربانۍ غوښه او څرمن يو حکم لري. ﴿۱﴾ په غريب او مالداره دواړو باندې يې مصرفول جائز دي، ﴿۲﴾ خو دومره ده چې هغه ته يې په مزدورۍ کې ورکول ناجائز دي. ﴿۳﴾ د نيکۍ په وجه يې ورکول جائز دي ﴿۴﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ فی الهندية: واللحم بمنزلة الجلد فی الصحيح حتی لا يبيعه بما لا ينتفع به إلا بعد الاستهلاک. (فتاوی هندية ۵: ۳۰۱ کتاب الأضحية، الباب السادس)

﴿۲﴾ فی الهداية: ويأکل من لحم الأضحية ويطعم الأغنياء والفقراء ويدخر لقوله عليه السلام کنت نهيتکم عن أکل لحوم الأضاحی فکلوا منها وادخروا ومتیٰ جاز أکله وهو غنی جاز أن يوکل غنيا.

(هداية ۴: ۴۵۰ کتاب الأضحية)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالیٰ: ولا يعطی أجر الجزار منها لأنه کبيع،

وقال العلامة الشامی رحمه الله تعالیٰ: قوله لأنه کبيع لأن کلا منهما معاوضة.

(الدر المختار مع رد المحتار ۵: ۳۲۱ کتاب الأضحية)

﴿۴﴾ عن أنس رضی الله تعالیٰ عنه أن رجلا من کلاب سأل النبی ﷺ عن عسب الفحل فنهاه فقال يا رسول الله إنا نطرق الفحل فنکرم، فرخص له فی الکرامة.

(سنن الترمذی ۱: ۲۴۲ باب ماجاء فی کراهية عسب الفحل)

امام ته د مېلمستیا یا نېکۍ په خاطر د قربانۍ څرمن ورکول

سوال: د دین عالمان او مفتیان د دې مسئلې په اړه څه وایي چې زموږ په کلي کې یو امام صاحب د جنازې پرمهال تقریر کې وویل: ای کلیوالو! تاسو د قربانۍ ټولې څرمنې خپل امام ته ورکړئ؛ ځکه چې دا د هغه حق دی. بل مولوي صاحب ورته وویل: چې دا د غریبانانو حق دی. په دې اړه موږ ته مسئله روښانه کړئ! بینوا توجروا

المستفتي: محمد یونس ...... ۱۹۸۵م/ ۹ / ۲۹/

جواب: امام ته په تنخا کې د قربانۍ څرمن ورکول ناروا دي،﴿۱﴾ لیکن د امام سره د نېکۍ (هَلۡ جَزَآءُ ٱلۡإِحۡسَٰنِ إِلَّا ٱلۡإِحۡسَٰنُ)﴿۲﴾ یا د عزت له خاطره ورکول جائز دي،﴿۳﴾ برابره خبره ده چې مالدار وي او که غریب، د غوښې او څرمنې یو حکم دی، ‹د شامي څخه راخیستل شوی›﴿۴﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالی: ولا یعطی أجر الجزار منها شیئا، والنهی عنه نهی عن البیع لأنه فی معنی البیع لأنه یأخذه بمقابلة عمله فصار معاوضة کالبیع.

(البحر الرائق۸:۱۷۸ کتاب الأضحیة)

﴿۲﴾ (سورة رحمن آیت: ۶۰ پاره:۲۷)

﴿۳﴾عن أنس رضی الله تعالی عنه أن رجلا من کلاب سئل النبیﷺ عن عسب الفحل فنهاه فقال یا رسول الله! إنا نطرق الفحل فنکرم، فرخص له فی الکرامة.

(سنن الترمذی ۱ :۵۳ باب ماجاء فی کراهیة عسب الفحل)

وفی حاشیة الشلبی: ولا یعط أجرة الجزار الخ أما لو أعطاه لفقره أو علی وجه الهدیة فلا بأس به.

(حاشیة الشلبی علی تبین الحقائق ۲ :۹ کتاب الأضحیة)

﴿۴﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: فإن بیع ...... پاتې حاشیه په بل مخ باندې

د قرباني څرمن امام ته په صدقه کې ورکول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زموږ امام صاحب ته دي الله تعالى هدايت وکړي د څو کالو راهيسې د قرباني څرمنې اخلي، که څوك يې ورنه کړي؛ نو بيا خفه کيږي. ايا امام ته د قرباني څرمن ورکول جائز دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم..... ۱۹۷۱م / ۲ / ۱۹/

جواب: د قرباني څرمن د نېکۍ او صدقې په نيت امام ته ورکول جائز دي، د اجرت او مزدوری په نيت يې ورکول ناجائز دي، ،د رد المحتار نه اخيستل شوی، ﴿۱﴾ وهو الموفق.

(بقيه حاشيه) اللحم أو الجلد به أى بمستهلک أو بدراهم تصدق بثمنه..... ولا يعطى أجر الجزار منها لأنه كبيع. (درمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله فإن بيع اللحم أو الجلد به الخ) أفاد أنه ليس له بيعهما بمستهلک وأن له بيع الجلد بما تبقى عينه وسكت عن بيع اللحم للخلاف فيه..... والصحيح كما فى الهداية وشروحها أنهما سواء فى جواز بيعهما بما ينتفع بعينه دون ما يستهلک.

(ردالمحتار ٥: ٢٣١ كتاب الأضحية)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: ويتصدق بجلدها..... ولا يعطى أجر الجزار منها لأنه كبيع. (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله لأنه كبيع) لأن كلا منهما معارضة لأنه إنما يعطى الجزار بمقابلة جزره والبيع مكروه. (ردالمحتار ٥: ٢٣١ كتاب الأضحية)

وفى حاشية الشلبى: ولا يعط اجرة الجزار الخ اما لو اعطاه لفقره أو على وجه الهدية فلا بأس به. (حاشية الشلبى على تبيين الحقائق ٦: ٩ كتاب الأضحية)

استاذ ته په تنخا کې د قربانۍ څرمن ورکول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې قرباني د مسافرو طالبانو نه بغیر د هغوی استاذ ته په تنخا کې ورکول جائز دي او که خامخا په طالبانو باندې یې مصرف کړو؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد اکرم تحصیل بزمان ضلع بهامیرا ۱۹۶۹م/۲/۸/

جواب: د قربانۍ څرمن او قیمت به یې خامخا صدقه کوي. ﴿۱﴾ چا ته یې په مزدوری کې ورکول ناجائز دي. ویدلُّ علیهِ ما روی أنْ لا أعطی الجزارَ منها (متفقٌ علیهِ) ﴿۲﴾ وهو الموفق.

د قربانۍ د څرمنې، واجب صدقې او زکات بهترین مصرف

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د قربانۍ لپاره ښه او بهترین مصرف جومات دی او که نه؟ د صدقو او زکات لپاره ښه مصرف کوم ځای دی؟

یادونه: د جومات امام صاحب ووېل: چې جومات د مسلمانانو عبادت ګاه ده؛ نو ځکه دا ددې شیانو بهترین مصرف دی. بینوا توجروا

المستفتي: فقیر خان مصری بانډه نوښار

جواب: په شرط ددې چې رښتیا وي، دپورته یادشوو صدقو، دقربانۍ د څرمنې او زکات بهترین مصرف هغه دی چې خدای او رسول صلی الله علیه و سلم

﴿۱﴾ فی مجمع الأنهر: ویتصدق بجلدها أو یعمله آلة کجراب أوخف أو فرو أو یشتری به ما ینتفع به مع بقائه کغربال ونحوه لا ما یستهلک کخل وشبهه فإن بدل اللحم والجلد به یتصدق به.(مجمع الأنهر،۴: ۱۷۴ کتاب الأضحیة)

﴿۲﴾ عن علی رضی الله تعالی عنه قال: أمرنی رسول الله ﷺ ان اقوم علی بُدنه وان أتصدق بلحمها وجلودها واجلتها وأن لا أعطی الجزار منها قال نحن نعطیه من عندنا ، متفق علیه. (مشکوة المصابیح ۲۳۲ باب الهدی)

بیان کړي وي. د الله جل جلاله فرمان دی: ﴿ إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ ﴾ یعنې د زکات، صدقې او د قربانۍ څرمنې بهترین مصرف غریبانان او مسکینان دي، جومات نه دی. بیا په غریبانو کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپلوانو ته زیاته ترجیح ورکړه، یعنې که ورور او خور غریبانان وي؛ نو د زکات. صدقې او د قربانۍ څرمنه لومړی باید دوی ته ورکړل شي. جومات ته ورنه کول شي.

د صحیح مسلم شریف روایت دی. قالَ أنسٌ رضی الله عنه فلما نزلت هذه الآيةُ : ﴿ لَن تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ ﴾ ، قامَ أبو طلحةَ رضی الله عنهُ الى رسول الله صلى الله عليه وسلم، فقالَ انّ الله عزوجلَّ يقولُ فى كتابه ﴿ لَن تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ ﴾ وانّ أحبَّ أموالى الىّ بيرحاء و انها صدقةٌ لله أرجوا برها و ذخرها عند الله فضعها يا رسول الله صلى الله عليه وسلم! حيثُ شئتَ! قالَ رسول الله صلى الله عليه وسلم: بخ! ذلك مالٌ رابحٌ ، ذلك مالٌ رابحٌ، قد سمعتَ ما قلتُ فيها ، وانى أرى أنْ تجعلها فى الأقربينَ فقسمها أبو طلحة فى أقاربه وبنى عمه . په فتح الملهم کې مولانا شبیر احمد عثماني رحمه الله فرمایي قوله أنْ تجعلها فى الأقربين الخ فيه أنّ الصدقةَ على الأقاربِ أفضلُ منَ الأجانبِ اذا كانو محتاجينَ، د فتح الملهم د دې تشریح نه معلومېږي چې که خپلوان (ورور او خور یا نور ...) غریبانان وي. د جومات ملا او جومات اګر که د هر غریبانان وي بیا هم دا د دې صدقو او زکاتو نه مصرف دي، د قربانۍ د څرمنو په اره بخاري شریف کې د حضرت علي رضی الله عنه نه یو روایت نقل دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ماته حکم وکړ: د قربانۍ څرمن په مسکینانو باندې تقسیم کړه، دا قصاب ته په مزدورۍ کې مه ورکوئ، دغه روایت مسلم او ابوداؤد هم روایت کړی دی.

یادونه: د دې روایت له مخې بهترین مصرف غریبانان دي جومات نه دی. په جومات باندې د قربانۍ څرمنې مصرفېدای هم نشي، لکه څنګه چې د جومات امام ویلي، په جوماتونو کې زیاتره وخت کم علمه خلک امامان وي چې د قرآن او حدیث

له علومو بې خبره وي، داسي خلکو ته پکار دي چې سوال کوونکي ته غلط ځواب ورنه کړي، یا دي دارالعلوم حقانیه ته راولېږي او یا دي د دارالعلوم جامعه اسلامیه ته ځان پوه کړي. والله أعلم

المجیبُ: مولانا عزیز الحق سابق مفتی بادشاهي مسجد لاهور حال مقیم مصري بانډه

جواب: **(الف)** محتاجه امامان په جومات وړاندې دي. ﴿۱﴾ د کلي په خلکو لازم دي چې امام ته معلومه تنخا ورکړي، زکاتو او خیراتونه په خپلو غریبانانو مصرف کړي.

(ب) زیاتره اکابر عالمان وایي چې د قرباني په څرمنه کې تملیك ضروري دی. لهذا په جومات کې یې مصرفول نه دي صحیح. ﴿۲﴾ ځکه چې فقهاؤ لیکلي دي و یتصدقُ بجلدها﴿۳﴾وفي رد المحتار قبیلَ باب الرجوعِ في الهبة : والصدقة کالهبةِ﴿۴﴾ په هبه کې تملیك ضروري دی، ﴿۵﴾ ددې له امله په صدقه کې هم تملیك ضروري دی، د ځینو اکابرو قول بیا دا دی چې په هر خیر کار کې یې مصرفول جائز دي . یدلُّ علیه تعلیلُ الهندیة : ولوْ باعها بالدراهمِ لیتصدقَ

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالى وقید بالولاد لجوازه لبقیة الأقارب کالإخوة والأعمام والأخوال الفقراء بل هم أولى لأنه صلة وصدقة وفي الظهیریة: ویبدأ في الصدقات بالأقارب ثم الموالي ثم الجیران. (ردالمحتار ۱ :۲۹ باب المصرف)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالى: ویشترط أن یکون الصرف تملیکًا لا إباحةً کما مرّ لا یصرف إلى بناء نحو مسجد. (الدرالمختار ۲: ۲۸ باب المصرف)

﴿۳﴾(فتاوی هندیة ۵: ۳۰۱ کتاب الأضحیة، الباب السادس)

﴿۴﴾ (ردالمحتار ۳: ۵۸۱ کتاب الهبة، فصل مسائل متفرقة)

﴿۵﴾ قال العلامة خالد الأتاسي رحمه الله تعالى: القبض في الهبة کالقبول في البیع بناء علیه تتم الهبة إذا قبض الموهوب له في مجلس الهبة المال الموهوب.

(شرح المجلة ۳: ۳۵۳، المادة: ۸۴۱ کتاب الهبة)

بها جازَ لأنَّه قربةٌ كالتصدقِ ٥: ٣٣٤: ﴿١﴾ دغه راز که تملیك ضروري وي؛ نو حاجیان به د خپلو هدایاوو سره څه کوي؟ فقط وهو الموفق.

د قرباني څرمن په جومات باندې مصرفول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د قرباني څرمن په جومات باندې مصرفول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي عبد الرزاق لوند خوړ مردان ..... ١٩٦٩م / ٢ / ١٣/

جواب: د زیاترو فقهاؤ په نزد د تصدق نه مراد دا دی چې غریب او مسکین ته دي ورکړل شي، لهذا په جومات باندې یې مصرفول نه دي. في الهندية : لو باعها بالدراهمِ ليتصدقَ بها جازَ لأنَّه قربةٌ ٥: ٣٣١،﴿٢﴾قلتُ : صرحوا أيضاً بكـون الصدقةُ كالهبةِ في اقتضاء التمليك﴿٣﴾ دځینو عالمانو رایه بیا دا ده چې په هرځای کې د تصدق نه مراد تملیك نه وي او دا اطلاق په قرآن ﴿٤﴾ او حدیث ﴿٥﴾ کې راغلی دی، ځکه چې په هر خیر کار باندې د تصدق اطلاق کیږي، ددې عبارتونو

﴿١﴾ (فتاوی هندية ٥: ٣٠١ كتاب الأضحية، الباب السادس)

﴿٢﴾ (فتاوی هندية ٥: ٣٠١ كتاب الأضحية، الباب السادس في بيان ما يستحب في الأضحية)

﴿٣﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: والصدقة كالهبة بجامع التبرع وحينئذ لا تصح غير مقبوضة. (الدر المختار على هامش الطحطاوي ٤: ٤٠٩ كتاب الهبة، فصل في مسائل متفرقة)

﴿٤﴾ د قصاص په اړه الله ﷻ ارشاد دی :وَأَنْ تَصَدَّقُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ.
ژباړه ستاسو صدقه کول (دا چې له قاتل څخه قصاص وانخلی) ستاسو لپاره غوره عمل دی (سورة البقرة آيت: ٢٨٠)

﴿٥﴾ عن أبي سعيد الخدري رضي الله تعالى عنه أن رسول الله ﷺ أبصر رجلا يصلي وحده فقال: ألا رجل يتصدق على هذا فيصلي معه.

(سنن أبي داؤد ١: ٨٥ كتاب الصلوة، باب في الجمع في المسجد مرتين)

اخري معنى مراد ده. د فتاوى هنديه تعليل هم دې طرف ته اشاره كړې ده، لأنه قالَ جازَ لأنه قربةٌ و لَمْ يقلْ لأنه تصدق . وهوالموفق

د قرباني څرمن په جومات نه خرچه كول زيات احتياط دى

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې ځيني خلك وايي: د قرباني، څرمن په جومات باندې خرچه كولای شي او ځينې وايي چې نه يې شي خرچه كولای، موږ ته ددې مسئلې حقيقت څرګند كړئ! بينوا توجروا

المستفتي: محمد صفدر پېښوري متعلم دار العلوم حقانيه....١٣٩٧ هـ/ ذي القعده/ ٢٥/

جواب: واضحه دې وي چې د قرباني د څرمنې په اړه فقهي عبارت (و يتصدقُ) لفظ راغلى دى، ﴿١﴾ د (على الفقراء) لفظ نه دى روايت شوى دى، ددې وجې د امت عالمان او اكابر په خپل منځ كې سره اختلاف لري، د زياتره عالمانو رايه دا ده چې په ديكښې تمليك ضروري دى، په جومات باندې يې مصرفول ناجائز دي، ﴿٢﴾ وعللوهُ بأن صرفها منَ الواجباتِ و مصارفُ الواجباتِ هى مصارفُ الزكوة ، او ځيني اكابر وايي چې په جومات يې هم مصرفولای شي، و عللوهُ بأن حكمها التقرب كما يدلُ عليه تعليلُ الهندية حيثُ قالوا:ولو باعها بالدراهمِ ليتصدقَ بها جازَ لأنه قربةٌ كالتصدقِ كذا فى التبيينِ﴿٣﴾ انتهى،قلتُ:وجه الدلالة أنه لَمْ يقلْ لأنه تصدق أيضاً معَ كونه أخصرَ و يمكنُ أنْ يجاب عنْ تعليلِ

﴿١﴾ فى البحر: ويتصدق بجلدها أويعمل منه نحو غربال أوجراب لأنه جزء منها وكان له التصدق والانتفاع. (البحر الرائق ٨: ١٧٨ كتاب الأضحية)

﴿٢﴾ فى إمداد الفتاوى: على هذا په څه كې چې ملكيت او قبضه نه راځي لكه جوماتونه او داسې نور.. په ديكښې يې خرچه كول جائز نه دي (امداد الفتاوى ٣:٥٣٤ كتاب الذبائح

﴿٣﴾ (فتاوى هندية٥: ٣٠١ كتاب الأضحية ، الباب السادس)

المانعينَ بأنَّ المرادَ من الواجباتِ واجباتُ الاسلامِ وهي سبعةٌ وقلتُ : أيضاً لما جازَصرفها الى نفسه﴿١﴾فكيفَ لا يصحُ صرفها على المسجد ؟ فالأولُ أحوطُ والثاني أسعُ . وهوالموفق

د څرمنې روپۍ د جوماتونو په کوهي، رسۍ، رڼا او ابادۍ کښې مصرفول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د قرباني، د څرمنې روپۍ د جومات په کوهي، رسۍ، رڼا او ابادۍ کښې مصرفول جائز دي او که نه؟ د تصدق په باره کښې هم لږ وضاحت وکړئ. بینوا توجروا

المستفتي: مولوي محمد یوسف صاحب ضلع مردان

جواب: د زکات په باره کښې فقهاء کرامو تصریح کړې چې په دیکښې تملیك او قبض ضروري دی؛ نو زکات په جومات باندې نه مصرفیږي. ﴿۲﴾ خود قرباني د څرمنو کومه صریحي جزئیه نه موندل کیږي، ددې وجې علماء په دیکښې مختلف دي، د دیوبند اکابر عالمان وايي چې څرمن یا د هغې قیمت په جومات نه مصرفیږي. ﴿۳﴾

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجيم: ويتصدق بجلدها أو يعمل منه نحو غربال أوجراب لأنه جزء منها وكان له التصدق والانتفاع به.

(البحر الرائق ۸: ۱۷۸ كتاب الأضحية)

﴿۲﴾ في الهندية: أما تفسيرها فهي تمليك المال من فقير مسلم غير هاشمي ولا مولاه بشرط قطع المنفعة عن المملّك من كل وجه لله تعالى.

(فتاوى هندية ۱: ۱۷۰ كتاب الزكاة، الباب الأول في تفسيرها وصفتها)

﴿۳﴾ قال العلامة اشرفعلي تهانوی رحمه الله: په څه کې چې ملکیت او قبضه نه راځي لکه جوماتونه او داسې نور... په دیکښې یې خرچه کول جائز نه دي (امداد الفتاوی ۳: ۵۳۴ کتاب الذبائح)

ځکه چې فقهاء کرامو د (یتصــدق) لفظ استعمال کړی دی.﴿۱﴾والصــدقةُ كالهبة فيشترطُ فيها التمليك والقبضُ﴿۲﴾خيني نور عالمان بيا وايي چې د تصدق نه مراد قربت او د خیر کار دی، د تصدق نه یوازې تصدق على المساكين مراد نه دی، يدلُّ عليه تعليل الهندية : لو باعها بالدراهم ليتصــدقَ بها جازَ لأنه قربةٌ كالتصدقِ ،انتهى﴿۳﴾قلتُ:وجه الدلالة انّ هذا التعليلَ يدلُّ على أنّ المدارَ على القربةِ لاعلى التصدقِ ويدلُّ عليه مافى حــديث أبى داوٗد: من شاءاقتطعَ﴿۴﴾وجه الدلالةِ أنّ حكمَ اللحمِ والجلدِ واحدٌ﴿۵﴾وتمليك المجهولِ لايصحُ﴿۶﴾فكماصحَ فى اللحمِ عدمُ التمليك فكذافى الجلد ويدلُّ عليه ماتعاملَ

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالىٰ: ويتصدق بجلدها أو يعمل منه نحو غربال وجراب وقربة وسفرة ودلو. (الدر المختار ۵: ۲۳۱ كتاب الأضحية)

﴿۲﴾قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالىٰ: والصدقة كالهبةبجامع التبرع وحينئذ لا تصح غير مقبوضة. (الدرالمختار ۳: ۵۸۱ كتاب الهبة، فصل فى مسائل متفرقة)

﴿۳﴾ (فتاوىٰ هندية ۵: ۳۰۱ كتاب الأضحية، الباب السادس فى بيان ما يستحب فى الأضحية)

﴿۴﴾ عن عبد الله بن قرط عن النبى ﷺ قال..... فلما وجبت جنوبها قال فتكلم بكلمة خفية لم أفهمها فقلت ماقال: قال من شاء اقتطع.

(سنن أبى داؤد ۲۴۵ كتاب المناسك، باب الهدى إذا عطب قبل أن يبلغ)

﴿۵﴾ فى الفتاوى الولوالجية: وأما اللحم فالجواب فيه كالجواب فى الجلد.

(الفتاوى الولوالجية ۳: ۷۷ كتاب الصيد والذبائح والأضحية، الفصل الرابع)

﴿۶﴾ فى درر الحكام شرح مجلة الأحكام: يلزم أن يكون المال الموهوب الذى هو عين معلومًا ومعينًا...... لأن تمليك المجهول ليس صحيحًا.

(درر الحكام شرح مجلة الأحكام ۷: ۳۸۷ كتاب الهبة، المادة: ۸۵۸)

عليه الحجاجُ من ترك الأضاحى فى مكانها ولو دلّ لفظ التصدقِ على التمليك فلزمَ عدم فراغ ذمم الحجاج لأنهمْ لمْ يستعملوها و لَمْ يملكوها و الاحتياطُ فى أخذِ قولِ الأكابر ولا يناسب الانكار على المخالف ، فقط وهوالموفق.

د قرباني څرمنه په جومات مصرفولو باندې د اكابرو عالمانو اختلاف

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د قرباني څرمن په جومات كې مصرفول جائز دي او كه نه؟ كه يو غريب سړی يې قبول كړي او بيا يې جومات ته وركړي؛ نو بيا جائز دي او كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا شاه سيد پشاور ..... ۱۳۹۵ هـ / محرم الحرام / ۲۵/

جواب: د قرباني د څرمنې يا د هغې قيمت په جومات باندې مصرفولو لپاره كومه صريحي جزئيه نشته. ددې وجې خو اكابر عالمان هم په خپل منځ كې سره اختلاف لري ، اكثريې منع كوي، ﴿۱﴾ لأنّ التصدقَ من الصدقة وهى كالهبة تقتضى التمليك ﴿۲﴾ او بعض اكابر اجازه وركوي ؛ لانّ المرادَ مِنَ التصدقِ القربةُ سواءٌ كانتْ اهلاكاً أوْ إباحةً أوْ تمليكاً ، كما يشيرُ اليه تعليلُ الامامِ الزيلعى حيثُ قالَ : ولو باعها بالدراهمِ ليتصدقَ بها جازَ لأنّه قربةٌ كالتصدقِ كذا فى التبيينِ ، هندية ۵: ۳۳۴:﴿۳﴾ والاشارةُ أنه لمْ يقلْ لانه تصدقَ أيضاً معَ كونه أخصرَ، زيات احتياط په د يكښې دی

﴿۱﴾ فى إمداد الفتاوى: على هذا په څه كې چې ملكيت اوقبضه نه راځي لكه جوماتونه او داسې نور . په ديكښې يې خرچه كول جائز نه دي (امداد الفتاوى ۳:۵۳۴ كتاب الذبائح)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: والصدقة كالهبة بجامع التبرع وحينئذ لا تصح غير مقبوضة. (الدرالمختار ۲: ۵۸۱ كتاب الهبة، فصل فى مسائل متفرقة)

﴿۳﴾ (فتاوى هندية ۵: ۳۰۱ كتاب الأضحية، الباب السادس)

چې په جومات باندې مصرف نه شي، که مصرف هم شي انشاء الله چې خاره به یې خلاصه شي، هذا ما عندی ولعلّ عندَ غیری أحسنَ منه.وهوالموفق

د قرباني څرمن په جومات کې مصرفول او د جومات په روپو میناره جوړول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اره څه وایي چې د قرباني څرمن په جومات کې مصرفول جائز دي او که نه؟ دغه راز په دې باندې د جومات ډول اوښایست یا میناره ورباندې جوړول څه حکم لري؟بینواتوجروا

المستفتي: حجاب شاه آف میان خان ضلع مردان ۱۹۷۲م/۲/۶/

جواب: د اکثرو اکابرو عالمانو رایه دا ده چې په جومات به یې نه مصرفوي،《۱》 لأنّ حکمها التصدقُ والصدقةُ کالهبة لا تتمُّ الا بالقبضِ《۲》او بعض اکابر فرمایي چې دتصدق نه مراد تقرب دی.برابره خبره ده چې د تملیك په صورت کې وي، که داباحت په صورت کې وي او که د اهلاك صورت وي. کمایشیرُ الیه تعلیلُ الهندیة:۳۳۴:۵:ولوباعهابالدراهمِ لیتصدقَ بهاجازَلأنّه قربةٌکالتصدق کذا فی التبیینِ،《۳》 انتهی ، قلتُ ویؤیده حدیث من شاءَ اقتطعَ《۴》لأنّ

《۱》فی الولوالجية: فإن باع الجلد یتصدق بثمنه لأنه عجز عن التصدق بعینه فیجب التصدق بثمنه.

(الفتاوی الولوالجیة ۳:۷۷ کتاب الصید والذبائح والأضحیة، قبیل الفصل الربع)

《۲》قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: والصدقة کالهبة بجامع التبرع وحینئذ لا تصح أی لاتتم غیر مقبوضة.

(الدرالمختار علی هامش الطحطاوی ۳:۴۰۹ کتاب الأضحیة)

《۳》(فتاوی هندیة ۵:۳۰۱ کتاب الأضحیة، الباب السادس فی بیان مایستحب فی الأضحیة)

《۴》عن عبد الله بن قرط رضی الله تعالی عنه قال قرب... پاتې حاشیه په بل مخ باندې

حکمَ اللحمِ والجلدِ واحدٌ﴿۱﴾ فيكفي في الجلدِ الاباحةُ أيضــاً ، د فتوی له مخې جواز راجح معلومیږي او په دیکښې د حاجیانو لپاره هم اساني ده.

(۲) جائز ده چې کله د څو چنده ورکوونکو اجازه معلومه وي ﴿۲﴾ وهوالموفق

د قرباني څرمن په جومات کې مصرفول او د مولانا غورغشتوي رحمه الله رايه

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زيد د قرباني څرمن جومات ته خيراتي ورکړه، بيا د جومات ساتونکي هغه خرڅه کړه او د جومات په څينو ضروریاتو يې مصرف کړه. ايا شرعا دا کار صحيح دی؟ او زيد خپله دا وايي چې مولانا غور غشتوي صاحب په جومات باندې د قرباني د څرمنې مصرفول جائز کړي دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوی عبد الله تورډهير ۱۹۸۶م/ ۹/ ۱۱/

جواب: دا اختلافي مسئله ده. مولانا غورغشتوي رحمه الله يې د جواز قائل ؤ. ويل به يې د تصدق نه مراد مطلق تقرب دی نه يوازې تمليك بلا عوض. يدلُّ عليه تعليلُ الزيلعي كمافي

(بقيه حاشيه) لرسول الله ﷺ بدنات خمس أوست فطفقن يزدلفن إليه بأيتهن يبدأ فلما وجبت جنوبها قال فتكلم بكلمة خفية لم افهمها فقلت ماقال: قال من شاء اقتطع.

(سنن أبی داؤد ۱: ۲۴۵ كتاب المناسک، باب الهدی إذا عطب قبل أن يبلغ)

﴿۱﴾ في مجمع الأنهر: واللحم بمنزلة الجلد في الصحيح.

(مجمع الأنهر ۴: ۱۷۳ كتاب الأضحية)

﴿۲﴾ في معارف السنن: قال الشيخ (انورشاه) رحمه الله تعالى: لما راج هذا التزيين والنقش في هذا العصر والواقفون أنفسهم يفعلون ذلک ولاينهون من يفعل فيجوز على ذلک من مال الواقف أيضًا من غير ان يضمن المتولي والله أعلم، قال ابن المنير لما شيد الناس بيوتهم وزخرفوها فانتدب ان يصنع ذلک بالمساجد صونًا لهم عن الاستهانة.

(معارف السنن ۳: ۳۰۲ باب ماجاء في بنيان المساجد)

الهندية ۵:۳۳۴:﴿۱﴾ولوباعها بالدراهمِ ليتصدقَ بهاجازَلأنّه قربةٌ كالتصدقِ، انتهى،وجهُ الدلالةِ أنه لَمْ يقلْ لانه تصدقَ ايضاً معَ كونه أخصرَ،واللّٰه أعلمُ.

د څرمنې په روپو باندې جومات ته تېل او د جنازې کټ اخیستل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې که د قرباني څرمن خرڅه شي او جومات تهورباندې تېل واخيستل شي، ايا دا جواز لري او که نه؟ او په دې باندې د جنازې کټ اخيستل روا دي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا مغفور الله مدرس مدرسه رستم مردان

جواب: د ديوبند د اکابرو په نزد دا کار پوره نه دی، ځکه چې فقهاؤ د قرباني د څرمنې په اړه د **تصدق** لفظ استعمال کړی دی. فى الدر المختارِ : فانْ بيعَ اللحمِ أوِ الجلدِ به أى بمستهلك تصدق بثمنه﴿۲﴾انتهى ، په صدقه کې قبض او تمليک دواړه ضروري دي، لما فى الدر المختار : الصدقةُ كالهبة بجامعِ التبرعِ و حينئذٍ لا تصحُ غير مقبوضة﴿۳﴾انتهى ،بعض مشائخ فرمايي چې دلته د تصدق نه مراد په خيريه کارکې مصرفول دي.يدلُّ عليه استدلالُ الهندية الهندية ۵:۳۳۴:﴿۴﴾ ولو باعها بالدراهمِ ليتصدقَ بها جازَلأنّه قربةٌ كالتصدقِ،انتهى،﴿۵﴾قلتُ:وجهُ الدلالة ظاهرٌ لأنه يدلُّ على أنَّ المدارَ على القربةِ ويؤيده ما تعاملَ عليه الحجاجُ سلفاً وخلفاً من تركِ الأضاحى فى مكانها من غيرِ تمليك معَ ورودِ لفظِ التصدق فى اللحومِ والجلودِ ، فافهمْ ! وهوالموفق.

﴿۱﴾ (فتاوی هندية ۵: ۳۰۱ کتاب الأضحية، الباب السادس فى بيان مايستحب من الضحايا)

﴿۲﴾ (الدر المختار ۵: ۲۳۱ کتاب الأضحية)

﴿۳﴾ (الدر المختار ۳: ۵۸۱ کتاب الهبة، فصل فى مسائل متفرقة)

﴿۴﴾ (فتاوی هندية ۵: ۳۰۱ کتاب الأضحية، الباب السادس)

د څرمنې نه د جومات کوهي ته رسۍ جوړول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د قربانۍ په څرمنه د جومات کوهي ته رسۍ جوړول جائز دي او که نا جائز؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي عبد الرزاق لونډ خوړ مردان ۱۹۶۹م/ ۲/ ۱۳/

جواب: دقربانۍ دڅرمنې نه دجومات اوکورکوهي ته رسۍ جوړول جائزده، (فی الهندية:۵:۳۳۱)﴿۱﴾ويتصدقُ بجلدها أويعملُ منهُ نحوغربالٍ وجرابٍ وهوالموفق.

د قربانۍ څرمنه د غریبو کلیوالو په جومات مصرفول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د قربانۍ څرمن په جومات باندې مصرفول څنګه دي؟ په داسې حال کې چې د جومات خلك هم غریبانان وي او د جومات کوم امدن هم نه وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: سمیع الرحمن ګړهی کپوره مردان ۱۹۷۲م/ ۲/ ۸/

جواب: مسئله اختلافي ده، ﴿۲﴾الصرفُ هوالراجحُ﴿۳﴾وعدمه الأحوطُ وهوالموفق.

﴿۱﴾ (فتاوی هندیة ۵: ۳۰۱ کتاب الأضحیة، الباب السادس فی بیان مایستحب فی الأضحیة) (ومثله فی الدرالمختار ۵: ۲۳۱ کتاب الأضحیة)

﴿۲﴾قال العلامة محمود حسن الجنجوهی رحمه الله تعالی: سوال، دقربانۍ څرمن په جوماتونو او مدرسو مصرفول جائزدي او کنه؟

الجواب حامداومصلیاً دقربانۍ دڅرمنې هغه حکم دی کوم چې دزکات دی هغه داسې چې څوك به یې خامخامالك ګرځوي اوملکیت پکې فرض دی فان بدل اللحم والجلد یتصدق به ای بالبدل لان القربة انتقلت الی بدله فیجبر علی التصدق به الخ سکب الانهر فقط. (فتاوی محمودیة ۱۷: ۴۲ باب فی مصرف جلد الاضحیة)

﴿۳﴾ یدل علیه مافی التبیین الحقائق: ولو باعها بالدراهم لیتصدق جاز لأنه قربة کالتصدق بالجلد واللحم. (التبیین الحقائق ۶: ۹ کتاب الأضحیة)

د جومات لپاره د قربانۍ په څرمنې شامیانې اخیستل

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د قربانۍ څرمن په جومات کې ورکول صحیح دي او که نه؟ زمونږ په ځای کې خلک جومات ته څرمنې ورکوي. ایا په دې باندې جومات ته شامیانې اخیستل جائز دي او که نه؟ تاسو مهرباني وکړئ او مونږ ته د څرمنې اصلي مصرف وښیئ! ځکه چې زمونږ په کلي کې دا یوه اختلافي مسئله جوړه شوې ده. بینوا توجروا

المستفتي: فرید احمد لاهور ضلع صوابی ..... ۱۴۱۵ هـ / محرم الحرام / ۱/

جواب: دا مسئله په فقهي کتابونو کې صراحتاً نشته. ځکه خو د عالمانو تر منځ اختلافي ده. اکثر اکابر وايي چې څرمن یا د څرمنې قیمت دې په جومات مصرف نه شي. ﴿۱﴾ د بعض اکابرو په نزد څرمن او د څرمنې قیمت په جومات باندې مصرفول جائز دي. ﴿۲﴾ په هر حال په څرمنو باندې د جومات شامیانې اخیستل بې اختلافه جائز دي. د شامیانو اخیستونکی (بائع) دې څرمنې په پیسو واخلي او که خوښه یې شي بیا دې څرمنې هم خرڅې کړي ﴿۳﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة رشيد أحمد الجنجوهي رحمه الله تعالى: الجواب: دقربانۍ څرمن مؤذن ته په مزدورۍ کې ورکول ناجائز دي او نه هم دهغې قیمت ورکول صحیح دي، دقربانۍ دڅرمنې روپۍ فقیر ته ورکول واجب دي، پر ته له دې په نورو ځایونو کې یې مصرفول جائز نه دي

(تالیفات رشیدیه مع فتاوی رشیدیه ۴۵۳ قربانی کی کھال کے دام مسجد میں صرف کرنا الخ)

﴿۲﴾ يدل عليه مافي الهندية: ولو باعها بالدراهم ليتصدق بها جاز لأنه قربة كالتصدق.

(فتاوى هندية ۵: ۳۰۱ كتاب الأضحية، الباب السادس)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويتصدق بجلدها أويعمل منه نحو غربال وجراب أويبدله بما ينتفع به باقيًا لابمستهلك كخل ولحم.

(الدرالمختار ۵: ۲۳۱ كتاب الأضحية)

په څرمنو حوض، لار، یا بل د خیر کار کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان د دې مسئلې په اړه څه وایي چې ځینې خلک وایي: موږ د خپلو قربانۍ څرمنې په خیر کار کې مصرفوو، لکه: حوض جوړوو، دغه راز په یو بل خیریه کار کې مصرفول شرعا جائز دي او که نه؟

بینوا توجروا

المستفتي: محمد غفور شاه مقام بابوزئی مردان

جواب: د اکثرو اکابرو په نزد د څرمنو او قیمت کې یې قبض او تملیک ضروري دی،﴿١﴾ د دوی په نزد په دې شیانو کې استعمالول صحیح نه دي،﴿٢﴾ او د بعض اکابرو په نزد یې هر خیر کار کې مصرفول جائز دي ﴿٣﴾ فقط.هو الموفق

﴿١﴾ قال المفتي محمود حسن رحمه الله تعالى: الجواب، د قربانۍ د څرمنې هغه حکم دی کوم چې د زکات دی، ځکه چې په دیکښې هم تملیک فرض دی

(فتاویٰ محمودیہ ١٧: ٣٦٢، باب فی مصرف جلد الأضحیة، چرم قربانی مسجد و مدرسہ میں صرف کرنا)

وقال العلامة أشرف على التهانوى رحمه الله تعالى: على هذا په څه کې چې تملیک او قبض نه وي لکه جوماتونه او داسې نور.. په دیکښې مصرفول جائز نه دي

(إمداد الفتاوى ٣: ٥٣٣، كتاب الذبائح والأضحية)

﴿٢﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: ويتصدق بجلدها...... فإن بيع اللحم أو الجلد به أى بمستهلك أو بدراهم تصدق بثمنه.

(الدر المختار ٥: ٢٣١ كتاب الأضحية)

﴿٣﴾ ويدل عليه ما فى تبيين الحقائق: ولو باعها بالدراهم ليتصدق بها جاز لأنه قربة كالتصدق. (تبيين الحقائق ٦: ٩ كتاب الأضحية)

د قرباني څرمنې خرڅول او د قرباني قرضه ادا کول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې خالد د لوی اختر د قرباني لپاره چېلی اخيستې وه، د قرباني وروسته يې څرمن خرڅه کړه، هغه روپۍ چې خالد د څرمنې نه ترلاسه کړې، هغه يې د چېلی په قرضه کې ادا کړې. اوس خلک وايي چې خالد ډېر بد کار وکړ، معلومه نه ده چې خالد به اخر څه کوي؟ ايا هغه به د اختر لپاره بيا قرباني کوي او که هغه يوه قرباني يې هم هسې ضايع شوه. ايا په دې کار سره هغه فاسق او فاجر جوړيږي؟ دا کار حرام دی که مکروه او که هسې ګناه ده او د معاف کېدو وړ ده او که نه؟ مسئله روښانه کړئ او د دواړو جهانونو ثوابونه ترلاسه کړئ بينوا توجروا

المستفتي لعل شاه قريشي جنوبي وزيرستان ايجنسی ..... ۱۹۷۳م / ۲ / ۲۲/

جواب: ددې سړي قرباني پوره شوه، لأنَّ الأضحيةَ فی الشرعِ :ذبحُ حيوانٍ مخصوصٍ بنيةِ القربةِ فی وقتٍ مخصوصٍ،(الدر المختار)﴿۱﴾ وقدْ تحقَّقَ وما وردَ فی الحديثِ : منْ باعَ جلدَ أضحيةٍ فلا أضحيةَ له ، المرادُ نفي الكمالِ﴿۲﴾ خو ددې سړي لپاره ضروري دي چې د څرمنې قيمت په غريبانانو تقسيم کړي، فی الهندية ۵: ۳۳۴: فانْ باعَ شيئاً من ذلك بما ذكرنا (الدراهم وغيرها) نفذ عندَ أبي حنيفةَ و محمدٍ رحمهما الله تعالی،وعندَ أبي يوسفَ رحمه الله تعالی لا ينفذُ و يتصدقُ بثمنه كذا فی البدائعِ﴿۳﴾ وهو الموفق .

﴿۱﴾(الدر المختار ۵:۲۱۹ كتاب الأضحية)

﴿۲﴾قال العلامة العينی رحمه الله تعالی: (قوله عليه الصلوٰة والسلام: من باع جلد أضحية فلا أضحية له) هذا الحديث رواه الحاكم فی المستدرک..... ورواه البيهقی فی سننه الكبری قوله فلا أضحية له محمول علی نفی الكمال. (البناية فی شرح الهداية ۱۴: ۳۹۹،۳۹۸ كتاب الأضحية)

﴿۳﴾(فتاوی هندية ۵: ۳۰۱ كتاب الأضحية، الباب السادس فی بيان ما يستحب من الأضحية)

د قربانۍ د څرمنۍ په روپو عیدګاه جوړول

سوال د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د قربانۍ د څرمنې په روپو عیدګاه اباد ول د نبي کریم صلی الله د شریعت له مخې څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي حضرت محمد صاحب ...... ۱۹۷۴م / ۷ / ۳/

جواب د اکثرو اکابرو په نزد دا جائزه نه ده چې د قربانۍ د څرمنې په روپو کوم ځای اباد شي، ﴿۱﴾ لأنَّ حكمه التصدقُ ﴿۲﴾ والتصدقُ كالهبة يقتضي التمليك ﴿۳﴾ او د بعض اکابرو په نزد څه ګناه پکښې نشته، لأنَّ حكمه التقرب والتعمير تقربٌ كما يشيرُ اليه تعليل الهندية ۵: ۳۳۴: و لو باعها بالدراهمِ ليتصدقَ بها جازَ لأنه قربةٌ كالتصدقِ كذا فى التبيينِ ﴿۴﴾ قلتُ: وجهُ الاشارةِ أنَّهمْ لم يقولوا لِأنه تصدقٌ أيضاً معَ أنه مختصرٌ فافهمْ وهو الأقوى والأولُ الأحوطُ ، وهوالموفق .

﴿۱﴾ قال العلامة اشرف على التهانوى رحمه الله تعالى: على هذا په څه کې چې تمليك او قبض نه وي لکه جوماتونه او داسې نور. په دیکښې مصرفول جائز نه دي
(إمداد الفتاوى ۳: ۵۳۳ كتاب الذبائح والأضحية)

﴿۲﴾ فى الهندية: ويتصدق بجلدها أويعمل منه نحو غربال و جراب.
(فتاوى هندية ۵: ۳۰۱ كتاب الأضحية، الباب السادس فى بيان ما يستحب فى الأضحية)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: والصدقة كالهبة بجامع التبرع وحينئذ لا تصح غير مقبوضة.
(الدرالمختار ۴: ۵۸۱ كتاب الهبة، فصل فى مسائل متفرقة)

﴿۴﴾ (فتاوى هندية ۵: ۳۰۱ كتاب الأضحية، الباب السادس)

د قرباني څرمن د کلي مدرسې یا د هغې په برق بل کې ورکول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې زموږ په کلي کې یوه وړه مدرسه ده او ځايي طالبان پکښې لوست (درس) زده کوي، څلور پنځه ښوونکي (استاذان) لري، د هغوی په تنخا یا د مدرسې د برق په بل کې د قرباني څرمن ورکول څه حکم لري؟ دغه راز که لومړی یو غریب ته ورکول شي، هغه يې قبض کړي بیا يې مدرسې ته ورکړي؛ نو بیا څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: خلیل الرحمن متعلم دار العلوم حقانیه ..... ۱۹۷۴ م / ۲ / ۲۸/

جواب: په بې قاعدې حیله باندې څرمني یوې ادارې ته ورکول ناجائز دي، لأنَّ حکــمها التصدقُ کماصرحَ به فی ردالمحتار﴿۱﴾والهندیة﴿۲﴾وغیره﴿۳﴾ خو په برق بل کې يې ورکول جائز دي، لأنه قربةٌ وهو المرادُ منَ التصدقِ کما یدلُّ علیه تعلیلُ الهندیة ۵: ۳۳۴: و لو باعها بالدراهمِ لیتصدقَ بها جازَ لأنه قربةٌ کالتصدقِ کذا فی التبیینِ﴿۴﴾قلتُ : وجه الدلالةِ أنه لم یقلْ لأنــه تصدق أیضاً معَ أنه مختصرٌ. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: ویتصدق بجلدها...... فإن بیع اللحم أوالجلد به ای بمستهلک (أوبدراهم تصدق بثمنه...... ولا یعطی أجر الجزار منها لأنه کبیع. (درمختار)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله لأنه کبیع) لأن کلّا منهما معاوضة لأنه إنما یعطی الجزّار بمقابلة جزره. (ردالمحتار ۵: ۲۳۱ کتاب الأضحیة)

﴿۲﴾ فی الهندیة: ویتصدق بجلدها...... ولو باعها بالدراهم لیتصدق بها جاز لأنه قربة کالتصدق. (فتاوی هندیة ۵: ۳۰۱ کتاب الأضحیة، الباب السادس فی بیان ما یستحب فی الأضحیة)

﴿۳﴾ فی الولوالجیة: فإن باع الجلد یتصدق بثمنه لأنه عجز عن التصدق بعینه فیجب التصدق بثمنه. (الفتاوی الولوالجیة ۳: ۷۷ کتاب الأضحیة)

﴿۴﴾ (فتاوی هندیة ۵: ۳۰۱ کتاب الأضحیة، الباب السادس فی بیان ما یستحب فی الأضحیة)

د څرمنو روپۍ په جومات، کوڅه، کوهي یا د مړي په کفن باندې مصرفول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د قربانۍ څرمن صدقه کول نفل دي او که واجب؟ ایا د قربانۍ څرمن په جومات، کوڅه، کوهي یا د مړي په کفن لګول جائز دي او که نه؟بینوا توجروا

المستفتي: عبد الحلیم

جواب: واضحه دي وي چې د قربانۍ څرمنه صدقه کول واجب نه دي، ځکه چې ټولو فقهاؤ د قربانۍ څرمنه په خپل ذاتي استعمال کې راوستل جائز ګڼلي دي، حیثُ قالوا:أویُعمل منهُ نحو غربال وجرابٍ﴿۱﴾الخ، خو دومره ده چې د خرڅولو وروسته بې قیمت صدقه کول واجب دي، لانهمْ قالوا : تصدق ثمنه بلا تخییرٍ،﴿۲﴾د تصدق نه اکثره اکابرو تملیك مراد کړی دی، لأنَّ الصدقةَ کالهبة﴿۳﴾او بعض اکابرو تقرب اود ثواب په کار کې استعمال جائز ګڼلی دی، ویُشیرُ الیه تعلیل الهندیة ۵:۳۳۴: ولوباعها بالدراهمِ لیتصدقَ بها جازَ لأنه قربةٌ کالتصدق﴿۴﴾ وجه

﴿۱﴾(الدرالمختار ۵: ۲۳۱ کتاب الأضحیة)

وفی الولوالجیة: واجمعوا أنه لو انتفع بعینه بأن جعله جرابًا أوغربالًا لا بأس به.

(الفتاوی الولوالجیة ۳:۷۷ کتاب الصید والذبائح والأضحیة، قبیل الفصل الرابع)

﴿۲﴾فی الخلاصة: ولا بأس ببیعه بالدراهم لیتصدقها ولیس له أن یبیعه بالدراهم لینفقه علی نفسه ولو فعل ذلک یتصدق بثمنه.

(خلاصة الفتاوی ۴:۳۲۲ کتاب الأضحیة، الفصل السادس فی الانتفاع بالأضحیة)

﴿۳﴾فی الهندیة: الصدقة بمنزلة الهبة فی المشاع وغیر المشاع وحاجتها إلی القبض.

(الفتاوی الهندیة ۴:۴۰۶ کتاب الهبة، الباب الثانی عشر فی الصدقة)

﴿۴﴾(الفتاوی الهندیة۵: ۳۰۱ کتاب الأضحیة، الباب السادس فی بیان مایستحب فی الأضحیة)

وقال العلامة الزیلعی رحمه الله تعالی: ولو باعهما...... پاتې په بل مخ باندې

الاشارة. أنه لم يقل لأنه تصدق أيضاً مع كونه أخصر، د وروستي قول له مخې په هر خير كار كې بې له تمليكه استعمالول جائز دي. وهو الموفق

د حيلې نه بغير د قرباني څرمن په مزدوري كې وركول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د څرمنو روپۍ په مدرسو كې معلمينو ته په تنخا كې وركول جائز دي او كه نه؟ په ياد دي وي داسې مدرسې مې مراد دي چې يوازې د كلي ماشومان پكښې لوست (قاعده، ناظره او حفظ) زده كوي، بيا په خپلو كورونو كې خوراكونه كوي. بينوا توجروا

المستفتي .... محمد عتيق الرحمن سيالكوټ

جواب: براه راست يې وركول ناجائز دي، ځكه چې په مزدوري كې د څرمنو وركولو نه منع راغلې ده. ﴿١﴾ البته د حيلې او تدبير وروسته وركول جائز دي. ﴿٢﴾ د حيلې شرطونه په ذهن كې يادساتل پكار دي، ددې رواجي حيلو نه ځان ساتنه ضروري ده، ددې لپاره چې خپلې صدقې څوك بې ځايه مصرف نه كړي ﴿٣﴾ وهو الموفق.

(بقيه حاشيه) أي الجلد واللحم بالدراهم ليتصدق بها جاز لأنه قربة كالتصدق. (تبيين الحقائق ٦: ٩ كتاب الأضحية)

﴿١﴾ قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: ولا يعطي الجزار منها شيئاً ......لأنه يأخذه بمقابلة عمله فصار معاوضة كالبيع. (البحر الرائق ٨: ١٧٨ كتاب الأضحية)

﴿٢﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وقدمنا أن الحيلة أن يتصدق على الفقير ثم يأمره بفعل هذه الأشياء. (الدر المختار ٢: ٦٩ كتاب الزكاة، باب المصرف)

﴿٣﴾ في المنهاج: نعم لها شرائط: منها الدفع إلى مسكين، ومنها الاجتناب عن التمليك هزلاً، ومنها أن لايكون في الورثة يتيم ولا غائب إذا لم يوص كما في رسائل ابن عابدين، والحيلة المروّجة في ديارنا فقدت فيها هذه الشرائط كلاً أو بعضاً كمالايخفى فهذه الحيلة لا تفيد فراغة ذمة الميت. (منهاج السنن شرح جامع السنن ٣: ٢٥ كتاب الصوم، باب ماجاء في الكفارة)

د قربانۍ څرمنه په جومات کرایه او ابادۍ باندې مصرفول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د قربانۍ د څرمنې روپۍ د جومات په خرچه لګه کړایه. د جومات ابادي او نورو شیانو کې ورکول څه حکم لري؟ ایا ددې کار کوونکی د سنت طریقې قربانۍ پوره کوونکی شو او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي عبد الغفور، تاربابو محله صوابی ..... ۱۹۷۴م / ۳ / ۲۴ /

جواب: واضحه دي چې د قربانۍ څرمن یا د هغې قیمت په جومات مصرفول جائز دي، لأنَّ المرادَ منَ التصدقِ هو التقرب دونَ التمليك بخصوصه كما يشيرُ اليهِ عبارةُ الهندية: و لو باعها بالدراهمِ ليتصدقَ بها جازَ لأنه قربةٌ كالتصدقِ كذا فى التبيينِ ﴿۱﴾ انتهى،قلتُ:وجه الاشارةِ أنه لم يقلْ لأنه تصدق أيضاً فافهمْ وتدبرْ وبدليلِ الاكتفاءِ بالاباحةِ فى اللحمِ بدونِ التمليك كما حديث من شاءَ اقتطعَ﴿۲﴾وحكم اللحمِ والجلدِ سواءٌ﴿۳﴾وهو الموفق.

﴿۱﴾(فتاوى هندية ۵:۱ ۳۰ كتاب الأضحية، الباب السادس فى بيان مايستحب فى الأضحية)

﴿۲﴾عن عبد الله بن قرط رضى الله تعالى عنه قال قرب لرسول الله ﷺ بدنات خمس أوست فطفقن يزدلفن بأيتهن يبدأ فلما وجبت جنوبها قال فتكلم بكلمة خفية لم أفهمها فقلت ماقال قال: من شاء اقتطع.

(سنن أبى داؤد ۱ :۲۴۵ كتاب المناسك، باب الهدى إذا عطب قبل أن يبلغ)

﴿۳﴾فى الولوالجية: وأما اللحم فالجواب فيه كالجواب فى الجلد.

(الفتاوى الولوالجية ۱ :۷۷ كتاب الأضحية، قبيل الفصل الرابع)

د قرباني د څرمنې په روپو د جومات لپاره فرش، کوزه اخيستل يا يې په ابادۍ کې مصرفول

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د قربانۍ د څرمنې په روپو جومات ته فرش، کوزه اخيستل يا د جومات په ابادۍ باندې مصرفول څه حکم لري؟ که ددې نه بغير کوم بنه ځاى مصرف شي بيا څه حکم لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: حسين احمد متعلم دار العلوم حقانيه ..... ۱۹۷۷م/ دسمبر/ ۱۷/

جواب: د قربانۍ د څرمنو په اړه چې ايا ددې استعمال په جومات کې وشي؛ نو جائز دى او که ناجائز؟ ددې خاصه جزئيه زموږ تر نظر نه ده تېره شوې، اکابر په خپل منځ کې سره اختلاف لري. د اکثرو په نزد دا مصرف ناجائز دى، ﴿۱﴾ لأنّ حکمها التصدقُ﴿۲﴾والتصدقُ کالهبة تقتضي التمليك﴿۳﴾ او د بعض اکابرو په نزد په جومات باندې مصرفول هيڅ خبره نه ده. لأنّ حکمها التقرب و هى لا تقتضى التمليك کما يشيرُ اليه تعليل الهندية ۵: ۳۳۴: و لو باعها بالدراهمِ ليتصدقَ بها جاز لأنه قربةٌ کالتصدقِ کذا فى التبيينِ﴿۴﴾

﴿۱﴾قال العلامة رشيد أحمد الکنکوهي : سوال: دقربانۍ دڅرمنې په روپيو باندې جومات ته اوبه راوړل، اوبه ګرمول يا رسۍ اخيستل روا دي او که ناروا؟ دغه راز د قربانۍ دڅرمنې قيمت مؤذن يا بل غريب انسان ته ورکول روا دي او که ناروا؟ **جواب:** دقربانۍ څرمن مؤذن ته په مزدورۍ کې ورکول ناجائز دي او نه هم دهغې قيمت ورکول صحيح دي، دقربانۍ دڅرمنې روپۍ فقير ته ورکول واجب دي، پرته له دې په نورو ځايونو کې يې مصرفول جائز نه دي (فتاوى رشيديه: ۵۵۳)

﴿۲﴾ فى مجمع الأنهر: ويتصدق بجلدها...... فإن بدل اللحم أو الجلد به بما ينتفع بالاستهلاک جاز ويتصدق به لانتقال القربة إلى البدل. (مجمع الأنهر ۳: ۱۷۳ کتاب الأضحية)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفى رحمه الله تعالى: والصدقة کالهبة بجامع التبرع وحينئذ لا تصح اى لاتتم غير مقبوضة. (الدرالمختار على هامش الطحطاوى ۳: ۴۰۹ کتاب الأضحية)

﴿۴﴾ (فتاوى هندية ۵: ۳۰۱ کتاب الأضحية، الباب السادس فى بيان مايستحب فى الأضحية)

قلتُ: وجه الاشارةِ أنه لم يقل لأنه تصدق أيضاً معَ كونه اخصر فـافهمْ، احتیاط په دیکښې دی چې مصرف نه شي او که مصرف شي: نو انکار تري کول نامناسب دي، هذا ما عندی و لعل عند غیری أحسنَ منهُ. وهوالموفق

د اکثرو اکابرو په نزد څرمن کې تملیک شرط دی

سوال: د دین عالمان او مفتیان د دې مسئلې په اړه څه وایي چې د قربانۍ د څرمنې مصرف څه دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: سید آغا حسین اسلامیه کالج پشاور

جواب: د اکثرو اکابرو په نزد د قربانۍ په څرمنو کې تملیک شرط دی، لأنَّ لفظَ التصدقِ یقتضی التملیك﴿۱﴾ او د بعض اکابرو په نزد تقرب او هر خیر کار کې مصرفول جائز دي، کما یشیرُ الیه تعلیل الزیلعی حیثُ قالَ: و لـو باعها بالدراهمِ لیتصدقَ بها جازَ لأنه قربةٌ کالتصدقِ کذا فی التبیینِ (الهندیـة ٥: ٣٣٤)﴿۲﴾وجه الاشارةِ أنه لم یقل لأنه تصدقٌ أیضاً معَ کونه اخصر قلتُ: و یؤیده حدیثُ من شاءَ اقتطعَ﴿۳﴾وهذه اباحةٌ لأنَّ تملیكَ المجهولِ لا یصحُ فالأولُ هو الأحوطُ والثانی هو الأیسرُ. وهوالموفق

د قربانۍ د څرمنو په روپو باندې لنګر چلول

سوال: د دین عالمان او مفتیان د دې مسئلې په اړه څه وایي چې زموږ د ځای زیاتره خلك دا رواج لري چې د قربانۍ څرمنې مالداره خلکو ته ورکوي

﴿۱﴾ قال العلامة اشرفعلی تهانوی رحمه الله په څه کې چې ملکیت او قبضه نه راځي لکه جوماتونه او داسې نور.. په دیکښې بې خرچه کول جائز نه دي (امداد الفتاوی ٣: ٥٣٤ کتاب الذبائح)

﴿۲﴾ (فتاوی هندیة ٥: ٣٠١ کتاب الأضحیة، الباب السادس)

﴿۳﴾ عن عبد الله بن قرط عن النبی ﷺ قال...... فلما وجبت جنوبها قال فتکلم بکلمة خفیة لم أفهمها فقلت ما قال قال: من شاء اقتطع.

(سنن أبی داؤد ٢٤٥ کتاب المناسک، باب الهدی إذا عطب قبل أن یبلغ)

هغوی بیا لنګر ورباندې چلوي. مسافرو او د کلي خلکو ته ډوډۍ ورکوي، اوس لنګر دومره پرمخ تللی که خلك څرمنې ورنه کړي بیا هم د لنګر بندېدو وېره نشته، اوس که خلك دا څرمنې اسلامي مدرسو ته ورکړي؛ نو دوی به ګناهکار وي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: صوفي اسماعیل ......۱۴۰۱ هـ/ ۶/ ۱۴/

جواب: لنګر ته څرمنې ورکول کوم شرعي کار نه دی، ﴿۱﴾ د وعده کوونکو لپاره جائز دي چې د خپلې وعدې مخالفت وکړي، ﴿۲﴾ نو د پسماندګانو لپاره خو په طریق اولی د خپل کار نه اوښتل جائز دي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبلمنو مصرف کول د مالداره سړي په مبلمنو د مصرف کولو نه اوه خله زیات ثواب لري، لحدیثٍ وردَ بذلك﴿۳﴾ واللّٰهُ أعلمُ.

سیاسي ګوند (پارټۍ) ته د قربانۍ د څرمنو ورکولو حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان د دې مسئلې په اړه څه وایي چې د قربانۍ څرمنې کوم سیاسي ګوند. لکه جمیعت علماء اسلام، جماعت اسلامي، نیشنل پارټۍ، پیپل پارټۍ

﴿۱﴾في الهداية: ويأكل من لحم الأضحية ويطعم الأغنياء والفقراء ويدّخر.

(هداية ۴: ۴۵۰ كتاب الأضحية)

﴿۲﴾ قال العلامة الشامي رحمه الله تعالى: (سئل) فيما إذا وعد زيد عمرًا أن يعطيه غلال ارضه الفلانية فاستعملها وامتنع من أن يعطيه من الغلة شيئًا فهل يلزم زيدا شيئ لمجرد الوعد المزبور؟ (الجواب) لايلزمه الوفاء بوعده شرعًا وان وفى فبها ونعمت والله سبحانه الموفق.

(فتاوى تنقيح الحامدية ۲: ۳۵۲ مسائل وفوائد شتّى من الحظر والإباحة)

﴿۳﴾ قال النبي ﷺ من ارسل بنفقة في سبيل الله واقام في بيته فله بكل درهم سبع مائة درهم ومن غزى بنفسه في سبيل الله وانفق في وجه ذلك فله بكل درهم سبع مائة الف درهم.

(سنن ابن ماجة ۲۰۳ باب فضل النفقة في سبيل الله تعالى)

يا مسلم ليگ ته ورکولای شي؟ کله چې خلك ترې خپله سياسي ګټه تر لاسه کوي؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد عتيق الرحمن سيالكوټ

جواب: په اصل کې څرمنې خپله دوی ته څوك نه ورکوي چې دا دي د دوی ذاتي ملکيت شي بلکې ددې لپاره يې ورکوي چې دوی يې اصلي مصرف ته ورسوي او دوی يې وکيلان دي، که چيرې دې ګوندونو خپل اصلي مصرف ته ورسولې؛ نو جائز دي او که نه نو ناجائز کار يې وکړ. ﴿۱﴾ وهو الموفق

د قرباني څرمنې غريبانانو، يتيمانو او ګوندو ته ورکول غوره دي

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې ايا د قرباني په څرمنو د کلي د يې وزله غريبانو، يتيمانو، ګوندو او بورو مرسته کول غوره نه دي؟ په سورة الحج کې د ﴿وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ﴾ نه غريب او مالداره مراد دي او که دواړه د غريب قسمونه دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد عتيق الرحمن سيالكوټ

جواب: دې خلکو سره د قرباني په څرمنو کې مرسته او کومك کول تر ټولو غوره او بهترعمل دی. ﴿۲﴾ په دې ايت کې دا دواړه دغريبانانو قسمونه دي. ﴿۳﴾ وهو واضحٌ، فقط هو الموفق.

﴿۱﴾ في الهندية: والواجب على الأئمة أن يوصلوا الحقوق إلى أربابها ولا يحبسونها عنهم ولا يحل للإمام وأعوانه من هذه الأموال إلا ما يكفيهم وعائلتهم ولا يجعلونها كنوزًا...... فإن قصر الأئمة في ذلك فوباله عليهم.


(فتاوى هندية ۱: ۱۹۱، فصل مايوضع في بيت المال أربعة أنواع)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: في الظهيرية ويبدأ في الصدقات بالأقارب ثم الموالي ثم الجيران. (ردالمحتار ۱: ۶۹، باب المصرف)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن كثير رحمه الله تعالى: واختلفوا ...... پاتي په بل مخ باندې

(بقیہ حاشیہ) واختلفوا فی المراد بالقانع والمعترّ فقال العوفی عن ابن عباس :القانع المستغنی بما أعطیته وهو فی بیته، والمعترّ الذی یتعرض لک ویلم بک أن تعطیه من اللحم ولا یسأل...... وقال علی بن أبی طلحة عن ابن عباس: القانع المتعفف، والمعترّ السائل.
(تفسیر ابن کثیر ۱۷ :۲۹۷ سورة الحج آیت:۳٦)





باب العقیقة

عن سلمان بن عامر الضبی رضی اللہ تعالیٰ عنه
قال سمعت رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلّم
یقول مع الغلام عقیقة فأهریقوا عنه
دمًا و أمیطوا عنه الأذی.

(صحیح البخاری)

باب العقیقة

عنْ سلمانَ بنِ عامرالضبیرضیﷲ عنهُ قالَ سمعتُ رسولَ اللّٰه صلیﷲ علیه وسلّمَ: «یقولُ معَ الغُلامِ عقیقةٌ فأهریقوهُ عنهُ دماًواٰمیطوا عنهُ الأذیٰ»(صحیح البخاری)

عقیقه سنت ده

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د ماشوم عقیقه په شریعت کې څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: غلام محمد تله گنگ کیمل پور ۱۹۶۹م/۲/۲۰/

جواب: عقیقه سنت ده. ﴿۱﴾ نبي کریم صلی الله ددې تشریع کړې ده. ﴿۲﴾ فقهاء کرامو وربانديې تصریح کړې ده ﴿۳﴾ فقط. وهوالموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة ظفر أحمد العثمانی رحمه اللّٰه تعالیٰ: وإنما أخذ أصحابنا الحنفیة فی ذلک بقول الجمهور وقالوا باستحباب العقیقة لما قال ابن المنذر وغیره.

(إعلاء السنن ۱۷: ۱۱۳، کتاب الذبائح، وجه أخذ الحنفیة بقول الجمهور فی هذا الباب)

﴿۲﴾ حدثنا سلمان بن عامر الضبی رضی اللّٰه تعالیٰ عنه قال سمعت رسول اللّٰه ﷺ مع الغلام عقیقة فاهر یقوا عنه دمًا وأمیطوا عنه الأذی.

(صحیح البخاری ۲: ۸۲۲ کتاب العقیقة، باب إماطة الأذی عن الصبی فی العقیقة)

عن الحسن بن سمرة رضی اللّٰه تعالیٰ قال قال رسول اللّٰه ﷺ: الغلام مرتهن بعقیقته تذبح عنه یوم السابع ویسمّی ویحلق راسه...... وعن علیّ بن أبی طالب رضی اللّٰه تعالیٰ عنه قال عق رسول اللّٰه ﷺ عن الحسن بشاة. (مشکوٰة المصابیح ۳۶۲ باب العقیقة، الفصل الثانی)

﴿۳﴾ قال العلّامة ابن عابدین رحمه اللّٰه تعالیٰ: یستحب لمن ولد له ولد أن یسمیه یوم أسبوعه...... ثم یعق عند الحلق عقیقة إباحة علی ما فی الجامع المحبوبی أوتطوعًا علی مافی شرح الطحاوی. (ردالمحتار ۵: ۲۳۶ کتاب الأضحیة، قبیل کتاب الحظر والإباحة)

د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد عقیقه بدعت نه ده

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې په کال ۱۹۸۱/ ۱۹/ نومبر کې د پاکستان ټائم په نوم مې یو اخبار تر نظر تېر شو، په هغې کې د پروفیسر رفیع الله شهاب صاحب د عقیقې په اړه یو مضمون لیکلی ؤ، د څه حوالو وروسته یې لیکلي وچې عقیقه د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد بدعت وه، تاسو مهرباني وکړئ او د عقیقې په اصلي حقیقت باندې مو پوه کړئ ددې لپاره چې زمونږ د زړونو نه شک ورک شي. بینوا توجروا

المستفتي: میجر ریاض احمد کهاریان کینټ ..... ۱۴۰۲ هـ/ ربیع الثانی / ۲۵ /

جواب: عقیقه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت دی، په قول د رسول الله صلی الله علیه وسلم ﴿۱﴾ اوفعل د رسول الله صلی الله علیه وسلم ﴿۲﴾ دواړو سره ثابته ده، دغه مذهب د امام ابو حنیفه رحمه الله تعالی هم دی او په کتابونو کې دا مسئله صراحتا ذکر ده ﴿۳﴾. والله أعلم

﴿۲،۱﴾ فی المشکوة: عن الحسن عن سمرة قال قال رسول الله ﷺ: الغلام مرتهن بعقیقته تذبح عنه یوم السابع ویسمّی ویحلق رأسه.

عن علیّ ابن ابی طالب قال عق رسول الله ﷺ عن الحسن بشاة وقال: یا فاطمة احلقی رأسه وتصدقی بزنة شعره فضة. (مشکوة المصابیح ۳۶۲ باب العقیقة، الفصل الثانی)

﴿۳﴾ قال العلامة الشامی رحمه الله تعالی: یستحب لمن ولد له ولد أن یسمّیه یوم اسبوعه...... ثم یعق عند الحلق عقیقة إباحة علی مافی الجامع المحبوبی أوتطوعا علی مافی شرح الطحاوی. (ردالمحتار ۵: ۲۳۶ کتاب الأضحیة، قبیل کتاب الحظر والإباحة)

وفی المنهاج: اعلم أن الإمام أباحنیفة قال إنها لیست بسنة ولم یقل إنها بدعة وقال إنها منسوخة...... وقال محمّد والجمهور باستحبابة وهو مذهب منصور ومعمول به. (منهاج السنن شرح جامع السنن ۳: ۱۲۶، کتاب الأضحیة، باب ماجاء فی العقیقة)

په یوه مېښه کې د اوه یا کمو ماشومانو د عقیقې حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان د دې مسئلې په اړه څه وايي چې (۱) اوه یا د دې نه کم سړي دي چې د هر یو بچی پیدا شوی دی، هغوی غواړي چې په شریکه یوه عقیقه وکړي او یوه غوا، مېښه یا غوېی واخلي او د عقیقې په نیت یې حلاله کړي، ایا د هر سړي عقیقه ځان - ځان ته کیږي، لکه څنګه چې د هر یو قرباني کیږي؟
(۲) د یو پلار سره اوه یا د اوه نه کم ماشومان دي. پلار د نوي زېږېدلي ماشومانو لپاره د نورو شریکانو نه بغیر یوه غوا یا مېښه عقیقه کړه، ایا د هر یو بچي په عقیقه د پلار غاړه خلاصه شوه؟ بینوا توجروا
المستفتي: مولانا محمد شمروز صاحب تهانو ډهیری صوابی ضلع مردان
.....۱۳۸۹ هـ/ ۲۳

جواب: دا دواړه صورتونه جائز دي، ځکه چې د دې حیواناتو عقیقه او په دیکښې شراکت صحیح دی، یدلّ علیه ما فی المعجم الصغیر للطبرانی: ۴۵: عنْ أنسِ بنِ مالكٍ رضی الله عنهمْ منْ ولدَ له غلامٌ فليعق عنهُ منَ الابلِ والبقرِ والغنمِ، انتهى﴿۱﴾وفی رد المحتارِ ۵: ۲۸۵: وكذا لو أرادَ بعضهم العقيقةَ عنْ ولدٍ قدْ ولدَ له من قبل، انتهى﴿۲﴾قلتُ فدلَّ هذا القولُ على أنَّ العقيقةَ يصحُ ببعضِ البقرِ والبدنة فيدلُّ على صحة الشركةِ﴿۳﴾لأنَّ الشركةَ يؤلُ الى العقِّ ببعضِ الحيوانِ، فافهمْ وهوالموفق.

﴿۱﴾(المعجم الصغیر للطبرانی بحواله إعلاء السنن ۱۷: ۱۱۵ کتاب الذبائح، باب افضلية ذبح الشاة فی العقيقة)
﴿۲﴾(ردالمحتار ۵: ۲۲۹، کتاب الأضحية)
﴿۳﴾ قال العلامة ظفر أحمد العثمانی رحمه الله تعالی: وفی قوله: من ولد له غلام فليعق عنه من الإبل البقر أو الغنم، دليل علی جواز العقيقة ببقرة كاملة اوببدنة كذلك وذكر الرافعی بحثًا أنها تتادی بالسبع كما فی الأضحية وبالجملة فهی كالأضحية فی أكثر الأحكام.
(إعلاء السنن ۱۷: ۱۱۷ کتاب الذبائح، باب افضلية ذبح شاة فی العقيقة)

د عقیقې کولو مسنون تاریخ

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د عقیقې مسنون تاریخ کوم یو دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: اکرام الحق راولپنډی ..... ۱۹۷۶م / ۳ / ۲۴ /

جواب: د عقیقې مسنون تاریخونه ۷، ۱۴ او ۲۱ دي، لحدیثٍ رواهُ الطبرانی فی الصغیرِ ۱۴۹ ﴿۱﴾ که پاتې شي عقیقه د بلوغ وروسته کېدای شي، تنقیح الفتاوی ۲: ۲۳۳ ﴿۲﴾ وهوالموفق.

د عقیقې په حیوان کې د جنتي کالي او امداد الفتاوی عبارتونو تطبیق

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې په جنتي کالي ۳: ۴۲ مسئله نمبر ۵: د کوم حیوان قرباني چې ناجائز ده د هغه عقیقه هم نه صحیح کیږي، په امداد الفتاوی ۳: ۶۱۹ سوال: ۶۸۴ په جواب کې لیکلي (شرائطُ وجوبه فی الأضحیة په عقیقه کې هم مستحب دي) په دې دواړو عبارتونو کې ټکر معلومیږي، ددې حل څه دی؟ بینوا توجروا

المستفتي عبد الرحمن

﴿۱﴾ عن بریدة أن النبی ﷺ قال العقیقة لسبع أو أربع عشرة أو إحدی وعشرین.
(المعجم الصغیر للطبرانی بحواله إعلاء السنن ۱۷: ۱۸۸، کتاب الذبائح، باب أفضلیة ذبح الشاة فی العقیقة)

﴿۲﴾ قال العلامة الشامی رحمه الله تعالی: ولو قدم یوم الذبح قبل یوم السابع أو أخره عنه جاز إلّا أن یوم السابع أفضل...... ووقتها بعد تمام الولادة إلی البلوغ فلا یجزی قبلها وذبحها فی الیوم السابع یسن. (الفتاوی تنقیح الحامدیة ۲: ۲۳۳ کتاب الذبائح)

وقال العلامة ظفر احمد العثمانی: فلو ذبحها بعد السابع أوقبله وبعد الولادة أجزاه. (إعلاء السنن ۱۷: ۱۷۷، کتاب الذبائح، باب أفضلیة ذبح الشاة فی العقیقة)

جواب لعله أراد أنّ هذه الشرائطَ شرائطُ الكمال دونَ الاجزاء فاجتمعتا «۱» وهوالموفق.

د ماشوم لپاره یو حیوان ذبح کول یا په مختلفو ځایونو کې دوه حیوانان ذبحه کول

سوال د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې (۱) یو سړی د خپل بچي لپاره عقیقه کول غواړي؛ خو دا چې نیم کور یې یو ځای (رسالپور) او بل کور یې په بل ځای (لاهور) کې دی؛ نو دوه حیوانان په داسې مختلفو ځایونو او مختلفو وختونو کې عقیقه کول جائز دي؟

(۲) په یوه چیلۍ باندې د بچي عقیقه کیږي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: نواب دین رسالپور کینټ نوښهره ...... ۱۴۰۵ هـ / صفر / ۲۵/

جواب دا دواړه صورتونه جائز دي، په دواړو سره سنت ادا کیږي. «۲» وهوالموفق.

«۱» قال الإمام الترمذی رحمه الله تعالىٰ: والعمل على هذا عند أهل العلم يستحبون أن يذبح عن الغلام العقيقة...... وقالوا ولا يجزئ فی العقيقة من الشاء إلّا ما يجزئ فی الأضحية. (سنن ترمذی)

وقال العلامة أنور شاه الكشميری رحمه الله تعالىٰ: (قوله لا يجزئ فی العقيقة الخ) أی الإجزاء المستحب ولم يقل أحد بوجوبها.

(العرف الشذی على جامع الترمذی ۱: ۳۱۱، ابواب الأضاحی)

«۲» قال العلامة الشامی رحمه الله تعالىٰ: العقيقة تطوع...... ثم إذا أراد أن يعق عن الولد فإنه يذبح عن الغلام شاتين وعن الجارية شاة...... ولوذبح عن الغلام شاة وعن الجارية شاة جاز لأن النبی صلى الله عليه وسلم عق عن الحسن والحسين كبشًا كبشًا. (الفتاوی تنقيح الحامدية ۲: ۲۳۲ كتاب الذبائح)

وفی المرقلة: فيمكن أنه ذبح عنه فی يوم الولادة كبشًا وفی السابع كبشًا وبه يحصل الجمع بين الروايات. (مرقاة المفاتيح ۸: ۵۸ | كتاب الصيد والذبائح، باب العقيقة، الفصل الثانی)

که په اومه ورځ عقیقه ونه شي؛ نو کله او څنګه بیا وشي؟

سوال: د دین عالمان او مفتیان د دې مسئلې په اړه څه وایي چې که یو سړی په اومه ورځ د خپل بچي عقیقه ونه کړي؛ کله او څنګه یې بیا وکړي؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم

جواب: د طبراني او نورو کتابونو د حدیث ﴿۱-۲﴾ له مخې عقیقه په اوم، څوارلسم او یوویشتم تاریخ کول غوره دي، په فتاوی کاملیه ﴿۳﴾ او نورو ﴿۴﴾ کې یې لیکلي دي چې د تاریخ نه بې وړاندې او وروسته کول هم جواز لري وهو الموفق

﴿۱﴾ عن بريدة رضى الله تعالى عنه أن النبى ﷺ قال العقيقة لسبع أو اربع عشرة أو إحدى وعشرين. (المعجم الصغير للطبرانى بحواله إعلاء السنن ١٧: ١١٨ كتاب الذبائح، باب أفضلية ذبح الشاة فى العقيقة)

﴿۲﴾ عن أم كرز وأبى كرز قال نذرت امرأة من آل عبد الرحمن بن أبى بكر إن ولدت امرأة عبد الرحمن نحرنا جزورًا، فقالت عائشة: لا بل السنة أفضل ...... ولكن ذاك يوم السابع فإن لم يكن ففى أربعة عشر فإن لم يكن ففى إحدى وعشرين، هذا حديث صحيح الإسناد ولم يخرجاه، مستدرك.

(إعلاء السنن ١٧: ١١٥ كتاب الذبائح)

﴿۳﴾ قال العلامة الشيخ محمّد كامل رحمه الله تعالى: ووقتها بعد تمام الولادة إلى البلوغ فلا يجزئ قبلها وذبحها فى اليوم السابع يسنّ. (فتاوى كاملية ٢٤٥ كتاب الذبائح)

﴿۴﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ولو قدم يوم الذبح قبل يوم السابع أو أخره عنه جاز إلا أن يوم السابع أفضل.

(فتاوى تنقيح الحامدية ٢: ٢٣٣ كتاب الذبائح)

د عقیقې وړاندې او وروسته کېدل او په یوه غوا کې اوه عقیقې کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې (۱) که یو سړي په اومه ورځ د بچي عقیقه ونه کړه؛ نو کله او څنګه یې باید وکړي؟ (۲) که پنځه شپږ بچي یې پیدا شوي وي او د لوی اختر په ورځ ټول په یوه حیوان کې سره شریك شي ایا عقیقه یې کیږي؟ که نه کیږي نو بله اسانه طریقه یې راته وښیه؛ بینوا توجروا

المستفتي: محمد حسین مینګوره سوات ۱۹۸۱م/۹/۷/

جواب: طبراني او نورو کتابونو کې د د عقیقې غوره وخت اوم، څوارلسم او یویشتم تاریخونه ښودل شوي دي، ﴿۱﴾ په فتاوی کاملیه او نورو کې یې لیکلي دي چې د دغو تاریخو نه وړاندیوالی او وروسته والی هم جائز دی﴿۲﴾ که د کوم ماشوم عقیقه په بل تاریخ کې وشي، لکه لوی اختر یا بله ورځ نو جواز لري.
یې د فقهي په ټولو معتبرو کتابونو کې لیکلي دي چې د قرباني په حیوان کې دعقیقې لپاره (۷/۱) برخه ټاکل هم جائز دي.﴿۳﴾خو یوازې د اوه ماشومانو

﴿۱﴾ عن بریدة رضی الله تعالی عنه أن النبی ﷺ قال: العقیقة لسبع أو أربع عشرة أو احدی وعشرین. (المعجم الصغیر للطبرانی بحواله إعلاء السنن ۱۷: ۱۱۸، کتاب الذبائح، باب افضلیة ذبح الشاة فی العقیقة)

﴿۲﴾ قال العلامة الشیخ محمّد کامل رحمه الله تعالی: ولو قدم الذبح علی الیوم السابع أو اخره عنه جاز إلا أن السابع أفضل...... ووقتها بعد تمام الولادة إلی البلوغ فلا یجزئ قبلها وذبحها فی الیوم السابع یسن. (فتاوی کاملیة ۲۴۰ کتاب الذبائح)
(ومثله فی الفتاوی تنقیح الحامدیة ۲: ۲۳۳ کتاب الذبائح)

﴿۳﴾ فی الهندیة: ولو أرادوا القربة الأضحیة أو غیرها من القرب أجزاهم...... وکذلک إن أراد بعضهم العقیقة عن ولد ولد له من قبل کذا ذکر محمّد رحمه الله تعالی فی نوادر الضحایا. (فتاوی هندیة ۵: ۳۰۴ کتاب الأضحیة، الباب الثامن)

لپاره يوه غوا حلالول په ديکښې د عالمانو ترمنځ اختلاف دی، غوره قول پکښې د جواز دی، وهو الاستحسانُ لأنها قامتْ مقامَ سبع شياهٍ صرحَ بهذه الاقامة صاحبُ البدائع﴿۱﴾وهوالموفق.

د قربانۍ په حيوان کې د عقيقې لپاره برخه پرېښودل

سوال: د دين عالمان او مفتيان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې په زيد باندې د خپل بچي عقيقه پاتې دہ، هغه د قربانۍ په حيوان کې د عقيقې لپاره يوه برخه ځای نيولی دی، پاتې شپږ برخې د قربانۍ والا دي، ايا دا کار د شريعت محمدي او حنفي فقهې سره سم کار دی او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: سيد بختور شاه تهوپی ضلع صوابی

جواب په قربانۍ کې د عقيقې لپاره برخه نيول جائز دي، في رد المحتارِ ٥: ٢٨٥ :وكذا لوأرادبعضهمْ العقيقةَ عنْ ولدٍ قدْ ولدَ له منْ قبلُ لأنَّ ذلك جهة التقربِ بالشكرِ على نعمة الولدِ ذكره محمدٌ رحمه الله تعالى﴿۲﴾وهوالموفق.

﴿۱﴾قال العلامة الكاسانى رحمه الله تعالى: ولأن القياس يأبى جوازها عن أكثر من واحد لما ذكرنا أن القربة فى الذبح وأنه فعل واحد لا يتجزا لكنا تركنا القياس بالخبر المقتضى للجواز عن سبعة مطلقًا فيعمل بالقياس فيما وراءه لأن البقرة بمنزلة سبع شياة.

(بدائع الصنائع ٤:۲۰۷ كتاب التضحية، محل إقامة الواجب)

﴿۲﴾ (ردالمحتار ٥: ۲۲۹ كتاب الأضحية)

وفى الهندية: وكذلك إن أراد بعضهم العقيقة عن ولد ولد له من قبل كذا ذكره محمّد رحمه الله تعالى فى نوادر الضحايا.

(فتاوىٰ هندية ٥: ۳۰٤ كتاب الأضحية، الباب الثامن فيما يتعلق بالشركة فى الضحايا)

د عقیقې لپاره په غوا یا مېښه کې د شراکت حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې که د اوه ماشومانو یا ددې نه د کم لپاره په عقیقه کې یوه غوا یا مېښه ذبح شي؛ نو عقیقه به یې صحیح وي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولانا رحیم الله باچا اضاخیل بالا نوښهره ۱۴۰۳ هـ/محرم/۸/

جواب: علماء په دیکښې مختلف دي «۱» خو په ظاهره کې دا سې عقیقه صحیح ده. «۲»د بدائع د عبارت نه معلومیږي چې غوا استحسانا د اوه کسانو نه صحیح کیږي او د اوه چیلیو قائم مقام کرځي.«۳» واللّٰهُ أعلمُ

«۱»قال العلامة ابن حجر رحمه الله تعالى: ويذكر الشاة والكبش على أنه يتعين الغنم للعقيقة وبه ترجم أبوالشيخ الأصبهاني ونقله ابن المنذر عن حفصة بنت عبد الرحمن بن أبي بكر، وقال البند نيجي من الشافعية لانصّ للشافعي في ذلك، وعندي أنه لا يجزئ غيرها، والجمهور على إجزاء الإبل والبقر أيضًا، وفيه حديث عند الطبراني وأبي الشيخ عن أنس رفعه يعق عنه من الإبل والبقر والغنم، ونصّ أحمد على اشتراط كاملة، وذكر الرافعي بحثًا أنها تتأدى بالسبع كما في الأضحية. والله أعلم.

(فتح الباري ۹:۵۹۳ كتاب العقيقة، باب إماطة الأذى عن الصبي في العقيقة)

«۲» قال العلامة ظفر أحمد العثماني رحمه الله تعالى: ولو ذبح بدنة أو بقرة عن سبعة أولاد او اشترك فيها جماعة جاز سواء أرادوا كلهم العقيقة او أراد بعضهم العقيقة وبعضهم اللحم. (إعلاء السنن ۱۷:۱۱۹ كتاب الذبائح، باب أفضلية ذبح الشاة في العقيقة)

«۳»قال العلامة الكاساني رحمه الله تعالى: لأن القياس يأبى جوازها عن أكثر من واحد لما ذكرنا أن القربة في الذبح وانه فعل واحد لا يتجزأ، لكنا تركنا القياس بالخبر المقتضي للجواز عن سبعة مطلقًا فيعمل بالقياس فيما وراءه، لأن البقرة بمنزلة سبع شياة.

(بدائع الصنائع ۳:۲۰۷ كتاب التضحية، محل إقامة الواجب)

د عقیقې پروخت د ماشوم وېښته پرې کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د عقیقې پر وخت د ماشوم وېښته پرې کول څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم..... ۱۹۹۰م / ۱۲ / ۱۰/

جواب: د عقیقې پروخت د ماشوم وېښته پرې کول د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت دی. (التعلیق الممجد) ﴿۱﴾ وهو الموفق.

صرف د وړوکي ماشوم وېښته د عقیقې په وخت کې پرې کول سنت دي

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې د وړوکي ماشوم وېښته تر کوم عمر پورې پرې کول جائز دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: قاري محمد اسحاق فتح جنگ اټک..... ۱۹۸۵م / ۸ / ۸ /

جواب: یوازې دعقیقې پرمهال دماشوم وېښته پرې کول مستحب دي، ﴿۲﴾ په نورو وختونو کې د ماشومې (جینۍ) د وېښتو پرې کولو نه باید ځان وساتل شي، د دې لپاره چې د سړو سره یې مشابهت رانه شي او دغه راز د کافرانو

﴿۱﴾ عن محمد بن علي رضي الله تعالى عنه قال: وزنت فاطمة بنت رسول الله ﷺ شعر حسن وحسين رضي الله تعالى عنهما وزينب وأم كلثوم فتصدقت بوزن ذلك فضة.

قال العلامة عبد الحي اللكنوي رحمه الله تعالى: ووزن فاطمة شعر الحسن والحسين بأمر أبيهما ﷺ ووزن شعر زينب وأم كلثوم يحتمل أن يكون بأمره ويحتمل أنها قاست ذلك على أمره لها في الحسن كذا في شرح الزرقاني.

(التعليق الممجد على موطا للإمام محمد رحمه الله تعالى ۲۹۱، باب العقيقة)

﴿۲﴾ في المشكوة: عن الحسن عن سمرة قال..... پاتې حاشیه په بل مخ باندې

او فاسقانو ﴿۱﴾ سره هم د مشابهت نه ځان ساتل ضروري دي ﴿۲﴾ وهو الموفق.

(بقیه حاشیه) قال رسول الله ﷺ: الغلام مرتهن بعقيقته تذبح عنه يوم السابع ويسمّٰى ويحلق رأسه. (مشكوة المصابيح ٣٦٢ باب العقيقة، الفصل الثانى)

وفى إعلاء السنن: ويستحب حلق رأس المولود يوم سابعة.

(إعلاء السنن ١٧: ١١٩ كتاب الذبائح، باب أفضلية ذبح الشاة فى العقيقة)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: يستحب لمن ولد له ولد أن يسمّيه يوم أسبوعه ويحلق رأسه.

(ردالمحتار ٥: ٢٣٦ كتاب الأضحية، قبيل كتاب الحظر والإباحة)


﴿۱﴾ فى المشكوة: عن ابن عباس رضى الله تعالىٰ عنه قال قال النبى ﷺ: لعن الله المتشبّهين من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال.

(مشكوة المصابيح ٣٨٠ كتاب اللباس، باب الترجّل)

﴿۲﴾ عن ابن عمر رضى الله تعالىٰ عنهما قال قال رسول الله ﷺ: من تشبّه بقوم فهو منهم.

(سنن أبى داؤد ٢: ٥٥٨ كتاب اللباس، باب فى لبس الشهرة)





كتاب الحظر والإباحة

باب الأكل والشرب

عن ابن عمر رضى اللّٰه تعالىٰ عنه قال قال رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلّم إذا أكل أحدكم فليأكل بيمينه و إذا شرب فليشرب بيمينه.

(صحيح المسلم)

بابُ الاکلِ والشربِ

عنِ ابنِ عمرَرضی اللّهُ عنهُ قالَ قالَ رسولُ اللّهِ صلی اللّهُ علیهِ وسلمَ: ﴿اذا أکلَ أحدکمْ فلیأکلْ بیمینه و اذا شربَ فلیشربْ بیمینه﴾(صحیح مسلم)

د ګناه په ځای کې بې ضرورته خوراک او څښاک کول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې ایا د رادیو او ټیپ وي دکانونو کې خوراک جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد ثناء الله شبقدر

جواب: د ګناه په ځای کې بې ضرورته کښېناستل حرام دي، قال الله تعالی ﴿وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلاَ تَقْعُدُواْ مَعَهُمْ حَتَّى يَخُوضُواْ فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ﴾ ﴿۱﴾ وهو الموفق.

په ورځ کې دوه وخته د خوراک کولو حکم

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وايي چې په ورځ کې څو ځله ډوډۍ خوړل جائز دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم

﴿۱﴾(سورة النساء آیت: ۱۴۰، پاره نمبر ۵)

وقال العلامة القرطبی رحمه الله تعالی: فکل من جلس فی مجلس معصیة و لم ینکر علیهم یکون معهم فی الوزر سواء وینبغی أن ینکر علیهم إذا تکلّموا بالمعصیة وعملوا بها فإن لم یقدر علی النکیر علیهم فینبغی أن یقوم عنهم حتّی لا یکون من أهل هذه الآیة.

(تفسیر القرطبی، ۵:۳۹۷، آیت: ۱۴۰)

جواب: په ورځ کې دوه وخته خوراك كول منع نه دي، بلكې له وخته دا ترتیب راروان دی، و ماورد منه المنع فضعیفٌ أوْ محمولٌ على وقتِ عدمِ الجوعِ والتفصیلُ فی بوادر النوادرِ ۲: ۴۱۷﴿۱﴾وهوالموفق.

د كافرانو سره خوراك او څښاك كول

سوال: د دین عالمان او مفتیان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې د عیسایانو سره ناسته، ولاړه، خوراك او څښاك څه حكم لري؟ په داسې حال كې چې قرآن د دوی د ښځو سره نكاح جائزه ګرځولې ده. د هغوی د لاس ذبیحه یې حلاله كړې ده؛ نو د هغوی سره یو ځای به خوراك او څښاك څنګه حرام وي؟ په هر حال تاسو مهرباني وكړئ او د شرعي مسئلې نه مو خبر كړئ؛ بینوا توجروا

المستفتي عبد الكریم عباسي ..... ۱۹۷۳م / اګست / ۱/

جواب كه كله- كله وخوړل شي،نوخیر دی خود عادت جوړولو نه دي ځان وساتي ،وفی الهندیة ۵:۳۸۲ : ولمْ یذكرْ محمدٌ رحمه الله تعالیٰ الأكلَ معَ المجوسی ومعَ غیره منْ أهلِ الشرك انه هلْ یحلُّ أمْ لا؟ و حكی عنِ الحاكمِ الامام عبد الرحمن الكاتب أنه انِ ابتلی

﴿۱﴾قال العلامة أشرف علی التهانوی رحمه الله تعالیٰ: اكثر من أكلة كل یوم سرف هب عن عائشة رضی الله عنها واورده فی كنز العمال ایضًا برمز هب عن عائشةؓ وضعّفه ...... وفی الجامع الصغیر فی حرف الكاف من فعله ﷺ بلفظ كان إذاتغدّٰی لم یتعش وإذا تعشّٰی لم یتغدّ...... وكتب إلی جنبه علامة (صح) لكنّ الغالب أنه تصحیف لأنه صرّح العزیزی فی العبارة بأنه إسناد ضعیف...... فیحمل الحدیث علی ما إذا أكل مرّة ثانیه من غیر جوع ...... وأمّا من أكل لحاجة فلا شناعة فیه اصلًا.

(بوادرالنوادر، ۲:۴۱۷، سینتسواں نادره در تحقیق اكل مرتین فی یوم واحد)

به مسلمٍ مرةً أومرتينِ لا بأسَ به وأماالدوامُ عليهِ فيكرهُ، كذا فى المحيط.﴿١﴾ ځکه چې په دوام کې د دوی د کفرياتو سره د بلدتيا وېره ده.﴿٢﴾ فقط،وهوالموفق.

په روانه يا ولاړه ښاک کول

